# د احسن الخالقین

# احسن القَصَص

**که:**

**د غوره پنځوونکي له خوا غوره شوې کیسه**

**لیکوال: مبارز خاپی**

**کال: ۱۳۹۵**

بسم الله الرحمن الرحیم

# د احسن الخالقین احسن القَصَص


لیکوال: مبارز څاپی

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ کال: ۱۳۹۵ل/ ۲۰۱٦ز

کمپوز: عبدالله شاهي

# ډالۍ

**دغه ټولګه چې زما د لیدنو، لوستنو او اورېدنو پېبره ده، هاغو رښتینو انسانانو ته ډالۍ کوم چې غواړي د هرې پېښې له هره اړخه وپوهېږي.**

**په مینه**

**مبارز خاپی**

# لړليک

د احسن الخالقين احسن القَصَص ........................................ ٥
د زردشت کتاب........................................................................ ٢٣
«انفاق» ................................................................................... ٤٠
«يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ» ........................................................................ ٦٣
ايمان ..................................................................................... ٨١
د (اسلام) او د (ايمان) فرق:..................................................... ٨٣
«وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ» په لمانځه ودرېدنه.................................... ٨٥
لمونځ ................................................................................... ١٠٠
د لمانځه شرطونه ..................................................................... ١٠٠
د لمانځه رکنونه ....................................................................... ١٠١
د لمانځه واجبات ...................................................................... ١٠١
د لمانځه فاسدوونکي شيان.................................................... ١٠٣
د لمانځه مکروهات ................................................................... ١٠٣
د وتر لمونځ........................................................................... ١٠٤
د سهوې سجده........................................................................ ١٠٥
د تلاوت سجده ....................................................................... ١٠٥
د مريض لمونځ ...................................................................... ١٠٦
د مسافر لمونځ ...................................................................... ١٠٦
د جمعې لمونځ ...................................................................... ١٠٧
د جمعې د لمانځه شرطونه......................................................... ١٠٨
د جمعې د ادا کولو شرطونه ...................................................... ١٠٨
د اختر لمونځ ........................................................................ ١٠٩
د جنازې لمونځ...................................................................... ١١٠
د لمانځه حکمت .................................................................... ١١١
طالبان په کابل کې ................................................................. ١٥١
د امريکې په سروالۍ په افغانستان کې بهرني پوځيان ......................... ١٦٠
د پای خبرې ......................................................................... ١٨٩

# د احسن الخالقین احسن القَصَص

هغه ټولواک چې د ټولو رپیو او د ټولو ګړیو، د ټولو ورځو او د ټولو شپو، د ټولو میاشتو او د ټولو کلونو، د ټولو ستوریو او د ټولو لمرونو، د ټولو لوړو او د ټولو ژورو، د ټولو هسکونو او د ټولو غوچونو، د ټولو لوړو او د ټولو ځوړو، د ټولو رڼاوو او د ټولو تیاروو، د ټولو وړانګو او د ټولو برېښناوو، د ټولو اوبلنو او د ټولو ګازونو، د ټولو کلکو او د ټولو ملینو، د ټولو اوبو او د ټولو اورونو، د ټولو پوهنو او د ټولو ګومانونو، د ټولو فکرونو او د ټولو سوچونو، د ټولو شعورونو او د ټولو خیالونو، د ټولو خوږو او د ټولو تراخو، د ټولو روغتیاوو او د ټولو ناروغیو، د ټولو زېږېدنو او د ټولو مړینو، د تولو سمسورونو او د ټولو خمسورونو، د ټولو مینو او د ټولو کرکو، د ټولو مننو او د ټولو رټنو، د ټولو جګړو او د ټولو سولو، د ټولو رنګونو او د ټولو بې رنګیو، د ټولو پټو او د ټولو ښکاره وو، د ټولو غمونو او د ټولو خوښیو، د ټولو خوندونو او د ټولو بې خوندیو، د ټولو ساړو او د ټولو تاودو او لنډه دا چې د ټولو واکونو واکمن او د ټولو پنځوونکو پنځوونکی دی. هر کله یې د خپل واک په پراخه پنځ کې د ښکلاوو په ستاینه خپله تله د عدالت او نیاومنۍ نه ډکه ساتلې ده. چا چې ښه کړي، په ښوو کې یې ګڼلي، چا چې بد کړي، په بدو کې یې شمېرلي. د چا چې څه برخه وه، هغه یې په پوره توګه ورته ورکړي او څوک چې د ستاینو وړو وو، په ښه توګه یې ستایلي دي. نو ځکه د ټولو پنځوونو د واکمن ستاینه او لمانځنه اړینه او خوامخوا کېدونکې ګڼله شوې ده. د نیاومنۍ په تله کې دا ټکی د ستاینې او لمانځنې وړ دی، چې هر کله هم د ښېګڼو ستاینه کړې، هغسې نو په انساني نړۍ کې چا دېته نه دي کتلي یا دا چې د چا پام دې خوا ته نه دی اوښتی او چا یې څه یادونه هم نه ده کړې. که څوک ووایي چې نه بابا په انساني ټولنه کې هر کله هم د هر چا له خوا د ښېګڼو ستاینه، ملاتړ او لمانځنه شوې ده. خو زه ددغې ټکي له منلو نه غاړه غړوم. دا ځکه چې ښېګڼه

په تیوري اړخ کې ستایل شوې، خو په عملي اړخ کې چا نه دي ویلي چې زما یا د هغه د کور ودان وي، چې د ټولنې د ویجاړو کارونو د سمون په هڅه کې دارنګه یا هغه رنګه ښېګڼیزه عملي ګامونه د پلي کولو په ډګر کې وچت کړي دي. لکه د مثال په توګه په انساني ټولنه کې چې کومې ښېګڼیزې سمونونه د حضرت یوسف علیه السلام له خوا پلي شوي چا ورته ګوته نه ده نیولې. څه شی چې د ډېر شوق او ذ وق د مشغولتیا لامل ګڼل شوی، هغه یواځې او یواځې د حضرت یوسف علیه السلام سره د زلیخا د مینې د پېښې کیسه ایزه اړخ باندې په ولوله ایزه توګه هر څه ویل شوي دي. وګورئ هغه لوی خدای چې د ځان لپاره د قرآن مجید د المومنون سورت په (۴۱) آیت کې وایي: «فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ» (ژباړه: پس ډېر لوی او لوړ دی شان د الله په قدرت او په حکمت کې چې ډېر ښه پیداکوونکی او صورت تړونکی دی. له نورو ټولو پیداکوونکیو او صورت تړونکیو مصورانو نه خلقاً) او همدارنګه د قرآن کریم د الروم سورت په «۷۲» آیت کې د ځان په ستاینه داسې وایي: «وَهُوَ الَّذِي يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ» (ژباړه: هم هغه مطلق قادر دی چې اول ځلي پیدا اکوي خلق، بیا به راژوندي کوي دا خلق او دغه بیا ژوندي راپاڅول هم ډېر اسان دي پر دغه الله او خاص الله لره دی شان، صفت ډېر لوی، لوړ، وچت په اسمانونو کې او په ځمکه کې، له عقل او ادراک څخه پورته او هم دی دی ښه غالب، قوي د احکامو په انفاذ، ښه حکمت والا، چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي.)

تفسیر: یعنې د الله تعالی د قدرت په مقابل کې ټول سره برابر دي، لیکن ستاسې د محسوساتو په اعتبار د اول ځل پیداکولو په نسبت د دوهم ځل اعاده خو ښایي چې ډېر سهل او اسان وي. نو بیا به دغه ډېره عجیبه خبره وي چې په اول ځل پیدایښت کې تاسې الله تعالی قادر منئ، مګر په دوهم ځل کې د الله تعالی له لوري پیدایښت مستبعد ګڼئ؛ «وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ» او خاص الله تعالی لره دی شان، صفت ډېر لوړ، اوچت په اسمانونو او ځمکه کې. یعنې له اعلی څخه اعلی.

صفات او له لوړ، وچت څخه، لوړ او وچت شان د الله تعالی شان او صفتونه دی. په اسمان او ځمکه کې هیڅ یو شی په خپل حسن او ښه والي کې د الله تعالی له شان سره برابر او مساوی لا څه، بلکې ادنی صفت او مشابهت ته یې هم نه شي رسولی. الله تعالی له گردو، ټولو هغو شیانو څخه په جلال، جمال، کمال، مثال او نورو ممیزاتو او خصوصیاتو کې اولی، اعلی، ارفع او اقدس دی، چې د مخلوقاتو په وهم او تصور کې راتللی نه شي. بلکې هر هغه حسن او ښه والی چې هر چرته لیدل کېږي او موجود وي، هغه ټول د الله تعالی د کمالاتو یوه ادنی پلوشه ده.

همدغه لوی واکمن د حضرت یوسف علیه السلام د ژوند د پېښې د کیسې نوم «احسن القصص» نومولی دی. وگورئ په قران کریم کې د یوسف علیه السلام سورت په (۳) آیت کې د اسې راغلي دي: «نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ أَحْسَنَ الْقَصَصِ بِمَا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ هَٰذَا الْقُرْآنَ وَإِن كُنتَ مِن قَبْلِهِ لَمِنَ الْغَافِلِينَ» ژباړه: (موږ بیانوو، لولو، پر تا باندې ډېره ښه قصه له ټولو قیصو). ځکه چې خاوند یې ښه دی، په سبب د وحې زمونږ تاته دغه قرآن او بېشکه شان دا دی چې وې ته پخوا له نزوله د دې قرآن خامخا له ناخبرانو).

دا په دې معنا ده چې په ټول قرآن کې د ډېرو انبیاوو او مرسلینو د کیسو نه یادونه شوې او د هغوی ټولو نه یواځې د حضرت یوسف د کیسې مرتبه یې تر غوره کیسې پورته او لوړه وړې. یعنې احسن القصص یې نومولې د ه. په قران کریم کې د احسن الخالقین او احسن القصص چې غوره پنځوونکی او غوره کیسه نومېږي، د ځینو نورو انبیاوو او مرسلینو د مراتبو په هکله هم یادونې شوي دي. لکه د مثال په توگه:

۱- د حضرت ابراهیم علیه السلام په هکله د مریم سورت په (۱۴) آیت کې «صِدِّيقًا نَّبِيًّا» ویل شوي.

۲- د حضرت اسحق او یعقوب علیه السلام په هکله د مریم سورت په (۹۴) آیت کې «صِدْقٍ عَلِيًّا» ویل شوي.

۳- د اسمعیل علیه السلام په هکله د مریم سورت په (۵۴) آیت کې «صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا» ویل شوي.

٤- د موسی علیه السلام په هکله د مریم سورت په (۱۵) آیت کې «مُخْلَصًا نبياً ویل شوي.

٥- د اد ریس علیه السلام په هکله د مریم سورت په (٦٥) ایت کې «صِدِّيقًا نَّبِيًّا» ویل شوي.

٦- د هارون علیه السلام په هکله د مریم سورت په (۳۵) آیت کې «نَبِيًّا» ویل شوي.

سره د دغو پورتنیو القابونو د ال عمران سورت په (٢٦) آیت کې د حضرت عیسی او مریمې د کیسو په هکله چې د آل عمران د سورت په متن کې راغلي دي، ویل شوي: «إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ» ژباړه: (بې شکه دا حال د عیسی او د مریمې چې تاته بیان شو، دا بیان حق دی او نه شته هیڅ برحق معبود، مگر یواځې الله دی.)

په پورته توګه موږ وینو چې د احسن الخالقین له لوړه حضوره د ټولو کیسو له منځه یواځې د حضرت یوسف د کیسې مرتبه تر احسن القصص پورې رسېدلې ده او د هغه نه وروسته د حضرت عیسی د ژوند کیسې ته د قصص الحق نوم وربښلی شوی دی. د قصص الحق او د احسن القصص ترمنځ د مرتبې له مخې غټ توپیر پروت دی. هغه دا چې د احسن القصص نوم په سمه توګه د احسن الخالقین د نامه سره روښانه نیژدې والی ښیي. په دې توګه چې: لوی خدای د ځان لپاره د احسن الخالقین مرتبه غوره کړې چې د ټولو مراتبو څخه لوړه مرتبه ده او په همدې توګه د ټولو انبیاوو او مرسلینو د کیسو په منځ کې یواځې د حضرت یوسف علیه السلام د کیسې نوم یې د احسن القصص په نامه نومولی. که چېرې لږ غوندې ځیر شو وبه پوهېږو چې احسن الخالقین یعنې ډېر، نېک او ښکلی پنځوونکی او همدارنګه احسن القصص یعنې ډېره غوره،

سپېڅلې او ښکلې کیسه. په همدې توګه د حضرت یوسف کیسه د احسن القصص او د حضرت عیسی کیسه د قصص الحق د نومونو ترمنځ هم جوت توپیر شته والی لري. هغه دا چې «قصص الحق» یعنې رښتینې کیسه او احسن القصص یعنې د کیسو غوره، درنه سپېڅلې کیسه» ګڼله شوې. دا په دا چې د احسن الخالقین په احسن القصص کې ډېر غوره اړخ ټولنیز عدالت، د بې وځلي توب له مینځه وړل، د اشرافیت او مریي توب محوه کول، ټولنیزه مساوات او برابري ټینګول، له وچکالۍ څخه د انسانانو ژغورل او په سیاسي اړخ کې د زغموالي پلي کول او د ځځوالي نه ژغورنه نغښتې ده.

د دغو ټولو بنسټونو د پوره غښتلي کولو دنده د هغه چا پر ولیو پرېوتې، چې هغه په وړکتابه کې د خپلو میرنیو ورونو د ځاځنیزو تاوتریخوالو او زور زیاتیو ښکار شوی و. هغه په وړکتابه کې د خپلو میرنیو ورونو له خوا په څاه کې وغورځول شو، بیا پر سوداګرو کاروانیانو د مریي په نامه وپلورل شو، هغه په هم هغه کوچنیتوب کې د مصر د بازار د یو ډېر ښکلي مریي په څېر د پیر او پلور «وست» وګرځېد. هغه د مریي په توګه د مصر د فرعون په کور کې نه چې د مصر د کورنیو او د ښاري چارو د واکمن په کور کې چوپړ پر غاړه لرله. هغه د یو خطا کار، سرغړوونکي او ناکاره مریي په نامه تر دولسو کلونو پورې د مصر په فرعوني زندان کې د بند شپې او ورځې تېرې کړلې. د داسې چا پر غاړه د ټولنیزو برابریو د خوندي کولو دنده ولوېده چې د خپل د کوچنیتوبه څخه تر ځلمیتوبه پورې ټول عمر یې په بې وزلۍ، خوارۍ، بې وسۍ او د خپلو او پردیو د تاوتریخوالو نه ډک چاپېریالونو کې ترسره کړی او د هر رنګه حسرتونو او ناامیدیو د زغملو له لامله یو ډېر کلک او غښتلی انسان ترې جوړ شوی وو.

دغه انسان چې د پلار حضرت یعقوب، د نیکه حضرت اسحق او د غور نیکه حضرت ابراهیم نه ورپاتې د الهي دین او شریعت د لاربنود په توګه یوه ستره هنداره په لاس کې لرله. نو په یواځې ځان او د لوی خدای په مرسته یې وکولای شول د مصر د فرعون د ببرغ لاندې د فرعونیانو اشرافي نظام او ټولنه د پوره اوه وو کلونو په موده کې له بېخه ونړوي او پر ځای یې یوه سوچه، سپېځلې، په مساواتو ولاړ نظام او ټولنه جوړه او پر پښو ودروي، چې په کې

ټولې وينځې او مريان، خواري کښه کارګران، اشرافي درباريان او د ټولنې ټول شتمن او ځمکه وال په يوه کتار کې ودرول شي. د حضرت يوسف په سياسي، اقتصادي، او ټولنيز نظام کې نه يواځې دا چې ټول کسبه کار، مزدوران، د ځمکې، باغونو او شتو خاوندان د مساواتو له اړخه په يوه کچه ود رول شوي وو، چې د معبدونو، مزدکونو، ډېر ستر واکمنان يې هم دېته اړ کړل چې د يوه خدای تر سيوري لاندې د يوه مساواتو نه ډکې ټولنې غړيتوب غوره کړي. په دې لياره کې د لوی معبد واکمن ډېرې هلې ځلې وکولې، څو په خپلو رنګارنګه ځاځنيزو غبرګونونو د حضرت يوسف نظام ړنګ کړي او هغه ووژني، مګر بريالی نه شو. حضرت يوسف د معبدونو ټوله شتمني د دولت په واک کې ورکړي. معبد او په معبد کې اوسېدونکي ځواکونه يې بې وسلې او هغوی ټول يې د کارګرانو په څېر په کارونو وګمارل او په دې توګه يې د معبديانو اشرافي او روحاني مآبه ټولنه ړنګه کړله. نور نو په مصر کې د فرعوني او د هغوی د معبدونو د واکمنانو اشرافي مآبه ټولنه له بېخه ړنګه شوی وه او په دې توګه د حضرت يوسف په لاس د ځمکې پرمخ په لومړي ځل يوه داسې سياسي، اقتصادي،نظامي او ټولنيزه سيستم رامينځ ته شوه؛ چې په هغې کې بادار او نوکر، شتمن او بې وځلی، ځواکمن او بې وسې شته والی نه لاره، هر چا د دولت په ټولنيزه اقتصادي نظام کې کار کاوه او د کار د يېبرې له لارې يې خپل ځان او د خپلې کورنۍ د ژوندانه اړين توکي لاسته راوړل. چا چې به د صحي «روغتيا» د معاذيرو يا د بل کوم قانوني دليل له مخې کار نه شو کولی، هغوی ته به د دولت له خوا دومره مرستې کېدلې، چې په خپله د خپلې کورنۍ سره پرې ژوند وکولای شي. د حضرت يوسف په رامينځ ته کړې نظام کې د معابدو واکمنه ټولنه بې واکه شوله. هغوی نور نو نه شوای کولی چې د معبد په نامه رنګ په رنګه پيسې راټولې کړي او خپلو جيبونو ته يې واچوي. هغوی نور د دې وسه نه لرله چې د معبد او عبادت په نامه د ټولنې پر وګړيو زور زياتی وکړي. د ټولنې مخه له خپلې بوختيا څخه ونيسي. د عبادت په نامه د ژوندانه له هاند او هڅو څخه لرې پاتې شي او په دې توګه لکه د پخوا په څېر يو ځل بيا د بادار او مزدور، اشرافو او مريانو او د لوړو او ټيټو

طبقو په نامه وویشل شي. په ټولنه کې د حضرت یوسف سمونواله کړنو وښودله چې په ابراهیمي حنیف دین او شریعت کې د روحانیت په نامه داسې بوختیا نه ده روا، چې د هغه له امله ټولنه له خپلې ټولنیزې بوختیا څخه لرې او د ژوندانه د توکیو د لاسته راوړلو لپاره نورو ته د مرستو لاسونه اوږده کړي. هر څوک که نر دی او که ښځه، د دې دنده پر غاړه لري چې د خپلې ټولنې د غړیو د هڅاندو او پنځوونکو ساتلو په لیاره کې په خپله هم اغېزمنه ونډه واخلي. هیڅوک د دې حق نه لري چې د مزدکونو، لمونځ ځایونو او داسې نورو د ځایونو په بهانه چې ګڼي دوی هلته د خلکو په خدمت کې بوخت دي، د خلکو نه د نذ ر او نیاز په نامه څه وغواړي. دا ددولت او د حکومت دنده ده چې په داسې ځایونو کې د خلکو د اړتیاوو په کچه هغو کسانو ته د کار په مقابل کې باړه ورکړي، چې د هغه کار وړتیا ولري.

په ټولنه کې د سیاسي واک خاوند دنده لري چې د ټولنې هر غړی چې د کار او بوختیا وړتیا ولري، هغوی ته د کار د لارې د ګټې د لاسته راوړلو وسه وبښي. د واکمنۍ ټولنې دنده ده چې د خپلې ټولنې هر غړی که هغه نر وی که ښځه له لاسو لپه کولو او له نورو نه د څه غوښتلو مخ نیوی وکړي، څو ټولنه د بې کارۍ، بې وسۍ او بې کمالۍ په لوري لاړه نه شي. لکه چې همدا اوس د وروسته پاتې هېوادونو ولسونه که هغه د اسلامي دین که د مسیحي دین او که د نورو ادیانو لارویان دي، د معابدو د واکمنانو او همدارنګه د طریقې او نورو نومونو په نامه له کسب او کار او پنځوونو څخه ګوښه او بې خبره پاتې شوي دي. په دې ولسونو کې د لیک او لوست پته نه لګېږي، که لګېږي هم خو په ډېره ټیټه کچه. کسب او کمال لکه د اسمان د ستوري په څېر د چا لاسته نه راځي. که جامه ومومي، ډوډۍ نه مومي، که ډوډۍ ومومي، دوا او درمل نه مومي. له برېښنا نه بې برخې دي، د غوایانو او ګډو پچې او خوشایې د سون د موادو په څېر کاروي. د کورنیو تربورې په دښمنۍ اوښتې. ورور د ورور، پلار د زوی، زوی د پلار او تربور د تربور پر وینو لاسونه ککړ ګرځي. د زغم او لاوریینو له خوړو او خوندورو لاسته راوړنو نه څه پوهه نه لري. هر څه د ځځوالو او ځاځنیزو پېښو د اور په لمبو کې سوزېدلې او ایره شوي، چې لا

هم په همدې توګه د تاريخ د کندې په لور په بې وزلۍ سره د ښوېدلو په هڅه کې خپلې شپې ورځې تېروي.

دا چې د احسن الخالقين له خوا د يوسف عليه السلام د ژوند د پېښو کيسه د احسن القصص په نامه نومول شوې. زموږ بحث بايد بېرته د همدغې ټکي په شاوخوا راوګرځي. نو له دې لامله د پورتني بحث لمنه بېرته رانيسو او د هغه په څونډو کې خپلو خبرو ته اوږدوالی ببښو.؛ په پورته کرښو کې مو وويل چې د يوسف عليه السلام د کيسې نوم له دې لامله احسن القصص يعنې «غوره، نېکه او سپېځلې» ايښودل شوی چې هغه په ماشومتوب کې خپلو ميرنيو وروڼو د ځاځنيزو او تاوتريخوالو په ځپو کې د وهلو، ټکولو او کنځلو، په بدرګه کې کوهي ته وغورځول شو او بيا پر سوداګرو کاروانيانو د مريي په نامه اوهمدارنګه په مصر کې د مريي په توګه وپلورل شو. او بيا د مصر د عزيز په کور کې د وينځو او مريانو د ژوند او ژواک سره روږدی شو.

سربېره پر دې د مصر د عزيز د مېرمنې «زليخا» د شيطاني غوښتونو ته د نه ويلو په تور ډېر کلونه په بند، بندي شو. يعنې: هغه خپل د ماشومتوب او ځلميتوب دوران په بې وزلۍ، بې وسۍ او حسرتونو کې ډک پيل کړ. د بادار او مريي، د شتمن او نيستمن، د ظالم او مظلوم او د خوشال او غمجنو طبقاتي نظام له ټولو ناروااوو اړخونو سره په پوره پوره توګه عملی تجربه ترلاسه کړه او وپوهېدو چې د عدالت نشتوالی څومره ناروا او څنګه ظالمه طبقاتي ټولنه رامنځته کولی شي؟ د همدې ټکي ته د پاملرنې پر مخ يوسف عليه السلام د خپلو اوه وو ښېرازو کلونو په واکمنۍ کې داسې بنسټونه جوړ او ورغول چې د هغه پر مخ يې وکولی شول په اوه وو راتلونکو وچکاليو کلونو کې د يو داسې عادلانه نظام بنسټ په ښو ودر چې په هغه کې په هيڅ توګه طبقاتي رنګ او بڼه نه ليدله کېدله. يعنې: ټول مريان او وينځې يې د ټولو شتمنو اشرافي طبقې انسانانو سره يو برابر کړل، نه په کې څوک بادار پاتې و او نه په کې څوک وينځه او مريي. هر چا د خپل د ژوند د پايښت لپاره په دولتي او حکومتي موسساتو کې د خپل د وسې او وړتيا پر مخ دنده ترلاسه کوله او هر چا د خپلې کاري دندې له لامله دومره باړه ترلاسه کوله چې د خپل د ځان او

د کورنۍ د اړتیاوو کچه پوره کړي. زما په اند د یوسف علیه السلام له خوا انساني ټولنې ته د دغسې غیر طبقاتي نظام په پښو ودرول او بري ته رسول وو، چې د هغه د ژوند کیسه یې د نورو انبیاوو او مرسلینو د کیسو په پرتله غوره، نېکه او د سپېڅلتیا تر مرتبې لرونکې وښيي. که څوک بل څه انګیري او وایي چې د یوسف په کیسه کې د زلیخا د مینې کچه د هغه تر نورو ښېګڼو وچته برېښي، زما په اند څه حقیقت نه لري. دا ځکه چې د زلیخا مینه یوه وګړنیزه کړنه وه، چې په مقابل کې یې د یوسف علیه السلام غبرګون هم وګړنیزه عمل ګڼل کېږي. کوم څه چې په ټولنه کې او بیا د انسانیت په تاریخ کې یو غوره، نېک او سپېڅلی ټولنیز عمل ګڼل کېدلی شي. هغه خو هم هغه غیر طبقاتي نظام دی چې د یوسف علیه السلام له خوا د ټولو ځاځنیزو او استبدادي خویونو نه پرته په مصر کې رامینځته شوې او بري ته رسول شوي وو. له بلې خوا د زلیخا مینه هم یوه اړخیزه وه، دوه اړخیزه نه وه. دا په دا چې د یوسف علیه السلام غبرګون یو منفي غبرګون وو چې ښودله یې، ځکه چې د زلیخا غوښتنې شیطاني غوښتنې وې، د شیطاني غوښتنو منل په شیطاني خویه غوښتنو کې نغښتې وې، چې همداسې هم وه. نو له دې لامله هغه کومې کیسې چې په دې هکله د مختلفو ولسونو د شاعرانو له خوا په خورا غوره الفاظو او وزنونو کې ویل شوي او په اسلامي نړۍ کې د مینې د غوره اړخ په څېر د ستاینې او لمانځنې وړ ګڼل شوي، یو خوشې شیطاني دریځ دی، چې پرسول شوی، څو وکولای شي په دې توګه نړۍ او نړۍ وال خصوصاً د اسلامي نړۍ پام د هغو غوره کارونو نه چې یوسف علیه السلام کړي دي په بله خوا واړوي، زما په اند تر ټولو غوره کړنه داده، چې زموږ شاعران او لیکوالان د یوسف<sup>ع</sup> د کیسې بنسټیزه او غوره اړخ چې د یوې غیر طبقاتي نظام او ټولنې رامینځته کول او په دې توګه په انساني ټولنه کې یو سوچه عادلانه سیستم پلي کېدنه وه، لاپسې وڅېړي او د هغه ټولې ښېګڼې خپلو ولسونو ته وړاندې کړي، څو حق د حق لرونکو په برخه او عدالت خوندي شي. یعنې: کوم څه چې تر اوسه پورې د یوسف علیه السلام او د زلیخا په هکله په ډېره پراخه کچه خپاره شوي دي، دا یوه بربنډه ناروا ده، چې د یوسف د هغو ټولو ښوو او عادلانه

کارونو د پټولو او هيرولو په لاره کې رامينځ ته شوي، چې د انساني ټولنې د ښېرازۍ او نېمکرغۍ لپاره تر بريه رسول شوي وو. ښايي دا به هغه هلې ځلې وي چې په مصر کې د يوسف عليه السلام د مړينې نه وروسته د هغو شيطان صفتو دښمنانو له خوا رامينځ ته شوي او په دې توګه د نوي ټولنيزه غير طبقاتي نظام د ړنګولو او پر ځای يې د اشرافيانو پخواني مستبده او طبقاتي سيستم د بيا پلي کولو په لاره کې راولاړ شوي وي. لکه چې د همدغو شيطاني هلو ځلو له لامله په مصر کې د يوسف عليه السلام کورنۍ د ټول ټبر سره د وينځو او مريانو په څېر له خپلو ټولو انساني حقوقو چې ازادي او برابري وه، راوغورځول شول. د انسان دښمنه کړو وړو کچه تر هر څه وچته شوه او خبره تر دې بريده راورسېدله چې د هغوی ټول نوي زېږېدلي هلکان به وژل کېدل او نجونې به يې د وينځو په څېر ورساتلې. د موسی عليه السلام او د فرعون جګړې ته په ټول قران کريم کې په بيا بيا توګه ګوته نيول شوې، چې څو د انساني ټولنې راتلونکي نسلونه له هغه څخه عبرت واخلي. که چرې څوک دغو پېښو ته ښه ځير شي، وبه پوهېږي چې د موسی عليه السلام او د فرعون د پېښو په کيسو کې دغه ټکي په روښانه توګه ليدلی او پوهېدلی شو، چې کله نه د مصر اشرافي نظام د انساني حقوقو او ټولنيره برابرۍ په دښمنۍ کې ډوب شوی و ، په هغه مهال کې پر هغوی باندې د اوه ښېرازه کلونو په ځای کې اوه د وچکالۍ کلونه راغلل. د دغو اوه وو وچکاليو کلونو د مصيبت نه د مصر د ولس د ژغورنې لپاره د يوسف د په واک ته رسولو په پېښه کې دې ته وار ورغی، چې نور د اشرافو طبقاتي نظام له بنسټه ونړول شي، چې ونړول شو او پر ځای يې يو پر ټولنيزو مساواتو ولاړ سيستم رامينځ ته شي، چې رامينځ ته شو، کوم چې په اوه وو وچکاليو کلونو کې د مصر ولس سره يو ځای د ګاونډيو هيوادونو ولسونو ته هم ژغورنه په برخه شوه. خو د ټولنيزه، سياسي، اقتصادي پټو او برالا پېښو او لانجو لاملونو يو ځل بيا د مصر اشرافو ته د دې وسه ورکړله، څو په مصر کې د يوسف عليه السلام ټولنيزه اقتصادي نظام له پښو وغورځوي او پر ځای يې بيا هماغه د پخوا په څېر د فرعوني اشرافو استبدادي نظام جوړ کړي، چې همداسې هم وشول. په مصر کې د فرعونيت د بيا

راژوندي کولو په پېښه کې چا چې ډېر تاوان وکړ، هغه خو د یوسف علیه السلام کورنۍ او د د وی ټبر وو، چې د مصریانو لپاره د وینځو او مریانو د دندې په درجه کې ولوېدل. د ازمیښت په دې اور کې د لوی خدای اراده بیا هم هماغه وه، لکه څنګه چې د یوسف علیه السلام په کیسه کې ولوستل شول. د اشرافي نظام د استبداد له مینځه وړلو په موخه بیا هم غوره وبرېښېدله چې په خپله نظام هم د نظامیانو سره یو ځای لولپه شي، لکه چې هماغسې هم وشول. موسی علیه السلام د بني اسرایلو د ژغورنې لپاره د مصر فرعوني نظام ته هر رنګه شرایط وړاندې کړل، خو هغوی له دې ویرې چې که بني اسرایلو ته ازادي ورکړي، کیدای شي لکه د یوسف علیه السلام د کیسې په څېر یو ځل بیا په مصر کې اشرافي نظام د موسی علیه السلام له خوا له بنسټه ونړېږي. نو له دې ویرې د بني اسرایلو د پرېښودلو په خبره کې یوه سلا نه وو، څو چې د بني اسرایلو ټبر د موسی علیه السلام په غوښتنه په پټه سره له مصره وتښتېدل، چې فرعون هم د خپل لښکره سره ورپسې وواته او په نتیجه کې موسی علیه السلام له خپله ټبره سره د نیل له سینده پورې واته، خو فرعون له خپله لښکره سره چې د بني اسراییلو پسې د نیل په سیند کې ننوتي وو، په اوبو کې ډوب او مړه شول. خو په مصر کې دا ځل د اشرافي نظام د سروال د مړینې په پای کې داسې نظام چې په ټولنیزه عدالت ولاړ وي، رامینځ ته نه شو، لکه چې تاریخ هم همداسې وایي. یعنې په مصر کې یواځې یو ځل وو، چې د اشرافو د طبقاتي نظام د ړنګېدلو سره یو ځای د ټولنیز عدالت یو سپېڅلی نظام رامینځ ته شوی دی، چې هغه هم د یوسف علیه السلام د ژوند د پېښو له لامله وو او بس. دلته باید دې ټکي ته پام راواړول شي، چې که څېرې په مصر کې د یوسف علیه السلام له خوا رامینځ ته شوي ټولنیزه عادلانه نظام، لکه چې د یوسف علیه السلام د ژوندانه په اوږدو کې د خپلو ټولو ښېګڼو سره واکمنه وه، په هماغه توګه د راتلونکیو واکمنانو له خوا هم په عادلانه توګه واکمنه پاتې شوې وای، په مصر کې به هیڅکله هم د استبداد او بې عدالتیو فرعونیت نه رامینځ ته کېده او په همدې توګه فرعون به هم له خپلو لښکرو سره په اوبو کې نه وو ډوب شوی او نه به وو تباه شوي. څوک په خپلو ښو ونه پوهېږي او

پر دې هم نه پوهېږي چې تر سبا پورې به څه راپېښېږي؟ مگر ځینې خبرې شته چې تل تر تله د انساني نړۍ تر غوږونو رسېدلې او هغه دا دي: «خپل ځان له بل چا څخه لوړ مه گڼه. د لوړو غرونو پر سر هم لاره شته، ښه وکړه په اوبو کې یې واچوه، اوبه یې نه وړي، له ښوو نه ښه زېږي، له بدو نه بد. که عدالت نه وي، ژوند نه شته، د تلې ارزښت په نیاومنۍ کې ده.»
داسې ډېرې نورې لارښوونې هم شته چې انساني ټولنه کولی شي، د هغوی پر مخ د غوره لیارو په ټاکلو د نېکمرغیو، هوساینو او بریو لمریزو وړانگو د کړکیو په پرانستنه کې هر رنگه خوښي ترلاسه کړي. خو انسان د غرور او تکبر پر نیلي سپور دی، هر څه د خپلې ارادې او هوډ تابع گڼي او عقل ته لږه برخه ورکوي. په هر کار کې زغرد وي، هر څه په تېزۍ او توندۍ سره غواړي. له زغمه پر ځاځني او تاوتریخوالي ډېر زیات مین دی. هر څه د نن ورځې د گټو په چوکاټ کې گټور گڼي. د گانده د پېښو سوچ ورته بې هوده ښکاري، چیرته چې گټه وي، هلته ورور هم دښمن دی. په دې خبره ځان نه پوهوي چې په ټولنه کې لکه چې غم او ښادي په گډه سره اغیزمني لري، په هماغه توگه په شتمنۍ کې هم هر انسان له یو نه یو اړخه ارومرو د بل همنوعه سره گډه برخه لري. دغه تړنه ده چې د لوی خدای له لوري په قران کریم کې د الذاریات سورت په (۱۹) آیت کې داسې امر شوی: «وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ» ستاسو په شتو کې د سوالگرو او د محروم لپاره حق شته. د دې آیت پر مخ که چیرې انساني ټولنه ومني چې زموږ شتمني زموږ د ټولنې مشترکه شتمني ده، نو په دې حالت کې هیڅکله هم د ټولنې د غړیو ترمنځه پر شتمنیو تاوتریخوالی، دښمني او وژنه نه رامینځ ته کېږي. ټولنه خپله ډاډېنه او امنیت ترلاسه کوي، هوساینه، نېمکرغۍ او سمسورتیا د ټولنې د ژوند د توکیو په څېر خپل خوندي توب ترلاسه کوي، انسانیت خپل بشپړه برى لمانځي.
د موسی علیه السلام د ژوند کیسی سره د ټولو معجزاتو، ددې وړتیا ونه میندله، چې په احسن القصص کې وشمېرل شي، دا ځکه چې موسی علیه السلام ددې وسه تر لاسه نه کړای شوه، څو په مصر کې د فرعون او د هغوي د لښکرو د

ډوبېدلو سره يو ځای د اشرافو استبدادي نظام هم وړنګوي او پر ځای يې يو ټولنيز عادلانه نظام رامينځ ته کړي، چې په کې ټول ولس يو برابر او مساوي حق ولري. ښايي په دې ځای کې به دغه ټکی د پام وړ وي، چې يوسف عليه السلام وکولی شول فرعون خپل دين ته راواړوي، مګر موسی عليه السلام د فرعون د مړينې لامل وګرځېد. سره ددې چې موسی عليه السلام ته د لوی خدای له لوري د تورات په نامه ډېر زيات قوانين ورکړل شوي وو، خو لوی خدای د قران مجيد د مريم سورت په (۱۵) آيت کې موسی عليه السلام ته د «رَسُولًا نَّبِيًّا» خطاب کوي. يعنې: د «رَسُولًا نَّبِيًّا» په لقب يې ملقب کړی دی. لکه چې د آل عمران سورت په (۲٦) آيت کې د آل عمران ټولو کيسو ته د لوی خدای له لوري د «إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ» نوم ورکړل شوی دی. له دې نه برېښي چې د يوسف عليه السلام د کيسې نه وروسته، نورې ټولې کيسې د «احسن القصص» تر مرتبې نه دي رسېدلې. لکه چې نور و خالقينو هم د دې وسه نه ده ميندلې، څو د لوی خدای جل جلاله په څېر د احسن الخالقين مرتبې ته ورسېږي.

«د احسن الخالقين» عالي لقب چې لوی خدای(ج) ځان ته غوره کړی، هغه غوره او سپېڅلی لقب دی، چې په لوړو او سپېڅلو صفتونو کې د صفت يو ستر \نوم دی. دغه د صفت نوم هيڅکله چانه دی خپل کړی، لا به هيڅکله هم څوک يې خپل نه کړای شي. وګورئ حضرت ابراهيم عليه السلام چې د حضرت يوسف عليه السلام غور نيکه بلل کېږي، سره د دې چې د انسانيت په تاريخ کې په لومړي ځل په بابل کې د نمرود د استبدادي نظام پر وړاندې ودرېده او د هغه پر ضد يې مبارزه پيل کړه، خو د بوتانو د ماتولو نه پرته نور څه چې د نظام ړنګول او پر ځای يې د يوه نوي ټولنيزه عادلانه نظام رامينځ ته کول وي، تر لاسه نه شول. سربېره پر دې د حضرت ابراهيم عليه السلام ژوند لکه د حضرت يوسف عليه السلام غوندې په تاوتريخوالي، خوارۍ، مريي توب، بند او زنځيرونو نه وپيل شوی، نو له دې لامله د هغوی کيسې ته د «احسن القصص» مرتبې لقب نه دی وربښل شوی. په ټولنه کې چې د مظلوم او بې وزلو انسانانو د ژوند او ژواک نه څوک خبر نه وي، هغه به څرنګه وپوهېږي،

چې پر خوارو او بې وزلو باندې څومره کړاوونه او ستونزې راغلې یا راځي به؟ په بڼه کې هغه څیز پخېږي چې په اور کې پروت وي. حضرت یوسف علیه السلام د ژوندانه د تاوتریخوالي په بڼه کې داسې سوځېدلی او پوخ شوی و، چې هم یې تن، هم یې روح، هم یې پوهه او هم یې د شعور له خوا د خوارانو، مریانو، وینځو او بې وزلو بڼه خپله کړې وه، دغسې ذهني او جسمي شرایطو د برابرېدلو سره جوخت د عادلانه کړنو، مبرم اړتیاوو، د محسوسېدلو له لامله یوسف علیه السلام په دې بریالی شو، چې د ځمکې پر مخ د انسانیت په ګټه ګټوره ګامونه وچت کاندي، څو مصري ټولنه د یوه کوټلې او حتمي تباهۍ څخه وژغول شي. یعنې د اشرافي نظام تشکیلاتو د دې وسه نه لرله، څو په راتلونکیو وچکالیو کلونو کې خپل ولس ته د ژغورونکو پلانونو په پلي کولو ګټوره ګامونه وچت کړي. دا ځکه چې ګټوره ګامونه د ګټورو تشکیلاتي ځواکونو په لاسونو کې تر بریه رسېدلی شي، چې دا څیز په هغه مهال کې د مصر د فرعون په اشرافي نظام کې شته والی نه لاره. له بلې خوا په اشرافي نظام کې مولده طبقه یا یېبرونکی ځواک یواځې هماغه ډله وه چې د وینځو او مریانو په نامه به په کار اچول کېدل. نور نو د اشرافو ډله وه، چې د خپلو وینځو او مریانو د کړنو یېبره به یې خوړله. په هغې اشرافي ټولنې کې هر څه د اشرافو په برخه کې وو. د خوارانو، غریبانو او بې وزلو په برخه کې سره د دې چې مولده یا یېبرونکی ځواک وو، څه نه رسېدل، دا چې اشرافي ټولنې خپله یېبرونکي ځواک له لاسه ورکړی و، نو له دې لامله د یوسف علیه السلام په اقتصادي پلانونو کې د ټولنیزه عدالت له لیارې ټول طبقاتي امتیازونه لرې وغورځول شول او په دې توګه په ټوله مصري ټولنه کې ټولنیزه مساوات چې په کې مریي او بادار نور شته والی نه لاره، بري ته ورسېد. نو د داسې ټولنیزې مساواتو له لارې د مصري ټولنې مولده ځواک د پخوا نه ډېر غښتلی او وسیاله شو. دولت او حکومت چې په سر کې یې حضرت یوسف علیه السلام د دوهم سړیتوب یا د دوهم واکمن په څېر ناست و، د فساد او بې عدالتۍ، د ناروا او بدکارۍ مخه ونیوله، د معابدو بې حسابه شتمنۍ یې د دولت په حساب کې ونیولی او په دې توګه ټوله اشرافي طبقه یې د معابدو د ملایانو سره یو ځای په

کارونو وګمارل او له هغوی نه یې یوه مولده یا ییبرونکی ځواک جوړ کړ.
د دغو ټکیو پر مخ ویلی شو چې د سپېڅلتیا، غوره والي او ښکلي توب لوړه مرتبه د هغه چا په برخه کېدلی شي، چې خپلې ټولنې ته انساني ښېګڼې، د ورورولۍ د ژوند خواږه او د بې پرې ټولنیزه مساواتو او برابرۍ نظم او سنبالتیا وبښي. هر کله چې یو څوک دغسې ذهني او جسمي شرایطو سره سم د ټولنې د ټولنیزه عدالت په ملاتړ کوم ګام وچت کړي، هرومرو د خپلو ګامونو په وچتولو کې د بریو تر څلي رسېدلي دي. دا د ټولنې ټولنیزه حالات دي، چې یو څوک به د عیني،ذهني او جسمي شرایطو له مخې داسې وروزي څو د خپلې ټولنې د حالاتو د بدلون په لاره کې مثبت او ګټور ګامونه وچت کړلی شي.
په دې دلیل حضرت موسی علیه السلام چې لکه د یوسف علیه السلام غوندې د مریيتوب، بې وزلیتوب او حسرتونو ژوند نه و لیدلی، د بند او زنځیر تر تورو تمبو نه و رسېدلی او د ژوند د ځوانۍ شېبې یې په مسته مستۍ کې د یو شهزاده په څېر هم د فرعون په کور کې تېرې کړې وې، د دې وسه ونه میندله چې خپل قوم یعنې: بني اسرایلو ته په عملي توګه د یوه ټولنیزه عادلانه تشکیلاتو عملي بنسټونه کېږدي. هو! موسی علیه السلام د ابراهیم علیه السلام نه وروسته په خپله ټولنه کې د لومړي ځل لپاره د د یني او دنیایي چارو د تنظیم او سنبالولو په موخه هر اړخیزه قوانین او مقررات وضع کړل، خو د سیاست په عملي ډګر کې یې د هغوی لپاره د ځمکې پر مخ کلی، کور او هېواد او په هېواد کې ازاد او خپلواک ژوند ورپه برخه نه کړی شول. نو ویلی شو، چې د سپېڅلتیاو ښکلا او د ښېګڼو نوم هغه کړنې، پېښې یا کیسې ته ورکول کېدلی شي، چې د انسانانو په ژوندانه کې په سیده توګه یو مثبت او ګټوره اغیزه وښندلی شي، یا په بله ژبه له انسان څخه د ژوند د اخیستلو پر ځای، انسان ته د ژوند د ښېګڼو مثبت اړخ ورپه برخه کول دي، چې دغه کار یوسف علیه السلام کړی او د مصر ولس یې د اوه وو و چکالیو کلونو، له حتمي تباهۍ څخه ژغورلی دی. دغه ژغورنه او د دې ژغورنې سیاسي او اداري پلانونه دي، چې د یوسف علیه السلام کیسې ته یې د «احسن القصص» مرتبه وربښلې. خو په

خواشینې سره باید ووایو، زموږ د اسلامي ټولنې عالمانو، لیکوالانو او شاعرانو، تر کومه چې زه پوهېدلی یم، چا تر اوسه پورې دغې خوا ته نه دي کتلي، هر څه چې ویل شوي او لیکل شوي، که هغه په نثري برخه کې دي او که په نظمي برخه کې، ټول د یوسف علیه السلام او زلیخا د عاشقۍ د مینې په شاوخوا کې څرخېدلي، چې د یو انحرافي عمل نه پرته بل کوم څه ورته نه شو ویلی. دا ځکه چې د زلیخا مینه د یوسف سره وه، نه دا چې یوسف پر زلیخا مین شوی وي. دغه د زلیخا یو اړخیزه مینه وه چې د یوسف علیه السلام د منفي غبرګون له امله یې دېته اړ ویستله څو ځان ته د یوسف علیه السلام د راماتولو په لاره کې هر رنګه کاني او دسیسې جوړې کړي، لکه چې همداسې یې هم وکړل. یوسف یې تر ډېرو کلونو پورې بند او زندان ته واچاوه او په دې توګه یې خپل ځان له یوې حتمي رسوایۍ څخه تر لنډې مودې پورې وژغورلو. خو اخیر د حق او حقیقت تله درنه شوله، یوسف علیه السلام یې له زندان نه راوویسته او د مصر د عزیز پر کورسۍ یې کېناوه. ټولنیز عدالت هغه غوره عملي اړخ دی چې په کې د وګړو مساوي حقوق خوندي وي، کله چې وګړي وګوري چې په ټولنه کې د نورو وګړو سره برابره برخه لري او کوم توپیر او تفاوت نشته، نو په خپلو کړو وړو کې هغه څه راڅرګندوي چې د ټولنې په ګټه وي، ټولنه له وګړو څخه جوړه شوې، کله چې وګړي په دې باوري وي، چې په خپلې ټولنې کې د چا نه ټیټ نه دی، څوک ورته په سپکه نه ګوري، طبقاتي ویاړونه د چا سره نشته، هر څوک د یوه خپلواک سړیتوب په توګه ځان لیدلی شي، نو دغه باوري حالت د ټولنې په منځ کې هوساینه او ډاډګیرنه رامینځ ته کوي. کله چې یوه ټولنه د ډاډ او بسیاینې تر درېځه ورسېدله، نو دغې ټولنې ته کولی شو، یوه خورا روغه، خپلواکه، پر ځان ډاډه او بسیا ټولنې نوم ورکړو، لکه چې یوسف علیه السلام همدغه کار کړی و. د یوسف علیه السلام نه پوره زر کاله وروسته په اریانا کې حضرت زردشت «سپین تومان» په خپلو یو شمېر غوره او عادلانه قوانینو په پلي کولو سره، د دې وسه وموندله، چې یوه خورا غوره، پر ځان ډاډه، روغه او بسیا ټولنه جوړه کړي. دلته غوره ګڼم د پوره روښانتیا په موخه د حضرت زردشت «سپین تومان» په

هکله خبرې اوړدې کړم: د پښتو\ اریانا دایرة المعارف د (٦) ټوک په (۱۸۲) مخ کې داسې لیکل شوي دي: (زردشت: د اسپه د کورنۍ لومړی سړی «اورت اسپه» دی، چې کیسوویونکی یې «لهراسپ» بولي. الماني «دونکر» دا کورنۍ په پخوانیو کورنیو پورې تړلې ګڼي، د وروستیو کیسو له مخې «اورت اسپه» په بلخ کې ډېرې ودانۍ کړې دي، خو په اوستا کې د ده د کارونو په باب څه نه دي لیکلي شوي.

«اورت اسپه» دوه زامن درلودل، چې یو یې «ویست اسپه» او بل یې «زري واري» و، د «اورت اسپه» نه وروسته د هغه زوی «ویست اسپه» چې کیسې ویونکی یې «ګشتاسپ» بولي، د پلار په تخت کېناست او هغه یو غښتلی او زړور سړی و، د ده د زمانې لوی افتخار د «زرتشترا» «زردشت» بلخي لوی پوه او مقنن سړی چې د زردشتي مذهب خاوند د ی، مشهور و. د ایران د ادبیاتو د تاریخ د لومړي ټوک (۹۵) مخ چې مولف یې میرزا جلال الدین همایي (اصفهاني) دی، دا خبره مني، چې «زردشت« بلخي و. دا حکیم او پوه سړی په بېلو بېلو نومونو لکه: «زردشت»، «زرتشت»، «زراتشترا» او «زرلتشتر» یاد شوی دی. پلار یې «پوروشوسبا» او نیکه یې «پتراسپه» او لوی نیکه یې «هیچاتاسپا» نومېدل. د زردشت لقب «سپین تومان» چې په پښتو کې د «سپین لمني» او په دري کې د «پاکدامن» معنی ورکوي. «زردشت» یو حکیم او پوه سړی و، اخلاقي او علمي تعلیمونه یې لکه «طب، نجوم او طبعیات» د ټولو طبقاتو په تېره بیا د ده د پیروانو لپاره ډېر ګټور وو. «زردشت« دوه زامن او درې لونې درلودې، ډېره کوچنۍ لور یې «پورچسپ» نومېده. «پورچسپ» د باختر د نامتو وزیر او د «ګشتاسپ» د دربار د ډېر لوی سړي «جام اسپه» ښځه وه. «زردشت» د «نواشتر» له لور سره چې د «جام اسپه» ورور و، واده کړی و. د «زردشت» او د «اوستا» د ژبې او د هغه د نورو خصوصیاتو په باره کې مختلفې عقیدې شته دي. کومه عقیده چې اوس ډېر طرفداران لري دا ده، چې نوموړی د میلاد څخه پخوا په اومه پېړۍ کې زېږېدلی او د شپږمې (ق م) پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې مړ شوی دی. «زردشت» په اویا کلنۍ کې د بلخ «باختر» یا «باکتریا» د معبد په یوه پوړ کې وژل شوی دی. «زردشت» په (۲۰)

کلنۍ کې گوښې ژوند غوره کړی او د ځوانۍ د مودې زیاته برخه یې په ریاضت کې تېره کړې ده او په (۳۰) کلنۍ کې یې خپل مذهب او عقیده څرګنده کړې او خلک یې د خپلې طریقې خوا ته رابللي دي او د بلخ بادشاه «ویشت اسپه» یا «گشتاسپ» پرې ایمان راوړی او «جاماسپ» د «گشتاسپ» وزیر هم د هغه ملاتړ کړی دی. نو له دې لامله د «زردشت» مذهب په لږه موده کې په ایران، توران، هند او کوچنۍ اسیا کې خپور شوی او پلویان یې میندلي دي.

# د زردشت کتاب

د «زردشت» نامتو مذهبي کتاب همغه «اوستا» دی او «اوستا» په پهلوي ژبه «پستاک» یا «اوستاک» او په عربي ژبه کې «اوستاق» نومول کېږي. دا کتاب (۲۱) کتابونه یا «سک» لري، چې د شریعت احکام، اخلاق، نجوم، هییات، تاریخ، فلسفه او نور په کې لیکل شوي او د «طبري» په روایاتو کې دا کتابونه یې د غوایانو پر دولس زرو پوټکو باندې لیکلي وو او ټول یې د یوه تن تالیف او د یوې زمانې او یوې ژبې په باب نه وو. هغه څه چې اوس په لاس کې دي، د اصلي «اوستا» په نسبت ډېر لنډ دي. د «اوستا» د مهمو برخو څخه یو هم «گاتونه» دي. د ایران د ادبیاتو د تاریخ لومړی ټوک (۹۸) مخ «گاتونه» یا د «اویستا» پخوانی سرودونه چې د سنسکرت په ژبه یې «گیتا» بولي، د «یسنا» له برخې څخه د (۷۲) «یسناوو» په جمله کې چې په سنسکرت کې ورته «یجنا» وایي، له (۱۷) سرودونو څخه عبارت دي. «یسنا» د ستاینې او لمانځنې په معنی او د «اوستا» د یوې برخې نوم دی، چې (۷۲) فقرې داسې سرودونه، مناجاتونه او دعوتونه په کې دي چې د عبادت په وخت کې په خاصوادابو سره ویل کېږي. د «گاتونو» سرود عموماً په شعر او ځینې په مسجع نثر هم لیکل شوي دي.

وندیداد: دا هم د اوستا له اجزاوو څخه دی، چې (۲۲) فصلونه لري. ۱- د یوې برخې آریایي هېوادونو په هکله لکه: ۱-آریاناونگو. ۲-سغد(سمرقند). ۳- مورو (د مرغاب سیمه). ۴-بخدي (بلخ) ۵- نیسایا(میمنه). ٦-هریو (د هریرود سیمه). ۷- وایکرتاکوفس (کابل). ۸- اوروا (د غزني جنوب ختیځ غرونه). ۹- خنتا (گرگان). ۰۱- هراویتي (د ارغنداب سیمه) ۱۱- هیتومت (د هیرمند د سیند سیمه). ۲۱- راغا (د بدخشان سیمه). ۳۱- کخر (غزني). ۴۱- وارنا(وزیرستان). ۵۱- هپتاهندو (اوه سیندونه او پنجاب) ٦۱- رانکه او نور. ماخذ د افغانستان تاریخ ٦۲-۲۳ مخونه.

۲- د یما کیسه: د «ویوان هان روی» چې له جمشید څخه مراد دی، د (۳) نه تر (۷) پورې د جنازي د وړلو او د هغه د ادابو د لاړښوونې او هم له هغو مطالبو څخه عبارت دی، چې خلک د عبادت، کرهنې او د څارویو د روزلو خواته رابولي. د (۷) نه تر (۲۱) پورې د نجاست احکام دي. له (۲۱) نه تر (۵۱) پورې د سپیو د روزنې او د هغو د جنسونو په باره کې (٦۱) د حیض د احکامو په هکله او (۷۱) د بدن د نظافت لکه د نوکانو د پرې کولو او د سر د ویښتانو د خرییلو او نورو په هکله دي. (۸۱) د چرگ د تعریف او د ځینو جرمونو د تشخیص او (۹۱په دې هکله دي، چې شیطان وغوښتل چې «زردشت» وغولوي، خو بریالی نه شو. (۲۰) د فریدون کیسه. (۱۲) د غوایانو باران، اوبه او د سپوږمۍ تعریف. (۲۲) هغه دعا ده چې د شیطان د ناروغیو د دفع لپاره لوستل کېږي.
۳- یشت: «یشت» څلورویشت سرودونه لري، چې د خلقت د عالي موجوداتو په هکله دي او یوه برخه ملي حماسې په کې شته. د ادب په دنیا کې د «یشت» رتبه ترگاتونو وروسته د «اوستا» پر نورو اجزاوو مقدمه ده او لکه څرنگه چې د «اوستا» گاتونه د هندوانو د مقدس کتاب «ریگویدا» حکم لري، «یشت» هم د مهابهاراته Mahabharate او رامایانا Ramayana د کتاب حکم لري.
۴- ولینپرد: «ولینپرد» څلورویشت فصلونه لري، چې هر ډول عبادتونه او د هغوی ادب په کې دي. د میلادي (اتلسمې) پېړۍ له سر نه پوه مستشرق د «اوستا» د کتاب د مطالبو د څېړلو په لټه کې شول او په دې لاره کې یې ډېرې هڅې وکړې. د دې پوهانو له جملې څخه یو هم فرانسوي «انکیتل دوپرون- Anguetil Daperron» دی، چې د قدر وړ زحمتونه یې ایستلي او د «زردشت» د فلسفې، طبیعي علومو، عباداتو، قوانینو او مقرراتو په باره کې یې د «زند اوستا» تر عنوان لاندې یو کتاب تالیف او په کال (۱۷۱۷)م کې خپور کړی دی او بل پوهاند فرانسوي «بورنوفBaor Nouf -» دی، چې د «یاسنا» تفسیر تر عنوان لاندې یې یو کتاب په (۸۰۰) مخونو کې تالیف کړی او په کال (۱۸۲۳) م کې خپور شوی د ی. داسې نور پوهان او ختیځ پېژندونکي هم شته چې په دې لاره کې یې خدمتونه کړي د ي. د «دري ادبیاتو» تاریخ

لومړی ټوک.

۵- د زردشت مذهب او تعلیمات: لکه چې وویل شول «زردشت» یو حکیم او پوه سړی و او د ده اخلاقي او مذهبي تعلیمونه ډېر فیلسوفانه او د پیروانو لپاره یې ګټور وو. دی د موجوداتو دپاره په یوه واحد او مجرد مبدا قایل دی، چې هغه ته «اهورامزدا» وایي. نور او ظلمت یا «یزدان» او «اهریمن» دواړه حادث بولي. نور باالذاته او ظلمت د هغه د طبیعي ظلي و جود له مخې او عقیده لري، چې د هستې نظام او قوام د نور او ظلمت او د یزدان او اهریمن لښکرو او په وروستۍ عبارت د قوې او مادې د امتزاج یو ځای کېدلو په واسطه ټینګېږي او د ټولو ښو چارو مرجع «یزدان» او د ټولو ناوړو چارو مرجع «اهریمن» دی او د «یزدان» او «اهریمنانو» لښکر تل سره په جګړه کې دی او عالم به هغه مهال نېکمرغه او بني آدم به هغه دم هوسا شي چې د «اهریمن» نژاد له مینځه لاړ شي.

٦- زردشت په دوه وو عالمونو عقیده لري: یو روحاني یا «مینو» او بل جسماني یا «ګیتي» او هغه چې په عالم کې دي، په دوه برخو یې ویشي: تقدیر،یا ښنه ، فعل یا (کړنه) او د انسان حرکتونه او افعال په دریو بخرو ویشي: اعتقاد یا (منښت) ویل یا (وینه) او رفتار یا (کړنه) د ده په عقیده انسان هغه وخت د نېکمرغۍ لوړې مرتبې ته رسېږي او یزدان ته نیزدې کېږي او د جنت وړ ګرځي، چې درې واړه شیان اصلاح او هغه د ښې ارادې، ښې وینا او ښې کړنې څښتن شوی وي.

زردشت وایي: د عالم د پیدایښت بنسټ پر اضدادو ولاړ دی او دا خاورینه کره د نېکۍ او بدۍ یا یزدان او اهریمن د لښکرو د مبارزې ډګر دی او کاینات د دې قواوو د ښکلو راښکلو په منځ کې واقع دی او د بشر نېکمرغۍ، د د غو دوه وو متضادو ځواکونو د مبارزې په نتیجې پورې اړه لري. ابدي فردوس د یزدان د پیروانو او د هغو کسانو په برخه کې دی ، چې ښه نیت، ښه ویل او ښه کول ولري او دوزخ د پلیتو او اهریمنو ارواحو ځای دی او دغه راز وایي: اهورامزدا چې نور محض دی، د ګیتي د هیولا سره د نوراني ځواکونو یا د امشاسپندان Amsha Spand په واسطه اړیکه پیدا کوي او د هغوی په واسطه

خپل نور له مجردې مبتداء څخه نورو مخلوقاتو ته رسوي. اشا واهشیتا ASAVahista خساتراوریا Khasathravarya، سپانتا ارمایتي Cpanta Armaiti هروتات Harvtat- آمرتات Amertat څخه چې هرامشاسپند د نړۍ د یوې چارې واګې په لاس کې لري او د د وی د هر یوه په مقابل او پر ضد انرامایِنو Anramainyu، اهریمن یو بدمرغه روح ښکاره کوي. اکامانا Akamanah د وهومانا په مقابل کې اندرا Andra د اردي بهشت یا (غبرګولي) په مقابل کې سرو Cauru، د شهریوریا د (تلې) په مقابل کې ناآنهایتیا Naonhitya د سپندارند یا د (کب) په مقابل کې ترو Tauru د خرداد یا (چنګاښ) په مقابل کې زریکا Zarica د مردادیا د (وږي) په مقابل کې.

زردشت په خپله ادعا کوي، چې د امشا سپندان سره یې ارتباط موندلی او هغوی څخه یې علم زده کړی او هم یې د اورمزد سره یې له کومې واسطې څخه ارتباط موندلی او د هغه څخه یې د پوهې رڼایي ترلاسه کړې ده. د زردشت په مذهب کې تجرد او ځان ګوښي کول او بد ویت منع شوی او د ابادولو ټولنې او مدنیت جوړولو نظافت او د کوچنیانو روزنو، د ګټورو ځارویو لکه د غوایانو، پسونو او کرهنې او نیالګیو ایښودل او داسې نورو چارو سپارښتنه شوې ده. د نجاست، طهارت، د مړیو ښخولو او نورو په باب ګټوره قوانین لري.

زردشت د علومو او ادابو زده کولو ته ډېر اهمیت ورکاوه او په خپله یې د هغوی په باب خلکو ته تبلیغ کاوه.

دا وه د زردشت او د هغه د دیني قوانینو په هکله یوه لنډه غونډې څرګندونه.

د زردشت د دین تعلیمات ټول په دې دریو بنسټونو لنډیز شوي چې وایي: «غوره اندنه، غوره وینه او غوره کړنه» چې د هغه د اویستایی ژبې اویستا کې په دې غږیزه توریو لوستلی شو: «هومته، هوخته او هورتشته». لکه چې په پورتنیو کرښو کې ولوستل شول، د زردشت د کتاب «اویستا» ډېرې مهمې شتمنۍ د هغه «ګاتونه» او «یشتونه» یایسناګانې ګڼلي کېږي، چې د ګاتونو په هکله د اریانا دایرة المعارف اوم ټوک په (۸۷۸) مخ کې داسې ویل شوي: ګاتونه: د اوستا ډېره مقدسه او لرغونې برخه ګاتونه دي، چې په «یسنا» کې

ځای کړل شوي دي. په برهمني او بودايي ډېرو پخوانيو مذهبي کتابونو کې «گاتا» هغه منظومې ټوټې دي، چې د نثر په منځ کې وې، د اوستاگاتو نه هم په اصل کې داسې وو او د موزون والي په مناسبت نوموړې برخه «گاتونه» يعنې سرود او نظم او شعر باله شوي دي.

گاتونه يوه ورځ د يوه کتاب هغه جز و، چې يوناني مورخ (هرمپيوس) له هغه څخه بحث کړی دي. د برهمنانو او بودايانو په کتابونو کې د گاتونو د معنی دمعناوو له مخې د اوستاگاتونه هم بايد په لرغونی زمانې کې د هغو منثورو مطالبو خبرو تصور کړه شي چې نن ورځ په لاس کې نشته. نو د دې لپاره چې هغه مطالب لنډ کړی شي او په داسې شکل کې يې راولي، چې خلک يې په اسانی سره په يا د کړي نو په شعر متوصل کېدل. د اوستا «گاتونه» دا لاندې پنځه برخې دي:

۱-اهنود. ۲-اشنود. ۳-سپنتمد ۴-و هو خشتر. ۵-وهتوشت.

په پورته توگه د «گاتونو» د نوعيت او اهميت په هکله معلومات وړاندې شول، دا چې زموږ بنسټيزه موخه د ټولنيزې چوپړ د سپېڅلتيا په هکله څرخي، نو له دې لامله غواړم، بېرته خپلې موخې ته راوگرځم.

په پورتنيو کرښو کې مو د حضرت زردشت «سپين تومان» په هکله ولوستل، د هغو کرښو نه به مو دې ټکي ته پام رااوښتی وي، چې حضرت زردشت د «ويست اسپه» يا «گشتاسپ» ستر مشاور يا سپېڅلي دين راوړونکي په توگه دنده لرله. گشتاسپ په بلخ کې د سپين پوټکو اريايانو پادشاه و. گشتاسپ چې د زردشت له خوا کوم قوانين ټولنې ته وړاندې کېدل، هغه به يې ټکي په ټکي پلي کول، يعنې په بلخ کې د بلخ پادشاه گشتاسپ او د دغه ستر واکمن وزير جاماسپ هم د زردشت ملاتړ کړی دی. د پادشاه او د ستر وزير پاملرنو زردشت ته وسه وبښله چې په ارامه توگه په ټولنه کې @ديني، اقتصادي، فرهنگي او ټولنيزه سمونونو لپاره يو شمېر ډېر قوانين او شرايع وليکي. څو ټولنی کې طبقاتي توپيرونه صفر ته را ټيټ شي. لکه چې په دې هڅې کې بريالی هم شو، کوم چې په همدې تور په اويا کلنی کې شهيد کړای شو. خو د ده ديني شريعت او سياسي لارښوونې د غوره لارښوونو په څېر خپلې اغېزې

ښندلې وې. ټولنې خپله لاره د سمونونو په لوري ورځ تر بلې لنډوله، چې د هغې مهال د مدنیت نښې نښانې اوس هم تر سترګو کېږي.
د بلخ مدنیت د انسانیت په لمنه کې یو نه هېرېدونکی پړاو دی، چې به هیڅکله له سترګو پټ نه شي. دا په دا چې د حضرت زردشت په سمونواله پروګامونو کې د وګړیو وګړنیزه حقوق د ټولنیزه عدالت په تله کې تلل شوي او یوه خوندي، بسیا او پر ځان ویسا ټولنه ترېنه جوړه شوې وه. هر څه ته د هر چا لاس رسی یوه ساده هڅه برېښېدله. د کرهنې، ژویو ساتنو او روزنو، د کورونو او ښارونو ودانۍ، د لارو پلونو او ویالو د جوړونو پوهه، ټولنیزه شوې. شتمنیو ته لاس رسی، د رواوو او قانوني لارښوونو له لارې اسانه او ساده شوي وو. سیاست کې هر چاته د هغه د پوهې او وړتیا له مخې برخه ورکول کېدله. طبقاتي امتیازونه د پوهې او وړتیا نه پرته شته والی له لاسه ورکاوه. شیطاني هوسونو د زورياتیو، بلوسیدنو، د بې وزلو ځورونو، لوټماریو او لاروهونکو ځواکونو خپل ځواک بایللی و. په لرې او نیزدې هېوادونو کې ظالمه واکمینو د حضرت زردشت او د هغه جوړه کړې ټولنې د لاپسې بریتوبونو او سمونوالو پرمختګونو ته د حسرت په سترګو کتل. د رخې او د نه لاورینې د شیطاني لمسونو له لامله یې نه شوای زغملی چې دغه ټولنه لاپسې وغوړېږي او ورو ورو د د وی تر سیمو ورسېږي.
په هغه کتاب کې چې د ښاغلي غوث خیبري له خوا «پښتانه د افغانستان په افسانوي او داستاني تاریخ کې» په نامه لیکل شوی د زردشت په هکله په (۸۳) مخ کې داسې لولو:
«د بلخي زردشت نیزدې حامي او دوست چې د زردشت په ژوند کې یې زردشتي دیانت قبول کړ، د غرغښت یا ګرشاسپ د یوه روښانه انځور د وړاندې کولو په موخه مو غوره وګڼله، چې په دې کتاب کې ورباندې یو جلا څپرکی ولیکلی شي، چې په راتلونکیو پاڼو کې به ستاسو له نظره تېر شي.
د غرغښت یا ګرشاسپ د مهال مدني او تهذیبي حال د اریانا افغانستان د نورو افسانوي او داستاني پاچاهانو په پرتله ډېر ځلانده او روښانه دی. ځکه ستر زراتوشترا د هغه په سیوري او د څېړونکیو په وینا د همدوی په هڅونه،

لومړنی اوستا ولیکله، چې په دې سره زردشتي دین د وړتیا او لوړتیا لاره ووهله او اویستایي تهذیب او مدنیت په ښه شان وغوړېده. دې نوي مدنیت په یوه داسې ټولنه کې خپله لاره پرانیسته کړله، چې تر دې دمه لا د ویدایي ادیانو او هڅوبونو تر اغیز لاندې وه او ویدایي. باورونه لا پر ځای پاتې ول. ریگویدا لا تر هغه وخته د وګړیو لپاره د ارزښت وړ پېژندل کېده او د ویدیک مدنیت نښې نښانې، آرونه او اصول لا د خلکو په ذهن کې ژوندي ول، چې دا هر څه د اویستایي مدنیت د وړانگو تر اغیز لاندې کرار کرار بدل شول.

تر کومه ځایه چې مورخانو ویلي، «بلخ، بخدي د د واړو مدنیتونو د ځلېدلو، لومړنی ټاټوبی و او د ارایانا افغانستان افسانوي او داستاني پاچاهانو هر یوه په خپل مهال کې په دې ځلا کې ونډه لرلې ده.»

ښاغلی غوث خیبري د دې کتاب په (۹۰) مخ کې داسې لیکي: «بلخ د پارس، ایران، په ختیځ لوري کې راځي. په پارس وروسته ایران کې هخامنشیان واکمن ول، چې په بلخ کې زراتوشترا، اوستا ولیکله او زردشتي دین منځ ته راغی. لیکن د تاریخ سندونو له مخه هخامنشي پاچا د اریوش دارا او نورو زردشتي دین ونه مانه، همدې د اریوش پر بلخ یرغل وکړ او د اوستا لومړنی اصلي نسخه یې له بلخ څخه یوړه. دغه نسخه په هغه (واره) کې پرته وه، چې د بلخ پادشاه او د زردشت حامي او دوست (گرشاسپ) خاص د اوستا لپاره جوړه کړې وه.» وتلي مورخ استاد کهزاد دغه گرشاسپ پښتون ثابت کړی دی. همدارنگه غوث خیبري د خپل کتاب په (۵۹) مخ کې داسې وايي:

«د اریوش د بلخ له واري څخه د اوستا کتاب وتښتاوه، لېکن د ژوند تر پایه پورې زردشتي دیانت یې ونه مانه، په داسې حال کې چې گرشاسپ یا غرغښت چې د زردشت ډېر نیژدې حامي او دوست او د بلخ پاچاهي یې هم په لاس کې وه، د لومړني انسان په توگه له ټولو مخکې نوی دین قبول کړ. ځکه زردشت او غرغښت (گرشاسپ) دواړو شریکه وینه لرله او د یوې خاورې بچیان ول.»

ښاغلی غوث خیبري د دې کتاب په (۲۱۸-۲۱۹ او۲۲۰) مخونو کې داسې لیکي: «په ویدایي پیر کې د اریانا افغانستان وگړیو کومه واحده او ثابته دیني

مبدا نه درلودله. لیکن په بلخ کې د گرشاسپ د پاچاهۍ په مهال د زردشت د ظهور او د اوستا د مینځ ته راتلو نه وروسته دغه واحده او ثابته دیني مبدا، د لومړي ځل لپاره خلکو وموندله او گروهه یې وربانديې پیدا کړه، چې زردشتي دین و او لاربنودنه یې هم د بلخي زراتوشترا پر غاړه وه، چې د وخت پاچا غرغښت یا گرشاسپ یې لومړی حامي او ملاتړ کوونکی و، چې له ټولو لومړی یې زردشتي دین ومانه او دغه انقلاب په ټول هېواد کې د یوه نوي تهذیب او مدنیت د زېږېدلو او پراخېدلو ستر لامل هم وگرځېده او د نړۍ نور هېوادونه یې د اغیز لاندې راغلل.

د اوستایي مدنیت او اوستایي پېر پیل کېدل دواړه په بلخ کې شوي دي، ځکه چې آر مبدا یې زردشت او دده کتاب اوستا دی او د بلخ د خلکو د فکر او اند په برکت مینځ ته راغلی دی او پښتون غرغښت، غرشاسپ او گرشاسپ په کې ستره ونډه لرلې. د غرغشت پوهه او تدبیر، چې د زراتوشترا نیژدې حامي او دوست و، د دې سبب شوی و، چې بلخیان د خپل ژوند ارزښتونه ډېر ښه وپېژني او د باختر د اسپه کورنۍ له مینځه زراتوشترا چې پښتو لقب یې «سپین تومان» و، نړۍ ته راشي، اوستا ولیکي او زردشتي دین مینځ ته راوړي، چې لومړنی منونکی او قبلوونکی یې په خپله غرغښت یا گرشاسپ و او د زردشت د د ین سره د علاقې له مخې یې لارښودنه وکړه، چې اوستا دې د (۱۲) زرو د غوایانو په پوټکیو کې په طلایي رنگ ولیکل شي او بیا دی د بلخ په ښکلي (واره- Vara) کې کېښودل شي.

مورخ پلین ویلي دي چې اوستا ډېر غټ و او چې عرب مورخ طبري هم همدغه گروهه ښکاره کړې ده. اوستا (۲۱) ټوکه یا (نسک) درلودل. ځینو مورخینو ویلي دي چې: گرشاسپ حکم کړی و، چې اوستا دې د هېواد په معبدونو کې کېښودل شي.

وایي: د اوستا ارنسخه داریوش هخامنشي، ځینو مورخانو د پارس د پآچا کوروش نوم هم یاد کړی دي، له بلخ نه یوړله، کله چې مقدوني سکندر پارس (ایران) ونیوه او بیا یې (پرسپولس) په اور وسوځولو، نو د اوستا هغه نسخه هم وسوځېدله او له مینځه لاړه.

اوستايي مدنيت چې د ويدي مدنيت څخه وروسته مينځ ته راغی، دويم ستر مدنيت و، چې زانگو يې بلخ، بخدي او باختر وو. غرغښت يا غرشاسپ څکه د دې مدنيت باني او بنسټ ايښودونکی وپېژندل شو، چې په همدې مهال کې د بلخ پاچا او د زراتوشترا حامي او د اوستا په کار کې مرستندوی وو. محققين او مورخين په دې گروهه دي چې د گرشاسپ د د ورې ستر وياړ د زراتوشترا (زردشت) پيدا کېدل او د ده له خوا د اوستا ليکل دي. زردشت يو لوی پوه او د بلخ غټ قانون جوړونکی يا مقنن و، چې زردشتي دين يې مينځ ته راووړ. ژوند او مرگ يې په بلخ کې تېر شوي دي او د يرغلگرو تورانيانو پر ضد يې د جگړې په ډگر کې خپل ژوند له لاسه ورکړی، چې د گرشاسپ پلار (اورت اسپه) چې د افسانه جوړونکو له خوا په (لهراسپ) مشهور شوی هم له تورانيانو سره په مخامخ جگړه کې وژل شوی د ی. له (اوروت اسپه) يا (لهراسپ) څخه د بلخ پاچاهي (گرشاسپ) يا غرغښت ته پاتې شوه او ده بيا تورانيان د تل لپاره پر بلخ باندې له تېري څخه منع کړل.
ښاغلی غوث خيبري د همدې کتاب په (۲٦۲) مخ کې داسې زياتوي: زردشت د غرغښت د شخصيت په تکيه او مرسته د خپل دين آرونه (اصول) په خپل کتاب (اوستا) کې په ډېر ښه ډول خپلو خلکو ته وروپېژندل، چې اوستايي تهذيب ورسره وده او پراختيا ومونده. ليکن ډېری پوهانو (اوستا) يواځې يو ديني کتاب نه دی پېژندلی، بلکې زردشت يې يو اقتصادي عالم او (اوستا) يې د ځينو اقتصادي سيستمونو معرفي کوونکی ښودلي. سربېره پر دې د زردشت د پيدايښت او زوکړې د سيمې او ځای په هکله ځينې نوې څېړنې خپرې شوې دي، چې له هغې جملې نه د انگلستان (مزديسنان) مجله ده، چې د ۱۹۲٦ کال د سپتامبر د مياشتې په گڼه کې يې يوه تحقيقي مقاله خپره کړې چې په کې ويل شوي دي: زردشت له ميلاد نه ( ٦۹۰۰) کاله مخکې د افغانستان د (ونکهوی دريتا) په سيمه کې زېږېدلی دی. د پلار نوم يې پوروسپ او د مور نوم يې (دغدو) و، چې دوی له يوې اميرې کورنۍ څخه ول.
زردشت په دېرش کلنۍ کې له زده کړو وروسته په نړۍ کې وحدانيت پرستي

اعلان او په خپله په (اشيدا) غره کې څيله شو. له هغه وروسته يې خپل مشهور کتاب (اوستا) راښکاره کړ. زردشت په اويا کلنۍ کې د خپل دعوت په منځي (مرکز) بلخ کې ووژل شو. د زردشت د ظهور يا پيدايښت په نېټې کې چې د ميلاد نه (۲۵۰۰) دوه زره پنځه سوه کاله مخکې ښودل شوی و، د اختلاف ډېر ژور توپير ښيي. دغه مطلب بايد په ياد ولرو چې څو زردښتيانو، نور وهم ظهور کړی او ټولو د لومړني زردشت پېروي کړې ده.

د انګلستان (مزديسنان) مجلې ويلي وو، چې مبادا له ميلاد نه (۶۹۰۰) شپږ زره او نهه سوه کاله مخکې زردشت د هخامنشي (د اريوش) او يا دی دانيال پېغمبر له زردشت سره په سهوه يو وګڼل شي.

په هر حال هر څه چې نن يې تاريخ شرحه په لاس راکوي، د هماغه زردشت په هکله ده، چې له ميلاد نه اوه سوه (۷۰۰) کاله مخکې په بلخ کې راپيدا شو.»

د پورتنيو خورو ورو څرګندونو په مخ دا ټکی په خورا روښانه توګه ليدلی شو، چې حضرت زردشت د ديني پوهنو سره جوخت د ژوندانه د نورو اړخونو په هکله هم لکه اقتصادي، فرهنګي، ټولنيزه او سياسي پوهه هم لرله او د خپلې ټولنې د ژوند د خورو ورو اړخونو د تنظيم، ترتيب او خوندي کولو په لاره کې غوره سمونونه رامينځ ته کړي وو. له دې کبله د نړۍ پوهانو، هغه ته د لوی مقنن لقب ورکړی دی.

په دې توګه حضرت زردشت نه يواځې لکه د حضرت موسی عليه السلام او حضرت کنفويسوس غونډې خپلو ولسونو ته د ژوند د هر اړخ په هکله ګټور قوانين او شرايع وړاندې کړي، چې خپل ولس نه يې هم يو غښتلی، بسيا او سرلوړی ولس جوړ کړی و. د حضرت زردشت غوره والی په دې کې ښکاري چې هغه په خپل ژوند کې خپل ولس يو موټی، خپلواک او د ژوندانه د هر اړخيزو ښېګڼو نه برخمن کړ. کوم چې موسی عليه السلام د ټولو قوانينو او شرايعو سره سره چې يې وړاندې کړل، د دې وسه ونه مېندله، څو د ځمکې پرمخ خپل قوم نه يو خپلواک ملت جوړ کړي. لکه چې په همدې توګه په چين کې حضرت کنفويسوس هم د خپلو سمونوالو پروګامونو په پلي کولو کې نيمګړی او نيمه خوا پاتې شو. اجتماعي عدالت د ولس په اقتصادي حالت

کې مساوات راوړونکی او د ټولنې ترمنځه بسیاینه او ډاډ رامینځ ته کوونکی ځواک دی. کله چې یوې ټولنې کې بسیاینه او ډاډ خوندي شي، په هغه ټولنه کې امنیت، وداني او سمسورتیا وغوړیږي. په امنیت، ودانۍ او سمسورتیا کې د ښاري او کلیواله ژوند ترمنځه توپیرونه له مینځه لاړ شي، پوهه وده وکړي، کلتوري چارې لکه د بڼ د ګلونو په څېر وغوړیږي. د ښېرازۍ پسرلی خپله ګلورینه لمنه هره خوا پلنه کړي. غرونه، راغونه، دښتې او کڅونه د کلیو او ښارونو سره یو ځای د ولس د عالي فرهنګ په ښکلاوو او ښېګڼو کې ډوب او د زمانې په هنداره کې خپله سپېڅلتیا وځلوی.

په اجتماعي عدالت کې د ټولنې ترمنځه طبقاتي امتیاز خپل شته والی وبایلي، مساوات او برابري خپله واکمني پلنه کړي، لکه چې د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې یو ځل هغه هم په مصر کې د حضرت یوسف علیه السلام د واکمنۍ په مهال د طبقاتو نه لرې ټولنه رامینځ ته شوې وه، چې موږ یې هغسې بله بېلګه نه شو ښودلی. دا ځکه چې د یوسف سمونواله پروګرامونه ټول په ټوله کې د عدم تشدد یعنې: د تاوتریخوالي او ځاځنیزه کړونو نه پرته پلي شوی او بري ته رسېدلي وو.

په دوهم پړاو کې د اریانا په پلازمینه (بخدي) کې د حضرت زردشت له خوا څنګه چې ویل کېږي او پوهانو منلې، دا حضرت زردشت و، چې د اجتماعي عدالت د خوندي کولو په پار د ژوند په هر اړخ کې ګټوره قوانین پلي کړل. د ټولنې ډاډ او بسیاینه یې خوندي او په ټولنه کې یې د ودانۍ او ښېرازۍ لمنه پراخه او پرتمینه کړې او هېواد یې د نړۍ په سیالانو کې سیال ګرځولی و، خو د بهرنیو میرځیو د پراخو بریدونو له لامله د خپل هېواد په زړه کې شهید شو. مګر د هغه د شهادت سره سره دښمنو ځواکونو ته د دې وسه پر لاس ورنغلله، څو د اجتماعي عدالت د خوندي کېدو په لاره کې د زردشت له خوا رامینځ ته شوي قوانین او شرایع له مینځه یوسي. دغه پر اجتماعي عدالت مینه قوانین او شرایع خپله واکمني په ټولنه کې د پخوا په څېر لا پسې ټینګه وساتله. خو هغه مهال د بهرنیو میرځیو له خوا ورته مرګاني ګذاز ورکړل شو، کله چې د زردشت د شریعت لوی پوه او مقنن (مزدک) خپله فتوا خپره کړه.

په دې هکله غوره ګڼم د پښتو اریانا دایرة المعارف (۷) ټوک (٦۹۹) مخ ته وګورو، چې داسې لیکي: «مزدک د زردشتي دین له روحانیونو څخه وو، چې د خسروانو شیروان په زمانه کې یې د پېغمبرۍ دعوه وکړه او د نوموړي پاچا په امر ووژل شو او د مزدکي مذهب پیروان هم زیاتره له مینځه یوړل شول. د مزدکي مذهب له مخې خلک په ښځه او شتمنۍ کې سره ګډ بلل کېدل.»

دا وو د مزدک په هکله د اریانا دایرة المعارف لنډه یادونه. د پښتو اریانا دایرة المعارف د (۴) ټوک په (٦۲۲) مخ کې د انوشیروان په هکله داسې وایي:

انوشیروان: د پارس د ساسانیانو له حکمدارانو څخه دی، اصلي نوم یې خسرو دی، وروسته د پلار له مړینې په (۵۳۱) م کال کې د حکمرانۍ پرتخت کېناست. انوشیروان وروسته له هغه چې په خپل قلمرو کې یې امنیت ټینګ او اصلاحات یې وکړل، نو د بیزانس د امپراتورۍ سره یې د جګړې بنا کېښودله. انوشیروان د بیزانس سره د خپلو جګړو په نتیجه کې غالب شو. سربېره د خپلو نورو موفقیتونو، جوستي نین Justinien د بیزانس مقتدر حکمدار یې دېته اړ کړ، چې په هر کال کې دېرش زره طلاوې ده ته ورکړي. انوشیروان یو په بل پسې فلسطین، سوریه او اناطولي تر خپل سلطې لاندې راوستل او تر استانبوله پورې پرمخ ولاړ. حتی نننی ګرجستان، ګلګیت یې هم تر خپل تصرف لاندې راوست. وروسته د توکیو، ترک له د ولت سره متفق شو او له یفتلینانو سره وجنګېد او د هغه پسې بیا د خضر د ترکانو سره هم وجنګېد. مګر په دې جګړو کې ډېر تاوان ورپېښ او په پرېشانۍ اخته شو. بیزانسیانو د دې لپاره چې د ده تهلکي مخه ونیسي، نو د خضر د د ولت سره یې د اتفاق تړون وکړ او د دې اتحاد او دوستۍ د زیاتې ټینګېدو لپاره یې یو بل ته سره لونې هم ورکړې. انوشیروان د دې دوستي په راتلونکو خطرونو پوه شو او د هغه د مخ نیوي لپاره یې خپل معروف (سد) په دربند کې بنا کړ. لیکن دا بند هم بالاخره ونکړای شول، چې د خضر د ترکانو مخه ونیسي، چې پر پارس باندې یې حمله وکړه. دوه ځلې د ده پر ضد پاڅېده لیکن څه یې ونه شوای کړای. انوشیروان هندوستان هم تهدید لاندې راوست او مجبور یې کړ چې د فارس د دولت په ګټه تړون لاس لیک کړي.

انوشيروان څلوېښت کاله حکومت وکړ او په پای کې د هغو مجادلو په علت چې يې له بيزانطيانو سره کولې، د ځينو ماتو سره مخامخ شو او د د غو مجادلو په ترڅ کې په (۵۷۹) میلادي کال کې مړ شو.»

په پورته کرښو کې مو د (مزدک) په برخه کې ولوستل چې د پارس خسرو، انوشيروان له خوا (مزدک) او د هغه زياتره لارويان په دې تور او ګناه په ټوليزه توګه ووژل شول، چې ګني (مزدک) د زردشت د دين لوی عالم و، خو د پېغمبرۍ دعوی يې کړې او په ښځو او شمتنيو کې يې د خلکو ګډ حق منلی او ويلي يې دي، چې ښځه او شتمني د خلکو ګډ مال او شمتني ده. دا يو د ټولنيزو وژنو بنسټيز تور. ښه به وي د ښځې او شمتنيو په هکله چې آيا د خلکو ګډ مال بلل کېدلی شي، که نه؟ يو څه غوندې ځير شو او وګورو چې ايا د انوشيروان موخه په رښتينه توګه د عدالت او مساوات تامينول وو او که دا چې هغه په دې بهانه غوښتل د خپل د لارې خنډونه لرې او کنډکپري اوارې کړي، څو په بېغمه توګه وکولای شي، په سيمه او نړۍ کې د خپل د ځان او د خپلې د واکمنۍ ځواکمنه څپه ټينګه او په پرله پسې توګه ژوندۍ وساتي. نو د ده په مخه کې دوی لاملونه شته والی لاره، چې ښايي لومړنی يې د واکمنۍ د پايښت او د وهم يې د پراختيايي غوښتنې تنده وګڼله شي، چې د هغه په کړنو کې په روښانه توګه ليدلی شو. د واکمنۍ د پايښت خبره په کورني سياست پورې تړاو لري، چې موږ هغه د مزدکيانو په ټولنيزې وژنې کې ګورو او دا ټکی ترې اخلو چې انوشيروان په خپل دغې تاريخي جنايت سره وکولای شول، خپل کورني احتمالي خنډونه په يو ځلې توګه له مينځه يوړل او خپله لاره يې د خپلو راتلونکو پراختيايي غوښتونکو هيلو او تلوسو لپاره پرانستله. د دې سره جوخت د ځان لپاره يې د (انوشيروان) عادل افتخاري نوم او لقب هم ترلاسه کړ. هو! د تاريخ په هر پړاو کې عادل او منصف هغه څوک ګڼل شوی، چې لکه د خسرو (انوشيروان) په څېر ستر جنايت وکړي او خورا لوی ظالم او مستبد ووسي. هغوی چې د عدالت او مساوات غوښتونکي وو، يا هغوی چې د خپلو لنډو مودو ژوندي پاتې کېدو لپاره اجتماعي عدالت او مساواتو ته مخه کوله، د ظالم او مستبد ځواک د پرمختګ د لارې خنډ کېدل،

په ټولنیزه توگه د مبارزې له ډگره محوه او نابود شول، چې دغه لړۍ لا تر اوسه پورې په خپلو مختلفو رنگونو او مثالونو کې لا هم پاینښت لري. څوک چې د ځواک خاوند شو او ظلم یې وکړ، هغه عادل، منصف، قانون پوه او د حق خاوند دی، خو څوک چې په ټولنه کې د کوم ځواک خاوند نه وي، هغه باید ارومرو د مستبدینو مطیع، تابع او غاړه ایښودونکی وي، که استبداد ته اطاعت ونه کړي، یاغي باغي، قانون نه تښتېدونکی او د وژلو مستحق گڼل کېږي. خسرو (انوشیروان) ټول مزدکیان په دې تور ووژل چې د ټولنې خواران او بې وزلان یې د شتمنو په شتمنۍ کې د حق خاوندان گڼل او په خپله (انوشیروان) په دې د لیل د عادل افتخار وگاټه چې د شتمنو له گرېوان نه یې د بې وزلو او خوارانو د حق لاسونه لنډ کړل. دې مستبد او ظالم دې ته ونه کتل چې دغه خواران او بې وزلان یواځې د ده د واکمنۍ په مهال کې د شتمنو په شتمنۍ کې د حق خاوندان نه وو، چې د ده نه په پخوا او د ده نه په راتلونکو مهالونو کې هم د لوی خدای له لوري هر بې وزلي د هر شتمن په شتو کې د حق لرونکي او د حق خاوند گڼل شوی دی، لکه چې لوی خدای د قرآن کریم د الذاریات سورت په (۱۹) آیت کې داسې امر کوي: «وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ» ژباړه: (او په مالونو د د وی کې حق او برخه ده سوالگر لره او صبر کوونکي لره، یعنې مسکین سوال نه کوونکي لره.)

تفسیر: محروم هغه اړه، مجبور او محتاج دی چې له هیچا څخه هیڅ نه غواړي، مطلب دا دی، چې دوی برسېره پر زکوات له خپلو مالونو او شتو څخه په خپلې خوښې سره سایلانو او محتاجانو ته برخې ټاکي او مقرروي، چې د التزام له لامله، گواکي حق ورته وایه شي او اغنیا باید د داسې محتاجانو له حال نه خبر وي، چې دوی له شرم او غیرت نه له چا څخه څه نه غواړي.

د پو رتني آیت د څرگند او روښان متن نه هر څوک پوهېدلی شي، چې د شمتن په شتو کې د زکوات نه پرته چې یو فرضي حکم دی او باید کال په کال یې ادا کړي، د ده په پاتې شتو کې هم لا د کال په اوږدو کې د هر سایل او محروم حق محفوظ دی، هیڅ شتمن د دې وسه نه لري، چې له خپلو شتو

څخه د کوم سایل یا محروم انسان حق وسوځوي، یا دا چې ووایي دا زما شتمني ده، په دې کې د بل هیڅا حق نشته، دا ځکه چې په پورتني آیت کې په روښانه توګه د لوی خدای له لوري امر شوي، په هماغسې زه فکر کوم چې مزدک هم حق لاره څو ووایي په شتمنی کې ټول انسانان په ګده سره حق لري. یعنې: د مزدک فتوا د حقوقو د بنسټ له مخې کوم غلط او ناروا اړخ نه درلود. لکه څنګه چې د ځمکې په هکله د ټولنیز عدالت په چوکاټ کې یو نه بل ته د ملکیت واک لېږدېدلی شي، په هماغه توګه د ښځو په هکله هم د محرماتو نه پرته د ملکیت واک په هر مهال کې د یو نه بل ته د لېږدېدلو وړتیا او لېوالتیا لرلی شي. نو په دې دلیل: لکه څنګه چې مزدک په خپل مهال کې فتوا ورکړې وه، په هماغه رنګه په ښځه او ځمکه کې د ملکیت د لېږدېدلو له لامله هر چاته حق شته او هر څوک کولی شي، په ځمکه کې په هره توګه او په ښځه کې د محرماتو نه پرته په هر مهال کې د ملکیت حق لاسته راوړي.

ښایي لکه څرنګه چې د هابیل او قابیل په مهال کې د خویندو سره واده او نکاح حق ګڼل کېده، د مزدک په مهال کې به هم د محرماتو د واک د لېږدېدلو روا والی شتون لاره.

د پورتني بحث په تایید کولی شو د المعارج سورت د (٢٤) او (٢٥) آیتونو د څرګندو لارښوونو پرمخ لاپسې په دې هکله ډاډه او باوري ووسو، چې وایي: «وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ- لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ» ژباړه: (او هغه کسان هم هلوع نه دي، چې په اموالو د هغوی کې حق (برخه معلومه وي) له (زکوات او صدقات) لپاره د غوښتونکیو (فقیرانو) او محروم (فقیرانو) چې سوال نه کوي.)

یادونه: (هلوع) هغه چاته وایي چې حارص، بې صبره، فریاد کوونکی وي، یعنې: هغه څوک چې د شر او ضرر د رسېدلو په مهال کې نارې سورې وهي، بې صبري ښیي او کوکارې کاندي. خو د ښېګڼو په مهال نور خلک د حق له لیارې منع کوي او هر څه ځان ته غواړي او خپل ځان مستحق ګڼي. د مثال په توګه یو شتمن سړی چې نه غواړي له خپلو شتو څخه کوم محروم او سوالګر ته څه ورکړي، نو په بهانو جوړولو سره د خپلو شتو د ساتلو لپاره ځان

مجبور ګڼي او وايي چې: دغه شته مې په ډېرو ډېرو کړاوونو، ربړونو، د لاسونو په تڼاکو او د تندي په خولو سره ګټلي دي. روا به نه وي چې په اسانه توګه او په نه څه خبره يې چاته ورکړم). داسې کسان د دې سوچ نه کوي، چې که چيرې د لوی خدای له لوري ده ته سمه روغتيا، وسه او هڅه نه وی ښنل شوې، نو ده به څرنګه او په کومې وسې خپلې د پښو تلي او د لاسونو ورغومي تڼاکې او وچلي خولې کړي او په دې توګه يو شتمن انسان ترې جوړ شوی و ای، نو ځکه هر څه د لوی خدای له لوري دي او هغه لوی ذات دی چې يو چاته د دې وسه ښيي، څو د شتمن کېدلو په لياره کې د بريو څخه ډکې هلې ځلې وکړي. ځان خولې کړي، کړاوونه وګالي، شپه او ورځ يوه کړي، خوړل، څښل او هوساينه پر ځان حرام او د سترګو د ښو له څوکو نه د خوب د خوښی ښوونکو څپو مخه ونيسي، وګټي او د ګټو پر کچه يې د لوی خدای له لوري برکت پرېوځي. په دې توګه ويلی شو، چې په شتمن کېدلو کې د انسان لپاره يواځې هلې ځلې دي، نور د لوی خدای کار دی، چې يو چاته د هلو ځلو او د کړاوونو د ځغملو وسه ښيي او هغه په دې لاره کې د خدای ورکړې روغتيا، وسي او هلوځلو او ځغمتيا څخه په ګټې اخيستلو د شتو خاوند شي. کله چې خبره داسې وي، نو د ده په شتو کې نه يواځې د ده برخه محفوظه ده، چې د لوی خدای برخه هم خوندي ده، نو له دې لامله هر شتمن اړ دی هم له خپلې برخې او هم د لوی خدای له برخې، پر بې وزلو او خوارانو وويشي، کله چې ګټه يا لاسته راوړنه په دوه وو برخو ويشل شوې وي، نو هغه برخه چې په لوی خدای پورې اړه لري، په هغه کې د ټولو بې وزلانو او خوارانو حق دی چې بايد ترلاسه يې کړي. په بل اړخ کې که چيرې د لوی خدال له لوري يو چاته د روغتيا او د هلو ځلو وسه ونه ښنل شي، هغه کس هيڅکله د ګټې وټې جوګه کېدلی نه شي. کله چې څوک د ګټې وټې جوګه نه شو، هغه خود بې وزلانو او خوارانو په ډله کې پرېوځي. څنګه چې بې وزله، بې وسه او خوار شي، نو د شتمنو په شتمنی کې د حق خاوند شي. دلته ده، چې د سوله ايزې سيمې رامنځ ته کولو په پار، هر څوک اړ دی د خپلې وسې په کچه د ځان او د کورنی د بسياينې لپاره هلې ځلې ونه سپموي، دا ځکه چې په ټولنه کې

ټول په ټوله يو دبل په شتمنيو کې که وغواړي او که ونه غواړي د حق خاوند ګڼل کېدلی شي. شتمني يواځې پيسې نه دي، په شتمنۍ کې د پيسو سره جوخت د روغتيا او سلامتيا ډاډيني هم لويه برخه لري. که چيرې پيسې وي، خو د روغتيا او سلامتيا ډاډمني نه وي، پيسې به خپله د اغيزمنۍ برخه ونه شي ښودلی. همدارنګه که روغتيا او سلامتيا ډاډمنه وي، خو پيسې نه وي، په دې حال کې هم په ټولنه کې د ودانۍ او ښېرازۍ کارونه په ټپه ودرېږي. نو له دې کبله په ټولنه کې د روغتيا او سلامتيا د ډاډمنتيا سره جوخت پيسې هم خپل ستر اغيز لرلی شي. يعنې د ټولنې هر وګړی د شتمنۍ په دې درې واړو بنسټونو کې ګډه برخه لري. هر وګړی د بل وګړي د ژوند د دې درېګونو بنسټونو په خوندي ساتلو کې ذمه وار ګڼل کېږي. دغه ذمه واري د ټولنې د سلامتيا او روغتيا ډاډمنتيا خوندي کوي.

په هره ټولنه کې چې وګړيزې ذمه وارۍ خپل رنګ بايللی وی، په هغه ټولنه کې هر څه له مينځه تللي، امنيت په ناامنۍ، روغتيا په ناروغۍ او د شتمنۍ وسه په فقر او بې وسۍ بدله شوې او د ټولنيزې ښېرازۍ مزی شلېدلی دی. په ټولنه کې لکه څنګه چې امنيت د ټولنې د روغتيا او سلامتيا او شتمنۍ ساتونکی بلل کېږي، روغتيا، سلامتيا او شتمني هم په ټولنه کې د امنيت ټينګېدونکی او ساتونکی بلل کېږي. کله چې په ټولنه کې وګړينزه ذمه واري دټولنې د دغو درې ګونو بنسټونو دساتونکو په څېر پېژندل کېږي، نو په ډاګه ويلی شو، چې د ټولنې په شتمنۍ کې د ټولنې هر وګړی ګډه برخه لرلی او له هره اړخه دا حق د منل شوي حق په څېر خوندي ساتلی شوی دی، چې چا تر اوسه پورې د بېلتون واک نه دی ترلاسه کړی. دا ځکه چې په انفکاک کې د ټولنې د ګډووډيو لامل نغښتی دی. هره انفکاکي هڅه په ټولنه کې د امنيت سره جوخت د ټولنې د روغتيا، سلامتيا او د شتمنۍ بنسټ هم ړنګولی شي.

نو له دې کبله پراخه هڅه په کار ده، څو په ټولنه کې د هر وګړي حق ته چې پر يو او بل يې لري، څه تاوان ونه رسېږي. د دې موخې د تحقق په لاره کې د عدالت او مساواتو په نامه مختلف قوانين رامينځ ته شوي د ي، وګورۍ يوسف عليه السلام په مصر کې د اوه وو وچکاليو کلونو د تباهۍ د مخنيوي په

پار څومره او څرنګه قوانين پلي کړل؟ څو د هغوی په ټولنه کې طبقاتي امتيازونه له بېخه ونړېدل، د مريانو او د وينځو طبقه د اشرافو د طبقې سره يوه برابره شوه. ملکيت د دولت په لاس کې کېوت، که اشراف وو او که مريان ټول د دولت له خوا په کارونو کې بوخت او د دولت معاش خواره شول. دا ټول کارونه د (انفاق) د اصل پرمخ وشول. د (انفاق) دنده چې د هر دين له لوري پرې تاکيد شوی، د يوسف عليه السلام له لوري په خورا پراخه او عادلانه توګه پلی شوی. يعنې هر چاته يې د وچکالۍ په کلونو کې (نفقه) رسولې وه.

(نفقه) هغه دنده ده، چې پر مېړه فرض ګڼل کېږي، خپلې ښځې او ماشومانو ته او همدارنګه پر شمتن فرض ګڼل کېږي، چې نيستمنو ته او پر واکمن د ولت او حکومت فرض ګنل کېږي، چې خپلو لاس لاندې ولسونو ته نفقه ورسوي. په نفقه کې د خوړلو، څښلو او د اغوستلو اړتياوې د لومړنيو اړتياوو په څېر بلل کېږي. دې سره سره په نفقه کې د روغتيا او سلامتيا شته والی هم خپله اړتيا ښودلې ده، دلته نو لازمه ده، دقرآن کريم له نظره د (انفاق) پر مختلفو اړخونو هم ځان وپوهوو:

## «انفاق»

۱- د البقرې سورت په (۳) آيت کې انفاق د اسلام د دين د مومن بها د د رېيم بنسټ په نوم معرفي شوی، چې وايي: «**الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ**». ژباړه: (هغه کسان چې ايمان (باور) لرونکي دي پر غيب باندې او قايموي دوی، سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو لمونځ او ځينې له هغو شيانو چې ورکړي موږ دوی ته صرفوي يې د الله تعالی د رضا لپاره.)

تفسير: يعنې هغه شيان چې د هغوی له عقولو او حواسو څخه پټ دي، لکه وحدانيت، رسالت، حشر، نشر، قيامت، کتاب، ملايک، جنت، دوزخ او نور دغه واړه د الله تعالی او د هغه در سول صلی الله عليه وسلم له ارشاده سره سم حق او يقيني ګڼي. له دې څخه دا راښکاره شوه، چې د دغو غايبو او پټو شيانو منکران د هدايت له فيضه محروم او بې برخې دي. د صلات له اقامت څخه

مطلب دا دی، چې هغه تل د خپلو ټولو حقوقو او ادابو په مراعات سره په ټاکلو وختونو کې ادا کړی شي. د ټولو عباداتو اصل درې شیان دی: ۱-هغه امور چې د زړه سره تعلق لري. ۲-هغه امور چې د بدن پورې متعلق او تړاو ولري. ۳-هغه امور چې په مال پورې مربوط وي. په دې مبارک آیت کې دا درې واړه اصول په ترتیب سره یاد شوي دي). دا و د مفسر تفسیر.د مفسر له خوا د انفاق اصل د مال په نامه د عبادت په اصل پورې تړل شوی دی. حال دا چې د انفاق اصل ځانله یو اصل دی، چې د ژوندانه په انفرادي او ټولنیزو اړخونو پورې د وجایبو او مسؤولیتونو د تکالیفو ټاکنه ده. دغه اصل د ټولنیز ژوند د سنبالولو په پار په ټولنه کې په عادلانه توګه د بسیاینې او ډاډ د تامین غوره او مهم لامل دی. هر کله چې د دې اصل د پلي کېدلو مخه چا نیولې، په هماغه مهال ټولنه د انحراف او ګډوډۍ په لوري تللې ده، چې بیا په کې چا د امنیت او ټولنیز ژوند ښېګڼې نه دي لیدلې. د انفاق د معناوو د لاپسې روښانتیا په هیله بیا هم په لاندې کرښو کې د قرآن کریم آیتونه لولو.

۲-د البقرې سورت په (۲۲۰) آیت کې داسې لولو: «وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ» ژباړه: (او پوښتنه کوي دوی! له تا ځنې چې څومره صرف کړي دوی په لاره د الله کې؟ ووایه ای محمده! دوی ته صرف کړئ هغه چې وي زیات ستاسې له خرڅ نه.) تفسیر: زموږ له رسول اکرم څخه خلکو پوښتنې کړې وې، چې د الله تعالی لپاره څومره مال صرف کړی شي؟ حکم وشو، چې مال د پاک الله په لاره کې صرف کړي، چې ستاسې له ضروري مصارفو څخه زیات وي، ځکه څنګه چې د اخیرت فکر یو ضروري او حتمي کار دی، د دنیا فکر هم یو ضروري کار دي. په پورتني آیت کې چې د امر په توګه نازل شوی، هغه مال دې د الله په لاره کې مصرف شي چې د انسان د لازمي اړتیاوو نه زیات وي، یعنې: که په یوې مړۍ ډوډۍ څوک مړېږي، دوهمه مړۍ دې کوم بل ورې او اړ انسان ته ورکړل شي.

۳-د البقرې سورت په (۲٥٤) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ. وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ» ژباړه: (ای مومنانو! صرف کړئ په

زکوات یا په جهاد یا په نورو واجبي صدقاتو کې ځینې له هغو مالونو څخه چې درکړي دي موږ تاسې ته پخوا د راتلو د هغې ورځې نه چې نه پېرودل او نه پلورل په کې شته، چې سړی مال پیدا کړي، بیا پرې خپل ځان له عذابه خلاص کړي او نه دوستي او نه شفاعت او نه بې له اذنه د الله سپارښت په کې شته.)

تفسیر: په دې سورت کې د عباداتو او معاملاتو په نسبت زیات احکام بیان شوي دي، چې د هغو ګردو تعمیل په نفس باندې درونه او سخت دی او د انسان لپاره له ګردو اعمالو ځنې خورا ډېر درونه عمل په ځان او مال سره جهاد کول او د پاک الله په لاره کې د هغو جارول دي او د الله جل جلاله زیاتر حکمونه یا د ځان په نسبت وي یا د مال په نسبت. هو! ډېر ځلي بندګان د ځان یا د مال په مینه او رعایت سره په ګناه کې اخته کېږي. ګواکې: د هم دې دوه وو شیانو بې مورده مینه د ګناهونو اصل او بنسټ دی او له هغو ځنی نجات او ژغورنه د ګردو عباداتو د سهولت اساس او منشاء ده، نو ځکه یې د هغو ګردو بدني او مالي حکمونو له بیان فرمایلو ځنې وروسته، د قتال او د انفاق بیان وفرمایه، چې یو له بل سره ډېر مناسبت لري. «وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ» د ړومبني بیان و او «مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللَّهَ» د وروستني بیان شو. پس له هغه یې د (طالوت) کیسه د همغه ړومبني آیت د تاکید لپاره وفرمایله او «أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُم» د وروستي تاکید دی. څرنګه چې د مال پر انفاق د عباداتو او معاملاتو زیات امور موقوف د ي، نو د هغه په بیان کې یې زیات تفصیل او تاکید وفرمایه. لکه چې اوس کومه رکوع چې راځي په هغه کې زیاتره د وروستي امر یعنې د مال د انفاق ذکر شته. د معنی خلاصه دا ده چې د عمل کولو وخت هم دا دی. په اخیرت کې نه عمل پلورل کېږي او نه په خپلوۍ، دوستۍ او آشنایۍ سره په لاس راځي او نه په سپارښت سره څوک ځان خلاصولی شي.

تر څو چې پاک الله پرې نه ږدي چې د هغه نیونکی دی، یا د ده په نسبت د شفاعت امر ونه کړي.

۴-د البقرې سورت په (۲٦۲) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ

فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ» ژباړه: (هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل په لاره د الله په جهاد او نورو عبادتونو کې بیا نه ورپسې کوي دوی په هغه شي پسې چې خیرات یې کړی وي، بارول د احسان او نه رسونه د ضرر شته. د دوی اجر د نفعې او ثواب د دوی په نزد د رب د د یو او نه به وي هیڅ ډول ویره پر دوی باندې او نه به دوی هیڅکله غمجن کېږي، د ثواب په نقصان سره.) تفسیر: هغه خلک چې د الله تعالی په لاره کې مال صرفوي او د هغه صرف شوی مال په نسبت نه په ژبه چا باندې احسان ږدي او نه چاته په مقابل کې په پېغور ورکولو او خدمت اخیستلو او تحقیر کولو، ربړ او تکلیف او زحمت پېښوي، یعنې هیڅ ډول قولي یا فعلي رنځ او ازار نه وررسوي، نو د هغوی لپاره کامل ثواب شته دی او نه د ثواب له کمېدلو څخه به دوی ته څه ویره او اندېښنه وي او نه به له نقصان نه غمجن کېږي.

٥-د البقرې سورت په (٢٦٢) آیت کې داسې لولو: «قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى ۗ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ» ژباړه: (خبره معروفه، نېکه، خوږه او پسته فقیر ته او عفوه ده که الحاح یا شور وکړي، ډېره ښه ده له خیراته چې په هغه پسې وي ضرر رسونه، په منت یا په پېغور د سوال سره او الله غني دی، بې پروا له هر چا او هر شي، نهایت تحمل والا د عذاب په وروسته والي د پښېمانتیا لپاره.)

تفسیر: یعنې سوالگر ته په ورو ځواب ورکول او د هغه له ټینګار او بدخویۍ ځنې تېرېدل، له هغه خیرات څخه ښه دی، چې څو ځلې یې سپک کړي او ویې شرموي یا پېغور ورکړي، یا احسان پرې کېږدي او الله تعالی غنی دی چې د هیچا انفاق ته چې په من او اذی وي او مال ته، څه حاجت او اړه احتیاج نه لري. هغه خیراتونه او صدقې چې تاسې یې د هغه په لاره کې ورکوئ، وپوهېږئ چې خپلو ځانونو ته یې ورکوئ او حلیم دی چې په هغسې ربړونو، تکلیف ورکولو باندې د عذاب په مقررولو او لېږلو کې تلوار نه کوي.

٦-د البقرې سورت په (٢٦٤) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا

تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُم بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ» ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی! یعنې ای مومنانو! مه باطلوئ تاسې خیراتونه خپل، مه ضایع کوئ ثوابونه یې په احسان بارولو او ایذا او ضرر رسولو سره په شان د ابطال د ثواب د (انفاق) د هغه سړي چې صرفوي مال خپل لپاره د ښودنې د خلکو او ایمان نه لري پر الله او په ورځې اخیري باندې چې قیامت دی.)

تفسیر: یعنې په صدقې او خیرات ورکولو سره د محتاجانو ربړول، تکلیف ورکول او په دوی باندې احسان او منت بارول، د صدقې او خیرات ثواب ضایع کوي. یا د نورو د ورښودلو لپاره د دې امله چې خیرات ورکوي، چې خلک ورته سخي ووایي، نو د هسې ریایي خیرات ثواب هم هیڅ وي. پاتې شو د ارشاد چې هغه په الله تعالی او د قیامت په ورځې یقین لري، نو دا د (صدقې) د ابطال لپاره قید او شرط نه دی، ځکه چې (صدقه) خو یواځې له ریا څنې باطله کیدای شي، اگر که صرف کوونکی یې مومن هم وي. مگر دا قید یې یواځې د دې لپاره زیات کړ، چې معلومه شي، ریاکاري د مومن له شان نه لرې د ه، بلکې د منافقانو له حاله سره وړ او مناسب وي.

۷- د البقرې سورت په (۲٦٥) آیت کې داسې لولو: «وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ» ژباړه:(او مثال (صفت) د صرفولو د هغو کسانو چې صرفوي مالونه خپل لپاره د طلب د رضا د الله او لپاره د ثبات د زړه او صدق چې پیدا دی له نفسونو د د وی څخه، چې په ایمان باندې په شان د یوه باغ دی په لوړه ځمکه، مستعده، مامونه، چې ورسېږي دې باغ ته زورور باران، نو ورکړي مېوې خپلې دوه چنده، نو که ونه رسېږي دې باغ ته زورور باران یا پرخه پرې اوري هم کافي ده او الله په هغو شیانو چې تاسې یې کوئ، ښه لیدونکی دی،

په پټو او ښکاره وو عالم دی.)

تفسیر: له زورور باران څخه مراد ډېر مال صرفول دي او له نري څنې د لږ مال صرفول مقصد دی. د زړونو له تثبیت څخه مطلب دا دی چې ثابت کړي زړونه په ثواب میندلو کې، یعنې: یقین ولري چې د خیرات ثواب هرو مرو دویو ته رسېدونکی دی، که د دوی نیت سم وی، نو له ډېرو صرفونو څخه به دوی ته ډېر ثواب ورسېږي او په لږ خیرات سره هم د ثواب فایده ورحاصلېږي. لکه چې په خالصې، مستعدې، اوارې، معتدلې، هوادارې او لمریزې ځمکې کې یو ښکلی ښه مېوه لرونکی باغ وي، نو څومره چې باران متدرجا وورېږي، هغومره ګټه به ورسېږي، که یې نیت سم نه وي، په هره اندازه چې زیات مال صرف کړي، هغومره مال یې ضایع او دی زیانمن کېږي، ځکه چې په زیات مال ورکولو به ریا او ځان ښودل هم زیات وي، لکه چې په ښویه تیږه (ګټه) باندې دانه نه زرغونېږي، نو څومره چې وورېږي، هغومره زیان رسوي.

۸-د البقرې سورت په (۲٦۷) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ» ژباړه: (ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، یعنې ای مومنانو! لګوئ له حلالو، پاکو، غورو د هغو مالونو څخه چې په کسب سره تاسې ګټلي دي او له هغو شیانو چې ایستلي دي موږ تاسې لره له ځمکې څخه له حلالو، پاکو، غورو شیانو او قصد مه کوئ تاسې ورکولو د خبیثو، حرامو، نابودو شیانو، له هغه ماله چې لګوئ یې تاسې د الله په لاره کې، حال دا چې نه یئ تاسې اخیستونکي د هغه ناکاره شي په خپل حق کې. مګر خویي داسې اخلئ، چې سترګې پټې کړئ په اخیستلو د هغه کې او پوه شئ چې بېشکه الله غني دی. بې پروا له هر چا او هر شي، ورته تل ښه ستايينه، صفت او ثنا ویلې شوې.)

تفسیر: یعنې د الله تعالی په نزد د صدقاتو د مقبولیت شرط دا دی، چې له حلال ګټل شوي مال څنې وي او حرام مال او څه شبهه او شایبه په کې نه وي

او له ښوو شيانو څخه ښه شی د الله تعالی په لاره کې ورکړی شي او داسې خراب شيان په خيراتونو کې صرف نه کړئ، که تاسې ته در کړی شي يا در وړاندې شي، نو تاسې يې په اخيستلو کې وړاندې وروسته کوئ او زړه مو نه غواړي او نه يې اخلئ يا يې په اخيستلو شرمېږئ او په خوښئ او خوشالۍ سره يې له سره نه اخلئ او وپوهېږئ چې پاک الله بې پروا دی او تاسې ورته اړ او محتاج او هغه تاسو ته هيڅ احتياج نه لري او د ډېرو محامدو او ښېګڼو، فايدو ښبتن او خاوند دی، که تاسې له ښو شيانو ځنې ښه شی د هغه په لاره کې په مينه، شوق او محبت سره صرف کړئ او ښه خير ورکړئ نو دی هغه خوښوي.

۹-د البقرې سورت په (۲۷۰) آيت کې داسې لولو: «وَمَا أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ» ژباړه: (او هغه شی چې صرف کړئ تاسې له نفقې لکه زکات او خيرات، لږ يا ډېر يا يې لازم کړئ په خپل ځان له کوم نذره، نو بېشکه الله ته معلوم دي، هغه لکه نور شيان او نشته لپاره د ظالمانو چې بې ځايه مال صرفوي، هيڅ مدد کوونکی، ساتونکی له عذابه د الله).

تفسير: يعنې هغه شی چې په خيرات کې ورکاوه کېږي، لږ وي که ډېر، په ښه نيت وي که په خراب، په حقه لاره يې لګوي که په باطله، په پټه يې ورکوي که په ښکاره، د خلکو د ښودنې لپاره يا نذر په ځان اخلي په شرط يا غير شرط، په طاعت يا په معصيت کې، په هر ډول سره چې وي، بېشکه الله تعالی ته هغه او نور ګرد (ټول) ښکاره او معلوم دي او هغه کسان چې د مال په انفاق يا په نذر کې د الله له احکامو ځنې پرته کار کوي، د هغوی هيڅکله مددګار نه دی او په هر چا باندې چې الله تعالی اراده وفرمايي خپل عذاب نازلوي. فايده: (نذر) په منلو سره واجبېږي، نو که بيا يې ادا نه کړي، ګناهګارېږي. (نذر) پرته د الله تعالی د نامه، د بل چا په نامه روا نه دی، مګر داسې ووايي چې د الله تعالی په نامه يې فلانې ته ورکوم، يا د دې (نذر) ثواب دې هغه ته ورسېږي، نو په دې صورت کې هيڅ پروا نشته.

۱۰-د البقرې سورت په (۲۷۱) آيت کې داسې لولو: «إِن تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ

عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ» ژباړه: (که ښکاره کوئ تاسې خیراتونه، پس ښه کار دی ښکاره کول د هغه او که پټوئ یې تاسې په وخت د ورکولو کې او ورکوئ یې تاسې فقیرانو ته، نو دا پټ ورکول بهتر او خیر دی تاسې ته او لرې به کړي الله له تاسې نه ځینې د ګناهونو ستاسې او الله په هغو کارونو چې کوئ یې تاسې ښه خبردار دی او هیڅ شی ترې پټ نه دي.)

تفسیر: یعنې: که خلکو ته د ورښوولو په نیت نه وي، نو خیر ورکول په ښکاره ډول، طریقه سره بهتر دی چې د نورو د شوق او رغبت هم ورته وشي او په پټه سره هم خیرات ورکول ښه دي، چې اخیستونکي ته حیا ورنه شي. لنډه یې دا چې اظهار او رغبت او اخفا دواړه بهتر دي، مګر د هرې موقع او مصلحت لحاظ یوه ضروري خبره ده.

۱۱-د البقرې سورت په (۲۷۲) آیت کې داسې لولو: «لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ» ژباړه: (نشته پر تا باندې پر سمه صافه لاره برابرول د دوی، ولیکن الله په سمه صافه لاره برابروي هغه څوک چې اراده وکړي د برابروالي یې او هر هغه شی چې صرفوئ یې تاسې له خیره له مال نه، پس لپاره د نفسونو (ځانونو) ستاسې دي او نه صرفوئ تاسې ای مومنانو! مګر صرفوئ یې خاص لپاره د طلب د رضا د الله او هر هغه شی چې صرفوئ یې تاسې له خیره د مال نه، نو پوره به درکړی شي تاسې ته ثواب د هغه او په تاسې به ظلم ونه کړی شي، د ثواب په کموالي سره.)

تفسیر: کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته امر وکړ، چې له مسلمانانو ځنې پرته بل هیچاته خیرات مه ورکوئ او په دې امر کې دا مصلحت و، چې د مال او شتو له امله کافران د اسلام په لوري راغب شي، نو وروسته له دې نه یې داسې امر وفرمایه چې دا ثواب به هلته در رسېږي، چې له خیرات ورکولو ځنې د الله تعالی خوښي مطلوبه وي، نو دا آیت نازل شو او په دې کې عام حکم راغی چې د پاک الله په لاره کې چې هر چاته مال

ورکړئ د هغه ثواب تاسو ته درکاوه شي. د مسلم او غیر مسلم څه تقید نشته، هر چاته چې صدقه ورکوئ، ښایي چې یواځې د پاک الله په نامه وي، په هغه مسلمان او نامسلمان څه تخصص نه دی په کار، یواځې په صدقه ورکولو کې دغه خبره ضروري ده: (لوجه الله وي).

۱۲-د البقرې سورت په (۲۷۳) آیت کې داسې لولو: «لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ» ژباړه: (خیراتونه ستاسې لپاره د هغو فقیرانو دي، چې بند کړی شوي دي په لاره د الله کې په جهاد او نورو طاعاتو کې چې توان نه لري، دوی دګرځېدلو په ځمکه کې لپاره د معاش او نجات د طاعت د مشغولتیا په سبب. ګمان کوي په دوی باندې ناپوه په حال د دوی، د غنیانو په سبب د نه سوال کولو، په کوښښ سره پېژني به ته ای سامعه! دوی په څېرو، علایمو د تواضع او اثر د مجاهدې د دوی سره. نه کوي دوی سوال له خلکو څني په سختئ په الحاح او کوښښ سره او هر شی چې تاسې صرفوئ یې په هر شي کې له خیره، له مال نه. پس بېشکه الله په هغه باندې ښه عالم دی.)

تفسیر: یعنې داسې خلکو ته صدقه ورکول ډېر ثواب لري چې د الله تعالي په لاره کې او د هغه د دین په کار کې مشغول او مقید وي او د تګ او راتګ او د خوړو، لباس او نورو له ګټلو څنې پاتې وي او هیڅچاته خپل اړتیاوې نه ښکاره کوي، لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې اصحاب داسې هم وو، چې دوی خپل کور، کهول خوشې کړي وو او د (صفې) په اصحابو کې شامل شوي وو او په خپله خوښه او رضا سره د پاک محمد صلی الله علیه وسلم صحبت او خدمت یې خپلو ځانونو ته غوره کړي وو. دیني علوم به یې زده کول، مفسدینو او شر اچووونکو سره به یې (جهاد) کاوه، همداسې اوس هم پر مسلمانانو باندې د هغو کسانو امداد او مرسته مدد حتمي او ضروري دی چې د قرآن عظیم الشان په یادولو، یا د د یني علومو په تحصیل کې بوخت او مشغول دي. د څېرې پېژندلو څنې دا مطلب دی، چې د هغوی څېرې ډېرې ژېړې او بدن یې نری برېښي او د جدوجهد اثار د هغوی په مخونو کې له

ورايه ښکاري، لوی خدای په عام او خاص ډول د داسې خلکو له کارونو څخه خبردار دی، چې یاد شول.

۱۳- د البقرې سورت په (۲۷٤) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُم بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ» ژباړه: (هغه کسان چې صرفوي مالونه خپل د الله په لاره کې، په شپه او په ورځ کې، په پټه او په ښکاره، پس شته دوی ته اجر او ثواب د دوی په نزد د رب د د وی او نشته هیڅ ډول طریقه ویره پر دوی باندې او نه به دوی هیڅکله غمجن کېږي، د ثواب په نقصان سره).

تفسیر: تر دې ځایه پورې د خیرات بیان او د هغه فضیلت د قیود او شرایطو ذکر و، هر کله چې له خیرات کولو څخه له یوه لوري په معاملاتو کې د سهولت او تسهیل عادت پیداکېږي او د بې مروتی او سخت ګیري، خرابي ورڅخه څرګندېږي او له بل لوري هغه ګناهونه چې په معاملاتو او اعمالو کې پېښېږي د هغو کفاره هم په صدقاتو او خیراتونو سره کاوه شي او هم په خیرات کولو سره په اخلاقو، مروت، خیرغوښتلو او ګټه رسولو کې زیاتوالی پیداکېږي او د پاک خدای مخلوق ته فایده رسېږي. نو له دې کبله یې په دې متعددو آیتونو کې د هغه یادونه وکړه. هر کله چې سود (سوایي) اخیستل له خیرات څخه مخالف دي، ځکه چې په صدقاتو کې یواځې مروت، احسان او ګټه رسونه او په سود کې پرته له بې مروتی، ضرر رسول، ظلم او ځل (ضد) څخه بل شی نشته، نو د خیراتونو او صدقاتو د فضیلت د بیانولو څخه وروسته د سود مذمت او د هغه ممانعت ذکر ډېر مناسب دی، څومره چې په خیرات کې ښېګڼې او فضایل شته، هومره په سود او (سوایي) کې خرابي او رذایل موجود وي.

۱٤-د البقرې سورت په (۲۷۷) آیت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی، په ټولو مومن بهي شیانو او کوي دوی ښه عملونه او قایموي دوی سم ادا کوي

سره د ټولو حقوقو په ترتیب لمونځ او ورکوي زکات، شته دوی لره اجر د ثواب، د دوی په نزد د رب د دوی او نشته هیڅ ډول ویره پر دوی باندې او نه به دوی هیڅکله غمجن کیږي، د ثواب په نقصان سره.)

تفسیر: په دې آیت کې د سود او سوايي اخیستونکي په مقابل کې د ایمان لرونکو صفتونه او د هغوی انعامونه ذکر کوي، چې د سود اخیستلو او د سود اخیستونکي له حالاتو، اوصافو، عاقبت او حکمونو ځنې مخالف دی، چې په هغه سره د سود اخیستونکي پوره تهدید او تشیع هم ښکاره شوه.

۱۵-د ال عمران په (۲۹) آیت کې داسې لولو: «لَن تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ». ژباړه: (له سره به ونه مومئ تاسې (پوره) نېکي تر هغه چې صرف کړئ تاسې په لاره د الله ځینې له هغو شیانو چې ستاسې خوښ وي او هغه چې صرفوئ یې تاسې، له یوه شي لږ وي که ډېر، پس بېشکه الله په هغه ښه عالم دی.)

تفسیر: یعنې الله جل جلاله ته معلوم دي چې تاسې څه شی او له کوم ځایه او د څه مقصد لپاره خرڅ کړي دي؟ خومره محبوب او په زړه پورې شیان چې په هره طریقه په اخلاص او ښه نیت سره چې د الله جل جلاله په لاره کې صرفوئ، سم له هغه سره د الله تعالی له لوري تاسې ته هم هغه بدل درکاوه کېږي، چې تاسې یې هیله مند یئ، که د اعلی درجې نېکي حاصلول غواړئ، نو له خپلو ډېرو محبوبو او ډېرو ګرانو شیانو ځنې څه شی د الله تعالی د لارې لپاره وټاکئ.

یعنې: هغه شی چې ستاسې په زړونو کې ډېر خوږ او محبوب وي، د هغه صرفول د الله تعالی په لاره کې ډېر اجر او ثواب لري، داسې خو ثواب د هر شي له صرفولو ځنې حاصلیږي، خو د محبوب شي اجر عظیم دی.

۱٦-د ال عمران په (۱۳٤) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ». ژباړه: (هغه کسان چې نفقه ورکوي، مال لګوي د الله په نامه چېه خوښۍ یا (ارزانۍ یا شتمنۍ) او تکلیف یا قیمتي یا تنګسه کې). تفسیر: نه په عیش او خوښۍ کې الله تعالی هیروي او نه د تنګسۍ او تکلیف په وخت کې

د الله تعالی په نامه باندې له ورکړې څخه ځان ساتي. په هر موقع او هر حال کې سم له خپله توانه سره د خیراتونو او صدقاتو لپاره تیاروي او د سود خوړونکو په شان بخیلان او خزانه د اران نه د ي، ګواکي سره له بدني جهاده، مالي جهاد هم کوي.

۱۷-د النساء سورت په (۸۳) آیت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ ۗ وَمَن يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا». ژباړه: (او نه خوښوي الله هغه کسان چې صرفوي دوی مالونه خپل لپاره د ښوونې خلکو ته او نه لري ایمان پر الله باندې او نه په ورځ د اخيرې د قيامت باندې او هر څوک چې وي شیطان ده لره ملګری، نو بد ملګری دی دا شیطان.) تفسیر: او دا متکبران او ځان منوونکي هغه کسان دي چې خپل مال نورو خلکو ته د ځان ښوولو لپاره صرفوي. يعنې: د الله تعالی لپاره له صرفولو څخه دې په خپله هم بخیلي کوي او نورو ته هم د بخیلۍ ترغیب ورکوي. لیکن خلکو ته د ځان ښوونو لپاره خپل مالونه صرفوي. دوی نه پر الله جل جلاله باندې ایمان لري او نه په قیامت باندې باور لري، چې د حق تعالی در ضا حصول او د اخروي ثواب تحصیل د دوی مقصود دی او د الله تعالی په دربار کې دا کار خوښ او مقبول دی، چې هغو حقدارانو ته ورکړی شي، چې د هغوی ذکر وشو او په ورکولو کې يې د الله تعالی خوښې او د اخرت د ثواب توقع وي، له دې ځنې ښکاره شوه چې د الله تعالی په لاره کې همغسې چې بخل کول خراب کار دی، همداسې رياکاري او د خلکو د ښوولو لپاره مال لګول، هم خراب دي او داسې کار همغه کسان کوي، چې د دوی رفیق شیطان وي، چې دوی پر هسې کارونو لمسوي او تیاروي يې.

۱۸-د النساء سورت په (۳۹) آیت کې داسې لولو: «وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ آمَنُوا بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ ۚ وَكَانَ اللَّهُ بِهِمْ عَلِيمًا». ژباړه: (او څه نقصان به وو، پر دې کفارو باندې که ایمان راوړی وای دوی پر الله او په ورځ اخيره د قيامت باندې او صرف کړی وی د وی ځینې د هغه شي چې روزي ورکړې ده، دوی لره الله او دی الله په ټولو اعمالو د دوی باندې ښه عالم.)

تفسیر: یعنې د کافرانو په دې کې هیڅ نقصان نه و، که د وی د کفر پر ځای پر الله تعالی او د قیامت پر ورځ باندې ایمان راوړی وای او د بخل او ریا پر ځای یې د الله تعالی په لاره کې خپل مال صرفولی، بلکې بیخي د دوی نفع وه، ضرر او زیان خو په دې کې دی چې دوی یې اوس غوره کوي او الله تعالی ته معلومه ده چې دوی یې په څه؟ او په کوم نیت کوي؟ د همغه عوض به هغوی ته ورکاوه شي. په پخواني آیت «یُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ» کې د مال نسبت د هغوی په لوري شوی و، اوس د «وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللَّهُ» په فرمایلو کې داسې یوه لطیفه اشاره ده، چې هغه کسانو دغه مال د خپل ځان بللی، په هر څه یې چې زړه غواړي، لګوي یې. دوی ته دا وړ او مناسب وو، چې هغه مال یې د الله تعالی مال ګڼلی او په همغه لاره کې یې لګولی چې د الله تعالی له حکمه سره سم وي.

۱۹-د الانفال سورت په (۳) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (هغه مومنان دي چې قایموي، (سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو) دوی لمونځ او له ځینې د هغه ماله چې ورکړی دی موږ دوی ته نفقه کوي، لګوي په لاره د الله کې).

دغه آیت د انفال یا جنګي غنایمو په هکله نازل شوی، چې څرنګه د مستحقینو په منځ کې وویشل شي.

۲۰-د انفال سورت په (٦٣) آیت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، نفقه کوي (لګوي) دوی مالونه خپل دپاره د دې چې منع کړي دوی خلک له لارې د الله څخه، نو ژر به نور هم ولګوي دغه مالونه، بیا به شي دغه انفاق پر دوی حسرت، پښېماني چې مال یې ځي او مطلب یې پرې نه حاصلېږي. بیابه په اخیر کې مغلوب شي او هغه کسان چې کافران شوي دي او په کفر کې مړه شي، دوزخ ته بېول کېږي).

تفسیر: یعنې کله چې په دنیاکی مغلوب او مقهور او په اخیرت کې معذب شي

نو د افسوس او حسرت له لامله به خپلې گوتې چیچي، چې مال مو هم له لاسه ووت او برى مو هم په برخه نه شو، لکه چې وړومبی په بدر کې او بیا په احد او نورو غزاگانو کې د کفارو گرد مالي او جسماني قوتونه صرف شو او هیڅ یوه گټه یې په لاس ورنغلله او بالاخره هلاک یا د رسوایي په جال کې له کفره توبه گار شول.

۲۱- د الانفال سورت په (٦٠) آیت کې داسې لولو: «وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ». ژباړه: (او هر هغه چې نفقه کوئ (لگوئ)

(تاسې له یوه شي په لاره د الله کې لپاره د (ترقي د دین) پوره بدل د هغه به درکړى شي، تاسې ته، حال دا چې پر تاسې به ظلم ونه کړى شي، د ثواب په لږوالي او د عذاب په ډېروالي.)

تفسیر: دغه د مالي جهاد په لوري اشاره ده، یعنې: د جهاد په تیارۍ کې هغومره مال چې تاسې ولگوئ د هغه پوره بدل او معاوضه به ومومئ. د یوه درهم په مقابل کې اوه سوه درهمه، ډېر ځلي په دنیا کې هم د هغه معاوضه بلکې له هغه څخه زیات اجر هم درکاوه کیږي.

۲۲-د التوبه سورت په (٤٥) آیت کې داسې لولو: «وَمَا مَنَعَهُمْ أَن تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ». ژباړه: (او نه دى منع کړى دوى له دې چې قبول کړى شي له دوى نفقې (ورکړې) د دوى هیڅ شى، مگر هم دې خبرې چې بېشکه دوى کافران شوي دي، په الله او په رسول د دغه الله او نه راځي دوى لمانځه ته، مگر په دې حال چې دوى سست وي او نه لگوي دوى د الله په لاره کې هیڅ مال په دې حال کې چې دوى ناخوښه وي.)

تفسیر:د نه قبلېدلو اصلي سبب خو د هغوى کفر دي، لکه چې موږ پخوا له دې نه په متعددو ځایونو کې د څو آیتونو په تفاسیرو کې ورته اشاره کړې ده، چې د کافرانو هر یو عمل مړ او بې روحه وي، په اخلاص سره لمانځه ته نه راتلل یا بد زړه سره مال لگول، دغه گرد د کفر ظاهري آثار دي.

۳۲-د التوبه سورت په (۹۹) آیت کې داسې لولو: «وَمِنَ الْأَعْرَابِ مَن يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَاتٍ عِندَ اللَّهِ وَصَلَوَاتِ الرَّسُولِ ۚ أَلَا إِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ۚ سَيُدْخِلُهُمُ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ». ژباړه: (او ځینې له صحرایي اعرابو څخه هغه دي چې ایمان لرونکي دي په الله او په ورځې اخیري چې قیامت دی او نیسي ګڼي شیمېري، هغه شی چې لګوی یې په لاره د الله کې (اسباب) د نیزدې والي په نزد د الله او سبب د دعاوو د رسول الله. خبردار شئ چې دغه نفقات یا صلوات سبب د نیزدې والي دی دوی ته. زر به د اخل کړي دوی الله په رحمت خپل کې، بېشکه چې الله ښه مغفرت کوونکی د متصدقانو، ډېر مهربان دی پر متقربانو).

تفسیر: دلته یې د قرآن کریم معجزانه تاثیر او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حیرت غورځوونکو تعلیماتو ننداره راښولې ده، چې په هم دغه ځیږو مزاجو، غټ زړو، تندخویو او بې لارو کلیوالو او صحرایانو کې چې د کفر او نفاق جهل او طغیان له لامله د دې خبرې له سره لایق او وړ نه وو، چې د الله تعالی په ښودلو آدابو او قواعدو باندې وپوهېدی شي، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د تعلیمه او د قرآن عظیم له غږ او تفهیمه په دوی کې داسې عارفان او مخلصان مسلمانان پیدا شول، چې پر مبدا او معاد او نورو ګردو مومن بهي شیانو ایمان لري او د پاک الله په لاره کې هر شی چې لګوي، خالص د الله تعالی د قرب د حاصلولو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعا د ګټلو په غرض یې کوي. الله تعالی د وی ته زېری او بشارت ورکوي، چې بېشکه دوی په دغو خپلو امیدونو او هیلو کې حق په جانب دي، یقیناً دوی ته همغه شی ورپه برخه کېږي، چې د هغه نیت یې په خپلو زړونو کې کړی.

۴۲-د ابراهیم سورت په (۳۱) آیت کې داسې لولو: «قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ». ژباړه: (ووایه ای محمده صلی الله علیه والسلم! هغو بندګانو ته چې ایمان یې راوړی دی، چې سم دې دروي (ادا کوي) لمونځ او ورکړه دې کوي، ځینې له هغه ماله چې ورکړی دی موږ دوی ته په پټه که

مستحب وو او په ښکاره که فرض وو یا واجب پخوا له راتلو د هغې ورځې چې نشته سودا، پلورل او پېرودل په هغې کې او نه دوستي).

تفسیر: د کفارو د احوالو له ذکر څخه وروسته د مخلصینو مومنیو د تنبیه لپاره یې داسې وفرمایل: څو دوی په پوره ډول سره ویښ شي او د عبودیت په وظایفو کې یوه ذره هم فرق او توپیر رانه ولي، په زړه او ځان سره د خالق او د مخلوق خدمت وکړي، چې هغه ډېر ښه عبادت دی، لمونځونه دې، د هغو له حقوقو او حدودو د رعایت سره په کامل خشوع او خضوع سره تل ادا کړي، د پاک الله له ورکړې څخه یوه برخه خفیه یا علانیه پر مستحقینو ولګوي. الغرض د هغو کفارو په مقابل کې چې په کفر او شرک او د نعمتونو په ناشکرۍ کې ډوب تللي دي. مومنانو ته لازم دي چې په خپلو ځانونو او مالونو د الله تعالی په عبادت او شکر ایستلو سره خپله مستعدي څرګنده کړي.

۲۵-د مریم سورت په (۹۷) آیت کې داسې لولو: «فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا». ژباړه: (پس بېشکه هم دا خبره ده چې اسان کړی دی موږ د غه قران په ژبه ستا چې عربي ده، لپاره د دې چې زېری ورکړې په دې سره پرهېزګارانو ته او چې وویروې په دې سره قوم جګړه کوونکي.)

تفسیر: یعنې لوی قران په نهایت سهل، اسان او صاف بیان او واضح او ښکاره ډول سره پرهېزګارانو ته ښا رت آوروي او جګړه کوونکو ته د ناکارو کارونو له خرابو نتایجو څخه خبر ورکوي.

یادونه: دلته بیا هم متقین په پرهېزګارانو ژباړل شوی، حال دا چې درست نه دی، ځکه متقین هغه کسان دي چې د تقوی په درې ګونو اصلونو یا رکنونو ایمان راوړی وي، یعنې ایمان په غیب، لمونځ او انفاق.

۲۶-د طه سورت په (۳۲) آیت کې داسې لولو: «لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ». ژباړه: (نه غواړو موږ له تانه روزي، نه ستا او نه د اهل ستا، بلکې موږ رزق او روزي درکوو تاته او عاقبت ښه خاتمه د خاوندانو د پرهېزګارۍ ته ده.)

تفسیر: په دنیا کې مالکان پرخپلو مریانو باندې روزي ګټي، دغه مالک الملک

يواځې بندګي غواړي او خپلو مريانو ته په خپله روزي ورکوي. زموږ له لمانځه څخه هغه ذات ته هيڅ يوه فايده نه رسېږي، بلکې د لمانځه څخه فايده هم موږ ته عايده ده او د لمانځه له برکته په ښه شان سره روزي رارسېږي «وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾» (الطلاق (٢-٣) آيتونه: د هم دې لپاره دي که د فرض لمانځه او د معاش په کسب کې څه تعارض واقع شي، الله تعالى اجازه نه کوي چې د معاش د کسب په مقابل کې لمونځ ترک کړي. په هر حال ښايي چې هرومرو لمونځ ادا کړی شي، روزي رسوونکی هم هغه الله دی، چې د هغه په حکم سره لمونځ کوو. الحاصل د معاش د کسب د هغو ذرايعو حکم الله تعالى نه دی صادر کړی، چې د عبوديت د فرايضو په ادا کې مخل او مزاحم واقع شي. انسان ته ښايي چې تقوى او پرهېزګاري اختيار کړي. په پای کې دې وګوري چې الله تعالى په څه ډول له ده سره معاونت او امداد کوي.

٢٧-د الانبياء سورت په (٤٨) آيت کې داسې لولو: «وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَارُونَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ». ژباړه: (او هرومرو په تحقيق ورکړی و، موږ موسى او هارون ته فرقان، دحق او باطل بېلوونکی کتاب او رڼا چې حق پرې له باطل څخه پېژندل کېږي او نصيحت لپاره د پرهېزګارانو.)

تفسير: يعنې تورات شريف د حق او باطل، هدايت او ضلالت، حرامو او حلالو او نورو مسايلو فيصله کوونکی او د جهل او غفلت د تيارو رڼاکوونکی او له الله تعالى څخه د ويرېدونکو لپاره پند ورکوونکی کتاب.

دا وه د ژباړونکي او د مفسر تفسير، حقيقت خو دا دی چې، متقين هماغه مومنين دي چې په تقوى ايمان لري، کوم چې د تقوى درې اصله پر «الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ» ويشل شوي دي. يعنې: متقين پرهېزګاران نه چې مومنين دي او بس.

٢٨-د الحج سورت په (٣٥) آيت کې داسې لولو: «الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا

رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (هغه عاجزي کوونکي کله چې یاد کړی شي، د دوی په مخکې نوم د الله، نو ویرېږي زړونه د دوی او زېری ورکړه، صبر کوونکو ته په هغو سختیو او غمونو چې رسېدلی دی، دوی ته او زېری ورکړه قایمووونکي، سم ودرونکي سره د ټولو حقوقو د لمانځه او زېری ورکړه هغو کسانو ته چې ځینې له هغو شیانو نه چې ورکړي دي موږ دوی ته لګوي یې په ښو کارونو.)

تفسیر: یعنې مصیبتونه او تکلیفونه په پوره صبر او ثبات سره په ځان برداشت کوي او متحمل کېږي یې او د کړاوونو او سختیو د تحمل په وخت کې د حقې لارې څخه یې قدم نه ښویېږي. « وَالْمُقِيمِي الصَّلاَةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ» او زېری ورکړه هغو کسانو ته چې قایموي سم دروي له ټولو حقوقو سره لمونځ او زېری ورکړه هغو کسانو ته چې ځینې له هغو شیانو چې ورکړي دي موږ دوی ته نفقه (ورکړه) کوي په ښو ښو کارونو کې. د بیت الله تر رسېدو پورې حاجیان له ډېرو مصیبتونو او کړاوونو سره مخامخ کېږي. په سفر کې زیاتره د لمونځونو د فوتېدلو یا د قضا کېدلو اندېښنه وي. مال هم په کافي اندازې سره لګېږي. ښایي په همدغه مناسبت یې د دغو اوصافو او خصایلو بیان کړی دی.

۲۹-د القصص سورت په (٥٤) آیت کې داسې لولو: «وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ».
ژباړه: (او له ځینو د هغو مالونو چې ورکړي دي موږ دوی ته، صرفوي په لاره د الله کې.) تفسیر: او له هغه حلال مال چې پاک الله ورته عطا کړی دی، زکوات ورکوي، صدقات او خیرات ادا کوي، د اقاربو او خپلوانو سره مرسته او امداد کوي. لنډه دا چې په حقوق العباد کې هم له سره قصور او لنډون نه کوي.

۳۰-د السجده سورت په (٦١) آیت کې داسې لولو: «تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (بېشکه هم دا خبره ده چې ایمان راوړي په آیتونو زموږ، هغه کسان کله چې پند ورکړی شي دوی ته په دغو آیتونو، نو پرېوځي په داسې حال کې چې

سجده کوونکي وی الله ته. او تسبيح وايي سره د ثنا د رب خپل او دوی تکبر نه کوي له عبادت نه. لرې کيږي ډډې د دوی له ځايونو د خوب نه لپاره د تهجد، بولي دوی رب خپل پټ له خلکو نه، له ويرې د قهره د الله جل جلاله نه او له طمعې د رحمت د ده نه او ځينې له هغو مالونو چې ورکړي دي موږ دوی ته، لګوي يې په لاره د الله کې.)

تفسير: يعنې په خوف او خشيت او خضوع په سجده لوېږي، په ژبه سره د الله تعالی تسبيح او تحميد ادا کوي او په زړه کې د کبر، غرور، لويۍ، ځانمني داسې خبرې نه ګرځوي، چې د الله د آيتونو په مقابل کې د ټيټېدلو څخه مانع وي، له خوږو خوبونو او پستو بسترونو څخه پورته کيږي او د پاک الله په حضور کې درېږي. له دې مراد د تهجد لمونځ دی، لکه چې په صحيح حديث کې راغلي دي او ځينو ترې د سبا او د عشا د لمانځه يا د مغرب او د عشا د لمانځه په منځ کې کوم نفلونه چې کيږي، هغه مراد کړي دي، ګواکي په الفاظو کې د دې خبرې د ځايدلو ځای هم شته، ليکن قوي هم هغه لومړی تفسير دی. والله اعلم.

۳۱-د سبا سورت په (۳۹) آيت کې داسې لولو: «قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ ۚ وَمَا أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ». ژباړه: (ووايه ای محمده(ص) دوی ته بېشکه رب زما پراخوي رزق، روزي لپاره د هر هغه چا چې اراده وفرمايي له بندګانو خپلو او تنګوي يې ورته چې اراده وفرمايي امتحاناً او هر هغه څه چې لګوئ يې تاسې، په لاره د الله کې، له کوم شي څخه ډېر وي که لږ، پس هغه عوض د رکوي د هغې او هم دغه الله خير غوره د روزي ورکوونکو دی.)

تفسير: دغه يې مسلمانانو ته اورولي دي، هغه وجوه چې تاسې يې په خيريه وو امورو کې لګوئ، د هغو د لګولو په وخت کې له تنګسۍ او افلاس څخه مه ويرېږئ، له صرف کولو څنې ستاسې رزق نه کمېږي. هغه ]شی چې تاسې ته مقدر او مقرر دی، هغه هرو مرو در رسيږي. الله تعالی په خپل حکمت او مصلحت هر چاته چې د هومره شي د اعطاء اراده وفرمايي ورکوي يې. په هغه کې ستاسې له صرفولو څخه هيڅ فرق او توپير نه واقع کيږي، بلکې په خيريه

امورو کې د اموالو څخه برکت په کې لوېږي. الله تعالی د هغه عوض درکوي. اعم له دې چې د مال په صورت وي، یا د قناعت یا د قلبي غنا په شکل وي. په اخیرت کې د هغه بدل د رسېدلو خویو حتمي امر دی. هم هسې چې په دنیا کې د فقر او غنا او تنگسی او ارتوالي له پلوه د خلکو احوال متضاد دي، په اخرت کې به هم د ثوابونو او عذابونو د مراتبو اعتبار هم داسې توپیر او تفاوت موجود دی.

۳۲-د فاطر سورت په (۲۹) ایت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې لولي کتاب د الله(قران) او قایموي تل ادا کوي سره د ټولو حقوقو لمونځ او لگوي په لاره د الله کې ځینې له هغو شیانو څخه چې ورکړي مو دي، دوی ته، لگوي یې په پټه او ښکاره، امید لري دوی داسې یوه تجارت چې له سره نه هلاک کېږي.)

تفسیر: یعنې هر هغه چې د الله تعالی څخه ویرېږي قلباً او لساناً مسلمان شي او د ده احکام ومني او د ده کتاب په اخلاص او عقیدت سره ولولي او په بدني او مالي عباداتو کې هیڅ قصور او لنډوالی ونه کړي نو دغه مسلمانان دي د داسې لوی او زورور تجارت او اعتباري سوداگرۍ هیله مند او ارزومند امیدوار اوسي چې له سره په هغه کې نقص او خساره نه عایده کېږي او د ضرر او تاوان احتمال په کې نشته. بلا شبهه کله چې په خپله الله تعالی د دوی د اعمالو پېرېدونکی او اخیستونکی وي، نو دی په دغه هیله، ارزو او امید کې بیخي حقدار دی او ده ته د خسران او نقصان اندېښنه له هیڅ طرف نه، نه ده متصوره او له سره تر پایه بیخي نفع په نفعه کې دی او گټه ورته رسېږي.

۳۳-د یس سورت په (۴۷) آیت کې داسې لولو: «وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ». ژباړه: (کله چې وویل شي دوی ته چې نفقه (ورکړه) کوئ عاجزانو ته له ځینو هغو مالونو چې رزق روزي درکړي دي تاسې ته الله. نو وایي هغه کسان چې کافران شوي دي له جهته د استهزا

هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی دی، آیا طعام ورکړو موږ هغه چاته که اراده فرمایلي وي الله نو طعام به یې ورکړی و، هغه ته).

تفسیر: یعنې د الله تعالی نور احکام به څه مني؟ پر فقیرانو او مساکینو مال لګول د دوی په نزد هم د ثواب کار دی، لیکن هم دغه مسلمه خبره لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د مومنانو له طرفه دغو منکرانو ته ویله کېږي، نو په نهایت سپکو طریقو او تمسخرو او پوچنډو سره ترې اعتراض او انکار کوي او وایي: هغو کسانو ته چې په خپله پاک الله رزق او روزي نه ده ورکړې، موږ به هغوی ته څه ورکولی شو؟ او ولې به یې ورکوو؟ د الله تعالی له مشیته مخالف کار نه شو کولی، که د الله تعالی مشیت داسې نه وي نو د وی به یې فقیر او محتاج او موږ به یې غنی او دولتمن نه وو ګرځولي. نو آیا د دغه حماقت او بې حیایۍ په مقابل کې څه وویل شي؟ ایا که د الله تعالی اراده د چا په ورکړه کې شوي وي، نو د هغه هم دا یو صورت دی چې په خپله الله تعالی بلا واسطه رزق د هغه په لاس کې ورکړي. که په وسایطو ورکول هم د الله تعالی له مشیت څخه دي؟ نو تاسې دغسې فیصله ولې وکړه؟ چې د الله تعالی اراده په دې نه ده شوې، چې هغوی ته ډوډۍ ورکړي، دغه خو د الله تعالی امتحان دی، چې اغنیا یې د فقیرانو پر اعانت مامور فرمایلي دي او د دوی په وسیله یې د هغوی د رزق رسولو سامان مهیا کړی دی. هر هغه چې په دغه امتحان کې پاتې راغی او ناکامه شي، نو ښایي چې
پر خپلې بدبختۍ او ناکامۍ وژاړي.

۳٤-د محمد د سورت په (۳۸) آیت کې داسې لولو: «هَا أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تُدْعَوْنَ لِتُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَمِنكُم مَّن يَبْخَلُ وَمَن يَبْخَلْ فَإِنَّمَا يَبْخَلُ عَن نَّفْسِهِ وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُم». ژباړه: (واورئ خبردار شئ تاسې چې یې په دغو کسانو چې بللي شوي یاست لپاره د دې چې نفقه کړئ مال ولګوئ په لیاره د الله کې په هغو طریقو سره چې فرض کړي دي پر تاسې لکه زکوات او جهاد. پس ځینې له تاسو هغه دي چې بخل کوي. نه لګوي مال او هغه څوک چې بخل کوي، مال نه لګوي، نو بېشکه چې بخل کوي خپل ځان ته، چې محرومو یې له

ثوابه او الله غني بې پروا دی له نفقې د تاسې او له هره څیزه او تاسې فقیران او محتاجان يئ الله ته.)

تفسیر: که الله تعالی په سختۍ سره د هغوی گرد مال وغواړي چې هغوی ته يې وربښلی دی، نو څومره د الله بندگان به وي چې په اخلاص او روڼ تندي د دې امر په مقابل کې لبیک ووايي؟ زیاتره به هغه سړي وي چې د بخل او تنگدستۍ ثبوت ښکاره کوي او د مال ښندلو په وخت کې به د هغوی د زړونو خفگان له لرې ښکارېږي. یوه برخه د الله له ورکړې شوي مال څخه د ده په لیاره کې د خپلې گټې لپاره ولگوي. ستاسې د نیا ستاسې د فایدې لپاره ده. که يې نه ورکوئ نو د خپل ځان نقصان کوئ. الله تعالی ستاسې د ورکولو هیڅ پروا نه لري.

۳۵-د الحدید سورت په (۷) آیت کې داسې لولو: «آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ۖ فَالَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَأَنفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ». ژباړه: (ایمان راوړئ تاسې او په ایمان همیشه اوسئ، په الله او په رسول د دغه الله باندې او لگوئ په لاره د الله کې له هغو اموالو څخه چې گرځولي يې تاسو الله خلیفگان د پخوانیو په هغو اموالو کې، پس هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی، له تاسې او لگولي يې دي اموال خپل په لاره د الله کې، هغوی لره دی اجر او ثواب ډېر لوی په جنت کې، نو تاسو ته هم رسوي نفع ایمان او خرڅول د اموالو د تاسې.)

تفسیر: یعنې هغه مال او شته چې ستاسې په لاسونو کې شته، د هغو گردو مالک او څښتن پاک الله دی او تاسې یواځې د یوه امانت دار او خزانه دار په شان يئ، نو ځکه په هر ځای کې او هر چا باندې چې هغه الله تعالی تاسې ته د هغه د صرفولو او لگولو په نسبت امر وکړي، په هم هغه ځای کې يې تاسې د هغه د نایب او خلیفه په ډول خرڅ او صرف کړئ او دا خبره مو هم په یاد وي چې پخوا له دې څخه دا مال د نورو په لاسونو کې و، خو اوس د هغوی په ځای تاسې يئ او ښکاره ده چې تاسې به هم ځئ، ستاسې پر ځای به هم بل څوک کېناستونکی وي، کله چې دا خبره ښکاره شوه، چې دا مال نه د پخوانیو په لاسونو کې پاتې شو او نه ستاسو په لاسونو کې پاتې کېدونکی دی،

نو له هسې فاني او زایل شیز سره دومره مینه او علاقه او تعلق لرل چندانې ښه کار نه دی او ښایي چې په ضروري او مناسبو ځایونو کې په ښه ډول سره صرف او ولګول شي او نه ښایي چې په خیر خیرات کې یې بې زړه توب وکاوه شي، نو ځکه ضروري ده، په هغو کسانو کې چې دا خصلت او صفت موجود نه وي، ښایي چې هغه پیدا کړي او په هغو کې چې شته ښایي چې پر هغه باندې مستقیم پاتې وي او د ایمان په مقتضی باندې تګ او عمل وکړي.

۳٦-د الحدید سورت په (۱۰) آیت کې داسې لولو: «وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ». ژباړه: (او څه مانع، عذر دی تاسې لره چې نه نفقه کوي، نه لګوي مال خپل په لاره د الله کې؟ او خاص الله لره دی میراث د اسمانونو او د ځمکې. نه دی برابر له تاسې څخه هغه چې لګویي یې دی مال خپل په لاره د الله پخوا له فتحې د حدیبیې، یا د مکې څخه او بیا یې جنګ کړی دی له اعداء الله سره د اعلاء کلمة الله. دا لګوونکی د مالونو خپلو په لاره د الله کې او جنګېدونکی پخوا د فتحې د حدیبیې یا د مکې نه. ډېر لوی دی له جهته د درجې له هغو کسانو چې لګوي مال خپل په لاره د الله کې، وروسته له فتحې د مکې نه او جنګېږي لپاره د اعلاء کلمة الله او له دواړو طایفو سره وعده کړې ده الله د نیکۍ، جنت.)

تفسیر: یعنې مجازي مالکان فنا کېږي او ملک هغه حقیقي مالک ته چې الله تعالی دی پاتې کیږي. لکه نه هسې خو د تل لپاره هغه د ده مال و، نو بیا د ده په مال کې سم د ده له امر سره خرڅ کول او لګول ولې درنه ښکاري؟ که په خپله خوښه او واک سره یې نه ورکوي، نو بې واک هم هغه ته رسېدونکی دی، نو د بندګۍ اقتضا او غوښتنه هم دا ده چې په خوښۍ سره هغه وروړاندې کړي او د هغه په لاره کې یې خرڅ کړي او د فقر، فاقې، افلاس او تنګۍ څخه ونه ویرېږي، ځکه چې د ځمکې او د اسمانونو، د خزانو او د شتو مالک او څښتن پاک پروردګار دی، نو آیا په دې لاره کې به په خپلې خوښۍ

سره خرڅ کوونکی وړی پاتې شي؟

۳۷-د المنافقون سورت په (۱۰) آیت کې داسې لولو: «وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ». ژباړه: (او نفقه کړئ، ولګوئ تاسې له هغو مالونو څخه چې درکړي مو دي، تاسې ته پخوا له هغې څنې چې راشي یو ستاسې ته اسباب د مرګ او پرېوځي له میراث او خیرات، نو وبه وايي: يه ربه زما ولې دې وروستی نه کړ ماله؟ یعنې څه به وشي که تا خیر کړی موت تر اجل نېتې نیژدې پورې، چې صدقه خیرات ورکړم زه او شم زه له صالحانو، نېکانو څخه په موندلو د مافات سره، نو فرمايي الله او له سره به نه وروستی کوي الله هیڅ نفس لره له مرګه کله چې راشي، نېته يې.)

تفسیر: یعنې په خرڅ کولو کې ستاسې ښه ده، هر څه خیرات او صدقات مو چې له لاسه پوره وي، هغه ژر تر ژره هم دا اوس وکړي؟ که نه موت او مړينه مو پر سر رسېدونکې ده، نو هلته به افسوس او ارمان کوئ، چې ولې مو څه د الله تعالي په لا ره کې ونه لګول؟ کله چې مرګی د شوم او بخیل پر سر باندې راځي، نو هلته دی ارزو او تمنا کوي، چې یه الله تعالی څو ورځې نور مې په مرګ کې ډیل او معطلي وفرمايه، چې زه ښه خیرات، صداقات ورکړم او ځان ښه سنبال کړم، په اصلاح او توبه سره راشم، خو هلته به کله مهلت ورکاوه کېږي؟ هر سړی لره هومره عمر او نېټه او میعاد ټاکل شوی دی، هغه د پوره کېدلو څخه وروسته د یوې لحظې لپاره هم په هغه کې څه ډیل او تاخیر پېښېدونکی نه دي.)

دا وه د قرآن کریم د هدایاتو په رڼا کې د (انفاق) یعنې د (ورکړې) په هکله لارښوونې. اوس به د قرآن کریم په رڼا کې د پنځو ظاهري حواسونه پر پټ حس(يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ) باندې د قرآني هدایاتو لټونه وکړو:

## «يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ»

۱-د البقرې سورت په (۳) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ

وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (هغه کسان چې ایمان باور پر غیب باندې لري.) تفسیر: یعني هغه شیان چې د هغوی له عقولو او حواسو پټ دي، لکه وحدانیت، رسالت، حشر، نشر، قیامت، حساب، کتاب، ملایک، جنت، دوزخ او نور. دغه واړه د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له ارشاده سره سم حق او یقیني ګڼي، له دې څخه دا راښکاره شوه، چې د دغو غایبو او پټو شیانو منکران د هدایت له فیضه محروم او بې برخې دي.

۲-د البقرې سورت په (۵۲) آیت کې د اسې لولو: «وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ». ژباړه: (او زیری ورکړه یه محمد! هغو کسانو ته چې ایمان یې راوړ دی، پر ټولو مومن بهې شیانو او کړي یې دي ښه عملونه په دې چې بېشکه دوی ته جنتونه دي، چې بهېږي لاندې تر ماڼیو او ونو د هغو ویالې.)

۳-د البقرې سورت په (٦٢) ایت کې داسې لولو: «فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ». ژباړه: (پس هغه کسان چې مومنان دي، پس پوهېږي په یقین سره بېشکه دا مثال حق دی له ربه د دوی څخه.)

۴-د البقرې سورت په (۲۴) آیت کې داسې لولو: «وَآمِنُوا بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ ۖ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَإِيَّايَ فَاتَّقُونِ». ژباړه: (او ایمان راوړی پر هغه کتاب چې نازل کړی دی ما(تراخره). تفسیر: په تورات کې لیکل شوي وو، چې هغه پیغمبر چې د تورات تصدیق وکړي، هغه صادق دی، نو تاسې یې ومنئ او که تورات ونه مني دروغ وایي.

۵-د البقرې سورت په (۲٦) آیت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې یهودان شوي دي او نصرانیان او بې دینان، هر هغه چا له دوی څنې، چې ایمان راوړی دی په الله

**او په ورځې د قیامت باندې او عمل یې کړی دی، د نېکو، سم له محمدي شریعت سره نو وي به دوی ته ثواب د دوی په نزد د رب د دوی او نه به وي هیڅ قسم ویره پر دوی باندې او نه به دوی هیچرې خپه کېږي په وخت د جزا کې.)**

**تفسیر: یعنې دا عنایت په کومې خاص فرقې پورې موقوف نه دی، یقین راوړل شرط دي، عمل چې د هر چا په برخه شو، همغه ثواب به مومي، نو ځکه یې وفرمایل چې بني اسرایل په دې خبره مغروره وو، چې موږ د انبیاوو اولاد یو، موږ له هره خوا الله تعالی ته نیژدې او ښه یو.**

**یادونه: د حضرت موسی علیه السلم امت ته (یهود) او د حضرت عیسی علیه السلام امت ته (نصاری) یا (ترسا) وایي، (صا بیین**
**) داسې یوه فرقه ده چې هغوی په خپل گمان سره هغه شیان له هره دینه خپلو ځانونو ته غوره کړي دي، لکه چې دوی حضرت ابراهیم علیه السلام مني، د پرښتو عبادت کوي، زبور لولي، د کعبې شریفې په لوري لمونځ کوي.**

**٦-د البقرې سورت په (٣٨) آیت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ». ژباړه: (هغه کسان چې مومنان دي او عملونه کړي دي دوی د نېکی، هم دغه کسان صاحبان د جنت د ي، دوی به په هغه جنت کې تل وي.**

**٧-د البقرې سورت په (١٩) آیت کې داسې لولو: «وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا نُؤْمِنُ بِمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَاءَهُ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ۗ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنبِيَاءَ اللَّهِ مِن قَبْلُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ». ژباړه: (او کله چې وویل شي دوی ته چې ایمان راوړئ په هغو کتابونو چې نازل کړي دي الله، وایي دوي ایمان راوړو موږ په هغه کتاب چې نازل کړی شوی دی پر موږ، یعنې توارت، حال دا چې کافران کېږي، پر هغه کتاب چې بې له هغه دی. یعنې: انجیل او قران، حال دا چې دا نور کتابونه هم حق دي، مصدق دي د هغه کتاب چې له دوی سره دی، چې د الله تعالی له خوا نازل شوی دی.)**

۸-د البقرې سورت په (۶۲۱) آیت کې داسې لولو: «قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ». ژباړه: (ووایئ ای مومنانو چې ایمان راوړی دی موږ پر الله او په هغه قران چې نازل کړی شوی دی، پر موږ او په هغو لسو صحیفو، چې نازل کړی شوې دي ابراهیم ته، اسمعیل ته، اسحق ته، یعقوب ته او اولادې د د وی ته او په هغه کتابونو او معجزاتو چې ورکړې شوې موسی ته او ورکړی شوې عیسی ته او پر هغو کتابونو چې ورکړی شوې دې نورو انبیاوو ته له ربه د دوی نه. حال دا چې نه کوو فرق په منځ د یوه تن له دوی ځنې په نبوت او نه نبوت سره او موږ الله ته غاړه ایښودونکي یو.)

تفسیر: یعنې موږ په ټولو انبیاوو او کتابونو ایمان راوړو او ټول حق ګڼو او هر یو له دوی ځنې په خپله زمانه کې واجب الاتباع بولو.

۹-د البقرې سورت په (۷۲۱) آیت کې داسې لولو: «فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ». ژباړه: (نو که ایمان راوړي دا یهودان او نصاری، لکه چې ایمان راوړی دی پر هغه مومن بهي شیانو بې له فرقه، نو په تحقیق یې ومونده سمه لاره او که یې مخ وګرځاوه له ایمان نه، نو بېشکه هم دا خبره ده، چې دوی له تاسې سره په مخالفت کې د ي، نو ژر ده چې کافي به شي په دفع د شر د دوی کې تا لره الله او هم دی ښه اورېدونکی د اقوالو، ښه عالم په احوالو.)

۰۱-د البقرې سورت په (۷۷۱) آیت کې داسې لولو: «لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ

**وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ».**
ژباړه: (نه ده نېکي يو اځې دا کار چې وگرځوئ مخونه خپل په لمانځه کې د مشرق يا مغرب خواته وليکن غوره نېکي د هغه چا ده چې ايمان يې راوړی وي، پر پاک الله او ايمان يې راوړی وي، پر ورځې اخرې او پر ټولو پرښتو او په ټولو کتابونو او ايمان يې راوړی وي پر انبياوو او ورکوي خپل مال په محبت د الله، فقيرانو خپلوانو ته او ورکوي خپل مال په محبت د الله فقيرانو، يتيمانو ته او مسکينانو ته او ورکوي خپل مال په محبت د الله، مسافرانو ته او نادارو سوالگرو ته او په ازادولو د مريانو کې او سم دروي په ترتيب سره ادا کوي سره د تولو حقوقو لمونځ خپل او ورکوي زکوات او بل خاوند د نېکی، وفا کوونکی دی په وعدو خپلو، کله چې دوی وعده کوي له خالق يا مخلوق سره او صفت کوو د صبر کوونکو په سختيو او په رنځونو کې او په وخت د جنگ په لاره د الله کې.)
تفسير: يعنې هغه نېکي او ښېگڼه چې د هدايت اثر يا د مغفرت سبب شي، دا ده چې په الله تعالی او د جزا په ورځې او پر ټولو پرښتو او اسماني کتابونو او پر انبياوو، د زړه له کومې ايمان راوړي او پر هغوی باندې يقين ولري او سره له هغه رغبته او محبته چې له مال سره يې لري، له خپلو مالونو ځنې برسېره پر زکوات نادارو خپلوانو او يتيمانو او غريبانو او مسافرو او بې شتو سوالگرو ته ورکوي، او غاړه خلاصوي. يعنې هغه مسلمانان له قيد څخه خلاص کړي، چې د کفارو په لاس کې په ظلم بنديان وي، يا د پوروړي غاړه د پور (قرض) لرونکي له پوره خلاصه کړي يا غلام (مريی) ازاد کړي يا مکاتب لره د هغه د پور (قرض) د ورکولو او خلاصولو لپاره مال ورکړي او لمونځ په ښه شان سره ادا کړي او خپل عهد او نور پر ځای کوي او په سر يې رسوي، په فقر او فاقه، په بيماری او تکليف، په مصيبت او ويره کې صبر او تحمل کوي.
۱۱-د البقرې سورت په (۲۰۸) آيت کې داسې لولو: «**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ**». ژباړه: (يه هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی، يعنې يه مومنانو! ننوځي په اسلام کې د هغه له ټولو شرايطو سره ټول.) تفسير: په وړومبي آيت

کې يې د مخلص مومن مدح وفرمايله، چې له هغه څخه د نفاق ابطال منظور و، اوس فرمايي چې تاسو په کامل ډول سره اسلام ومنئ، يعنې په ظاهر او باطن په عقيده او عمل کې يواځې د اسلام د احکامو متابعت وکړئ او نه چې په خپل سر او عقل يا د بل چا په خوله کوم حکم ومنئ يا کوم کار وکړئ نو له دې ځنې د (بدعت) قلع او قمع او له بېخه ايستل مقصود دی، ځکه چې (بدعت) په حقيقت کې هم داسې دی چې د بل چا کومه عقيده يا کوم عمل چې ښه او مستحق وګڼه شي، هغه له خپله لوري په دين کې داخل کړی شي، مثلاً لمونځ او روژه چې ښه د عباداتو دي، که بې د شرعي حکمه يې څوک له خپله ځانه مقرر کړي (بدعت) دی، لکه د اختر په ورځ جومات کې په نفلونو باندې امر کول يا د اخترونو په ورځو کې د روژې نيول، د دغو آيتونو خلاصه داسې شوه: په اخلاص ايمان راوړئ، له بدعتونو څخه لرې ګرځئ.

۲۱-د البقرې سورت په (۷۵۲) آيت کې داسې لولو: «**اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ ۗ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ**». ژباړه: (الله دوست، مددګار دی د هغو کسانو چې باسي د وی له تيارو د کفر او ګمراهۍ نه، د رڼا د ايمان او هدايت لوري ته.)

۳۱-د البقرې سورت په (۷٦۲) آيت کې داسې لولو: «**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِآخِذِيهِ إِلَّا أَن تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ**». ژباړه: (يه هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، يعنې يه مومنانو! لګوئ له حلالو پاکو او غورو د هغو مالونو چې په کسب سره تاسې ګټلي او له هغو شيانو چې ايستلي دي موږ تاسې لره له ځمکې څخه له حلالو، پاکو او غورو شيانو او قصد مه کوئ تاسې ورکولو د خبيثو، حرامو، ناپاکو، نابودو شيانو له هغه ماله چې لګوئ يې تاسې د الله په لاره کې، حال دا چې نه يئ تاسې اخيستونکي د هغه ناکاره شي، په خپل حق کې، مګر خو يئ داسې اخلئ چې سترګې پټې کړئ په اخيستلو د هغه کې او پوه شئ چې

**بېشکه الله غني دی، بې پروا دی له هر چا او هر شي.)**

**تفسیر: د الله تعالی په نزد د صدقاتو د مقبولیت شرط د ادی، چې هغه خیرات له حلال ګټل شوي مال څخه وي، څه حرام مال او څه شبهه او شايبه په کې نه وي او له ښو شيانو څخه ښه شی وي.**

**۴۱-د آل عمران په (۳۸) آیت کې داسې لولو: «قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَالنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ». ژباړه: (ووايه يه محمده! کتابيانو ته چې ايمان راوړی دی، موږ پر الله او په هغو کتابونو چې نازل کړی شوي دي، پر موږ چې قرآن کريم دی او پر هغو لسو صحيفو چې نازلې کړی شوې پر ابراهيم او پر اسحق او پر يعقوب او پر اولاده د د وی باندې او پر هغو چې ورکړی شوي دي موسی ته چې تورات دی او عيسی ته چې انجيل دی او نورو انبياوو ته چې نور آيتونه دي، له جانبه د رب د دوی، حال دا چې نه کوو فرق په منځ د هيڅ يوه د دوی په نبوت او نه نبوت کې او داسې نه کوو چې ځينې به منو او ځينې به نه منو او موږ خاص الله ته غاړه ايښودونکي يو.)**

**تفسیر: يعنې هر هغه څه چې په هره زمانه کې د الله تعالی له جانبه نازل شوي يا کوم رسول ته ورکړی شوي دي، موږ هغه ګرد بلا تفريق منو، دا خبره د يوه حکم منونکي مسلم له وصف او شان څخه لرې ده، چې لکه کتابيانو ځينې رسول ومني او ځينې ونه مني.**

**۵۱-د آل عمران سورت په ( ۲۰۱) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ». ژباړه: (يه هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، يعنې يه مومنانو! وويريږئ له الله نه، په حق د ويرې د ده او مه مرئ مګر په دې حال چې يئ مسلمانان، موحدان.)**

**تفسیر: يعنې: ستاسې مسلمانانو په زړونو کې ښايي د الله تعالی پوره ويره وي او سم له خپله توانه د پرهيزګاری او تقوی له لارې لرې ولاړ نه شئ او تل له الله تعالی نه د استقامت غوښتونکي واوسئ.**

شیاطین غواړي چې ستاسې قد مونه د اسلام له لارې ځنې وښویوي، تاسې لره ښايي چې شیطان له خپلو ځانونو څخه مایوس کړئ او تر مرګه پورې هیڅ یو حرکت د مسلمانۍ په خلاف ونه کړئ، ښايي چې ستاسې مرګ او ژوند د خالص اسلام په اساس وي.

۶۱-د آل عمران په (۲۰۰) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ». ژباړه: (یه هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، صبر کوي په طاعت، مصیبت او له معصیته او ټینګ اوسي په صبر د کفارو په مقابل کې او محکم اوسي په سرحداتو کې او وویریږی له الله لپاره د دې چې په مراد ورسیږ ئ، بریالی شئ او له د وزخه نجات ومومئ.)

]تفسیر: الله تعالی د دغه سورت په پای کې مونږ مسلمانانو ته یو جامع او مانع نصیحت وکړ، چې په واقع کې د دې ګرد سورت حاصل دی. یعنې یه مومنانو! که فتح او بری او د دنیا او اخیرت په مراد رسېدل غواړئ نو سره د اربې ګاللو په طاعت کې ټینګ اوسئ او له معصیت ځنې ځان وساتئ او د دښمنانو په مقابل کې خپلې مظبوطي، ثابت قدمي او مېړانه څرګنده کړئ او د اسلام د حدودو په حفاظت کې تل مشغول او لګیا اوسئ.

۷۱-د النساء سورت په (۷۵) آیت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا». ژباړه: (او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه عملونه، زر به ننه باسو، مونږ دوی په هغو جنتونو کې چې بهېږي له لاندې د ماڼیو او ونو د دوی ویالې، همېشه به وي دوی په دغو جنتونو کې تل بې انتها وي به دوی ته په دې جنتونو کې ښځې پاکې کړی شوې له ټولو ناپاکیو څخه او ننه به باسو دوی په ګڼو سیورو په دایمي نعمت او راحت.)

تفسیر: یعنې مومنان به تل تر تله په جنت کې اوسېږي او دوی ته به هسې ښایسته ښځې ور په برخه کېږي، چې له حیض، نفاس او له نورو ککړتیاوو ځنې به بېخي پاکې، صافې وي، دوی به په ډېرو ګڼو سیورو کې داخل کړو، چې د

لمر له تودوخې او نور وځنې به بیخي محفوظ وي.

۸۱-د النساء سورت په (۱۳۳) ایت کې د پورتني ایت مطالب کټ مټ نغښتي دي.

۹۱-د النساء سورت په (۱۳٦) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنزَلَ مِن قَبْلُ ۚ وَمَن يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا». ژباړه( یه هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی، ثابت او خالص کړئ تاسې ایمان (یقین) خپل پر الله اور سول د ده محمد صلی الله علیه وسلم او په هغه کتاب (قران) چې ټوټه ټوټه یې نازل کړی دی، پر رسول خپل (محمد صلی الله علیه وسلم) باندې او پر هغه کتاب چې ټول یې یو ځل نازل کړی دی پخوا له قرانه پر نورو رسولانو او هر څوک چې کافر شي پر الله او پر ملایکو پرښتو د دغه الله او پر کتابونو د دغه الله او پر رسولانو د دغه الله او پر ورځې چې قیامت دي نو په تحقیق گمراه شوي دي په گمراهۍ لرې سره له حقه).

تفسیر: هر څوک چې ایمان راوړي، نو ضروري دي چې د الله تعالی پر گردو احکامو او ارشاداتو د زړه له کومې یقین ولري، که دالله تعالی له احکامو او ارشاداتو ځنې پر یوه حکم هم یقین ونه کړي، نو هغه مسلمان نه دی او تش د ژبې وینا او د خولې اظهار هیڅ کوم اعتبار نه لري.

۰۲-د النساء سورت په (۱٤٥) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ ۚ أَتُرِيدُونَ أَن تَجْعَلُوا لِلَّهِ عَلَيْكُمْ سُلْطَانًا مُّبِينًا». ژباړه: (یه هغو کسانو چې ایمان راوړ دی! مه نیسئ تاسې کافران برهان حجت صریح(ښکاره).)

تفسیر: یعنې له مسلمانانو ځنې جلا کېدل او له کفارو سره دوستي او یو ځای کېدل، د نفاق دلیل دی، لکه چې منافقان یې کوي، تاسې لره ای مسلمانانو داسې کار بیخي نه ښایي، که نه د پاک الله صریح الزام ښکاره برهان او پوره حجت به پر تاسې باندې قایم شي، چې تاسې هم منافقان یئ.

۱۲- د المائده سورت په (۸) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ». ژباړه: (یه هغو کسانو چې ایمان مو راوړ دی! اوسئ تاسې محکم ولاړ په حق باندې لپاره د الله، اوسئ تاسې شاهدان په قسط، عدل او انصاف سره.)

تفسیر: دلته دا رابنيي چې يواځې په ژبه سره يې يادول نه دي پكار، بلكې په عملي ډ ول له د وی ځنې د هغه ثبوت مطلوب دی، یعنې که تاسې د الله تعالی بې حسابه احسانات او خپل عهد او اقرار نه دی هیر کړی، نو لازم دي چې د هغه حقیقي محسن د حقوقو په ادا کولو کې خپل عهد رښتیا کړي او د هغه رښتین عهد ایفاء او د هغه عملي ثبوت ورښوولو ته هر وخت ملاتړلي اوسئ او هر کله چې حکم د دې حقیقي منعم او مالک جل جلاله له پلوه تاسې ته در ورسېږي. فوراً د ده د حکم د تعمیل لپاره ولاړ شئ او الله تعالی د حقوقو له ادا کولو سره د مخلوقاتو د حقوقو په ادا کولو کې هم پوره جدوجهد او اهتمام وکړئ، لکه چې په (قوامین لله) د حقوق الله او په (شهداء باالقسط) کې د حق العباد په لوري اشاره ده. د (عدل) معنی دا ده چې: له بل چا سره بې له افراطه او تفریطه همغسې معامله وکړئ چې هغه واقعي د هغې وړ او مستحق وي، د عدل او د انصاف تله ښايي داسې سمه او برابره وي، چې نه خورا ډېره زياته دوستي او نه خورا ډېره سخته دښمني وکولی شي، چې د هغی یوه پله درنه کړي. (تقوی) د هغه معنوي کیفیت نوم دی چې د هغو شیانو له اجتناب او ځان ژغورنې ځنې حاصلېږي، چې شرعاً مهلک یا په کومه درجه سره مضر وي او یو خاص نوراني کیفیت دی چې د انسان په زړه کې راسخېږي. د (تقوی) د تحصیل نیزدې او لرې اسباب ډېر دي، گرد حسنه اعمال او د خیر خصال د (تقوی) له اسبابو او معداتو ځنې شمېرل کېدلی شي. لیکن معلومېږي چې (عدل) او (قسط) یعنې له دوسته او دښمنه سره یو شان معامله کول او د حق په معاملاتو کې د محبت او عدالت د جذباتو تر تاثیر لاندې نه راتلل د (تقوی) د حصول د خورا ډېرو موثرو او د ډېرو قریبو

اسبابو څخه دي. نو ځکه (اقرب التقوی) وفرمایل. یعنې دا عدل چې حکم یې ورکړ شو (تقوی) ته ډېر نیژدې دی، چې د هغه ممارست څخه وروسته د (تقوی) کیفیت ډېر ژر حاصلېږي.

دا وه د مفسر تفسیر: خو زما وینا دا ده: چې (تقوی) د انسان لپاره د مومن بهي د د رې اصلونو یو واحد نوم دی. یعنې (تقوی) درې اصله لري، چې د البقرې سورت په دریېیم ایت کې په څرګنده توګه ورته اشاره شوې ده، چې وایي: «الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ».

د دغو د رې اصلونو یو واحد نوم (تقوی) دی، کوم چې د الحجرات سورت په (۱۳) آیت کې راغلي دي، چې وایي: «إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ». یعنې د لوی خدای په حضور کې د انسان کرامت په (تقوی) کې ده. هغه (تقوی) چې د البقرې سورت په سر کې ورته اشاره شوې ده.

۲۲-د المائدې سورت په (۸۷) او (۸۸) آیتونو کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴿۸۷﴾ وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلالا طَيِّبًا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ». ژباړه: (یه هغو کسانو چې ایمان مو راوړ دی! مه حراموئ تاسې پاک لذیذ له هغو شیانو چې حلال کړي دي الله لپاره ستاسې او مه کوئ تېری تاسې له حدود الله. بېشکه چې الله نه خوښوي تېرېدونکي له حدودو او خورئ تاسې له هغه څیزه چې رزق، روزي درکړې ده تاسې ته الله چې حلال پاکیزه ده او وویرېږئ له الله څخه، هغه الله چې تاسې پرې ایمان لرونکي یئ.)

تفسیر: هیڅ یوه اسماني کتاب تر نن پورې داسې جامع، معتدل او فطري تعلیم د انساني ترقیاتو د هرې شعبې په نسبت نه دی وړاندې کړی، لکه چې په دغو دوه وو آیتونو کې د قرآن کریم له خوا وړاندې شوي دي.

په دې آیتونو کې الله تعالی مسلمانان په صاف ډول سره له دې نه منع کړي دي چې د وی کوم لذیذ(حلال) او طیب شی په خپلو ځانونو عقیدتاً یا عملاً حرام وګرځوي، نه یواځې هم دا، بلکې دوی ته الله تعالی له حلالو او طیبو

نعمتونو ځنې د متمتع کیدلو ترغیب هم ورکړی دی، مګر سره له سلبي او ایجابي شرطونو:

۱-چې اعتداء (حد) نه تجاوز ونه کړي او له حده تېر نه شي. ۲- چې (تقوی) اختیار کړي او له الله جل جلاله نه وویریږي، د (اعتداء) حد نه تجاوز دوه مطلبه کیدای شي؛ له حلالو شیانو سره لکه د حرامو په شان معامله کول اود نصرانیانو په شان په رهبانیت کې مبتلا کېدل، یا د لذایذو او طیباتو په متمتع کېدلو کې د (اعتدال) له حد نه تېرېدل. تر دې چې په لذتونو او شهوتونو کې داسې کلک او منهمک کیدل چې د یهودانو په څېر یواځې دنیوي ژوند خپل مقصد او مطمع نظر وګرځوي. الغرض د غلو مبالغې او جفا او (افراط) او تفریط په منځ کې یوه متوسطه او معتدله لاره اختیارول په کار دي، نه په دنیوي لذتونو کې د ډوبېدلو اجازه شته او نه د (رهبانیت) له لارې د مباحاتو او طیباتو پرېښودل په کار دي.)

۲۳-د التوبه سورت په (۲۲) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ». ژباړه: (هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی په ټولو مومن بها شیانو او هجرت یې کړی دی او جهاد یې کړی دي په لاره د الله کې، د دین د ترقۍ لپاره، په مالونو خپلو چې په جهاد کې یې لګوي او په ځا نونو خپلو چې په غزا کې یې قربانوي. ډېر لوی دی له نورو نه له جهته د درجې په نزد د الله او هم دغه ستایل شوي کسان دوی دي په مراد رسېدونکي، زېری کوي رب د دوی په رحمت سره له جانبه خپله او په رضامندئ سره او په جنتونو سره چې وي به د وی ته په دغو جنتونو کې نعمتونه همېشه، دایم بلا انقطاع، حال دا چې همېشه به وي په دغو جنتونو کې تل ترتله، بېشکه الله هم ده سره دی، اجر (ثواب) ډېر لوی.)

۲۴-د التوبه سورت په (۲۹) آیت کې داسې لولو: «قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ

صَاغِرُونَ». ژباړه: (وجنګیږئ تاسې له هغو کسانو سره چې نه راوړي ایمان پر الله او نه پر ورځې اخیرې باندې، څکه چې په پآک محمد يې ایمان نه دی راوړی او نه حرام ګڼي دوی هغه چې حرام کړي دي الله په قرآن کریم کې او رسول د دغه الله په حدیثونو کې او نه قبلوي دوي (دین حق) د اسلام. دغه مذکورین له هغو کسانو نه دي چې ورکړی شوی دی، دوی ته کتاب، جنګ ورسره کوئ، تر هغو پورې چې ورکړې دوی جزیه له خپله لاسه حال دا چې دوی ذلیل وی.)

۲۵-د التوبه سورت په (۷۲) آیت کې داسې لولو: «وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ». ژباړه: (وعده کړې ده، الله له نارینه وو مومنانو او له ښځو مومنانو سره د جنتونو چې بهیږي له لاندې د ماڼیو او ونو د هغو څلور قسمه ویالې، تل به وي دوی په دغو جنتونو کې او وعده کړې ده الله، دځایونو پاکو، چې ثابت دي په جنتونو د تل اوسېدلو کې او رضا له جانبه د الله ډېره لویه ده له جنتونو او نعمتونو او نورو څخه دغه رضا د الله هم دغه بری دی ډېر لوی.)

۲٦-د التوبه سورت په (۱۱۱) آیت کې داسې لولو: «إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ». ژباړه: (بېشکه چې الله پېرودلی دی له مومنینو څخه نفسونه د دوی او مالونه د دوی چې خپل ځان او مال په جهاد کې ښندي. په بدل د دې چې بېشکه شته په بدل د دغه جهاد ، د وی ته جنت. دغه پېرودل په دې شان دي چې جنګونه کوي دوی په لاره د الله کې، نو کله وژني مومنان دا کفار او کله د کفارو له لوري وژلی شي دغه مومنان. وعده ده په دغه الله باندې حقه په تورات کې او په انجیل کې او په قران کې او څوک دی ښه وفا کوونکی په وعدې خپلې سره له الله څخه، بلکې نشته نو خوشاله

شئ تاسې په مومنانو! په بیع ستاسې باندې هغه چې معامله کړې ده تاسې له الله سره په هغې بیع او شری سره او دغه بیعه چې ده هم دغه بری دی ډېر لوی.)

۲۷-د الرعد سورت په (۲۹) آيت کې داسې لولو: «الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ». ژباړه: (هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه عملونه طوبی، ښه حال دی دوی ته له هره حیثه او ښه ځای د هستوګنې جنت دی.)

تفسير: د (طوبی) لغوي معنی داسې ده: صالح مومنانو لره خوشالي، خوښي او د هستوګنې ښه ځای دی، چې په دغه کې د جنت هغه ونه هم راغله چې په حديث کې د (طوبی) په نامه سره موسومه شوې ده.

۲۸-د ابراهيم سورت په (۳۱) آيت کې داسې لولو: «قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ». ژباړه: (ووايه يه محمده! هغو بندګانو زما ته چې ایمان يې راوړی دی، سم دې دروي (ادا) کړي، لمونځ او ورکړه دې کوي ځینې له هغه ماله چې ورکړی موږ دوی ته په پټه کې، که (مستحب و) او په ښکاره، که (فرض) وو یا (واجب). پخوا له راتللو د هغې ورځې چې نشته سودا، پلورل او پېرودل په هغې کې او نه دوستی.)

۲۹-د الکهف سورت په (۱۰۷) او (۱۰۸) آيتونو کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ﴿۱۰۷﴾ نُزُلًا خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې ایمان يې راوړی دی او کړي يې دي، ښه عملونه، شته دوی ته جنتونه د فردوس اعلی (غوره) بهتر ځای د هستوګنې او مېلمستيا، چې تل به وي په دغو جنتونو کې، نه به غواړي دوی له دغو جنتونو څخه ګرځېدل او وتل بل ځای ته.)

۳۰-د المومنون سورت په لومړي او دويم آيتونو کې داسې لولو: «قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴿۱﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ». ژباړه: (په تحقيق بريالي شوي دي مومنان، هغه مومنان چې دوی په لمونځونو خپلو کې

عاجزي کوونکي ويرېدونکي دي له الله نه.)

۳۱-د العنکبوت سورت په (۹) آيت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ ». ژباړه: (او هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي دي ښه عملون، خامخا داخل به کړو هرومرو دوی په جماعت د صالحانو کې چې انبيا او اوليا دي.)

۳۲-د فصلت سورت په (۸) آيت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه عملونه، شته دوی ته اجر چې نه دی قطع کېدونکی. )

تفسير: يعنې هيڅکله به نه قطع کېږي او تر ابدالابد پورې به جاري وي، کله چې جنت ته ورسېږي نه به دوی او نه به د دوی ثواب فنا او انقطاع مومي.)

۳۳-د محمد سورت په (۷) آيت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ». ژباړه: (يه هغه کسانو چې ايمان مو راوړی! که مددګاري وکړئ تاسې له د ين د الله او رسول د الله سره، نو مدد به وکړي الله له تاسې سره په غلبه پر دښمن او ثابت به کړي قدمونه ستاسې په ځای د جنګ).

۳٤-د محمد سورت په (۳۳) آيت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ». ژباړه: (يه مومنانو! اطاعت کوئ د الله او اطاعت کوئ د رسول الله او مه باطلوئ تاسې عملونه خپل په معاصيو سره.)

۳۵-د الحجرات سورت په (۱۵) آيت کې داسې لولو: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ». ژباړه: (بېشکه چې صادقان مومنان هغه کسان دي چې ايمان راوړی دی پر الله اور سول د دغه الله باندې. بيا شک نه کوي په ايمان کې او جهاد کوي دوی په مالونو خپلو سره چې لګوي يې په اعلا د کلمة الله کې او په ځانونو خپلو سره چې جهاد کوي په لياره د الله کې، دا

کسان هم دوی رښتيني دي په دعوې د ايمان کې.)

٣٦-د الحديد سورت په (١٢) آيت کې داسې لولو: «يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُم بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِم بُشْرَاكُمُ الْيَوْمَ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ».

ژباړه: (ياد کړه يه محمده! هغه ورځ د قيامت چې وينې ته مومنان سړي او مومنانې ښځې چې ځغلي به رڼا د دوی مخکې له دوی څخه او له ښي خوا د دوی څخه او وبه ويل شي دوی ته چې زيری د تاسې نن ورځ دی ننوتل په جنت کې چې بهيږي له لاندې د ماڼيو او ونو د هغو څلور قسمه ويالې او تل به وي دوی په هغو کې دغه دی هم دغه بری موندل ډېر لوی.

٣٧-د الحديد سورت په (٢١) آيت کې داسې لولو: «سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ».

ژباړه: (تلوار وکړئ، وځغلئ تاسې يه مومنانو! طرف د مغفرت او ښننې ته چې له جانبه د رب ستاسې دی او وکړئ ښه عملونه او تلوار وکړئ او وځغلئ تاسې يه مومنانو! هغه جنت ته چې پلنوالی يې داسې دی لکه پلنوالی د اسمان او د ځمکې چې دواړه سره يو ځای شي. داسې جنت چې تيار کړی شوی دی لپاره د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی پر رسولانو د دغه الله. دغه موعود جنت مغفرت، رضا لقا او فضل د الله دی چې عطا کوي يې هغه چاته چې اراده وفرمايي د عطا يې، چې مومنان دي او الله څښتن د فضل عظيم دی چې په دنيا کې مومنانو ته توفيق د ايمان او په عقبا کې جنت او رضوان ورکوي.)

٣٨-د المجادلې سورت په (٢٢) کې داسې لولو: «لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا

إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ». ژباړه: (او نه به مومې ته یه محمده! او نه ښايي چې بیا مومي یو قوم چې ایمان یې راوړی وي پر الله او په ورځې اخیرې د قیامت چې دوستي به کوي، دوی له هغه چا سره چې مخالفت کوي له الله او له رسول د دغه الله نه. اگر که وي دغه مخالفین پلرونه د دوی او زامن د دوی یا وروڼه د دوی یا نوره قبیله، خپلوان د دوی. دغه قوم چې له اعداء الله سره دوستي نه کوي، لیکلي دي الله په زړونو کې د د وی او قوي کړي یې دي دوی په غیبي فیض، مدد له نزده خپل څخه او قوي کړي قوت ورکړی دی الله تعالی دوی لره په روح، رحمت او نصرت خپل سره یا په نور رڼا د زړه یا په قران عظیم الشان سره او داخل به کړي دوی الله په جنتونو کې چې بهېږي له لاندې د ونو او ماڼیو دهغو څلور قسمه ویالې. تل به وي دوی په هغو جنتونو کې راضي شو الله له دوی څخه په طاعت سره او راضي شول دوی له الله څخه په موندلو د جنت او خوشال شو الله تعالی له دوی نه د طاعت سره په دنیا کې او خوشاله شول دوی له الله تعالی څخه په موندلو د لقا او رضا او عطا د جنت په اخیرت کې او دغه خلک دي حزب، لښکر د الله. واورئ، خبردارشئ چې بېشکه لښکر د الله تعالی چې دی هم دوی دي په مراد رسېدونکي بریالیان.)

۳۹-د البینه سورت په (۷) آیت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ». ژباړه: بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او کړي یې دي ښه کارونه په دنیا کې، دا خلک هم دي، ډېر ښه د خلکو. )

تفسیر: یعنې هغه کسان چې په گردو رسولانو او کتابونو باندې یقین کوي او په ښو کارونو کې لگیا دي، نو دوی ښه د خلکو دي، تر دې چې د دوی زیاتره کسان له پرښتو څخه هم وړاندې کېږي.

٤٠-د العصر سورت په (۳) آیت کې داسې لولو: «إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ». ژباړه: (مگر خو زیان کاران نه دي هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او کړي یې وي ښه عملونه او وصیت یې کړی وي یو له بله په حقه سره چې ایمان دی او وصیت یې کړی

وي يو له بله په صبر، په طاعت او مصيبت له معصيته.)

تفسير: يعنې انسان ته د زيان په ژغورلو کې څلور شيانو ته ضرورت دی: لومړی په الله تعالی او په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ايمان راوړل او د هغه په هداياتو او وعدو باندې اخروي وي يا دنيوي، پوره يقين لرل.

دوهم: د دې يقين اثر او اغيزه نه ښايي چې يواځې په قلب او دماغ پورې محدوده وي، بلکې ښايي چې په جوارحو کې هم څرګنده شي او د هغه چارې او اعمال او ژوندون د ده د زړه هنداره وي.

دريیم: دی په خپلې انفرادي اصلاح او فلاح باندې قناعت ونه کړي، بلکې د خپل قوم او ملک ګټې او اجتماعي مفاد هم ښايي د ده تر کتنې او نظر لاندې وي، هر کله چې دوه مسلمانان سره ووينې، ښايي يو له بله سره په ورين تندي خبرې اترې وکړي او په قول او عمل کې او فعل او هره معامله کې پرته له ديانت او صفايي څخه بل کار نه کوي او تل دې يو بل ته د صداقت او امانت تاکيد وينا وکړي.

څلورم: هر يوه ته ښايي چې تل بل ته دا وصيت او نصيحت وکوي، چې د حق په معامله او د شخصي او قومي اصلاح په لاره کې چې هر څومره سختي او زيار او ربړونه او تکليفونه ورپېښ شي يا له طبيعي مخالفې چارې په مخ ورته راشي، دا ګردې په پوره صبر او استقامت سره تحمل کړي او هيڅ کله دې پل د نيکۍ له لارې څخه کوږ نه ږدي، هغه خوش قسمت انسانان چې د دې څلورو اوصافو جامع او لرونکي وي او دوی سره د خپل کمال د نورو په تکميل کې هم زيار او کوښښ کوي، نو د هغوی نوم د دنيا په صفحاتو کې تل ژوندی پاتې کېږي او هغه آثار چې دوی له خپل ځان څخه دلته پرېږدي، هغه به تل د باقيات الصالحاتو په ډول د هغوی نومونه ژوندي او اجرونه يې زياتوي، فی الحقيقت دا مبارک سورت د ديانت خلاصه ده، حضرت امام شافعي ويلي دي: که له پاک قران څخه يواځې هم دا سورت نازل شوی وی، نو د پوهانو بندګانو د هدايت لپاره کافي و، زموږ اسلافو او پخوانيو لويانو به کله چې يو له بل سره ليدل، نو جلا کېدلو په وخت کې به يې يو بل ته دا مبارک سورت اوروه.

**دا وو د ایمان، مومن او مومن بها په هکله له څلویښتو سورتونو څخه څلویښت آیتونه، داسې خو د قرآن کریم په ډېرو نورو سورتونو کې ډېر زیات آیتونه د لوی خدای له لوري د مومنینو په نامه راغلي او په هغو کې مومنینو ته په مختلفو موضوعاتو کې لارښوونې شوې دي، خو ما یواځې همدا څلویښت آیتونه وټاکل او د هغو متن او ژباړه مې کټ مټ وړاندې کړه، دا چې د ایمان په لغوي او معنوي مفهوم ښه وپوهېدلی شو، لازمه ګڼم د پښتو اریانا دایرة المعارف څلورم ټوک (۲۸۹) مخ څخه هغه ټول متن چې د ایمان په هکله لیکل شوی، کټ مټ خپلو لوستونکیو ته وړاندې کړم چې داسې پیل کېږي:**

## ایمان

**ایمان: ایمان په لغت کې د وثوق، تصدیق او امانت دارۍ په معنی استعمالېږي او د شرعې په اصطلاح د ایمان د حقیقت په نسبت (اته) نظریې موجودې دي، چې په پنځو نظریو کې یې ایمان بسیط ګڼلی او په دوه وو کې یې هغه ثلاثي مرکب او په یوه کې یې ثنایي مرکب ګڼلی دی. ځکه د مسلمانانو په اتفاق (ایمان) د زړه او اعضاوو له عمل څخه نه شي وتلی. عضو به یا ژبه وي چې اقرار عمل اجرا کوي، یا به نور اعضاوې چې د هغوی فعل فرضي یا نفلي نور عبادتونه دي، که د دې اساس پر بنا (ایمان) یواځې د زړه عمل یا د ژبې یا د نورو جوارحو عمل وګڼو، نو د ایمان حقیقت بسیط دی او که هغه عبارت له دریو شیانو: د زړه، د ژبې فعل او نور ارکان وګڼو، ثلاثي مرکب به وي، چې د هغه تفصیل په دې ډول دی:**

**پخوانیو علماوو داسې نظریه ښکاره کړې ده، چې (ایمان) عبارت له قلبي اعتقاد او د ژبې د بیان او عمل په ارکانو، لیکن دوی د ارکانو عمل د (ایمان) د صحت شرط نه ګني، بلکې هغه د ایمان د کمال شرط ګڼي.**

**متاخرین علماء چې ځینې له هغو څخه (اشعریه) دي، وایي: ایمان له جازم تصدیق څخه د هر پیغمبر عبارت دی، په ټولو هغو شیانو کې چې د اسلام د پیغمبر له خوا د هغو ثبوت قطعیت ولري، تفصیلي تصدیق په هغو شیانو کې چې په تفصیل سره ښکاره وي، اجمالي تصدیق په هغو شیانو کې چې تفصیل**

سره معلوم نه وي. نو ځکه ظني تصديق (ايمان) نه دی، ولې چې جازم نه دی او دغه رنګه (ايمان) پر اجتهادي شيانو لزوم نه لري، ځکه د هغو ثبوت قطعيت نه لري، ځينې علما (ايمان) معرفت بولي، لکه جهم د صفوان زوی وايي: (ايمان) مراد دی د خدای له شناخته او د هغو شيانو له شناخته څخه چې د اسلام پيغمبر صلی الله عليه وسلم په اجمالي توګه را وړي دي. حنفي علماء وايي: (ايمان) تصديق دی د هغه رکن چې په هيڅ حال کې د سقوط احتمال نه لري او اقرار کله د ضرورت پر وخت کې ساقطيږي، لکه د اکراه په وخت کې د کفر د کليمې ويل، جمهور محققين داسې نظريه لري، چې (ايمان) عبارت د زړه د تصديق څخه دی او په ژبه اقرار د هغه شرط دی.د دنيوي احکامو د اجرا لپاره ولې چې د زړه تصديق يو پټ او باطني کار دی، نو د دې لپاره چې نور د ده په (ايمان) وپوهيږي شرط دی چې په ژبه باندې اقرار وکړي.

(کراميه) وايي: (ايمان) عبارت د شهادت د کليمې له تلفظ څخه دی او ځينې علما يې له عمل څخه عبارت ګڼي، ځينې چې بيا خوارج هم د دوی پر نظريه دي. (ايمان) له فرضي طاعاتو څخه عبارت بولي، نه نفلي.

(معتزله) علماء وايي: (ايمان) عبارت له دريو شيانو څخه دی، عمل، اقرار او اعتقاد. فرق د دې مسلک او د سلف د علماوو چې هغوی هم (ايمان) ثلاثي مرکب ګڼي دا دی چې: د سلف علماء عمل د (ايمان) دکمال شرط ګڼي او (معتزله) عمل د (ايمان) د صحت شرط ګڼي، ليکن دا اختلاف د ايمان په حقيقت کې دی.

د خدای په نزد خو زموږ په نزد د يوه سړي (ايمان) د هغه د ژبې بيان دی، ځکه د چا له زړه نه، نه شو خبريدلی. هر څوک چې په خوله اقرار وکړي، ټوله اتفاقاً هغه مسلمان ګڼي او اسلامي احکام پر هغه جاري کوي او د هغه پر کفر باندې حکم جايز نه ګڼي. مګر په هغه صورت کې چې داسې عمل ځنې صادر شي، چې د کفر دليل پرې مرتب وي، لکه سجده کول بت ته.خو د نورو ګناهونو په ارتکاب په هيڅ مسلک کې د کفر اطلاق پر چا باندې نه شي کيدای. بلکې هغه ته فاسق مومن ويلای شو. غير معتزله وو چې هغوی فاسق

نه کافر شميري او نه مسلمان، بلکې هغه د واسطي په حيث پېژني، ځکه دوی عمل د (ايمان) د صحت شرط ګڼي.

## د (اسلام) او د (ايمان) فرق:

ايمان د اسلام په شريعت کې لکه پاس چې وښودل شو، عبارت دی له تصديق او اذعان څخه، د اسلام په ټولو مومن بهي شيانو او اسلام په اسلامي شريعت عبارت دی د سر ټيټېدلو او فرمان وړلو څخه او پر ځای کول د هغو احکامو چې د هغو تحقيق غير د احکامو له منلو امکان نه لري او قبلول د احکامو په حقيقت کې تصديق دی، نو (اسلام) او (ايمان) په مفهوم کې عموم او خصوص لري، چې (اسلام) عام دی او (ايمان) خاص، لېکن په مصداق کې سره يو دی، يعنې هر هغه څوک چې مومن دی، مسلم دی او بيا هر څوک چې مسلم دي، مومن دی، داسې نه شي کيدای چې څوک مسلم وي، مومن نه وي او بيا مومن وی، مسلم نه وي. آيا (ايمان) زيادت يا کمی منلی شي که يه؟ د سلف علماء په دې باب کې داسې نظريه ورکړې ده، چې (ايمان) زيادت او کمی منلی شي، که څه هم متکلمينو له دې نشريې څخه انکار کړی او وايي: چې په (ايمان) کې زيات توب يا کمی لاره ومومي ناقص ايمان بايد شک ولري، حال دا چې شک د (ايمان) سره مطلق منافي دی. شيخ محي الدين وايي چې مختار دا دی چې ايمان او تصديق د ډېر تفکر او دلايلو د رڼا تر اغيز لاندې زياتيدای يا کميدای شي. له دغه لامله دحضرت (صديق) اکبر (ايمان) له نورو څخه قوي دی. دغه رنګه هر څوک چې دخپل د زړه تصديقونه دفکر او غور مورد وګرځوي، پوهېږي چې د ده تصديق پر هر شي يو ډول نه دی.بلکې د ده تصديق پر ځينو شيانو تقليدي او پر هغو موضوعاتو چې ضعيف دلايل مرتب وی، ضعيف وي. دغه رنګه ډېر احاديث او آياتونه موجود دي، چې د (ايمان) پر ډېر والي يا کموالي دلالت کوي. لاندې قرآني آياتو نه له همدې قبيله دي: «لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَّعَ إِيمَانِهِمْ» «وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا» «أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا»«وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا».

دا وې د پخوانیو پوهانو او اسلامي عالمانو ویناوې. زما مبارز (څاپي) په عقیده لکه څنګه چې مې په لومړیو پراوونو کې وویل (ایمان) پر دریو اصلونو تکیه لري. ۱-ایمان پر غیب، ۲-لمونځ. ۳-انفاق (یعنې ورکړه). هیڅ یو مومن به بشپړه مومن نه شي، څو پر دې دریو بنسټونو پوره باور ونه لري او عمل ونه کړي. یعنې که څوک پر غیبو عقیده ولري او لمونځ ادا کړي، خو د « وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ» دنده پر ځای نه کړي او ترې سر وغړوي، د اسې کس پوره مومن نه دی او د ده (ایمان) ټول په ټوله نیمګړی دی. همدارنګه که څوک پر غیب ایمان ونه لري، لمونځ وکړي او انفاق ولري، بیا هم (ایمان) یې پوره او بشپړ نه دی. لنډه دا چې بشپړ مومن هغه دی چې د (ایمان) دا درې واړه مهم اصلونه په عمل کې په پوره توګه پلي کړي او څه لږه یا تشه په کې ونه لري. ځکه چې دا درې اصله د تقوی غوښتنې دي او (تقوی) د مومن بها بنسټ دی، نو ځکه د لوی خدای له لوري د انسان لپاره د کرامت مرتبه په (تقوی) کې نغښتې. که څوک (تقوی) ونه لري، د کرامت خاوند کیدلی نه شي او څوک چې د کرامت خاوند نه شو، هغه یا (ایمان) نه لري، یا دا چې (ایمان) یې نیمګړی دی. په اوسني اسلامي ټولنې کې تر کومه چې تر سترګو کیږي، ډیرکي مسلمانانو سره د اسلام د مومن بها لومړي دوه بنسټونه چې (ایمان پر غیب) او (لمونځ) دی، تر ډیره کچه خوندي ښکاري، خو د مومن بها دریېیم بنسټ چې «وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ» یادیږي، د هیڅا په پام کې د عملي کولو ارزښت مهم نه ښکاري. هغوی چې ځان د اسلام د دین لارښودو نکي ګڼي، خو په خپله یې د (انفاق) یعنې د (ورکړې) مهم رکن له عمله لرې غورځولی دی، زما دغه خبره څه بابیزه نه ده، وګورئ په اوسني افغانستان کې هغوی چې د پیرانو، حضرتانو، آیت الله ګانو او نورو په نومونو له خپلو دریځونو څخه ځارنه او ساتنه کوي، هر یو یې د خپل ګاونډي په کچه د ډېر غوړ مادي ژوند څښتنان دي، د هر یو په ګاونډ کې لا د هغوی خپل خپلوان له ولږې او بې وزلۍ څخه مري، خو د دوی پرې څه خاطر نه پرېشانه کیږي. حال دا چې: د مومن لپاره د کرامت د لاسته راوړلو په پار د (تقوی) د د رې ګونو رکنونو د خپلولو او پلي کولو دنده یو فرضي امر دی، چې باید د هغه پرمخ په خپل

گاونډ او لا په ټوله سیمه کې د وږیو، تږیو، بربنډو او بې وزلو سره تر هغې کچې پورې مرسته وکړي، چې د دوی د خولې د خوړلو مړی هم وي، یعنې هیڅ یو شتمن د دې حق نه لري، که چېرې د ده په مخه کې یا د ده په گاونډ کې څوک وږی وي، دی دې خپله ډوډی په ارام خاطر وخوري. ځکه چې شتمن مکلف دی چې لا خپله د خولې مړی هم وږي ته ورکړي. لنډه دا چې زما په اند (ایمان) هغه مهال بشپړېږي، چې مومن د (مومن بها) رکنونه د زړه له کومې ومني او په پوره او کره غور سره یې په غوره توگه عملي کړي.

دا وو د (ایمان) په هکله. اوس به راشو د «وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ» یعنې د لمانځه لپاره د قرآن کریم په پلوشو کې:

## «وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ» په لمانځه ودرېدنه

۱-د البقرې سورت په (۴۳) آیت کې داسې لولو: «وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ». ژباړه: او سم قایموئ په ښه توگه سره ادا کوئ لمونځ او زکوت او رکوع وکړئ سره له رکوع کوونکو، لمونځ کوونکو مسلمانانو.).

تفسیر: یعنې په جماعت سره تل لمونځ وکړئ، له دې نه پخوا په هیڅ یوه دین کې په جماعت سره لمونځ نه کېده او د یهودانو لمانځه کې رکوع نه وه، نو د دې آیت خلاصه دا ده چې یواځې دا ذکر شوي شیان ستاسې د نجات کافي نه دي، بلکې په گردو اصولو کې د اخرالزمان نبي صلی الله علیه وسلم پېروي وکړئ او لمونځ هم د هغه په طریقه ادا کړئ، چې په هغه کې جماعت او رکوع دواړه شته.

۲-د البقرې سورت په (۵۴) آیت کې داسې لولو: «وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ». ژباړه: (او مدد وغواړئ په هره سختۍ کې له الله په صبر او لمانځه سره او په تحقیق دا لمونځ خامخا ډېر درووند دی، مگر نه دی درووند پر عاجزۍ کوونکو.)

۳-د البقرې سورت په (۱۱۰) آیت کې داسې لولو: «وَأَقِيمُوا الصَّلاَةَ وَآتُوا

الزَّكَاةَ ۚ وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ». ژباړه: (او سم دروئ، ادا کوئ له ټولو حقوقو سره لمونځ او ورکوئ زکات او هغه شی چې مخ کې لېږئ لپاره د ځانونو خپلو له نېکۍ لکه صله او صدقه. وبه مومئ ثواب د هغه په نزد د الله، بېشکه الله په هغه شي چې کوئ تاسې ښه ليدونکی دی، نو نه ضايع کېږي اعمال ستاسې او جزا یې درکوي.

۴-د البقرې سورت په (۱۵۳) آیت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ». ژباړه: (یه مومنانو! مدد وغواړئ تاسې له الله ځخه په صبر له معصيته په طاعت، مصيبت او لمانځه سره، بېشکه چې الله د صبر کوونکيو سره دی.)

تفسير: کله چې ذکر او شکر او د کفران ترک چې په لومړي آیت کې یې ذکر راغلی دی، ټولو شرعي طاعاتو او منهياتو ته شامل دی، چې د هغو پر ځای کول ډېر سخت کار دی، نو د هغه د سهولت او اسانۍ لپاره یې دا طريقه راښودلې ده، چې د صبر او صلات په وسيله او د هغو د مداومت په ذ ريعه ټول کارونه پر تاسې اسانېږي.

۵-د البقرې سورت په (۱۷۷) آیت کې په تفصيل سره لارښودنه شوې ده، په دې لارښوونه کې ویلي شوي دي، چې، یواځې مخ اړول په لمانځه کې د ختيځ او لويديځ په لوري کفايت نه کوي، بلکې غوره نېکي د هغه چا لپاره ده چې، پر خدای، ملايکو، د اخيرت پر ورځې، پر کتابونو، پر انبياوو ايمان ولري او په مينه سره خپل مال خپلو فقيرانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو، نادارو سوالگرو ته ورکړي او همدارنگه د مريانو په ازادولو کې خپل مال مصرف کړي او سم ودروي سره د ټولو حقوقو لمونځ او ورکړي زکوت او بل د نېکۍ خاوند ووسئ، وفا وکوئ په خپلو عهدونو د الله او د خلکو سره).

په دې آیت کې په څرگنده توگه زکوات یوه جلا فريضه گڼله شوې، يعنې: بې وزلو ته د مال ورکړه ځانله عمل دی، چې په (تقوی) پورې اړه نيسي او زکوت په خپل ځای کې یوه ديني فريضه ده، چې بايد هر مسلمان شتمن یې ادا کړي.

٦-د البقرې سورت په (٢٣٨) آيت کې داسې لولو: «حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ». ژباړه: (ساتنه کوئ تاسې پر ټولو لمونځونو باندې او خصوصاً پر منځني لمانځه باندې چې مازديګر دی او ودرېږئ تاسې الله ته ويرېدونکي په ادب سره.)

تفسير: له منځني لمانځه ځنې مراد د مازديګر( لر مل) لمونځ دی، چې د شپې او ورځې په منځ کې دی. د دې لمانځه تاکيد يې ځکه زياد کړی دی، چې په دې وخت کې دنيوي مشاغل او کارونه ډېر پېښېږي.

٧-د البقرې سورت په (٢٧٧) آيت کې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ». ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، پر ټولو مومن بهي شيانو او کوي دوی ښه عملونه او قايموي دوی سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو په ترتيب لمونځ او ورکوي دوی زکوات، شته دوی لره اجر، ثواب د دوی په نزد د رب د دوی او نشته هيڅ ډول ويره پر دوی باندې او نه به دوی هيڅکله غمجن کېږي د ثواب په نقصان سره.)

٨-د النساء سورت په (١٠١) آيت کې داسې لولو: «وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلاةِ إِنْ خِفْتُمْ أَن يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا». ژباړه: (او کله چې سفر کوئ تاسې په ځمکه کې ليکن نشته پر تاسې هيڅ ګناه په دې کې چې څه لنډوالی وکړئ، تاسې له لمانځه، له رباعي څخه، نه له ثلاثي او ثنايي نه، که ويريدئ تاسې له دې چې په فتنه به واچوئ، ضرر به ورسوي تاسې ته هغه کسان چې کافران دي، بېشکه چې کافران دي تاسې لره دښمنان ښکاره.)

٩- د النساء سورت په (١٠٣) آيت کې داسې لولو: «فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ۚ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلاةَ ۚ إِنَّ الصَّلاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا». ژباړه: (بيا کله چې ادا کړ تاسې لمونځ نو يادوئ تاسې الله، پس کله چې اراده وکړئ تاسې د ګزارلو د لمانځه نو يا دوی تاسې په ولاړې او په ناستې او پر اړخونو يا په

ولاړې که روغ يئ او په ناستې او پر اړخونو خپلو که ناروغه ياست. پس کله چې آرام شوئ نو قايموئ تاسې سم ادا کوئ سره له ټولو حقوقو لمونځ، بېشکه چې لمونځ دی پر مومنانو باندې فرض کړی شوي په معلومو اوقاتو کې.)

۱۰- د النساء سورت په (۱٦٢) آيت کې داسې لولو: «لَّٰكِنِ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ وَالْمُؤْمِنُونَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ ۚ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلَاةَ ۚ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالْمُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أُولَٰئِكَ سَنُؤْتِيهِمْ أَجْرًا عَظِيمًا». ژباړه: (ليکن هغه کسان چې پاخه دي، په علم کې له دوی څنې او ايمان لري، پر هغه کتاب چې نازل کړی شوی دی، تاته او ايمان لري پر هغو کتابونو چې نازل کړی شوي دي پخوا له تا څخه او ايمان راوړي پر ټولو انبياوو، سم قايم کوونکي دي د لمانځه او هغه کسان چې ورکوونکي دي زکات لره او ايمان راوړونکي پر الله او پر ورځې اخرې چې قيامت دی، دغه کسان د صحيح ايمان او صالح عمل لرونکي دي. زر به ورکړو موږ د وی ته ثواب ډېر لوی جنت، رضا او لقا.)

۱۱-د المائدې سورت په (٦) آيت کې داسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ۚ وَإِن كُنتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ۚ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ». ژباړه: (يه هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! کله چې پاځېږئ تاسې لمانځه ته او بې اوداسه ياست نو ووينځئ تاسې مخونه او لاسونه خپل تر څنګلو پورې او مسح وکړئ تاسې پر سرونو خپلو او ووينځئ تاسې پښې خپلې تر پړکيو پورې، سره له پړکيو او که وئ تاسې جنبيان يعنې په جنابت کې نو ښه ځان پاک کړئ او که وئ تاسې ناروغان او اوبه درته مضرې وي يا په سفر کې وئ، يا راغی يو له تاسې له ځايه د بولو څخه، يعنې بې اودسه شوئ يا جماع وکړئ تاسې د ښځو سره نو ونه

مومئ اوبه نو قصد وکړئ تاسې د خاورې پاکې، نو ووهئ لاسونه دوه ځلې پر ځمکه او ومښئ تاسې دا لاسونه پر مخونو خپلو او لاسونو خپلو له هغې خاورې څخه. اراده نه لري الله د تطهير په دې تکليف کې پر تاسې دا چې مقرر کړي پر تاسې څه حرج، تنگوالی یا سختي او لیکن اراده لري الله د دې چې پاک کړي تاسې له صوري او معنوي پليتۍ نه او د دې لپآره چې پوره کړي الله نعمت، احسان خپل پر تاسې په اسلام او د شرايعو په بيان لپاره د دې چې تاسې شکر گزار شئ.).

١٢- د المائدې سورت په (٥٥) آيت کې داسې لولو: «إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ». ژباړه: (بېشکه هم دا خبره ده چې دوست ستاسې خاص الله او رسول د ده دی او هغه کسان دي چې مومنان دي، مومنان هغه کسان دي، چې قايموي، سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو لمونځ. يا صفت کوو د هغو کسانو چې قايموي سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو لمونځ او ورکوي زکوات او هم دوی رکوع (عاجزي) کوونکي دي په لمانځه او زکوات خپل کې يا ورکوي دوی زکوات، خيرات. حال دا چې دوی په رکوع د نفلي لمانځه ولاړ وي.)

١٣-د المائدې سورت په (٥٨) آيت کې داسې لولو: «وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ». ژباړه: (او کله چې غږ کوئ تاسې او خلق رابولئ لمانځه ته يعنې اذان کوئ نو نيسي دوی هغه لمونځ يا اذان مسخره بولي او ورپورې خاندي، دا مسخرې په سبب د دې دي، چې بېشکه دوی يو قوم دی چې هيڅ عقل نه لري.)

١٤-د الانعام سورت په (٧٣) آيت کې داسې لولو: «وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَاتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ». ژباړه: (او بل پر دې حکم شوی دی موږ ته چې قايموئ سم ادا کوئ سره د ټولو حقوقو تاسې لمونځ او وويرېږئ تاسې له دغه الله نه او دغه الله هغه ذات دی چې ده ته به ورټول شئ تاسې په قيامت کې.

١٥-د الاعراف سورت په (١٧٠) آيت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ

بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ». ژباړه: (او هغه کسان له دوی ځنې چې ښه ټینګ نیسي کتاب او قایموي، سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو لمونځ، بېشکه موږ نه ضایع کوو، ثواب، عوض، بدل د نېکو کارانو له دوی څخه.)

۱۶-د الانفال سورت په (۳) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (دوی هغه مومنان دي چې قایموي، سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو دوی لمونځ او له ځینې د هغه ماله چې ورکړی شوی دی دوی ته، نفقه کوي، لګوي په لاره د الله کې.)

۱۷-د التوبه سورت په (۱۱) آیت کې داسې لولو: «فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ ۗ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ». ژباړه: (نو که توبه وویسته دوی له کفره او قایم کړ دوی سم ادا کړ سره د ټولو حقوقو لمونځ او ورکړ دوی زکوات، نو ورونه ستاسې دي په دین، حکم د شریعت کې او په تفصیل بیانوو موږ آیتونه، حکمونه د قرآن لپاره د هغه قوم چې پوهېږي او فکر په کې کوي.)

۱۸-د التوبه سورت په (۱۸) ایت کې داسې لولو: «إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ ۖ فَعَسَىٰ أُولَٰئِكَ أَن يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ». ژباړه: (بېشکه هم دا خبره ده چې ودانوي په عبادت، ناسته ولاړه، په تعمیر سره، مسجدونه د الله هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي پر الله او پر ورځې اخرې د (قیامت) او قایموي، سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو لمونځ او ورکوي زکوات او نه ویرېږي په دیني امورو کې له هیچا، مګر له الله څخه، نو امید دی چې دغه کسان به وي له سمې لارې موندونکو څخه.)

۱۹-د هود سورت په (۱٤٤) آیت کې داسې لولو: «وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ اللَّيْلِ ۚ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ۚ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ». او قایم کړه سم ودروه سره د ټولو حقوقو په ترتیب لمونځ په دواړو طرفونو د ورځې او په ساعاتو د شپې چې نیژدې وي ورځې ته، بېشکه

چې نېکي پنځه وخته لمونځ لرې کوي بدی (کوچني واړه) گناهونه، دغه فرمان او وعده پند دی لپاره د پند قبلوونکو.)

۲۰- د الرعد سورت په (۲۲) او (۲۳) آیتونو کې داسې لولو: «**وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿۲۲﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ ۖ وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ**». ژباړه: (او هغه کسان چې صبر کوي لپاره د طلب د رضا د رب خپل په مالي او ځاني مصایبو یا د شرعې یا د جهاد په تکالیفو او قایموي، سم ادا کوي سره د ټولو حقوقو په ترتیب سره لمونځ او نفقه کوي، لګوي په لاره د الله کې ځینې له هغه حلالو اموالو نه چې ورکړي دي موږ دوی ته، هم په پټه او هم په ښکاره، خفیتاً او ظاهراً او دفع کوي دوی په نېکی سره بدي، دغه کسان موصوف په دغو صفاتو، شته دوی ته ښه عافیت د دار د اخیرت، چې جنتونه دي د تل اوسېدلو، چې ننوځي به دوی په هغو کې او ننوځي به په کې هغه څوک چې صالح مومن وي له پلرونو د دوی او له ښځو د د وی او له اولادې د دوی، اگر که عمل یې د هغو په درجه نه وي او پرښتې به ورننوځي پر دوی سره له تحایفو او زېری اور ضوان له هرې دروازې، مانېو د دوی او وایي به ورته چې سلامتیا دې وي پر تاسې په سبب د صبر کولو ستاسې په طاعت او مصیبت او معصیته، نو ښه عاقبت د دار د اخیرت، عاقبت د تاسې دی.)

۲۱-د ابراهیم سورت په (۳۱) آیت کې داسې لولو: «**قُل لِّعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا يُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُنفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خِلَالٌ**». ژباړه: (ووایه یه محمده! هغو بندگانو زما ته چې ایمان یې راوړی دی، چې سم دې دروي، ادا کوي لمونځ او ورکړه دې کوي ځینې له هغه ماله چې ورکړی دی موږ دوی ته په پټه که مستحب و او په ښکاره که فرض و یا واجب.) پخوا له راتللو د هغې ورځې چې نشته سودا پلورل او پېرودل په هغې کې او نه دوستي.)

۲۲-د مريم سورت په (۳۱) آيت کې داسې لولو: «وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا». ژباړه: (او ګرځولی يم زه الله برکت ناک په هر ځای کې چې اوسېږم او تاکيد حکم يې فرمايلی دی ماته په لمانځه او په زکوات سره، تر څو چې زه يم ژوندی.)

۲۳-د مريم سورت په (۵۵) آيت کې داسې لولو: «وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلاةِ وَالزَّكَاةِ وَكَانَ عِندَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا». ژباړه: (او و دی يعنې اسمعيل عليه السلام چې حکم به يې کاوه اهل (قوم) يا (امت) خپل ته په لمانځه سره او په زکوات سره او و دی په نزد د رب خپل پسنديده، غوره کړی شوی.)

۲٤-د طه سورت په (١٤) آيت کې داسې لولو: «إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لا إِلَٰهَ إِ لا انا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلاةَ لِذِكْرِي». ژباړه: (بېشکه زه چې يم هم دا زه الله يم، نشته لايق د عبادت بل هيڅوک، مګر هم دا زه يم، پس عبادت کوه زما او سم دروه ادا کوه لمونځ لپاره د ذکر يادونې زما.)

۲۵-د طه سورت په (۱۳۲) ايت کې داسې لولو: «وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ». ژباړه: (او امر کوه په اهل بيت يا په اهل دين خپل په کولو د لمانځه او ته هم کلک پرې ولاړ اوسه، نه غواړو موږ له تا څخه روزي، نه ستا او نه د اهل ستا. بلکې موږ رزق او روزي درکوو تاته او عاقبت ښه خاتمه خاوندانو د پرهېزګارۍ ته).

۲٦-د الانبياء سورت په (۷۳) آيت کې داسې لولو: «وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ ۖ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ». ژباړه: (او ګرځولي وو موږ دوی يعنې اسحق او يعقوب عليهما السلام داسې امامان چې سمه صافه لياره يې ښووله په حکم زموږ سره خلکو ته او وحې کړې وه موږ دوی ته د کولو د خيراتونو، نېکو کارونو او د قايمولو سم ادا کولو د لمانځه او د ورکولو د زکوات او وو دوی ټول خاص موږ ته عبادت کوونکي.)

۲۷-د الحج سورت په (۳۵) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلَىٰ مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي الصَّلَاةِ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (هغه عاجزي کوونکي کله چې یاد کړ شي د دوی په مخکې نوم د الله نو ویرېږي زړونه د دوی او زېری ورکړه صبر کوونکو ته په هغه سختیو او غمونو چې رسېدلی دی دوی ته او زېری ورکړه قایموونکي سم دروونکي سره د ټولو حقوقو د لمانځه ته او زېری ورکړه هغو کسانو ته چې ځینې له هغو شیانو چې ورکړي دي موږ دوی ته لګوی یې په ښو کارونو.)

۲۸-د الحج سورت په (٤١) آیت کې داسې لولو: «الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ». ژباړه: (دغه مهاجر مظلومان هغه کسان دي چې که چیرې قدرت ورکړو موږ دوی ته په ځمکه کې په دښمن باندې د غلبې په اعتبار نو قایموي دوی سم ادا کوي به سره له ټولو حقوقو لمونځ او ورکوي به زکوات او امر حکم به کوي خلکو ته په معروف په نېک: شرعي کار سره او منع کوي به خلک له بدکار ښخه او خاص د الله په اختیار کې ده اخر خاتمه د ټولو کارونو).س

۲۹-د الحج سورت په (۷۸) آیت کې داسې لولو: «وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ». ژباړه: (او زیار کوي په لاره د جهاد طاعت او رضا د الله په حق د جهاد د هغه سره چې ورته وړ، لایق او مستحق دی. دغه الله غوره کړي یئ تاسې او نه یې دي ګرځولي، نه یې دي ایښي پر تاسې په دین کې هیڅ حرج، مشقت او اشکال، متابعت وکړئ د دین د پلار خپل چې ابراهیم دی، دغه الله ونومولئ تاسې مسلمانان، پخوا له دغه قران ښخه په نورو اسماني کتابونو کې او په دغه قران کې هم دپاره د دې چې شي رسول ستاسې محمد صلی الله علیه وسلم

شاهد، ښوونکي پر تاسې د تبليغ خپل او چې شئ تاسې په مسلمانانو شاهدان او ښوونکي پر نورو خلکو د تبليغ د نورو انبياوو. نو قايموئ سم ادا کوئ تاسې سره له ټولو حقوقو لمونځ او ادا کوئ تاسې زکوات او ښه ټينګ ونيسئ تاسې دين د الله، دغه الله مالک دی ستاسې، پس ښه مالک دی الله او ښه مرسته کوونکی دی الله.)

۳۰-د المومنون سورت په لومړي او دوهم آيتونو کې داسې لولو: «قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاتِهِمْ خَاشِعُونَ». ژباړه: (په تحقيق بريالي، بهره مند او کامياب شوي دي مومنان، هغه مومنان چې دوی په لمونځونو خپلو کې عاجزي کوونکي، وېرېدونکي دي له الله نه.

(۳۱)-د المومنون سورت په (۹) آيت کې داسې لولو: «وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ». ژباړه: (او هغه کسان هم بهره مند شول چې دوی همېشه پر لمونځونو خپلو ساتنه کوي، چې تل يې سم ادا کوي له ټولو حقوقو.)

۳۲-د النور سورت په (۲۷) آيت کې داسې لولو: «رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ ۙ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ». ژباړه: (داسې سړي چې نه غافلوي دوی سوداګري او نه بيع پېرودل له ذکره د الله او له سم قايمولو ادا کولو د لمانځه او له ورکولو د زکوات، ويرېږي دوی سره له ذکره او طاعته له عذابه د هغې ورځې چې اوړي راوړي، مضطرب به وي په هغې ورځې کې زړونه او سترګې له ډېرې ويرې.)

۳۳-د النور سورت په (٥٦) آيت کې داسې لولو: «وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ». ژباړه: (او قايموئ تاسې، سم ادا کوئ سره له ټولو حقوقو لمونځ او ورکوئ زکوات او اطاعت وکړئ حکم ومنئ تاسې د رسول الله، ښايي تاسې ته چې رحم وکړی شي پر تاسې.)

۳٤-د النمل سورت په لومړي او دوهم آيت کې داسې لولو: «طس ۚ تِلْكَ آيَاتُ الْقُرْآنِ وَكِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿١﴾ هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ». ژباړه: (دا آيتونه د دې سورت آيتونه د قرآن او کتاب مبين (ښکاره) بېلوونکي دي، دغه

قرآن سمه صافه لیاره ښوونکی دی ټول جهان ته او زیږی ورکوونکی دی مومنانو ته په نعیم سره، هغه مومنان چې قایموي، سم ادا کوي له ټولو حقوقو لمونځ او ورکوي زکوات د اموالو خپلو او دوی په ورځې اخرې چې قیامت دی، هم دوی یقین کوي چې خامخا را به شي په حقه سره.)

۳۵ -د العنکبوت سورت په (٤٥) آیت کې داسې لولو: «اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ ۖ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ». ژباړه: (ولوله یه محمده! هغه چې وحې کړی شوې ده، تاته له کتاب نه چې هم دا مقدس قرآن دی او قایموئ سم ادا کوئ سره له ټولو حقوقو لمونځ، بېشکه منع کوي لمونځ کوونکی له بې حیایۍ او له بد کار څخه او خامخا یا دول د الله ډېر لوی دی او الله ته معلوم دي هر هغه عمل چې کوئ یې تاسې، نو جزا به یې درکړي په ښه ډول سره.)

تفسیر: د لمانځه په سبب د بدیو نه منع کېدل دوه معنی گانې لري. یوه: د تثبیب په طریقه یعنې الله تعالی په لمانځه کې داسې خاصیت او تاثیر ایښی دی چې لمونځ کوونکی له گناهونو څخه ساتي، لکه چې د کومې دوا استعمال تبه او نور امراض له سړي شکوي او نه یې پرېږدي چې پرې راشي. په دغه صورت کې ښایي په یاد یې ولرئ چې ددوا لپاره دغه امر ضرور نه دی چې د هغه یواځې یو خوراک د ناروغتیا د لرې کولو لپاره کافي شي. ځینې دواگانې په خاص مقدار سره تر یوې مودې پورې په لازمي ډول خوړل کېږي، نو وروسته بیا دوا خپل تاثیر ښکاره کوي، مشروط پر دې چې رنځور کوم داسې شی استعمال نه کړي، چې د دوا له خاصیت سره منافي وي. پس لمونځ هم بېشکه د ډېر تاثیر نه ډک هسې روحاني دوا ده، چې د روحاني امراضو د علاج لپاره د یو اکسیر حکم لري. هو! دغه خبره ورسره ضروري ده چې دوی په برابر مقدار په صحي توگه او احتیاط سره چې روحاني اطباؤ د هغه تجویز کړی دی، تر ټاکلې نېټې پورې استعمال او پرې مواظبت وکړی شي. وروسته له هغه دغه مریض به په خپله حس کړي چې څرنگه لمونځ د ده پخواني رنځوري او د کلونو ناروغي لرې کوي؟ بله معنی یې داسې کېدلی شي چې له

بدیو ځنې د لمانځه په برکت منع کېدل ښايي د اقتضا په ډول وي، یعنې د لمانځه هر یو هیبت او د ده د هر یو ذکر مقتضی دی، هغه انسان چې هم دا اوس د الله تعالی په د ربار کې د خپل عبودیت، اطاعت، خضوع، خشوع او تذلل او د الله تعالی د الوهیت، ربوبیت، حکومت، مالک الملکوتیت اظهار او اقرار کړی دی، نو اوس، لمانځه او له مسجد نه د باندې هم په همغه خپل عهد او پیمان باندې ټینګ ولاړ وي او بد عهدي او شرارت ونه کړي او د هغه لوی ذات له احکامو څخه منحرف نه شي، ګواکي د لمانځه هره یوه ادا لمونځ کوونکي ته په پنځه وو وختونو کې داسې حکم ورکوي چې د عبودیت او بندګۍ مدعي! تا ته ښايي چې په رښتیا سره د عابدانو او د الله تعالی د خاصو بندګانو په شان اعمال او افعال ولري، ځکه چې لمونځ د حال په ژبه له تانه غواړي چې د شرارت او سرکشۍ او بې احتیاطۍ څخه په څنګ شه.)

۳۵-د لقمان سورت په (۴) او (۵) آیتونو کې داسې لولو: «الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ». ژباړه: (هغه کسان چې قایموي، سم ادا کوي سره له ټولو حقوقو لمونځ او ورکوي دوی زکوات او دوی په اخیرت باندې هم دوی یقین کوي، دغه ستایلي شوي کسان په سمه لیاره دي، له طرفه د رب د دوی او دغه کسان هم دوی په مراد رسېدلي دي.)

۳٦-د لقمان سورت په (۱۷) آیت کې داسې لولو: «يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ». ژباړه: (یه زوی ګوټیه زما! قایموه، سم ودروه له ټولو حقوقو لمونځ او امر کوه خلکو ته په نېکۍ او منع کوه له بدۍ نه او صبر کوه، په هغې سختۍ چې رسېږي تاته بالخاصه په امر او نهې کې، بېشکه دا مذکوره نصایح له مهمو مقصودي کارونو څخه دي.)

۳۷-د الاحزاب سورت په (۳۳) آیت کې داسې لولو: «وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ

وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً». ژباړه: (او قرار ونيسئ يه ښځو! په كورونو خپلو كې او مه ښكاروئ ښايست خپل بېگانه سړيو ته، په شان د اظهار او ښايست د جاهليت د ښځو وړومبنيو او سم دروئ لمونځ چې د بدني عباداتو اصل دی او وركوئ زكوات چې د مالي عباداتو اصل دي او تل اطاعت كوئ د الله او در سول د دغه الله. بېشكه هم دا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې لرې كړي له تاسې گناه، يه اهل البيته! كورنۍ د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم او چې پاک كړي تاسې له گناه په پاكوالي.)

يادونه: دغه پورتنی هدايت د پيغمبر د كورنۍ غړيو، يعني مېرمنو ته دی.

۳۸-د فاطر سورت په (۲۹) آيت كې داسې لولو: «إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ». ژباړه: (بېشكه هغه كسان چې لولي كتاب د الله (قران) او قايموي تل سم ادا كوي سره له ټولو حقوقو لمونځ او لگوي په لاره د الله كې ځينې له هغو شيانو څخه چې وركړي مو دي دوی ته لگوي يې په پټه او په ښكاره، اميد لري دوی د داسې يوه تجارت چې له سره نه هلاک كېږي.)

۳۹-الشورى سورت په (۳۸) آيت كې داسې لولو: «وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». ژباړه: (او بل لپاره د هغو كسانو چې اجابت كوي د احكامو د رب د دوی او قايموي ادا كوي سره له ټولو حقوقو لمونځ او كار د دې په مشورت سره وي په منځ د دوی كې او ځينو د هغو شيانو چې وركړي دي موږ دوی ته، نفقه كوي په لياره د الله.)

٤٠-د المجادلة سورت په (۱۳) آيت كې داسې لولو: «أَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ ۚ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ».

ژباړه: (آيا وېرېږئ تاسې له فقره چې وړاندې كړئ په مخكې د پټې خبرې ستاسې خيراتونه، پس په هغه وخت چې ونه كړ تاسې دغه خيرات او رجوع په رحمت سره، وكړ الله پر تاسې باندې، نو قايم كړئ سم ودروئ سره له ټولو حقوقو لمونځ او وركړئ زكوات او حكم ومنئ د الله او حكم ومنئ تاسې د

رسول ددغه الله او الله ښه خبردار دی، په هغو اعمالو باندې هم چې کوئ تاسې نو جزا به یې درکړي.)

٤١-د الجمعة سورت په (٩) آیت کې د اسې لولو: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ». ژباړه: (یه هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی! کله چې لومړی اذان وویلی شي لپاره د لمانځه د جمعې، نو ځغلئ منډې وهئ د الله د ذکر په لوري او پرېږدئ پلورل او پېرل.)

٤٢-د الجمعة سورت په (١٠) آیت کې داسې لولو: « فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ». ژباړه: (نو هر کله چې ادا کړی شي لمونځ د جمعې پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې خپلو حوایجو ته که یې لرئ او ولټوئ تاسې له فضله د الله او یادوئ تاسې په یادولو ډېرو سره، ښایېږي چې ومومی تاسې ښېګڼې، نېکئ خلاصې او مراد.)

٤٣-د المزمل سورت په (٢٠) آیت کې داسې لولو: « إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنَىٰ مِن ثُلُثَيِ اللَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ وَاللَّهُ يُقَدِّرُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ وَآخَرُونَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ». ژباړه: (پوه دی الله شان دا دی چې ژر به شي ځینې له تاسې څخه ناروغان او وي به نور له تاسې څخه چې د سفر مزل به کوي دوی په ځمکه کې، لټوي به دوی له فضله رزقه د الله او وي به نور له تاسې څخه چې جنګونه به کوي دوی په لاره د الله کې نو لولئ تاسې په لمانځه کې هومره چې اسان وي له دغه قرانه او قایموئ سم ودروئ لمونځ

سم ودروئ لمونځ سره دټولو حقوقو يې او ورکوئ زکوات او قرض کوي مال ورکوئ تاسې د الله سره قرض ښه مال ورکوئ په لاره د الله کې په خوښۍ له حلالو او هر هغه چې وړاندې لېږئ تاسې لپاره د ځانونو خپلو له څه خير نېکۍ څخه، نو بيا به مومئ تاسې هغه نېکي په نزد د الله، دا ښخوا لېږل د حسناتو خير ډېر غوره دی او ډېر لوی دی له پلوه د اجر او ثواب.)

۴۴-د البينة سورت په (۵) آيت کې داسې لولو: «وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ». ژباړه: (حال دا چې امر حکم نه وکړی شوی دوی ته په تورات او انجيل کې، مګر ورکړ شوی و، چې عبادت کوي دوی د الله په داسې حال کې چې خالص کوونکی وي الله لره دين له شرکه او نفاقه، په داسې حال کې چې راګرځېدونکی وي له باطله حق ته، په لاره د ابراهيم، پس څرنګه کافر کېږي پر محمد صلی الله عليه وسلم! او بل دوی مامور دي پر دې چې قايموي سم دروي سره د ټولو حقوقو لمونځ او ورکوئ زکوات او دا مامور بهي شيان دين دی محکم، مستقيم چې هيڅ کوږوالی په کې نشته.)

دا پورتني خلور خلوېښت لارښووني هغه څرګندونې دي، چې ما په قرآن مجيد کې د لمانځه په هکله ولوستلې شوې، له دې نه په اخوا نور آيتونه هم شته چې په کې د لمانځه د ادا کولو لارښوونې راغلې دي، خو يوه خبره چې د ويلو ده، هغه دا ده چې کله چې د لمانځه په هکله وحې راغلې د هغه سره يو ځای د زکوات او د انفاق نوم هم ياد شوی دی. يعنې هيڅ يو لمونځ د زکوات او د انفاق نه پرته دلمانځه تر مرتبې اجر او ثواب نه شي لرلی، دا ټکي د ثبوت نښه ده، چې لمونځ هغه مهال د لمانځه تر مرتبې رسېدلی شي، چې لمونځ کوونکي د زکوات او د انفاق حکم سل په سلو کې پلی کړی يا يې پلي کوي. (انفاق) د ټولو مرستو نوم دی او دا نوم په ټولنه کې د عدالت او مساواتو د پلي کولو لومړی ګام دی، چې بايد پورته شي، ګني يواځې په وچ لمانځه سره په ټولنه کې د عدالت او مساوات تله پر پښو نه شي ودرېدلی. د دې لپاره چې د لمانځه په هکله لا پسې وپوهېږو غوره ګڼم د پښتو اريانا دايرة المعارف د اوم ټوک له (۱۰۵۸) مخ څخه کټ مټ څه راواخلم. په دې مخ کې

د لمانځه په هکله داسې شرحه راغلې ده.

## لمونځ

لمونځ: لمونځ فرض عين دی او د ايمان نه وروسته د اسلام دوهم رکن دی. د لمانځه فرض والی په آيت سره ثابت دی. د لمانځه د فرض والي په باره کې دا آيت راغلی دی: «وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ» يعنې قايم وساتئ لمونځ. د لمانځه د فرضيت په باره کې يو بل آيت هم راغلی دی «حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطَىٰ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ» يعنې ټينګ وساتئ لمونځونه او خاص منځنی لمونځ، د لمانځه د فرض والي په باب چې کوم مشهور حديث راغلی دی دا دی: «إِنَّ اللَّهَ تَعَالَىٰ فَرَضَ عَلَىٰ كُلِّ مُّسْلِمًا مُّسَلَّمَة فِي كُلِّ يَوْمٍ وَ لَيْلَةٍ خَمْسَة صَلَوَات » يعنې خدای تعالی پر هر مسلمان سړي او مسلمانې ښځې باندې په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه فرض کړي دي، په هر شواروز کې پر هر مسلمان باندې پنځه وخته لمونځ فرض دی، د سهار ګانده لمونځ، د برمل يا ماسپښين لمونځ، د (لرمل) يا مازديګر لمونځ، د ترمل يا د ماښام لمونځ، د شومه دم يا د ماسخوتن لمونځ.

لمونځ ځينې شرطونه او رکنونه هم لري، شرطونه يې د لمانځه نه وړاندې دي او رکنونه يې د لمانځه په منځ کې دي، چې په وروسته ډول يادېږي:

## د لمانځه شرطونه

د لمانځه شرطونه شپږ دي:

١- له حقيقي او حکمي پليتۍ څخه د لمونځ کوونکي د بدن پاکوالی.

٢-د جامو او د لمانځه د ځاي پاکوالی.

٣-د عورت پټوالی.

۴-قبلې ته مخ ګرځول.

۵-نيت کول.

٦-وخت پېژندل.

د نارینه عورت د نامه نه لاندې تر ځنګنو پورې، د وینځې عورت د سړي د عورت په شان دی، خو شا او سینه یې هم په کې شامله ده، د اصلي ښځې عورت د دې ټول بدن دی،یواځې لاسونه او پښې یې په عورت کې نه راځي، د یو غړي د څلورمې برخې لوڅوالی د لمانځه د رواکېدو مانع ګرځي. پنډۍ، ورون، خاص اندام، ویښتان، دغه هر یو ځانله غړي دي.

## د لمانځه رکنونه

د لمانځه رکنونه اوه دي:

۱-د نیت تړلو تکبیر.

۲-درېدل.

۳-قرات.

۴-رکوع.

۵-سجده.

٦-اخیره قعده.

۷-د لمونځ کوونکي په شان د لمانځه نه وتل.

## د لمانځه واجبات

د لمانځه واجبات دولس دي:

۱-د فاتحې سورت لوستل.

۲-د بل سورت لوستل.

۳-د ترتیب رعایت کول.

۴-لومړۍ قعده.

۵-د شهادت کلیمه ویل.

٦-سلام ویل.

۷-د قنوت دعا ویل.

۸-د اخترونو تکبیرونه.

۹-د قرائت لپاره په فرضو کې د دوه وو لومړیو رکعتونو ټاکل.

۱۰-ج-د رکنونو برابرول.

۱۱-د جهر لمونځ په جهر ویل او ۱۲ خفیه لمونځ په ورو ویل.

له دغو شیانو نه پرته چې د لمانځه په شرطونو او رکنونو او واجباتو کې بیان شول د لمانځه نور کارونه یا سنت دي یا مستحب. امام به د جمعې، اخترونو، سهار، ماښآم او ماسخوتن په لمونځونو کې قرائت په زوره وایي او د ماسپښین او مازیگر په لمونځونو کې به یې په پټه وایي. د جهر لره اندازه دا ده، چې بل څوک یې واوري او د ورو ویلو لږه اندازه دا ده چې په خپله یې واوري. په جمعې سره لمونځ کول موکد سنت دي. د امامت لپاره بهتره هغه څوک دي چې په سنت باندې ښه پوه وي او ښه عالم وي او که په علم کې سره برابر وي نو بیا به هغه څوک امامت کوي، چې ښه قاري وي او که په قرائت کې برابر وي، نو بیا به هغه څوک امام کېږي، چې ښه پرهېزگار وي او که په پرهېزگارۍ کې هم سره برابر وي، نو بیا به هغه څوک امام کېږي، چې په عمر کې مشر وي.

د مریي، سارایي، فاسق، ړنده او حرامونې امامت مکروه دی، ولې چې په مریي کې ناپوهي زیاته وي او پرهېزگاري کمه وي، په سارایي کې هم ناپوهي ډېره او پرهېزگاري لږه وي، د فاسق امامت په دې وجه مکروه دی، چې په دیني چارو کې بې پروایي کوي. د ړانده امامت ځکه مکروه دی چې دی له پلیتۍ نه ځان نه شي ساتلی او حرامونی خو پلار نه لري، چې د شریعت علم ورته زده کړي، نو په دې وجه یې ناپوهي زیاته وي.

د بدعتي امامت هم صحیح نه دی، ولې چې دی له روایت نه انکار کوي. په تیمم والا پسې د اودس والا، په مسه والا پسې د وینځونکي، په ناست پسې د ولاړ، په اشاره والا پسې د بې اشارې، په فرض گزار پسې د نفل کوونکي اقتدا روا ده، مگر د دې وروسته کسانو اقتداء او نیت تړل په بل پسې روا نه دي. د نارینه اقتداء په ښځې او هلک پسې، د پاک او بې عذره اقتداء په معذور پسې، د قاري اقتداء په امي پسې، د تن پټي اقتداء په بربنډ پسې، د اشاره نه کوونکي اقتداء په اشاره کوونکي پسې، د فرض کوونکي په نفل کوونکي پسې او د یو فرض ادا کوونکي د بل فرض لمونځ په ادا کوونکي پسې، دغه ټولې

**اقتداوې روا نه ګڼل کېږي.**

## د لمانځه فاسدوونکي شيان

**په دغو وروسته شيانو سره لمونځ فاسديږي:**

**۱-په لمانځه کې خبرې کول.**

**۲- په قصد سره سلام اچول او د سلام ځواب ورکول.**

**۲- په لمانځه کې چيغې وهل او ژړا کول.**

**۴- بې له عذره ټوخی کول او که ډېره ناچاري وي، نو بيا پرې لمونځ نه خرابيږي.**

**۵- د پرنجي ځواب په رحمک الله سره و يل.**

**٦-د قرآن له مخه قرائت لوستل.**

**۷- د مړينې او غم د خبر په اورېدو (ان لله و انا اليه راجعون) ويل او د نا اشنا خبر په اورېدو (سبحان الله) ويل.**

**۸- بې له خپل امام نه بل چا ته فتح ورکول.**

**۹- د پليتۍ د پاسه سجده کول.**

**۱۰- يوه داسې دعا کول، چې له انسان نه غوښتل کېږي.**

**۱۱- خوراک او څښاک کول.**

**۱۲- زيات کار کول او هغه دا دي، چې: دواړو لاسونو ته په کې اړتيا پېښه شي او يا يې په خپله لمونځ ګذار زيات کار وبولي او يا نور کتونکي پرې د لمونځ کوونکي خيال ونه کړي.**

## د لمانځه مکروهات

**په دغو شيانو لمونځ مکروه کېږي:**

**۱- هر يو حرکت چې د عاجزۍ رنګ په کې نه وي.**

**۲- د سجدې له ځای نه کاڼي لرې کول، مګر د يو ځل لپاره پروا نه کوي.**

**۳- د تندي نه خاورې پاکول.**

**۴- د پټکي په ول باندې سجده کول.**

۵- په سجده کې په ځمکه باندې لیچې غزول.
٦- د جامو نه راغونډول او داسې شاولې واولې پرېښودل.
۷- د جامو راغونډول د د ې لپاره چې په خاورو ککړ نه شي.
۸- د امام لپاره یو خاص ځای ټاکل، په دې ډول چې امام دننه په محراب کې ولاړ وي او قوم د باندې وي او یا امام په چوتره کې ولاړ وي او اولس ترې ښکته وي او یا د دې سرچپه کار وي.
۹- په وروسته صف کې درېدل په داسې حال کې چې په وړاندې صف کې ځای خالي وي.
۱۰ - که د لمونځ کوونکي په جامو کې د ژوي او حیوان څېره وي یا یې مخې او څنګونو ته څېره وي، نو لمونځ یې مکروه دی او که دغه څېره د لمونځ کوونکي د پښو لاندې یا شاته وي یا ډېر کوچني وي او سر یې پرېکړ شوی وي، نو په دې صورت کې لمونځ نه مکروه کېږي.
۱۱- د داسې زړو مښلو جامو اغوستل چې په کار کې یې د کار او خدمت لپاره اغوندي.
۱۲- په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي، که چېرې سر لوڅی د عاجزۍ لپاره وي، نو مکروه نه دی.
۱۳- په لمانځه کې د لوستل کېدونکي آیاتونو شمېرل.
۱۴- د مسجد د وره کولپ کول.
۱۵- د مسجد پر بام باندې بول او کوروالی کول.

## د وتر لمونځ

وتر درې رکعته دي چې په يوه سلام ادا کېږي. وتر واجب دي، په درېيم رکعت کې له الحمدلله ويلو وروسته د قنوت د عا ويله کېږي، د پنځګونو لمونځونو او وترو په قضا ادا کولو د ترتيب لحاظ فرض وي. که چيرې له چا نه ټول لمونځونه يا ځينې قضا شوي وي، نو په کار دي چې اول قضا شوي لمونځونه ادا کړي او و روسته وختي لمونځونه وکړي. چا چې د وتر لمونځ نه وي کړی او هغه يې په ياد وی، نو تر څو چې قضايي ونه کړي، د سهار لمونځ

ورته نه روا کېږي، ځکه چې د وترو قضا ادا کول هم واجب دي.

## د سهوې سجده

په دې کې له یو سلام ګرځولو نه وروسته په لمونځ کوونکي باندې دوه سجدې، اشهدو ویل او سلام ګرځول لازمېږي، که چېرې څوک د لمانځه یو رکن له بل رکن نه وړاندې کړي یا یو رکن وروسته کړي یا یې تکرار وکړي یا یو واجب ته تغیر ورکړي یا یو واجب پرېږدي یعنې ادا یې نه کړي، په دې صورتونو کې په لمونځ کوونکي باندې د سهوې سجده واجبه ده. ځکه چې د سهوې سجده په عبادت کې د نقصان د پوره کولو لپاره ده، نونقصان پوره کول هم واجب دي او د سهوې سجده هم واجب ده.

پر یو رکن باندې د بل رکن د وړاندې مثال دا دی چې له قرائت نه د مخه رکوع وکړي او د یو رکن د وروسته والي مثال دا دی، چې په څلور رکعتي لمانځه کې د درېیم رکعت په ادا کولو کې تاخیر راولي. د تشهد نه وروسته لږ زیات کیني. د یو رکن د تکرارولو مثال دوه ځله رکوع کول دي. د واجب د تغیر مثال دا دی چې په غلي لمانځه کې قرائت په زوره ووایي او په زوره لمانځه کې یې ورو ووایي. د واجبو د پرېښودلو مثال دا دی، چې په څلور رکعتي او درې رکعتي لمونځونو کې او له قعده پرېږدي. په دغو ټولو صورتونو کې د واجب پرېښودل مینځ ته راځي. که چېرې په لمانځه کې امام سهوه وکړي، نو امام او مقتدي دواړو باندې د سهوې سجده لازمېږي. که امام د سهوې سجده و نه کړه، نو مقتدي به یې هم نه کوي، ځکه چې دلته امام سره مخالفت راځي، که مقتدي سهوه وکړي، پر هیڅا باندې د سهوې سجده نه واجبېږي.

## د تلاوت سجده

د تلاوت سجده د دوو تکبیرونو په منځ د لمانځه د شرطونو سره برا بر واجبه ده. خو غوړونو ته لاسونه وروړل تشهد ویل او سلام ګرځول په کې لازم دي او سبحان ربي الاعلی په کې ویل کېږي. د تلاوت سجده پر هغه چا باندې لا

زمېږي، چې د سجدې په څوارلسو ايتونو کې يو آيت ولولي. د سجدې آيتونه په دغو سورتونو کې راغلي دي:
اعراف سورت اخير. دغه شان د رعد، نحل، بني اسرايل او د مريم د سورتونو په اخير کې او د حج، فرقان، نمل، الم، ص، حم، والنجم، والثقف او اقراء په سورتونو کې. څوک چې له دغو څوارلسو آيتونو څخه يو آيت واوري، پر هغه د تلاوت سجده واجبېږي.

## د مريض لمونځ

که د مريضی په وجه لمونځ کوونکي ته ودرېدل سخت وي، نو په ناسته دې لمونځ وکړي او رکوع او سجده دې هم وکاندي، ځکه چې پيغمبر صلی الله عليه و سلم عمران ته چې مريض و، دغه ډول امر کړی و، که يو رنځور رکوع او سجده نه شي کولی، نو د سر په اشاره به رکوع او سجده کوي او په سجده به لږ سر زيات ښکته کوي، مگر د سجدې کولو لپاره ورته مخې ته کوم شی ايښودل نه دي پکار. که څوک په ناسته هم لمونځ نه شي کولای، نو په ملاسته به يې کوي، پښې به قبلې ته غزوي او د سر په اشارې به لمونځ ادا کوي او که په ملاسته يې هم وسه و نه رسېده، نو لمونځ به وځنډوي.

## د مسافر لمونځ

مسافر د سفر نه راوتلی دی، سفر په لغت کې د ښهر تللو ارادې ته وايي، په شريعت کې د درې ورځو شپو يا په زياتو نيت له کوره د باندې تللو ته وايي. د سفر حکم دا دی، چې څلور رکعتي فرض لمونځونه په کې لنډېږي او دوه رکعته ادا کېږي. دغه شان په سفر کې د روژې خوړل هم روا دی. که څوک يو ښار يا يو کلي ته په سفر لاړ شي او هلته د پنځلسو ورځو د پاتې کېدو نيت ونه کړي او په نن سبا کې وربانديې ډېره موده تېره شي، نو هغه به هم د سفر لمونځ ادا کوي، يعنې د څلورو رکعتونو پر ځای به دوه رکعته لمونځ کوي.

## د جمعې لمونځ

جمعه له اجتماع نه اخیستل شوې ده. د جمعې لمونځ فرض دی، منکر يې کافر او نه کوونی يې ګنهګار دی. د جمعې د لمانځه فرض والی په قران او حدیث او اجماع باندې ثابت دی. په قران کې پاک خدای فرمايلي دي:
«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ».

په پورته آيت کې د خدای د ذکر نه مراد خطبه ويل دي او امر د واجب والي لپاره دی. هر کله چې د خطبې د اورېدو لپاره سعې کول فرض وي، چې د جمعې د لمانځه يو مهم شرط دی نو د اصلي لمانځه لپاره زغاسته خو هرو مرو فرض ګڼل کېږي او د «وَذَرُوا الْبَيْعَ» په امر سره د جمعې د لمانځه فرضوالی لا ټينګوالی مومي. يعنې مطلب دا دی چې سود، سودا پرېږدئ او د جمعې د لمانځه د ادا کولو په لوري تلوار وکړئ. دلته د خدای له خوا د يو روا کار منع کول د جمعې د لمانځه د واجبوالي لپاره دي. د جمعې د لمانځه فرضوالی په حديث کې په دې شان راغلی دی:

د خدای رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «اعلموالله تعالی کتب عليکم الجمعة فی يومی هذا او فی مقامی هذا فمن ترکها تهاوناً او استخفافاً لحقها وله امام جابر او عادل الا فلا جمع الله شمله الا فلا صلواة له فلا زکواة له الا ان يتوب فمن تاب، تاب الله عليه» د جمعې د لمانځه په فرضوالي امت هم اجماع کړې ده. اصله خبره دا ده چې موږ د جمعې د لمانځه لپاره د ماسپښين د لمانځه په پرېښودلو مامور شوي يو. حال دا چې د ماسپښين (برمل) لمونځ فرض دی او د يوه فرض پرېښودل روا نه دي، مګر د يو بل فرض د ادا کولو لپاره روا دي، چې زيات تاکيد په کې شوی وي او له پرېښود شوي فرض څخه غوره او بهتر وي، نو دا خبره په دې دلالت کوي چې د جمعې لمونځ په فرضوالي کې د ماسپښين (برمل) له لمانځه نه ډېر غوره او پورته دی.

## د جمعې د لمانځه شرطونه

**د جمعې د لمانځه د فرض کېدو لپاره ددغو وروسته شيانو وجود شرط دی:**

**۱- په ښار کې استوګنه.**

**۲- د بدن روغوالی.**

**۳- ازادي او اصيل والی.**

**۴- نارينه والی.**

**۵- وخت.**

**٦- عقل او پوهه.**

**۷- د سترګو او پښو روغوالی. له دې کبله پر مسافر، رنځور، مريي ښځې، هلکان، لېوني او د سترګو او پښو په عيبي باندې د جمعې لمونځ فرض نه دی، خو سره د دې هم که دوی د جمعې لمونځ وکړي، د ماسپښين د لمانځه ځای نيسي.**

## د جمعې د ادا کولو شرطونه

**دا و روسته شيانو وجود د جمعې د لمانځه د ادا کولو لپاره شرط دي:**

**۱- ښار يا ښارفنا. ښار هغه ځای ته وايي چې په لوی مسجد کې يې هم ټول اوسېدونکی ځای نه شي، يعنې خلک يې زيات وي او فنا د ښار سره نيږدې ځای ته وايي، چې د ښار خلک په کې سره ټولېږي. د ښار له اوسېدونکي څخه دلته يواځې هغه خلک مراد دي، چې دجمعې لمونځ پرې فرض و ي او ښځې، کوچنيان او مريان او نور ترې مطلب نه دي.**

**۲- پادشاه يا د هغه د نايب شته والی.**

**۳- د لمانځه وخت چې ماسپښين دی.**

**۴- د لمانځه نه دمخه خطبه ويل.**

**۵- په جمع سره لمونځ کول دي، چې لږ تر لږه له امام نه پرته د رې نفره دي.**

**٦- عامه اجازه ده، که چيرې يو حاکم د ښار دروازه وتړي او څوک ښار ته دننه نه پرېږدي، نو په دې حال کې د هغه ښار پر خلکو د جمعې لمونځ نه دی فرض. د جمعې ورځ د ماسپښين لمونځ په جمع کول، مکروه دي، بې له عذره د جمعې**

**د لمانځه دمخه د ماسپښین لمونځ کول هم مکروه دي. یعنې: که څوک د جمعې لمونځ د ادا کولو نه معذور نه وي او د جمعې د لمانځه نه د مخه د ماسپښین لمونځ وکوي، نو مکروه دي. که امام د جمعې په لمانځه ولاړ وي او څوک د جمعي د لمانځه لپاره ورزغلي، نو که د ماسپښین لمونځ يې دمخه کړی وي، هغه باطلېږي، کوم وخت چې امام د خطبې لوستلو لپاره ممبر ته وخېږي، نو د خطبې تر خلاصېدو پورې لمونځ او خبرې کول ناروا دي.**

## د اختر لمونځ

**په عربي ژبه کې اختر ته عيد وايي، عيد د عود له کليمې نه راوتلی دی، چې د رجوع په معنی دی، ولې چې په دې ورځ خدای پاک خپل احسان پر خپلو بندګانو بيا راولي، د کوچني اختر په ورځ دوه‌ی خوړل، مسواک وهل، لامبو، خوشبويي مږل، ښې نوې جامې اغوستل، سرسايه ورکول مستحب دی. د اختر د لمانځه نه د مخه نفل کول مکروه دي. دا ټول کارونه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په فعل او کړو باندې ولاړ دي. د اختر د لمانځه شرطونه د جمعې د لمانځه د شرطونو په شان دي. خو يواځې خطبه ويل د اختر په لمانځه کې شرط نه ده. د اختر لمونځ د امام اعظم په صحيح روايت واجب دی. ځينو په سنت والي کې خبرې کړې دي. د اختر د لمانځه وخت د لمر د راختلو نه تر لمر ګرځېدو پورې دی. د اختر د لمانځه په لومړي رکعت کې پس له ثنا نه درې ځله الله اکبر ويل کېږي. د هر تکبير سره به لمونځ کوونکي لاسونه غوږونو ته وروړي. په اول رکعت کې به د تکبيرونو نه وروسته اعوذبالله او بسم الله وايي. بيا الحمدلله او ورسته سورت ويل کېږي.**

**په دوهم رکعت کې لومړی قرائت لوستل کېږي او بيا ورپسې درې تکبيرونه ويل کېږي. په څلورم تکبير به رکوع ته ځي او په دې شان به لمونځ سرته رسوي. د لمانځه نه وروسته به امام پسې خطبه وايي او په خطبه کې به د سرسايې حکمونه او مسئلې بيانوی. که د کوچني اختر په ورځ کوم بنديز پېښ شي چې د اختر لمونځ په کې ونه شي، نو په دوهمه ورځ دې د اختر لمونځ ادا کړی شي.**

لوی اختر هم د کوچني اختر په شان دی، لیکن د لوی اختر په ورځ د لمانځه تر وخته پورې څه خوړل نه دي په کار. په لوی اختر کې به د عیدگاه په لاره په زوره تکبیرونه وایي، که د کوم عذ ر به وجه په اوله ورځ د لوی اختر لمونځ ونه شو، نو تر درې ورځو پورې د اختر لمونځ ادا کېدای شي. د لوی اختر په خطبه کې دې امام خلکو ته تکبیرونه او د قربانۍ حکمونه وروښیي. د لوی اختر د تشریق تکبیرونه د عرفې د ورځې د سهار له لمانځه نه وروسته شروع کېږي او د تشریق د ورځو تر اخیري مازدیگره پورې دوام کوي. د جمعې د هر لمانځه نه وروسته د تشریق د تکبیرونو ویل واجب دي. د تشریق تکبیر دا دی:

«الله اکبر، الله اکبر. لا اله الا الله و الله اکبر الله اکبر و لله الحمد» او پر ښځو او پردیسیانو باندې واجب نه دی. هغه ټول لمونځونه چې وروسته یې د تشریق تکبیرونه ویل کېږي درویشت لمونځونه دي، که چیرې امام د تشریق تکبیر پرېږدي، مقتدیان دې نه پرېږدي.

## د جنازې لمونځ

د جنازې لمونځ کفایي فرض دی او د ادا کولو لار یې په دې ډول دي:

لومړی به امام تکبیر وایي بیا به ثنا وایي، بیا به تکبیر وایي او درود به لولي، بیا به تکبیر وایي او دعا به لولي. بیا به څلورم تکبیر وایي او سلام به گرځوي. په لومړي تکبیر کې به لاسونه غوږونو ته وروړي، مگر په نورو کې به لاسونه نه اوچتوي، مقتدي به هم د امام په شان دغه ټول تکبیرونه وایي او څه چې امام لولي، دی به یې هم لولي. د بالغانو دعا دا ده: «الهم اغفر لحینا و میتنا و شاهدنا وغایبنا و صغیرنا و کبیرنا و ذکرنا و انثانا. الهم من احییته منا فاحییه علی الاسلام و من توفیته منا فتوفه علی الایمان». د نابالغ هلک دعا دا ده: «الهم اجعله لنا فرطاً و اجعله لنا اجراً و زخراً و جلعه لنا شافعاً و مشعفاً». د نابالغې جلکې دعا: «الهم اجعلها لنا فرطاً و اجعلها لنا اجراً و زخراً و جعلها لنا شافعاً و مشفعاً». د جنازې د امامت لپاره لومړی پادشاه بهتر دی. بیا قاضي او بیا د کلي امام غوره دی. تر دې وروسته د مړي ولي او خپلوان دي، که د مړي ولي هر

چاته د جنازې د امامت اجازه وکړي، هغه ښه او غوره دی. که د مړي جنازه نه وي شوې او بې د جنازې له لمانځه نه ښخ شوی وي، نو تر هغې پورې چې په غالب گومان سره خراب شوی نه وي، پر قبر يې د جنازې لمونځ کيدای شي. د جومات له چت لاندې د جنازې لمونځ کول مکروه دي او که مړی له چت نه د باندې کېږدي او لمونځ ورپسې چې دننه په مسجد کې وشي نو بيا په کراهيت او نه کراهيت کې اختلاف دی.

## د لمانځه حکمت

ښکاره ده چې بنيادم د ورځې له مخې د ژوندانه د اړتياوو او ضروورياتو په لاسته ر اوړلو بوخت دی، ولې چې له خوراک او پوښاک نه ناچاره وي او مجبوره وي چې د ژوندانه اړتياوې برابرې کړي او د شپې له مخې په خواږه خوب پروت وی او خپل خدای د يادونې څخه ليرې پاتې کېږي. نو پاک خدای ورباندې په يوه شواروز کې پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی، چې په ټاکلو وختونو کې په پاکو جامو، پاک بدن، په سوتره او پاک ځای کې نور ټول دنيايي کارونه پرېږدي، مخ قبلې ته وگرځوي او د خپل خدای حضور ته په عاجزۍ ودرېږي، لاسونه غوږونو ته پورته کوي او د لمانځه په تکبير ويلو پيل وکړي. يعنې الله اکبر ووايي، د دې معنی دا ده چې ټول دنيايي کارونه او شيطاني وسوسې په ځان حرامې کړي او په زړه کې نيت وکړي، چې زه د يو داسې ذات حضور ته مخ گرځوم چې زه يې له عدم او نشت څخه پيدا کړی يم او ماته يې د دنيايي چارو او کسب او کار قدرت او طاقت رابښلی دی. د الله اکبر معنا دا ده چې خدای له هر لوی او غټ نه ستر دی او له هر چاره گر نه لوی چاره گر دی. کله چې د لمونځ کوونکي په زړه کې دغه معنی وگرځي، نو زړه يې پوره ډاډ او تسل ومومي او بې له خدای نه نور هر څه يو دم هير کاندي. بيا چې په پاک زړه الحمداو ورسره يو سورت يا څو آيتونه ولولي، نو د ده او د خدای په منځ کې د ارتباط او نيژدې والي سلسله نوره هم زياته او پخه شي. دغه وخت نو دی يو صحيح او سپېڅلی مسلمان وگرځي. د پنځه وخته لمانځه په فرض کولو کې د شريعت د راويستونکي مراد همدغې

مينې او علاقې پيدا کول او ټينګول دی. انسان بايد داسې فکر ونه کړي، چې خدای پر موږ باندې دغه پنځه وخته لمونځونه خالي د دې لپاره فرض کړي دي، چې ودرېږو، کښېنو او بې له فکر او سوچ نه د قرآن آيتونه و لولو. بلکې داسې عقيده لرل په کار دي، چې لمونځ د خدای او د بنده ترمنځ د ارتباط او علاقې يوه ټينګه و سيله ده او په کار دي چې په ډېرې عاجزۍ او اخلاص سره ادا او پر ځای کړی شي.

پيغمبر عليه السلام به په لمانځه کې دومره ډېر درېده چې پښې به يې وپړسېدلې، رکوع به يې تر دې اندازې اوږدوله چې يو سړي په دغه و خت کې پنځوس آيتونه په قرائت سره لوستلی شول. په دغه شان به يې سجده هم اوږدوله او سر به يې نه پورته کاوه. موږ بايد هڅه وکړو چې د قران آيتونه په لمانځه کې په فکر او سوچ سره ولولو او د معنی په پوهېدو کې يې پوره غور او فکر وکړو او په کلک عزم او پوخ همت د خپل خدای په لور مخ واړوو. که داسې نه وي نو بيا له لمانځه نه د درېدو، کېناستو، رکوع او سجدې د ستړيا نه پرته بله ګټه نه شو اخيستلای. لکه چې پيغمبر عليه السلام فرمايلي دي:

ډېر لمونځ کوونکي دي چې د خپل لمانځه نه بې له ستړيا او کړاو نه بله ګټه او فايده نه شي اخيستلای. په عاجزۍ او اخلاص سره د لمانځه هر رکن پر ځای کول يو ځانله تاثير بښي، خو په مسجد کې د انسان عاجزي او زاري اخرې درجې ته رسېږي. ولې چې په مسجد کې به بنيادم خپل مهم غړي تندی د خدای په حضور په ځمکه مږي او په تسبيح يعنې «سبحان ربی الاعلی» کې د خپل خدای لويی او سترتوب ستايي او خپل ځان ډېر بې وسه او عاجز ښکاره کوي. دغه وجه ده چې پاک خدای په خاص ډول خپل پيغمبر ته د سجدې کولو امر کړی دی او ويلي يې دي: «وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب» او هغه يې د خپل دربار د نيژدې والي وسيله بللې ده.)

دا وو د لمانځه په هکله. په دې ليکنه کې د لمونځونو اقسام راپېژندل شوي او په کې تاکيد شوی چې لمونځ کوونکی د هغو اياتونو په معنی چې په لمانځه کې يې لولي، وپوهېږي. په خواشينۍ سره بايد ووايو: په اسلامي نړۍ کې مسلمانان په سلو کې د نويو نه زيات ناپړه دي، چې د لمانځه په معنوي اړخ

کې هيڅ پوهه نه لري. بل دا چې په پورتنۍ ليکنه کې هم د لمونځونو يواځې تخنيکي اړخ تشريح شوی. دا چې د قرآنی آياتونو په شهادت هر کله چې د لمانځه په هکله د وحې له لياري کوم امر راغلی په هغه کې د زکوات او د (انفاق) امر هم شوی دی. يعنې لمونځ او زکوات او انفاق سره يو ځای ياد شوي دي. ګويا هيڅ يو لمونځ چې په کې د (انفاق) په هکله سوچ نه وي د لمانځه تر حقيقي مرتبې نه شي رسېدلی، چې په دې هکله بايد د اسلامی دين عالمانو په پوره وضاحت سره مکملې څرګندونې لرلی چې نه دي وړاندې شوې. يعنې ټولنيزه عدالت او مساوات لکه څنګه چې د لمانځه په صفونو کې د ودرېدلو له لياري خوندي شوي، په هماغه توګه د (انفاق) د لارې نه د شتمنيو په و يشلو هم په ټولنه کې د عادلانه او مساوي ژوند د خوندي کولو ضمانت شوی دی. دا په دا چې لکه څرنګه چې په تېرو بحثونو کې ورته اشاره شوې ده، په اسلامي شريعت کې د مومن بها يو ستر رکن (انفاق) دی، که (انفاق) رعايت نه شي، ايمان ناقصه پاتې کيږي. که د ايمان يو رکن ناقصه پاتې شي، نو په دې حالت کې مسلماني به يې نيمګړې پاتې وي.

(انفاق) هغه رکن دی چې د هغه په پلي کولو سره په يقيني توګه په ټولنه کې څوک وږی، تږی، لوڅ لغړ، بې کوره او بې اوره نه پاتې کيږي. څوک د چا پر سر او مال نه بلوسي، د ټولنې امنيت خوندي وي، بې وزلتيا له منځه ځي، هر څوک د دې وسه مومي چې د خپل بسيا ژوند د لاسته راوړلو په لياره کې له ممکنه هلو ځلو ځان ونه ژغوري. بسيا ټولنه په وسياله وګړو رامنځ ته کيږي. دا وسيا له وګړي دي چې د خپلې ټولنې تاريخ جوړوي. که د يوې ټولنې وګړو ته د ژوند وسه ونه ښنل شي، په هغه ټولنه کې وسيا له وګړي نه رامنځ ته کيږي. د سياست موخه لکه څنګه چې د اسلامي دين د مومن بها د (انفاق) په رکن کې نغښتی دی، د ټولنې وګړو ته د يوه هوسا او بسيا ژوند د جوړولو په لاره کې د وسې د ښنلو ستر هوډ دی. هر هغه سياسي ټولنه چې موخه يې پر دې هوډ ولاړ وي، هرومرو د بريو او نيکمرغيو د لاسته راوړلو وسه خپلولی شي. دا د اسلامي دين د بنسټ ايښودونکي سپېڅلې هلې ځلې وې چې د الهی وحيو په رڼا کې يوه پاکه، روغه او وسياله ټولنه يې رامنځ ته کړه او په

دې توګه يې د ځمکې پرمخ د ناپوهيو د تيارو د رڼاکولو په پار د پوهې او د رڼا ډېوې يې روښآنه کړلې. د دغو ډيوو په رڼا کې وه چې اروپايي ټولنې هم د رنسانس په لوري مخه وکړه او د صنعتي غورځنګ له لیارې يې نه يواځې اروپا چې ګرده نړۍ ته د بدلونونو غورځنګونه وسپارل. هر غورځنګ په خپل متن کې ارومرو بدلون لرونکی وي او هر بدلون هم که مثبت وي او که منفي، ارومرو په ټولنه کې خپلې نښې نښانې پرېږدي. اروپايي ټولنو د خپلو غورځنګي بدلونونو په ر ڼا کې دېته مخه وکړه چې د خپلو شتمنيو په سيستم کې هغسې سمونونه رامينځ ته کړي چې دټولنې د بې وزلو وګړو د ژوند ژواک ښه والی تضمين او په دې توګه له بدلونونو مثبته ګټه ترلاسه کړي، چې همداسې هم وشول. اوس اوس اروپايي ټولنه دټولې نړۍ د شتمنۍ سيستم د څارنې او ساتنې لارښودنه پر غاړه لري. که څوک ووايي چې نه خير؟ دغه د لارښوونې مشري د اروپايي ټولنې په لاس کې نه ده، بلکې د ا امريکايي ټولنه د ه چې د ګردې نړۍ د شتمنۍ د سيستم لارښوونه کوي. هو! زه به هم ووايم چې دا امريکايي ټولنه ده، چې په هر کار کې د اروپايي ټولنې څخه کاپي شوې او پرمخ تللې ده. ګني امريکايي ټولنه خو د اروپايي کريستوپ کلومبو تر رسېدلو پورې چا نه پېژندله. د برېښنا خاوند چا کړ؟ اروپايانو، رېلوې او موټروې سيستم چا ورته ورکړ؟ البته اروپايانو، د تليفون، تيلګراف او انټرنيټ خاوند چا کړ؟ چې البته اروپايانو٠ له ځمکې نه پاس هوا او بيا تر سپوږمۍ چا ورسول؟ البته اروپايانو. په ډالري کرنسيو کې د چا فوټو د ارزښت مرتبه ګټلې؟ البته يو اروپايي و ګړی چې جورج واشنګټن نومېږي.

د دې ټولو پرمختګونو له مخې د يوه هوسا، بسيا او بريالی ټولنې د رامينځ ته کېدا لامل څه وو؟ البته د بې وزلو وګړو د ژوند د ښه کولو په لاره کې د (انفاق) د فلسفې د پلي کولو غوره کړنه وه، چې په هغو ټولنو کې ورته په ښنستيزه توګه پاملرنه وشوه. يعنې اوس په دې ټولنو کې د قرآن کريم د حکم پرمخ چې وايي: «وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ» رعايت کېدونکی دی، هغه هم د حکومتونو له لوري. په دې معنی چې: حکومتونه خپل شتمن وګړي تشويقوي چې په خپلو کليو او ښارونو کې صنعتي فابريکې، زراعتي

شرکتونه او داسې نور موسسات چې په کې ګڼ شمېر وګړي د کار او باړي د ترلاسه کولو په موخه جذب شي، جوړې کړي او هغو کسانو ته چې د هر قانوني عذر له مخې د کار او باړې د ترلاسه کولو نه محروم پاتې وي، د دولت د خزانې څخه يو څه د اجتماعي مرستو په نامه کولای شي وغواړي، چې د قانوني حق په نامه هم ورته ورکول کېږي. دغه خبره له دې لامله و ويله شوه، چې زما د دې ليکنې ټوله موخه په هغو کيسو راڅرخي چې د احسن الخالقين له خوا د احسن القصص په ډله کې شمېرل کېږي.

د احسن القصص نوم هغه جريان ته ورکړل شوی، چې په هغه کې د ټولو نه غوره او مهمه دنده د همنوع لپاره مرسته په کې وليدله شي. يعنې غوره کيسه هغه کيسه ده چې لکه د يوسف عليه السلام د کيسې په څېر په ټولنه کې د عدالت او انصاف تله د حق پرمخ وتلله شي. دعمل په دې کنډه کې د لوی خدای په وړاندې هغه څه غوره او منل شوي دي، چې په کې د انساني نړۍ ګټه ځلېدلې وي. ګټه هغه يېبره ده چې يو څوک د روا کړنې له لارې ترلاسه کړي، ګني په ټولنه کې نورې هر رنګه ګټې هم شته چې په ناروا توګه ترلاسه کېږي.

روا (ګټه) هغه ګټه ده چې يو څوک په خپله د روا کار د کولو له لارې يو څه (شته) ترلاسه کړي او بيا له دغه روا ګټې څخه خپل همنوع ته هسې همنوع ته چې په روا توګه بې و زلي او محروم وي، مرسته و کړي. کله چې د روا ګټې څخه روا مرسته وشي، دغې ته د اسلامي شريعت له مخې (انفاق) وايه شي. هغه (انفاق) چې (تقوی) پرې بشپړه کېږي، کله چې (تقوی) بشپړه نه شي، نو څوک کله کولای شي د لوی خدای په وړاندې د کرامت لوړ دريځ وګټي. دا په دا چې د انسان کرامت د لوی خدای په وړاندې په (تقوی) پورې تړل شوی، چې په (تقوی) کې دغه درې رکنه نغښتي دي: «الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ». چې پر غيب ايمان ولري، چې لمونځ وکړي، چې له خپله رزقه يا خوړو څخه بې وزلو ته ورکړي. (ورکړه) يا (انفاق) هغه لوی لاس دی چې متقيان يې لري. لوی خدای دې موږ ته هم دغه لوی لاس راکړي، څو د متقيانو په ډله کې وشمېرل شو.

(متقي) هغه څوک دی چې د (تقوی) همدغه درې رکنه يې منلي او پلي کړي وي. يعنې د (تقوی) د رکنونو په منلو سره چې و رته (مومن بها) وايه شي، سړی يواځې مومن شي، خو (متقي) هغه مهال ګڼل کېدلی شي، چې همدغه درې رکنونه يې د منلو نه وروسته يو په يو او په رښتينه توګه يې عملي کړي وي. په دې توګه (تقوی) د مومن ستر دريځ دی چې بايد د عمل له لیارې ورته ورسېږي. کنه مومن به وي، خو متقي به نه وي، لکه څرنګه چې د مسلم او د مومن ترمنځ توپير شته، په هماغه توګه کولای شو ووايو چې د مومن او متقي ترمينځه هم لوی واټن شته والی لرلی شي. زما په اند د شهادت د کليمې په و يلو به يو څوک يواځې مسلمان شي، خو د هغه په منلو سره مومن او بيا په پلي کولو سره يې (متقي) يعنې د (تقوی) مرتبې ته چې د لوی خدای په وړاندې د کرامت او درناوي دريځ دی، رسېږي. (تقوی) يواځې په جوماتونو کې لاسته نه راځي، بلکې له جوماته بهر د ژوندانه په ټولو چارو کې سم کارونه، سپېڅلې انګيرنه او رغنده ويېنه ده. همدارنګه (تقوی) په تکيه خانو، خانقاوو او نورو ځايونو کې نه شو ترلاسه کولی، که چيرې کېدلی، نو ارومرو به په قرآن کريم کې د لوی خدای له لوري لارښوونې شوې وای.

(تقوی) د مومن عمل دی او مومن د منونکي مسلمان نوم، دغه عمل د ده په خپل ذات پورې اړه لري، چې څنګه يې پلي کولی او په کومو ځايونو کې يې ترلاسه کولی شي؟ (تقوی) پر غيب ايمان لرل، د لوی خدای جل جلاله لمانځنه او د بې وزلو د زړونو خوښولو ته وايي. (ايمان) به په هر ځای کې پر غيب راوړل شي، لمونځ به هم په جومات کې دننه يا له جوماته بهر و شي، خو د بې وزلو د زړونو خوښول او خپلول هغه کار دی، چې له جوماته بهر په هر ځای کې کېدلی شي. (خانقاوې) او (تکيه خانې) هغه ځايونه دي، چې وګړي يواځې د لوی خدای په ياد ساتلی شي، خو د ژوندانه د نورو اړتياوو د پوره کولو څخه خپلو سوبيانو ته کومه وسه نه شي ښنلی. بلکې له هلو ځلو څخه چې د جهاد عنصر بلل کېږي لرې ساتي. هر هغه عمل چې سړی له خپلو هلو ځلو څخه وژغوري او لرې وساتي، هغه عمل ناروا دی، که هغه په جومات، خانقا يا تکيه خانه کې لمونځونه هم وي. هيڅ يو لمونځ يا په بله ژبه هيڅ يو

عبادت چې انسان په ژوندانه کې له خپلو ورځنیو اړتیاوو د تامینولو په لیاره کې د هلو ځلو څخه وژغوري ناروا دی. دا ځکه چې په هر عبادت کې چې د خپل لوی خدای په وړاندې یې لري، دېته اړ دی چې د دنیا او اخرت لپاره د ښه ژوند، نېکمرغی، هوساینې او بریالیتوبونو هیله ولري. وسیا له انسان هغه څوک دی چې کار وکړي، وګټي او په خپله یې وخوري او بې وزلو ته یې ورکړي. دا کار په خانقاوو، تکیه خانو او داسې نورو ځایونو کې چې یواځې د عبادت په نامه ورته وګړي راټولېږي، نه شي کېدلی. یعنې په خانقا او داسې نورو ځایونو کې د کار کولو او ګټلو په پار کومه زمینه نشته، هلته ټول فرصتونه یواځې د لوی خدای د عبادت په نامه له لاسه وځي. کوم چې د عبادت لپاره د لوی خدای له لوري هر مسلمان ته په شپه او ورځ کې یواځې پنځه مهاله ټاکل شوي، نه ټوله ورځ او ټوله شپه. هر مسلمان یواځې پر دې مکلف دي چې د عبادت په مهال خپل لمونځ پر ځای کړي او د کار په مهال کار وکړي او همدارنګه د خوب په مهال ویده شي. لکه څنګه چې شپه تر سبا پورې ناسته ناروا ده، په هماغه توګه ورځ تر شومه دمه هم ویده کېدل کوم روا او ګټور عمل نه دی، کار کول او ګټل هم یو ستر عبادت دی.

دا ځکه چې سړی په کار کولو سره یو څه وګټي او چې څه یې وګټل، د هغه څخه یو څه پر خپلو اړینو اړتیاوو یې ولګوي او پاتې یې بې وزلو ته ورکړي. دغه عمل چې له ګټې څخه یې هم د ځان اړتیاوې پوره کوي او هم د یو بې وزلې په لور د مر ستې لا س اوږد وي، له هغه عبادت نه ډېر غوره دی، چې په خانقاوو، تکیه خانو او نورو ځایونو کې یې کوي. هو! لوی خدای خو انسان د عبادت لپاره پیدا کړې، خو دغه عبادت یواځې د لوی خدای په لمانځنه کې نه پوره کېږي. بلکې دلوی خدای د لمانځنې سره جوخت د ژوندانه د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هلې ځلې کول هم په عبادت کې شمېرل کېږي. پر ځان باور لرل او پر ځان پوره کېدل، د بل چا له احتیاجه ژغورېدل، د ژوند بنسټیزه اصل دی. هر چا که پر دې اصل خپل باور ټینګ وساته، هغه به ارومرو د خپلې ټولنې د سر شمله شي. انساني هلو ځلو ته د اسلام د مبارک دین په شریعت کې د (جهاد) نوم و رکړل شوی او بیا دغه (جهاد) پر ټولو مسلمانانو

فرض ګڼل شوی، چې هيڅ يو مسلمان نه شي کولی دغه فريضه هيره کړه.
هر مسلمان مکلف دی چې د جهاد يعنې هلو ځلو له لیارې خپلې ديني او دنيايي چارې بشپړې کړي. يعنې ګورو چې په ژوندانه کې د لوی خدای د لمانځلو سره جوخت، هلې ځلې يا جهاد هم په عبادت کې شمېرل شوی دی. که څوک په خپل ژوند کې هلې ځلې يا جهاد ونه کړي. روښانه خبره ده چې د هغه عبادت د لوی خدای په لمانځنه کې هم نيمګړی پاتې کېږي. کوم چې نيمګړي عبادتونه يا لمانځنې د لوی خدای په و ړاندې د منلو وړ نه ګڼل کېږي. کله چې په کار، زيار او هلو ځلو کې بوختيا ته د جهاد په نامه د عبادت نوم ورکړی شوی، نو په ډاګه ويلی شو، چې د احسن الخالقين له خوا د احسن القصص غوره نوم پر ټولنيز عدالت ولاړ ښکاري او دا ټولنيز عدالت دی چې د کار، زيار او هلوځلو له لیارې په ټولنه کې بسيا ينه، نېکمرغي او هوسا ينه رامنځ ته کوي، کوم چې د حضرت يوسف عليه السلام د پلانونو او پروګرامونو د پلي کولو په موخه کې هم د ټولنې د ټولو پرګنو ته د بوختيا برابره او مساوي ونډه سپارل شوې وه. يعنې وينځو او مريانو ته د انسانيت هغه دريځ وبښل شو، کوم چې د دربار اشرافي ټولنې لرلو او همدارنګه د دربار اشرافي ټولنه هغه دريځ ته راښکته شوه، کوم چې يو رښتينی انسان يې په واک کې لرلی شي. څو په دې توګه د ټولنې هر وګړی د خپل ژوند د اړتياوو په پوره کولو کې د خپلې وسې د هلو ځلو له لیارې خپلو هيلو او اروزګانو ته چې نېکمرغي ده، ورسېږي. خو زمونږ د معاصرې اسلامي ټولنې د وګړو او د هغوی د سياسي واکمنيو چال چلند بل رنګه دی. په دې پړاو کې غوره ښکاري چې لومړی له خپلې کيسې او ناملايماتو نه پيل کړم، کوم چې ما ليدلي، اورېدلي يا پر ما راغلي دي، په کومه زمانه کې چې ماته په بغلان کې هغه هم د دولت د يوې موسسې په خانګه کې يوه کوچنۍ دنده را پرغاړه شوه، په هغه مهال کې د يوه کوچني مامور مياشتنۍ باړه له درې سوه افغانيو نه وچته نه وه. په هغه مهال کې د دولت د يو ستر مامور لکه د قطغن د ولايت نايب الحکومه په مياشت کې د لسو زرو افغانيو نه زيات څه نه ترلاسه کول. ستر مامورين خو ستر وو، هغوی ته به معاش نه ور هخوا د ډالۍ په نامه هم هر څه وربښل کېدل. خو

بدمرغي د کوچنیو مامورینو وه. دوی به د میاشتې تنخوا نه پرته مجبور وو، یو څه د خپل کار له لارې د دولت په موسساتو کې له راغلیو مراجعینو څخه د قلمانې په نامه ترلاسه کړي. څو په دې توګه د خپل د ځان او د کورنۍ د غړیو اړتیاوې پوره کړي. په دې مهال کې چې د مامورینو د پوهې کچه د لومړنیو او ثانویو تعلیماتو نه پورته نه وه، د مراجعینو څخه به یې د نسوارو په نامه د یوې یا دوې افغانیو قلمانې نه وچتې څه نه اخیستلې. یعنې قلمانه د نسوارو د پیسو نوم لرلو.

خو کله چې د پوهنځیو نه د راوتلیو مامورینو وار شو یعنې د ثانوي تعلیماتو د مامورینو ځای د پوهنځیو نه د فارغ شویو کسانو ونیوه، نو په دې مهال د قلمانې نوم د سګرټو د پیسو په نامه بدل شو او د دوه وو افغانیو نه تر شلو افغانیو پورې ورسېد. نور نو قلمانه د سګرټو د پیسو په نامه شل افغانۍ ترلاسه کېدلې. دغه دود په خپل حال پاتې نه شو، د مهال د بدلونونو سره یو ځای او د ژوندانه د سیمې د تقاضا د لوړېدلو له لامله او دا چې د رادیو، سینما او تیاتر د پروګرامونو له لارې ولسي ذهنونه لاپسې روښانېدل او د هغه سره جوخت د ژوندانه اړتیاوې هم زیاتېدلې، د قلمانې په ترلاسه کولو کې هم بدلون رامینځ ته شو. یعنې له شلو افغانیو نه تر پنځوسو افغانیو پورې لوړې شولې. خو د هغو کسانو د راتللو او په کار ګمارېدلو سره جوخت چې له بهر نه د تعلیماتو د بشپړولو نه وروسته هېواد ته راستنېدل، د قلمانې بیه چې د یو بوتل شرابو په کچه لږ تر لږه دوه سوه افغانۍ کېدلې، پورته وختلې. نورنو قلمانی د نسوارو او سګرټو نوم نه لرلو، بلکې د بوتل بیه وه، چې په توندۍ سره لوړه شوه او په دې توګه رشوت خپله رښتینه بڼه او څېره وښودله. دغه دود د د ولت په موسساتو کې دوام لاره، د شاهي نظام او بیا د خدای بښلي شهید داود خان په جمهوري نظام کې په خپل حال پاتې و، خو کله چې د ثور د کودتا سره په هېواد کې کمونستان په واک کې راغلل، په لومړیو میاشتو کې قلمانې خپل رنګ وبایللو، نور به چا په دې نامه له ویرې څه نه غوښتل دا ځکه چې کمونستانو ملا ټینګه تړلې وه، چې نور به د دولت په موسساتو کې د فساد او رشوت مخه نیسي. په ټیټو پوړونو کې دغه هوډ خپله اغیزمنه یېږه بښلې وه،

خو د کمونستانو په لوړو پوړونو کې رشوت نور د چور او تاراج بڼه خپله کړې وه. د چا کور چې به د دولت د مخالف په تور پلټل کېدلو په هغه کور کې به نور د پیسو او ګاڼو په نامه څه نه پاتې کېدلې. هر څه به د پلټونکیو له خوا یوړل شول، که د کور خاوند کوم څه ویلي وای، هغه به نور ژوندی نه و، چې د هغه مهال د داسې کړنو ډېرې زیاتې بېلګې لا اوس هم د سیمې د ولسونو په یادونو کې پاتې دي.

د کمونستي واکمنه کدرونو د چور، تالان، وژنو او د زندانونو د ډکولو د کړنو له لامله نه یواځې دا چې په ټول افغانستان کې ولسونه ترور شول، چې هر چا خپل رو او ګودر هېر کړ، هر څوک په هره خوا په تېښته شول. پاکستان او ایران د افغان کډوالو د بهیر له لامله تر خولې ډک شو، نړۍ والو ته د کډوالو دغه بهیر د تاریخ په اوږدو کې په دې توګه او په دې کچه غم لړلی نه و، تر سترګو شوی. لویدیځو هېوادوالو د اروپا او امریکې په ګډون او همدارنګه عربي هېوادونه د ټولو اسلامي هېوادونو په ګډون د کډوالو په نامه بې شمېره مرستې واستولې، چې د دغو مرستو له لامله پاکستان د نویو پراخو سړکونو، واټونو، د برېښنا بندونو او د اتومي انرجۍ په ګډون د یوه ځواکمن پوځ خاوند هم وګرځېد. هغه هېواد چې خپل نوم یې اسلامي جمهوریت ایښی و او د اسلام د دین او شریعت مدعي و، د دې پر ځای چې رارسېدلې مرستې پر ټولو کډوالو په عادلانه توګه وویشي، په خواشینۍ سره باید ووایم چې د مرستو دوه برخې یې په خپلو جیبونو او یوه برخه یې د افغان کډوالو په نامه د هغو تنظیمونو مشرانو جیبونو ته راتویې کړلې، چې د پاکستان د پوځ د استخباراتي شبکې له خوا جوړ شوي وو.

د کډوالو په نامه د مرستو سره جوخت د جهاد په نامه هم غټه کچه مرسته پاکستان ته په لاس ورغلله، څو پر هغو مرستو د کډوالو په منځ کې د جوړو شویو تنظیمونو له لارې په افغانستان کې د کمونستي واکمنۍ د پرځولو په پار خپله توده جګړه پرمخ بوځي، چې دا کار یې هم وکړ. خبره د دې نه ده چې دا کار یې ولې وکړ؟ خبره دا ده چې فساد څرنګه رامینځ کېږي؟ ما مخکې وویلې چې د افغانستان په دولتي موسساتو کې فساد د ژوندانه د اړتیاوو د پوره

کولو په بڼه شته والی درلود، خو چې کمونستي واکمنۍ رامینځ ته شوه، فساد د غلو او داړه مارانو په څېر د کمونستي لوړو کدرونو له خوا د چور، تاراج، وژنو او زندانونو د ډکولو په څېر خپله واکمني وښودله، یعنې پخوا فساد د ژوند اړتیا وه، چې د قلماني په نامه له یوې افغانۍ نه پیل او تر پنځوسو افغانیو پورې رسېدلې وه، خو وروسته فساد د ژوندانه د تجملي اړخ او شیطاني هوس د پوره کولو یو روښانه مودل وګرځېدۀ. چا چې ډېر رشوت ورکاوه، په هماغه کچه به یې ډېر رشوت اخیسته. نو له دې لامله غښتلی کاري جدي او فعاله هغه څوک ګڼل کېده، چې ډېرې روپۍ به یې اخیستلې او همدارنګه ډېرې روپۍ به یې ورکولې. صداقت او رښتینولۍ په ر اکړه ورکړه کې وه او دا د فساد یو منل شوی دود و، خو په تنظیمي ګروپونو کې د پاکستاني واکمنانو په سماسمه پاملرنه فساد په یو بل رنګ خپله څېره وښودله، هغه هم داسې: زه چې له هېواده د یو بل ملګري سره په تېښته تر پېښوره راغلی وم، زما کیسه داسې ده:
زه په لغمان کې د ولایت د اداري مدیریت په تړاو د کورنیو چارو د وزارت له خوا ټاکل شوی وم، زما د راتللو نېټه د ۱۳۵٦لمریز کال د وري میاشت وه. په لغمان کې هغه مهال ښاغلی محمد حسن (ګردیزی) د ولایت د والي په توګه دنده په غاړه لرله، نوموړی چې د ولایت د اداري، عمراني او نورو چارو یو ماهره او تجربه لرونکی شخصیت و، نو له دې لامله د جمهور رییس د خاص باوري سړي په نوم ګڼل کېده. په کارونو کې پوه، ناپیلی او عادل و، د چا سیاسي، اجتماعي او اقتصادي لحاظ یې نه کاوه. هره ورځ به د سهار په خړه کې د کوره ووانه او تر غرمې پورې به د ګن شمېر غیر محاربو وګړیو سره چې د فواید عامې مدیریت په چوکاټ کې پراته و و، د کلیو او بانډو په لوري د فرعي سړکونو او واټونو د جوړولو پر کار بوخت شو، غرمه به کور ته راغی او د څو شېبو د ویده کېدلو نه وروسته د ماسپښین د لمانځه په ادا کولو به بوخت شو، د لمانځه نه وروسته د ډوډۍ خوړلو او د چای او چلم د څکلو نه وروسته به د ولایت پر اداري چارو بوخت شو. دا کار ته به یې تر هغه مهاله دوام ورکاوه، څو ټول کارونه بشپړ او کوم څوک پاتې شوي نه وي. دا د هغه مهال د نوموړي د کار سیستم و، دا چې د ولایت په اداري موسساتو کې فساد شته

والی لاره او که نه؟ دا بېله خبره ده، په دې هکله باید وویل شي چې په هغه مهال کې د لغمان په ټولو حکومتي موسساتو کې فساد د قلمانې په نامه د سلو او دوه سوه افغانیو تر کچې مروج و. البته په ټیټو پوړیو کې، هغه هم په پټه توګه. چا به په ډاګه څه نه شوای غوښتلی او بې له ویرې به څه نه شوای اخیستلی. څه چې د لوړو کدرونو په چال چلند پورې اړه لرله، هغه بېله خبره ده. یعنې په لوړو کدرونو کې د فساد کچه په لوړه پیمانه او په نادره توګه رسوا کېدونکې وه، څه چې د لغمان په ولایت پورې تړاو لري، هغه دا وو چې: په هغه مهال کې په ټول ولایت کې امنیت، سوله، روغه او ولسي بسیاینه خوندي وه. شپه او ورځ په ټول ولایت کې تګ راتګ خوندي و، چا له دې کبله شکایت نه درلود، هر څه په نورماله توګه پرمخه روان وو. خو ولسي اقتصاد کمزوری و، کرهڼه عصري شوې نه وه، صنعتي موسات نه وو رامنځ ته شوي، کارګري غورځنګ شته والی نه لاره، انساني ژوند په طبیعت او طبیعت په انساني ژوند پورې تړلي وو. په لغمان کې سره د دې چې دوه سیندونه بهېدل، برېښنا چا نه پېژندله، ټول ولایت په تیاره کې پروت و، د ژوند تنابونه د طبیعت پر موګي تړل شوي وو. د پرانیستلو چل یې د چا نه وه زده.

ملا به پر منبر درګرده چیغې وهلې چې جنت دی او دوزخ دی، نور په څه نه پوهېده، چې جنت چیرته دی؟ او دورخ چیرته دی؟ چا هم د دې واک نه لاره چې ملا نه وپوښتي چې د ولس د ژوند تنابونه د طبیعیت له موګي نه څرنګه پرانیستلی شي؟ او ولس ته د نړۍ والو مناسباتو په چوکاټ کې څرنګه د ژوند د پایښت لپاره د کار زمینې برابرولی شي؟ په بل اړخ کې چې یو شمېر ښاغلي د ځینو کدري کمونستانو په ګډون د هېواد او د هېوادوالو د غم په ټال کې ځنګېدل، د دې سوچ لېونیان کړي وو، چې اورمرو باید یوه لیاره غوره شي،، څو د هېواد او هېوادوالو په واکمن سیاسي چال چلند کې بدلون رامینځ ته شي. هماغه وو چې کمونستان مخته شول او د ثور د کودتا له لارې یې چې په پوځ کې بري ته ورساوه، د شهید داود خان جمهوري نظام یې ړنګ کړ. په دې کودتا کې داود خان د خپلې کورنۍ سره ووژل شو او کمونستان د ملګري حفیظ الله (امین) په مرسته واک ته ورسېدل. دا چې

کمونستان هغه هم د مسکو لارویان په دوه وو ډلو ویشل شوي وو، چې یو یې (خلق) نومېده او بل یې (پرچم). د خلق د ډلې په مشرۍ کې ملګری نورمحمد (تره کی) او د پرچم د ډلې په مشرۍ کې رفیق ببرک (کارمل) ولاړ وو. دا چې کودتا د ملګري حفیظ الله امین په سروالۍ رامنځ ته شوې او ملګري (امین) د خلق په ډلې پورې شمېرل کېده، چې په سر کې یې ملګری نورمحمد (تره کی) ولاړ وو. دغه جلا والي او بل د امین او کارمل ترمنځ د واک پر سر د سیالۍ هڅې د دښمنۍ تر کچې رسولې وې. نو د لومړي سر نه داسې اټکل کېدله چې د دې دوه وو تنو د نارواوو سیالیو له لامله هېواد او هېوادوال به ډېرو سترو غمیزو سره مخامخ شي، چې هماغسې هم وشول. هغوی د لومړۍ ورځې نه د کدرونو د ځای پر ځای کولو او د واک د مهمو څوکیو د لاسته راوړلو پر سر په نانډرو شول. دا خو د کمونستانو د لومړي سر نه د واک پر سر جګړه وه، چې راونښتله. وروسته وروسته دغه جګړه توده شوله او لمبو یې د کابل ښار لا څه چې ټول هېواد پر سر واخیست. دا پړاو به په همدې ځای کې پرېږدم. دا ځکه چې زه غواړم خپله خپل حال او چې څه راباندې تېر شوي دي، هغه ټول په ګوته کړم. زه د دوادخان د جمهوریت د رامنځته کېدو سره جوخت د عسکري پر خدمت بوخت شوم. دا ځکه چې په هغه مهال کې هر ځوان به مکلف و، چې د دولت د عسکرۍ خدمت ادا کړي. کله چې مې د عسکرۍ خدمت په پای کې د کورنیو چارو وزارت ته مراجعه وکړه، د دوه وو میاشتو انتظار نه وروسته د ننګرهار ولایت د اداري مدیریت د یوه کوچني مامور په توګه مقرر شوم. ننګرهار ته لا ړم، پنځه میاشتې مې په ننګرهار کې تېرې کړې، بیا د نوي کال په لومړۍ میاشت کې چې د (وري) میاشت وه، له ننګرهاره د پروان ولایت د سالنګ علاقه دارۍ د علاقه دار په توګه تبدیل شوم. په سالنګ کې مې شپږ میاشتې تېرې کړې، بیا د غزني ولایت د ښاروالۍ اړونده خانګې ته تبدیل شوم، پنځه میاشتې مې په غزني کې تېرې کړې، بیا له غزني نه کابل ته راوغوښتل شوم او د کورنیو چارو د وزارت په منتظرینو کې ونیول شوم. دوه میاشتې په منتظرینو کې وم. په دې مهال کې د لغمان والي ښاغلی محمد حسن ګردیزی د وزارت څخه د خپلو

اداري چارو د تنظیمولو په پار زما په هکله غوښتنه وکړه او وزارت هم زه يې لغمان ته د اداري چارو د تنظيم په موخه واستولم. دا نو د۱۳۵٦ کال د وري میاشت وه، زه هم لغمان ته لاړم او په لغمان کې  مې د ښاغلي والي د سماسمې څارنې لاندې خپله دنده ترسره کوله. يو کال تېر شو د ۱۳۵۷ کال د غوايي په میاشت کې جمهور رييس داود خان ووژل شو، د دولت او حکومت واک په قهر اميزه توګه د خلقو او د پرچم د ډلو لاسته ورغی. د دې پېښې له لامله په لغمان کې پر مور هم ټکه پرېوته. د لغمان والي، زه او يو څو تنه نور بنديان شوو. والي يې ننګرهار ته بوته او زه په لغمان کې بندي شوم. زه چې له سره په کوم سياسي ګوند کې نه وم او د دواد خان د جمهوريت په دوران کې هم په يوه کال کې څو ولايتونو ته تبديل شوی وم، د کمونستانو په واکمنۍ کې هم ماته کومه دنده نه راکوله کېده. د کورنيو چارو وزارت ته مې مراجعه وکړه، دغه مراجعه هم ځانله کيسه لري. هغه هم داسې: ماته د بندي کېدو نه وروسته تر خوشې کېدو پورې چې درې مياشتې تېرې شوې وي، کومه تنخوا يا معاش چې قانوني حق مې و، نه و راکړی شوی. دا په دا چې د لغمان د ولايت څخه منفک شوی وم او زما په بست کې يو بل د خلق د ګوند غړی ځای پر ځای شوی و. د کار او د معاش لپاره د کورنيو چارو وزارت ته ورغلم، بايد په دې هکله و زير ته تللی او له وزيره مې د درې مياشتو د معاش د اجرا امر اخيستی وای، يوه ورځ مې انتظار وويست. کله چې وار مې راغی، وزير ته ورسېدم. په دې مهال کې ملګری اسلم (وطنجار) د کورنيو چارو وزير و. ما ورته خپله کيسه واوروله او ومې ويل چې د کوم ګوند غړی نه يم، بندي وم خوشې شوم، قانوني معاش مې پاتې، ستاسو په امر اجرا کېدلی شي. وزير قلم راواخيست چې د اداري رييس په نامه د اجرا امر وليکي. په دې مهال کې د غزني والي ملګري (ولسي) رانوته، وزير ورته پاڅېده او ورسره په روغ بړ بوخت شو، نو ماته يې وويلې چې وځه! زه هم راووتم. دا چې کار مې ناتمامه پاتې شوی و، خواشينی وم. بله ورځ مې بيا هم د وزير لپاره وار واخيست. د ډېره انتظاره وروسته ملګري وطنجار ته ورسېدم. د تېرې ورځې کيسه مې ورته وکړه او ومې ويل چې دا دی زما غوښتن ليک او د ستاسو د قلم يوه کرښه.

وزير قلم راواخيست او غوښتل يې چې څه وليکي او په دې توګه خپل نيمګړی امر بشپړ کړي، چې د لوګر والي ملګری (آفت) رانږوته. لکه د تېرې ورځې په څېر دا ځل بيا هم ملګري وطنجار راپاڅېده او د آفت سره په روغ بړ بوخت شو او ماته يې د وتلو عسکري امر وکړ. زه هم په خواشينۍ سره د وزير له دفتره بهر راووتلم. غوښتل مې چې په زينو کې راکوز شم، په دې مهال يو په انقلابي جامو کې نغښتی عسکر زما مخې ته ودرېده او د عسکري نظام په دود سلامي شو. زه هک حيران شوم، سوچونه او چورتونه مې په غورځنګونو شول، چې دا نو بيا څه پېښه ده؟ او دا عسکر څوک دی؟ او ماته نو څله سلامي شوې؟ زه چې کوم پوځي منصبدار نه يم او بيا په دې مهال کې چې د ملکي دندې نه هم محروم يم. عسکر په خندا شو او وې ويلې: څنګه؟ ودې نه پېژندلم؟ زه خو تيمور يم، هغه تيمور چې پلار مې ستا د خوږو دوستانو څخه و، ما چې تيمور له ډېرو کلونو ورسته وليده، د عسکري په جامه کې و، هغه هم انقلابي جامې او بل دا چې ځلمی شوی و، کوم چې ما په ماشومتوب کې ليدلی و، دماشوم توب او د ځلمي توب د څېرو ترمنځ ډېر توپير وي. تيمور هم د ځلمي توب له لامله ماته بدل ښکارېده. نو ځکه په لومړي ځل مې ونه پېژانده. خو د هغه د وينا نه وروسته نور نو هر څه روښانه شوي وو. ما ورنه وپوښتل چې دلته څه کوې؟ او دا جامې؟ هغه وويل: په پلچرخي کې عسکر وم، د وطنجار سره عسکر وم، انقلاب مو بري ته ورساوه، خو اوس هم په پلچرخي کې يم، ځو ترخيص شم. نن راغلی يم چې وطنجار صاحب ووينم او دا ته راته ووايه چې دلته څنګه راغلی يې؟ ما ورته لنډه لنډه تولة کيسه وکړه. هغه زما غوښتنليک واخيست او په خپله دننه وزير ته لاړ او زما د درې مياشتو معاش امر يې واخيست او راغی. ما ته يې زما غوښتنليک راکړ، غوښتنليک مې د محاسبې لوی مدير ته يووړ. په هغه مهال کې د محاسبې لوی مدير يو بدخشی وګړی و، دغه بدخشی د اوبو او برېښنا د وزير ملګری منصور (هاشمي) چې د خلق د ګوند د مشرانو غړی و، د خور مېړه کېده. ماته يې وويلې چې راځه کېنه، تاته غواړم څه ووايم. ما ويل ښه ده مهرباني وکړه، هغه بې له سريزې په وينا شو او وويلې چې د کورنيو چارو د وزارت په بودجه

کې د دې کال لپاره د دعوتونو په فصل او باب کې ټول ټال درې سوه زره افغانۍ منظورې شوې وې، د دې پیسو څخه د ثور د میاشتې تر اومې نېټې پورې د قدیر نورستاني له خوا درې سوه افغانۍ مصرف شوې وې او نورې یې ملګري نوراحمد نور په خپل دوه میاشتنۍ وزارت موده کې ټولې ولګولې. کله چې اوسنی وزیر صاحب یعنې ملګري وطنجار راغی په بودجه کې د دعوتونو په نامه هیڅ پیسې نه وې پاتې. سره د دې هم وطنجار صاحب تر ننه پورې د بودجې له سر جمعه څخه پنځه سوه زره افغانۍ په مېلمستیاوو کې لګولې او دا دي د تېرې شپې د مېلمستیا په نامه یو شمېر اسنادونه راته راکړل شوي چې د هغه پرمخ یواځې د بیرو په نامه دېرش زره افغانۍ د مصرف سند پروت دی. اوس نو ته ووایه چې دغومره د منظور شویو فصلونو او بابونو نه وتلي مصارف له کومې بودجې نه اجرا شي؟ کوم چې د بودجې په سر جمع کې هم یوه افغانۍ نه ده پاتې. د محاسبې لوی مدیر چې د فصلونو او بابونو د بدلون واک نه لري، د محاسباتو په قانون کې د بابونو د بدلون واک د جمهور رییس په لاس کې دی. هغه هم د وزیرانو د شورا په تصویب سره کیدلی شي. د فصلونو د بدلون لارې چارې هم ځانله سیستم لري، چې هغه هم زما په واک نه دي، که زما په واک کې وی، په هغه حالت کې هم د بدلیدلو امکان نشته، دا ځکه چې په هیڅ یو فصل کې څه پیسې نه دي پاتې، چې بل فصل ته ولېږدول شي.

یو څو تنه ځانونه انقلابي انقلابي راښیي او ټول کارونه د قوانینو او مقرراتو په خلاف پرمخه بیایي. که انقلاب داسې وي، نو فکر کوم هېواد او هېوادوال به په بې قانونۍ کې هیڅ کله د نیکمر غۍ مخه ونه ویني.

د ده د دغه وینا په ځواب کې ما ورته وویل چې: وزیر یو انقلابي وزیر دی، هغه ته تېر قوانین خوشې بابیزه ښکاري، مگر په اوسني حالت کې ښه به دا وې چې دغه د فصل او باب مسئله د یو وړاندیز له لیارې په خپله وزیر ته روښانه کړې او د هغه نه لکه څنګه چې په خپله دی یې انګیري یو انقلابي سند حاصل کړه، څو په راتلونکو کې تا له مسؤولیته وژغورلی شي. نومړي وویل چې د بودجې په سر او منځ او اخیر کې یوه ټنګه هم نه ده پاتې، نو زه به دا

دومره مصارفات له کوم درکه اجرا کوم؟ دا خو څه ټوقې ټقالې نه دي، چې په یوه وړاندیز سره هغه هم د یوه انقلابي امر پر اساس هر څه ټک او پتره شي؟ ما ورته وویل: دا ټوکه یواځې پر تا نه ده راغلې، بنایي د نورو وزارتونو پر محاسبینو به هم راغلې وي، ته کولی شې د نورو وزارتونو د محاسبینو د مسوولینو سره یو ځای د دې لانجې د حل لیاره وباسې. نور نو هیله ده خپل ماغزه مه ویلې کوه او دا زما کار راخلاصوه چې ځمه! نوموړي زما د درې میاشتو تنخوا کار بشپړ کړ او زه ترې لاړم، اونۍ پوره نه وه چې د رادیو د څپو له لیارې مې واورېدل، چې نوموړی د محاسبې لوی مدیر د انقلاب د دښمن په نامه ونیول شو او د څرخي د پله په زندان کې مېلمه شو، همدغه ښاغلی مدیر مې میاشت پس د کابل په ښار کې ولیده چې له دندې گوښې شوی او په بې معاشه تقاعد محکوم گرځېدلی و.

دا وه یوه نمونه چې انقلابي نظام د فساد پر ضد پلې کوله. کله چې د فساد له لیارې د فساد پر ضد مبارزه کېږي، نتیجه به یې همداسې وي. څنگه چې په تېرو کرښو کې ورته گوته ونیوله شوه. د افغانستان د دولت او حکومت په اداري څانگو کې د کوچنیو مامورینو له خوا د (قلماني) په نامه فساد دود شوی و، خو چې کله نه د کمونستانو انقلابي نظام واک ته ورسېده، د هغوی ]مبارزه هماغسې وه چې د کورنیو چارو په وزارت کې د کورنیو چارو د وزیر له خوا د مېلمستیاگانو په نامه بې تول وترازو پیسې لگولې کېدلې یعنې دا کار یواځې د کورنیو چارو په وزارت کې نه و، بلکې په ټولو وزارتونو کې هم همدغسې انقلابي چال چلند کېده، هر چا ځان انقلابي گاڼه او دا به یې په ډاگه ویلې چې موږ انقلابیان یو او انقلابي انقلابي کارونه کوو.

د انقلابیانو انقلابي کارونه په رښتیا چې انقلابي وي. دا ځکه هغوی چې د انقلاب له لیارې د واک پر گدۍ کښېناستل ټول پخواني قوانین او مقررات ورته که څه هم عادلانه او رښتیاني وو، فاسد ښکاره کېدل، نو خوامخوا د فساد پر ضد د مبارزې بهانه خپله مثبته بڼه ورته ښودله او دوی خپل ځانونه مجبور گڼل چې د دغو قوانینو پر ضد عمل وکړي، څه شي چې په بیړه لاسته راوړل کېږي. هغه په بیړه سره له لاسه وځي، د دې متل رښتیني اړخ په رښتیا سره د

کمونستانو د کړنو هنداره ده. په دې هنداره کې هر چا ولیدل چې هغوی څه وویل؟ او بیا څه یې وکړل؟ د افغانستان په سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري بڼه کې د کمونستانو منفي اغیزې هر چا لیدلې او د هرچا په ماغزو کې کرښې پر ځای پرېښودي دي. د دوې د واکمنۍ په مهال کې ډلې ډلې افغانان له کورونو وویستل شول او په قبرونو کې ژوندي خښ شول. خو سره د دې هم د ټولنیز مقاومت له لامله د کمونستانو مرکزي زړې په افغانستان کې خپله نابودي ولیدله او بیا په ټول زور او شور سره یې پر افغانستان یرغل وکړ او په سلګونو زرو سرو پوځیانو سره افغانستان ته ورننوتل، دا چې وايي: په زور کلي نه کېږي، ربښتیا شوه. د کمونستانو د زور ملا ماته شوله او د تل لپاره په ډېرې بې شرمۍ د تاریخ کندې ته ولوېدل. نور نو په افغانستان کې د کمونستانو د واکمنۍ دوره د شلمې پېړۍ د جنایتکارانو د واکمنۍ په نامه یادېږي. په ربښتیا چې په شلمه پېړۍ کې کوم جنایات چې د کمونستانو له خوا په افغانستان کې وشوې، د تاریخ په هیڅ یوه پړاو کې چېرته نه دي شوي. د دوی د وژونکو او ورانوونکو کړنو په افغانستان کې د تېرو نظامونو اداري فساد مخ تک سپین کړ. نور نو چا د اداري فساد نوم نه اخیسته، ځکه چې هرې ادارې خپل شته والی له لاسه ورکړی و. په هیڅ یوې سیمې کې هیچا د کمونستانو د خادیستانو له ویرې په ارامه توګه په خپل کور کې خوب نه شو کولي، چا چې څه وسه لرله، ځو کومې خواته ځانونه وباسي، هغه یې په کار واچولو، ځینې ایران ته، ځینې پاکستان ته او ځینو نورو هېوادونو لکه هندوستان ته اواره شول. د اواراګانو شمېره له میلیونونو واوښتله او دغه لانجه د ملګرو ملتونو د یوې سترې لانجې په توګه لا تر اوسه پورې چې تر پنځه دېرشو کلونو اوښتې هم ده، کومه د حل لیاره نه ده میندلې. افغان اوارګان د یخنۍ او ګرمۍ، په وچه او په اوبو، لا په هیڅ یوه ځای کې خوندي نه شول. ځینې په دننه افغانستان کې د تېښتې په حال کې د شوروي بمباریو له لامله مړه شول، ځینې د ایران په سرحدونو کې دننه د ایران د سرحدي ځواکونو له خوا په بې رحمۍ توګه ووژل شول. ځینې په پاکستان کې دننه په کمپونو کې مړه شول، یو شمېر زیات د ترکیې او د یونان ترمنځه په سمندر کې او یو شمېر

نور د اندونیزیا او د استرالیا ترمنځه په سمندر کې ډوب شول، چې چا یې مړي هم نه دي ترلاسه کړي. دغه لړۍ لا هم دوام لري او هره ورځ له هرې خوا نه د ]رادیوگانو او تلویزیونونو په څپو کې د افغانانو د تلفاتو خبرونه اورېدل کېږي. د دې غمیزې د لړۍ څوکه به په همدې ځای کې پرېږدو. دا ځکه چې د تاریخ په دې غملړلي څپو کې زه هم پرمخه شوی وم. ما مخکې وویل چې زما د ز ندان د مودې د د ریو میاشتو د معاش د اجرا امر د وطنجار د یوه انقلابي ملگري عسکر په لاس راته وسپارل شو او زه د هغه امر سره د محاسبې لوی مدیر ته ورغلم، هلته د محاسبې لوی مدیر خپلو ستونزو څخه یو کتاب خبرې راته وکړې، خو په اخیر کې زما معاشونه یې اجرا کړل او ما خپلې پیسې له بانک څخه واخیستلې. کله چې مې پیسې واخیستلې، بیا مې یو لیک هم د کورنیو چارو د وزارت څخه د بغلان ولایت په نامه ترلاسه کړ، څو د هغه ولایت په مربوطاتو کې چیرته کومه دنده راته راکړله شي، کله چې ما خپل لیک د بغلان ولایت د اداري مدیریت ته وسپاره، هغو د والي په امر زه یې د پوهنې مدیریت ته وروپېژندلم. د پوهنې مدیر چې نوی راغلی و او د خلق گوند غړی و، زه یې د خوست فرنگ د ولسوالۍ د چرخ وفلک د کلي د لومړني ښوونځي د کاتب تحویلدار په دنده وگمارلم. ما ورته و ویل چې زه د بغلان ولایت په مرکز کې کور لرم، زما کورنۍ هم همدلته اوسېږي. که زه په مرکز کې ووسېږم، ماته به زما میاشتنۍ تنخوا زما کفایت وکولی شي. مگر که زه چرخ فلک ته ورشم، تر هغه ځایه پورې یو خو د موترو د تگ راتگ لپاره سړک نشته، د بلې خوا تر هغه ځایه پورې پر خره او د اسونو په پښو تلل او راتلل چې میاشتې پرې تېرېږي، ماته ډېرې ستونزې پیداکوي. تاسې کولی شئ، هغه ځای ته د همغه ځای کوم وړ څوک وگمارۍ. مگر د پوهنې مدیر ماته وویل چې ته بیروکرات یې، تاسو ته هماغسې دندې لازم گڼل کېږي. ما ورته وویل: عجیبه ده، که ته زما سوانح ولولې، ما هیچرته داسې دنده نه ده لرلې، چې د ستاسو په خبره بیروکرات ووسي. وگوره په تېرو دریو کلونو کې شپږو ولایتونو ته بدل رابدل شوی یم، چې دغه تبدلات هم زما رښتینی حال او احوال راڅرگندولی شي. خو د هغه لنډه غر خبره یوه وه، ما هم د خپلې

مجبوری له مخې ورنه وغوښتل چې زما په هکله د ولایت مقام ته واپس ولیکئ چې دی د دې مدیریت په ساحه کې د کومې دندې د ترلاسه کولو نیت نه لري. هغه هم ومنله او زه په منني سره ورنه بهر ووتم او د ښار په لوري پلي روان شوم. ښار ته لا رسېدلی نه وم، چې د پوهنې مدیریت یو مامور پر بایسکیل سور راغی او ماته یې وویل چې دا دی د پوهنې مدیر له خوا د ولایت مقام ته وړاندیز پاڼه. په دې پاڼې کې ستا د نیولو او زنداني کولو غوښتنه شوې ده. که دا ځل ونیول شې او زنداني شې، فکر نه کوم بیا به ژوندی راووځې. دا چې دغه مامور په کوم مهال کې چې زه د بغلان ولایت په اداري مدیریت کې وم او په هغه مهال کې د ولایت والي هم خدای بښلی محمد حسن خان گردیزی و، زما په مرسته مقرر شوی و، ما یې دغه خبره د وروولۍ پیرزوینه وګڼله او ومنله. دوه پښې مې خپلې وې او دوې مې نورې هم پور کړلې او په هماغه شپه کې له بغلان څخه د کابل په لوري وخوځېدم. کابل ته چې راورسېدم، بیا مې د پېښور په لوري د تېښتې هلې ځلې پیل کړلې. دوې لارې تر سترګو کېدلې. یوه پر خوست او بله پر ننګرهار. د ډېر سوچ نه وروسته د ننګرهار لاره مې غوره کړله. درې تنه ملګري شولو، جلال آباد ته راغلو، د ملګرو څخه یو تن مو چې څه غونډې له پخوا څخه د لارو نه پوهه لرله، وګمارلو چې لالپورې ته لاړ شي او د لالپورې نه د ګړو پر لارې تر ګندابه د تګ په هکله پوره پوره ځان خبر کړي. هغه لاړ لالپورې ته او بېرته راغی. د ماسپښین د لمانځه نه وروسته موږ درې واړو ملا وتړله، چې د لالپورې له لیارې به ګنداب او بیا پېښور ته ځو، هماغه وو چې د مازدیګر د لمانځه پرمهال د لالپورې پر جاله پورې وتلو او د لالپورې د کلي منځ کې د یوه روحاني شخصیت کور ته ورننوتلو. د کور مشر چې لا له پخوا څخه زموږ د پلارګنو دوست او پېژندګلو و، موږ لره یې سترې مشي وویله او په ورین تندي یې ځای راکړ. شپه مو په یوه داسې لویه کوټه کې تېره کړله چې د نوموړي او د هغه د کورنۍ غړي جمع یوه غوا د خوسکي سره چې نوې لنګه شوې وه او موږ درې تنه ټول په کې ځای شوي وو. د اسې برېښېدله چې ګني د ځمکې پرمخ لومړني انسانان یو چې لا مو د کور د تدبیر او د ژوند د تنظیم او ترتیب

په هکله څه نه دي اورېدلي او څه نه دي ليدلي. په همدې لوېې کوټې کې له تر مله تر سبا ملا اذانه پورې واوسېدلو. د سهار په خړه کې راپاڅېدلو، د کور د خاوند د مشر زوی سره له کوره راووتلو او په تياره کې د غره په لوري رهي شولو. غر د لالپورې د کلي شمال خواته پروت دی. په داسې حال کې چې د کلي په سهيلي خوا کې د نظامي پوځونو د اډو څخه چراغونه اچول کېدل او د غره ډډې تر څارنې لاندې نيولې کېدلې، خو موږ د خپل لارښود په لارښوونه پر غره وروختلو او څو چې د سهار شپږ بجې کېدلې او لمر راختلو، نور نو ازادې سمې ته رسېدلې وو، چې نه د افغانستان تر واک لاندې وه او نه د پاکستان.

په همدې ليارې مو خپلو د تګ لورې په لور هڅو ته دوام ورکړ او په لنډه توګه د ګړو، د کوتل منځ ته چې د غرونو پر څوکو غزېدلې وه، وروختلو، نور نو د سرحدي ځواکونو د رارسېدلو او پوښتنو اختنو نه بې غمه د ګنداب په لوري خپل تګ لارې ته سيده شولو. کله چې د ګړو د لوړو څوکو نه راکوز شوو، د ګنداب په سيمه کې يو دکان ته ورننوتلو، په دکان کې ښه وه چای پخېده، د دکان خاوند ته مو د څلورو تنو لپاره چای فرمايش ورکړ، د چای د څښکلو نه وروسته مو خپل تګ ته ادامه ورکړه. دا چې موږ کله هم دارنګه اوږد او له ستونزو ډک سفر نه و کړی، نو يو د سفر ستړيا او د بلې خوا د نامعلومې راتلونکې ويرې زموږ د پښو د ځواکونو وسه تر اغيز لاندې راوستې وه. په دا مهال کې چې پوره د شپې اته بجې وې، د يوه کلي منځ ته چې د اهنګرانو په نامه يادېده، رارسېدلي وو. په همدې ځای کې زموږ يو تن ملګری چې اوس لا د امريکې د واشنګټن په ښار کې اوسېږي، د لارې پر سر کېناست او وې ويلې چې ډېر ستړی شوی يم، د ستړيا سره يو ځای هم تږی او هم وږی شوی يم. زموږ لارښود په هماغلته د يوه کور ور وټکاوه، يو سپين ږيری راووت او موږ هم ورنه اوبه او څه غوندې ډوډۍ راوغوښتله، هغه برکتي انسان هم لاړ او ډېر ژر يې يو د خټو کنډولي کې اوبه او يوه ټوټه د جوارو سکړک د يوې غوټې ګوړې سره راوړل. زموږ دغه ډېر ستړي شوي ملګري ډېر ژر ژر اوبه د جوارو د ډوډۍ او ګوړې سره خپلې ګېډې ته واچولې او زياته يې کړه

چې نور يو ګام هم مخ په وړاندې نه ځي. زموږ لارښود ورته وويلې: ښه ده موږ هم د همدغې کلي جومات ته اوړو او شپه په کې پاتې کېږو. کله چې جومات ته ورغللو، د جومات په خوا کې يوه لويه خونه د مېلمستون په نامه تر سترګو شوه، د مېلمستون ور مو پرانيست، ګورو چې د خونې په يوه څنډه کې تيلې څراغ لګېدلی او يو څو تنه مېلمانه پر کټونو پراته دي. موږ هم هغوی ته ورغللو، هغوی له خپلو کټونو راپاڅېدل او د روغ بړ نه و روسته يوه تن وويلې، چې ميا صاحب د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته خپل کور ته لاړ، دا دی زه به ورشم او خبر به يې کړم. هغه لاړ چې ميا صاحب خبر کړي، ميا صاحب د جومات امام او د کلي مشر دی، چې د مېلمنو خسمانه هم ورپه غاړه ده. کله چې ميا صاحب خبر شو، وار د واره راوواته او هوجرې يا مېلمستون ته راغی. د روغ بړ او هر کلي نه وروسته يې چای هم راوړ او بيا يې وويلې چې: مېلمنو! تاسې خپل چای وڅښکئ، زه به سبا تاسې وګورم. موږ هم د چای د څښکلو نه وروسته د ستړيا له لامله هر يو په خپلو کټونو کې پرېوتلو او په خواږه خوب لاړلو. سبا څلور بجې ملا اذان وکړ، موږ هم راويښ شولو، د مخ او لاس د پرېمينځلو نه وروسته په جومات کې مو د ميا صاحب په امامت د سهار لمونځ ادا کړ. د لمانځه نه وروسته ميا صاحب هوجرې يا مېلمستون ته راغی او موږ مېلمنو سره کېناست، ډېرې خبرې لاندې باندې شوې او په دې ترخ کې ميا صاحب نه مې پوښتنه وکړه چې د برېښنا مزی د جومات د بام پر سر ځړېدلی دی، خو جومات په تياره کې پروت دی، دا ولې؟ هغه وويلې چې دا د برېښنا مزی د ذوالفقار علي (بوټو) د واک په مهال تر دې ځايه رارسول شوی او فرمان خپور شوی و، چې تر پنځو کلونو پورې ترېنه مفته ګټه واخلو. خو موږ ترېنه ګټه وانخيستله، دا ځکه چې که موږ برېښنا منلې وای، د پاکستان حکومت بيا زموږ له غرونو چې په کې هر رنګه کانونه شته، ګټه پورته کوله، چې د هغوی دغه کار زموږ د زغملو نه وتلې خبره وه. دغه يواځنی لامل دی چې موږ د هغوی د انکشافي پروژو ته لاره نه ورکوو. په دې ځواب سره نور غلی شوم، د کلي کليوالو هر چا خپله برخه چای او ډوډۍ يعنې د شودو چای او غوړه توده پخه شوې ډوډۍ مېلمستون ته راوړلې او په دې توګه ټولو په

ګډه سره د سباناري وکړ. د سهار اته بجو شاوخوا وې چې مور د میا صاحب نه د ګنداب د منډيی په لوري روان شولو، څو د هغه ځای څخه په کوم بس کې چې د پېښور په لوري ځي سواره شو او پېښور ته لاړ شو. لاره مو په دوه وو ګینټو کې پای ته ورسوله. منډيی ته و رسېدلو. بسونو د پېښور نارې وهلې، مور هم په یوه بس کې چې په خپل وار و لاړ و، ور وختلو. بس د سورلیو نه ډک شو، د ډرېور په بسم الله ویلو سره بس روان شو. د ماسپښین مهال پېښور ته راورسېدلو. په پېښور کې د بس نه په کوزېدلو سره زمور د لالپورې لاربښود نور نو په خپله لاره لاړ او مور درې تنه پاتې شوو. زمور د ډلې نه یو تن پخوا هم پېښور ته راغلی او د ښار هره کوڅه ورته اشنا وه، لومړی یې یوه حمام ته بوتلو، په حمام کې مو د سفر دوړې وڅنډلې، ځانونه مو ووینځل او جامې مو بدلې کړلې، کله چې له حمامه راووتلو، نو د افغان کالونی په لوري روان شوو. زمور ملګري چې پخوا لا راغلی او په سیمه کې اشنا و، مور یې سیده د یوه چا کره بوتلو، چې هغوی لا له پخوا

څخه زمور د پلرونو سره تربوران وو. د ژمي څو شپې او ورځې مو له هغوی سره تېرې کړلې، په دې موده کې یوه پېښه وشوه، هغه هم داسې: یو څوک چې فضل حبیب نومېده د پېښور ښار اوسېدونکی او د نېشنل ګوند غړی و، زمور د کوربه په لارښوونه زمور پوښتنې ته راغی، د خبرو اترو په ترځ کې هغه وویل چې ستاسو د اوسېدو ځای ډېر تنګ دی، ښه به داسې وي چې تاسې له دېځایه ماسره زما هوجرې ته لاړ شئ او زما په هوجرې کې واوسېږئ، زما کور لوی دی او زه د خپلې مېرمنې او دوه ماشومانو سره په کې اوسېږم. هغه هم په اونی کې څلور و رځې او نورې ورځې د خپل خسر کره ځم او هلته اوسېږم. مور هم و رسره ومنله. د (حبیب) کره ورغلو، د هغه په کور کې مو څه ستونزې لږې شوې او یو څه غوندې ورشو مو ومیندله، چې د جمعې په ورځ خپلې جامې په خپله ووینځلی شو. حبیب به کله مور سره او کله به خپل خسر کره اوسېده، زمور لاسونه هم ازاد ښکارېدل، نو له دې لامله کله کله به مو په خپله پخلی کولی شو. خو ستونزه د تریخ چای لا په خپل ځای پاتې وه. د مسافری ژوند او د بل چا وطن و، د ورځې به شاهي باغ ته ورتللو او شپه به

**بېرته افغان کالونۍ ته د شپې تېرولو لپاره راتللو. د افغان کالونۍ او د شاهي باغ ترمنځ د فقیرآباد کالونۍ پرته ده. زموږ لیاره هم پر فقیرآباد تېره شوې وه. د شاهي باغ په شمال کې د گنده ویالې په خوا کې چې فقیر آباد پروت دي، د ویالې په اړخ کې یو لوی انگړ ښکارېده، د دې انگړ په وره کې به هره ورځ څلور پنځه کلاشینکوف والا ولاړ وو. خو زموږ ورسره څه کار نه و، په دې مهال کې مو دوه تنه په عمر پاخه افغانان چې یو یې د تخار د ولایت د رستاق د ولسوالۍ اوسېدونکی وکیل سراج الحق او بل یې د تخار ولایت د ینگي قلعه د ولسوالۍ اوسېدونکی وکیل محمد عیسی (صدیقي) نومېده، په شاهي باغ کې د گرځېدلو په حال کې ولیدل. د سلام او پېژندنې په ترڅ کې وپوهېدو چې دوی دواړه د مالگې په منډیۍ کې اوسېږي. د همدې ورځې نه وروسته نور نو هره ورځ د هغوی کوټې ته ورتللو او هلته به مو د تور چای د څښکلو سره د زړه خواله هم کوله. دغه ځای ته به شهید عزیزالرحمن (الفت) او عبدالحمید (گوډیگر) هم راته. عزیزالرحمن الفت به ویل چې د اخوانیانو په هکله یې ډېر اسناد راټول کړي او هر څه یې ورته افشا کړي دي، کولی شئ ویې لولئ. ما ورته وویل چې د اخوانیانو د واکمنۍ سیمې ته راغلی یې، که دارنگه د هغوی په بدو ویلو سره لگیا و اوسې، بې مرگه به پاتې نه شې. محمد عیسی صدیقي چې اوزبک تباره و، د گلبدین حکمتیارر د نوم سره جوخت، صبغت الله مجددي ته به یې د صبغت الله (پیگن ها گنیار) په نوم کنځلې کولې. کوم چې صبغت الله مجددي له (کوپنهاگن) نه راغلی و او (کوپنهاگن) د دنمارک د هېواد پلازمېنه ده. صدیقي به د کو پنهاگن او پیگنهاگن ترمنځ توپیر نه شو کولی. هره ورځ همدا خبره به یې کوله، چې صبغت الله پیکنهاگن یار او گلبدین حکمتیار خو وکیل سراج الحق یو با ادبه او موقره شخصیت و، له بلې خوا د هغه خونه یواځې چې د مجددي سره اړیکې ښې وې، چې د گیلاني سره یې هم په ښه توگه پالل. زموږ لپاره د خوښۍ خبره دا وه چې د هغوی په کوټه کې به راټولېدلو، د زړه خواله به مو کوله. د ورځنیو پېښو او سیاسي حالاتو نه به خبرېدلو او د دې سره جوخت د تور تریخ چای په څښکلو سره به مو ځانونه د افغانستان په یاد غښتلي ساتلو. د اونۍ ورځې به په همدې توگه**

**تېرېدلې. بله بوختيا نه وه، هغه چې وايي: (د ځان درنه، د بل چا سپکه) زموږ کړه وړه په همدې توګه خپله بڼه غوره کړې وه. په دې بنډار کې دا خبره هم درنه او سپکه کېدله چې د کابل د واکمنانو او د پېښور د اخوانيانو ترمنځه به سوله وشي او کنه؟ ځکه چې په دې ورځو کې د چوک د خبرو له مخې د (تره کي) جرګه راغلې وه، د هغوی وړانديز داسې و، چې (موږ د شاهي کورنۍ وروستنی څواک هم له مينځه يوړلو، اوس نو افغانستان موږ او تاسې ته پاتې دی، راځئ چې په ګډه سره افغانستان ودان کړو). د دغو خبرو په هکله ويل کېدل چې د ۱۳۵۸کال د وري د مياشتې تر پنځلسمې نېټې پورې موده ټاکله شوې وه، چې بايد د سولې خبرې بريالۍ شي، مګر په خواشينۍ سره دغې جرګې ماتې وخوړله، خبرو نتيجه ور نه کړه، اخوانيانو د وري د مياشتې په پنځلسمه نېټه د جهاد اعلان وکړ. د جرګې د نه برياليتوب په هکله به ويل کېدل چې حکمتيار او رباني په خپل دريځ کې د کمونستانو سره تر وروستۍ سلګۍ پورې د جګړې هوډ څرګند کړ، نو ځکه جرګې څه کار ونه شو کولی. د جهاد د دې اعلان نه وروسته په کابل کې کمونستانو هم هغه ټول اخوانيان چې د ځانه سره په بند او زندان کې لرل، ووژل. د هغوی په ډله کې ځينې ډېر داسې کسان وو، چې د دنګې ځوانۍ خاوندان وو. ځينو يې ودونه کړي، د ماشومانو خاوندان او ځينو يې لا ناواده پاتې وو. هر يو يې د ولس او د وطن د ښېرازۍ په هکله د ښېلو ښېلو نظرياتو سره د کوټې کوټې ارمانونو خاوندان وو. خو د جګړې د هوډ د اعلان سره ټولو خپل سرونه وخوړل او د خپلو ارمانونو سره ژوندي تر خاورو لاندې شول، چې د مړينو لامل يې همدا دوه تنه هر يو (حکمتيار) او (رباني) ګڼل کېږي، دا ځکه چې که چېرې دغو دوه وو تنو د هېواد د عالي ګټو په پار او دا چې د جګړې د اور مخه يې له هېواده ډېره لرې نيولې او سولې ته يې غوراوی ښلی وای، دغه ټول بې ګناه ځوانان به نه تلف کېدل. مګر دغو دواړو جګړه مارو د خپلو بهرنيو مشاورينو په لمسون خپل ټېرونه په دې شعار وټکول چې د کمونستانو سره يو ځای کار نه کوو، د هغوی سره جګړه کوو، تر هغو پورې چې وروستۍ زړی يې هم له افغاسنتا نه ورک شي.**

کله چې خبره د سولې د پرښتو له لاسه ووتله او په حالاتو باندې د جګړې د دوزخ څواکونو چې څه په کابل کې او څه په پېښور کې ډنډورې غږولې، واکمن شول، نور نو د ښې ورځې هیله چې په روغې، جوړې، سولې او دوستۍ کې رامینځ ته کېږي، بې د کفن او جنازې څخه د ژوند د سیمې له ورشونه ډ پر لرې نیست او نابود شوه.

زموږ په ګډون نورو ډېرو مهاجرو افغانانو له پېښوره لا د ټول پاکستان څخه د نورو لرې لرې هېوادونو په لوري د تېښتې ملا وتړله. یوه ورځ زموږ یوه ملګري، زموږ د کور د خاوند (حبیب) سره د پنډۍ ښار ته تللی و، څو له پاکستانه د وتلو لارې چارې ولټوي، له پنډۍ نه د پېښور په لوري د بېرته راتګ په مهال د یوه بل افغان سره په بس کې یو ځای شوی و، چې هغه افغان هم په اصل کې فضل الدین نومېده او د جمعیت د ګوند په مشرانو کې دریېم کس و، دغه نوموړی زموږ د ملګري سره یو مهال د عسکرۍ د خدمت د احتیاط په د وره کې یو ځای د عسکرۍ د احتیاط دوره تېره کړې وه او د هغه مهال نه وروسته په خپلو منځونو کې د ښې پېژندګلوۍ خاوندان وو، نو د دې لامل له مخې فضل الدین زموږ ملګري ته بلنه ورکړې وه چې یوه ورځ د دوی دفتر ته لاړ شي او هلته سره ښې اوږدې خبرې وکړي. ملګري مې مانه وغوښتل چې زه هم ورسره لاړ شم او فضل الدین له نیژدې وګورم او وپېژنم. د جمعیت دفتر هم د فقیرآباد په کالونۍ کې وو، چې زموږ د تللو راتللو لیاره پرې سپره وه. په بله ورځ زه او زما ملګری چې په همدې لیارې د شاهي باغ په لوري تللو، د جمعیت د دفتر مخې ته ورسېدو، د دفتر د لوی وره په خوله کې څو تنه بدخشي کلاشینکوف والا ولاړ وو، موږ ورته وویلې چې غواړو ورور فضل الدین سره وګورو، هغوی وویلې چې په دې نامه څوک دلته نشته، زما ملګري هغوی ته وویلې، څوک چې د جمعیت د ګوند د فرهنګي چارو مسول دی، غواړو د هغه سره وګورو. ټوپک والاوو، وویلې: د فرهنګي چارو مسول ورور عبدالرحمن دی چې همدا اوس دفتر ته راغی، ورځۍ ورسره وګورئ، موږ هم انګړ ته ورننوتلو، د فرهنګي دفتر مو وموندە چې په کې هماغه فضل الدین و، خو د عبدالرحمن په نامه.

عبدالرحمن مور ته په دفتر کې د ناستې بلنه راکړه، مور هم کېناستو، بیا چای راوغوښتل شو، مور د چای پر څښکلو وو، چې یو بل څوک هم راننوت او ځان یې د سید نور الله په نامه راوپېژاند. د روغبړ نه وروسته پوه شو، چې سید نورالله عماد د هرات اوسېدونکی او د جمعیت په گوند کې د رباني نه وروسته دوهم کس دی او د سیاسي چارو دنده پر غاړه لري. د چای څښکلو په ترځ کې سید نورالله عماد وویلې چې استاد بهر ته په سفر تللی دی، مور پوښتنه وکړه چې استاد نو بیا څوک دی؟ هغه وویلې چې مور خپل مشر ورور برهان لدین رباني د استاد په نامه یادوو. د دې خبرې په پای کې په داسې حال کې چې د چایو کوم گوټ نه و پاتې، سید نورالله عماد د خپل د گوند اساسنامه راوړاندې کړله، چې ولولو. ما هم په ښه مینه سره د اساسنامې ټولې برخې ولوستلې او په پای کې مې د سید نورالله نه وپوښتل چې تاسې، خو د خپل گوند په اساسنامه کې ټول د اسلام او اسلامیت نه خبرې کړې، مگر کوم کسان چې تاسو خپل گوند کې جذب کړي، د هغوی څخه ځینې څرگندې څېرې دي، چې په افغانستان کې د کمونستانو پلویان وو. د دې پوښتنې په ځواب کې سید نورالله وویلې: تاسې پوهېږئ چې زمور گوند نوی تاسیس شوی، غړي مو د گوتو په شمار دی، مرستې نشته، اقتصادي حالت مو خواشینوونکې ښه لري، مور هڅه کوو، چې گوند ته ډېر کسان راجذب کړو، څو د شمېر له مخې زیات شو او زیاتې مرستې ترلاسه کړو، ما ورته وویلې، ښه ده کله چې تاسې په داسې شرایطو کې پراته یاست، نو مور به هم سره سوچ وکړو، چې آیا تاسې سره په گوند کې شامل شو او که څنگه؟ بیا به سره وگورو. هماغه وو چې مور دوه تنه د جمعیت د گوند د دفتر نه ووتلو، چې بیا مو سره هیڅ ونه لیدل. ځینو ته به داسې پوښتنه پیدا شي، چې اخوانیانو خو ډېر د پخوا نه په پېښور کې خپل زړي خښ کړي وو، دا د جمعیت گوند نو بیا څنگه نوی تاسیس شوی، چې غواړي هر رنگه انسانان جذب کړي، څو غړي یې زیات شي؟ د دې پوښتنې ځواب ډېر اوږد دی، خو غوره ده دلته په لنډه توگه ورته گوته ونیوله شي، خبره داسې ده: کله چې محمد دواد خان په افغانستان کې د شاهي نظام په رنگولو گام پورته کړ او بریالی شو، نو د جمهوریت په نامه یې

نوی نظام اعلام کړ.

د جمهوري نظام دبري سره جوخت ځینې مذهبي ډلې د (برهان الدین) په ګډون پاکستان ته وتښتېدل، په پاکستان کې د ذوالفقار علي بوټو له خوا چې په هغه مهال کې د پاکستان جمهور رییس یا صدراعظم و، له افغانستان څخه راتښتېدلي مذهبي ډلو ته یې ملاتړ وکړ. هغوی یې په پېښور او نورو ځایونو کې راټول او تنظیم کړل، چې په نتیجه کې دغو ډلو په لغمان او پنجشیر او ځینې نورو ځایونو کې تخریبي عملیات هم وکړل. مګر داودخان د یوه لنډ سفر په ترڅ کې چې لاهور ته وکړ او د بوټو سره یې له نیژدې خبرې وکړې، د نوموړو مذهبي ډلو د لا غښتلتیا پړاو په ټپه ودرېده. خو کله چې په کابل کې کمونستانو کودتا وکړه او د واک خاوندان شول، له افغانستان نه د مذهبي ډلې په ګډون نور ډېر غیر کمونستي وګړي هم د پاکستان په لوري وتښتېدل. په پاکستان کې لکه څنګه چې د پاکستان د جوړېدلو موخه وه، د تښتېدلیو وګړو د راټولولو او په یوه جبهه کې دتنظیمولو پړاو ایجاب کاوه چې یو واحد مرکزیت رامینځ ته شي او د دې مرکزیت په سروالۍ کې هم لکه څنګه چې ویل کېدل، پخوانی پادشاه محمد ظاهر خان ودرول شي، خو د ظاهر شاه د راتګ سره ښاغلي ګلبدین حکمتیار موافق نه و، له دې لامله حکمتیار تر ټولو لومړی یې د اسلامي ډلو د ګوند مرکز د یوې کودتایي عمل له لیارې اشغال کړ. د ګوند ټوله شتمني یې په خپل لاس کې ونیوله، له مرکزیت نه یې صبغت الله مجددي، مولوي محمد نبي محمدي، برهان الدین رباني او نور هغوی چې ځانونه مشران ګڼل، بهر وغورځول. دغه لامل و، چې هغوی د رباني په ګډون هر یو ځانله بېل بېل تنظیمونه جوړ کړل، چې په هغوی کې هم پرته د حکمتیار د تنظیم نه ښایي کټ مټ هماغه شرایط پلي شوي وي، کوم چې د جمعیت په تنظیم کې د مرستو د لاسته راوړلو په موخه د غړیو د شمېر د ډېرولو په پلان کار او عمل کېده. په کومه موده کې چې موږ په پېښور کې اوسېدلو، د هغه په هکله مې لکه څنګه چې په پورتنیو کرښو کې ورته اشاره وکړه.

په افغان کالونۍ کې او د فضل حبیب په کور کې اوسېدلو. د همدې فضل

حبيب د تره زوی چې کمال نومېده، د پاکستان د استخباراتي شبکې غړی و، چې خپله دنده يې د پېښور په ښار کې پرمخ بېوله. هغه چې د پيپلز د گوند غړی و، کله کله به د جمعې په شپو زموږ د ليدلو په پار موږ ته راته. په همدې مهال کې چې د پاکستان د مارشلايي حکومت له خوا د پيپلز د گوند موسس او مشر ذوالفقار علي بوټو په زندان کې ساتل کېده او د مارشلا له خوا چې په سر کې يې جنرال ضياء الحق و، پر بوټو د اعدام پرېکړه هم خپره شوې وه. کمال به ويلې: که چيرې بوټو اعدام شي، موږ به ټول پاکستان ته اور واچوو. دا خو د هغه د پاکستان لپاره ويناوې وې، خو د افغانستان په هکله يې نور څه ويلې. هغه به ويلې چې زموږ په دفترونو کې د انگرېزانو د زمانې کتابونه او اسناد شته دي، د هغوی له مخې انگرېزانو د افغانستان د کنټرول او ساتنې لپاره درې کورنۍ روزلې او په واک کې \ساتلې وې، چې شاهي کورنۍ، حضرتان او پيران يعنې گيلاني کورنۍ دي. د دغو کورنيو پلرونه او نيکونه د انگرېزانو څخه مواجب او معاش اخيستي او په مقابل کې يې د انگرېزانو په گټه

گټوره خدمات عرضه کړي دي. د دوی د ماشومانو په نامه هم د اسنادو پر مخ معاشونه تاديه کېدلې. زه کومه غلطه خبره نه کوم، په کتابونو کې د دغو کورنيو د مشرانو فوټوگان يعنې عکسونه يې هم شته، چې د هماغو پخوانيو چوپړونو پر مخ نن هم انگرېزان غواړي افغانستان پر همدغو دريو کورنيو وساتي. انگرېزان به په افغانستان کې جگړه تر هغه مهاله اوږده او توده وساتي، تر څو چې دغه درې کورنۍ بيا په افغانستان کې ميشت او واکمن شي.

په دې دليل نن د پاکستان د حکومت د باور وړ شخصيت يواځې حضرت صبغت الله مجددي دی. دا نور کوم څوک چې د حکمتيار او رباني وغيره نومونو په نامه راغلي او غواړي انگرېزانو ته خپل چوپړ وښيي، دوی نوي راغلي او د ازميښت له بټۍ څخه نه دي راوتلي، نو له دې لامله پر دوی کوم باور او اعتماد نه شي کېدلی. څه باور او اعتماد چې دی ټول پر حضرت صبغت الله مجددي شوی دی.

دا وې د کمال خبرې، په رښتيا چې د کمال خبرې د هغه مهال نه تر دې دمه چې دا څو کرښې ليکم، خپلې د کمال ېبرې وښلې، يعنې د افغانستان په

جګړه کې هرې خواوې هغسې خوځېدلې، کوم چې د بهرنیانو لارښوونې وې، په افغانستان کې د خلکو د ګوند په واکمنۍ کې چې د (تره کي) او (امین) په سروالۍ رامنځ ته شوې وې او بیا د پرچم د ډلې په واکمنۍ کې چې د ببرک کارمل په سروالۍ کې د شوروي اتحاد د پوځونو په سماسمه یرغل سره رامنځ ته شو، د افغان د ولس د وژلو پلانونه یو په بل پسې په ډېرې بې رحمۍ توګه پلي کېدلې. د بلې خوا نه په نامه د مجاهدینو په شومو پلانونو کې هم د افغان ولس د هغو سپېڅلو کسانو په وژنه کې دریغ ونه شو، کوم چې د خپل هېواد او د خپل ولس د ښېګڼو په ملاتړ دریځ لاره. یو به د شوروي اتحاد د بمبارد الوتکو په وسیله خپله خاوره او خپل ولس بمباردولو، بل به د امریکايي، روسي، چینايي انګرېزي او نورو هېوادونو په وژونکو وسلو سره د خپل هېواد وګړي بې دریغه وژل او عمراني تاسیسات به یې ړنګول. د هېواد وسله والو قوتونو دنده دا وه چې د بهرنیانو پر ځای د خپل هېواد وګړو سره په جګړه بوخته شي او همدارنګه په نامه مجاهدینو قوتونو هم ډېره موده په خپل منځي جګړو اخته کېدل، هغوی به خال خال د روسي قواوو پر ضد ډزې کولې، خو د خپل هېواد وګړي به یې د کمونیست په تور، په بې رحمانه توګه وژل. خبره دې ځای ته رسېدلې وه، چې په افغانستان کې یو خوا د وارسا د قوتونو او بله خوا د ناټو د قوتونو له خوا د جګړه ایزو وسلو د ازمایلو ډګر پرانستل شو. هرې ډلې او هر یو نظامي پیمان خپلې جګړه ایزې وسلې وازمایلې. په دې ازمایشي جګړو کې چې څومره افغانان ووژل شول، څومره معیوب او څومره له هېواده بهرنیو هېوادونو ته اوراه شول، چا یې شمېره وانه خیستله. د وژل شویو انسانانو شمېره که له میلیونو او د معیوب شویو انسانانو که له سلګونو زرو واوښتله، چا ته څه؟ دا خو د افغان ولس مصیبت دی، چې باید په خپله یې وګالي. د جګړې د دغې مصیبت د زغملو سره جوخت پر افغان ولس یو بل مصیبت هم ور بار شو، هغه دا چې: د افغانستان د جګړې په نتیجه کې د وارسا د پیمان او د شوروي اتحاد د ړنګېدو سره جوخت په روسیه کې د روسیې د فدراتیف جمهوریت په نامه د شوروي اتحاد ځای ناستی رامنځ ته شو. د روسیې دغې واکمنۍ د ناټو او امریکا دمتحده ایالاتو سره په همغږۍ دې ته سیاسي لارې

**چارې ورغولې. څو په افغانستان کې د یو انقلابي اسلامي نظام د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي. په دې لیاره کې د ایران شیعه اسلامي جمهوریت او د پاکستان په نامه اسلامي جمهوریت هر یو په خپل وار سره، څه د دوستۍ او څه د دښمنۍ په چم د روسیې او امریکې سره ډېره زیاته مرسته وکړه. دغه لاس په لاسه مرستې وې چې په پاکستان کې اوه جهادي تنظیمونه او په ایران کې اته شیعه تنظیمونه یې یو د بل غاړې ته واچول. یو یې د بل سره وجنګول. دېته یې پرې نښودل چې دغه ډلې ټپلې په یووالي سره په افغانستان کې د مضبوطه ستر سپېڅلي اسلامي نظام بنسټ کېږدي، لومړی یې د جمعیت په تن کې د پنجشیر قوماندان احمدشاه مسعود د نظار د شورا د آمر په توګه رامنځ ته کړ. د نظار محتویات هر چاته څرګند دي، چې په هغوی کې په سیاسي لید لوري ځینې ستمي اخوانیان، ځینې شعلیان او ځینې پرچمیان راټول شوي وو او په قومي اړخ کې له لږکیو ټبرونو لکه تاجک، ازبک او هزاره وو څخه وو. د دې شورا بنسټ د ر وسانو له خوا جوړ شوی او ټولې نظامي، اقتصادي او سیاسي مرستې هم د روسیې له خوا په سماسمه توګه ورته رسول کېدل. روسیې او امریکې داسې انګېرلې وه چې که چیرې د پېښور جهادي تنظیمونه دځینو په ایران کې جوړو شویو شیعه ډلو سره یو ځای د کابل په لوري خپل اسلامي غورځنګ راورسوي، لومړی به د هغوی مخه د احمد شاه مسعود له خوا ونیوله شي، که چیرې مسعود پاتې راغی، نو بل به کوم دېوال وي چې دغې موخې ته په کار راشي؟**

**د دې سوچ له مخې هماغه وو چې د روسې او امریکې له خوا یو بل دېوال د عبدالرشید دوستم په نامه رامنځ ته شو، عبدالرشید دوستم چې د ډېرې ناوړې سابقې خاوند و، مسلح شو او د نجیب پر ضد وکارول شو، دا چې د دغو کسانو ټول کړه وړه یواځې په ژبه اسلامي وي، خو په عمل کې هر یو د اسلامي شریعت د احکامو نه دومره لرې واټن لاره، لکه زه چې همدا اوس له افغانستان نه ډېر لرې په اروپا کې پروت یم.**

**دغې توطیې د ملګرو ملتونو د سولې پلان شنډ کړ، د مجاهدینو د تنظیمونو په منځ کې بېلوالی او دښمنۍ وغورځوله او وغزوله. دغه بېلوالی او دښمني د**

جهادي تنظیمونو په هغې ډلې کې په څرګنده توګه روښانه ښکارېده، چې مسکو ته د روسیې مقاماتو سره د خبرو لپاره استوله شوې وه. نور نو پلان د لمر په شان روښانه وو، چې د روسیې واکمنانو په افغانستان کې د خپلو کمونستانو د ځینو ډلو په ګډون د مجاهدینو په نامه اسلامي جمهوریت بنسټ کېښودل شي. په دې جمهوریت کې به واک په نامه د احمدشاه مسعود وي، خو رښتینی واک به د پخوا په څېر د پرچم د ډلې تر کنټرول لاندې پاتې شي، کوم چې راتلونکو پېښو وښودله. احمدشاه مسعود د دوستم، علومي، عظیمي، مزدک، کاویاني، بریالي او ځینو نورو پرچمیانو په مرسته د خپلو قواوو سره کابل ته راننوته. د دې ورځې نه وروسته د کابل پېښو بل رنګ واخیست، پېښو یو په بل پسې خپل رنګ ورکړ. یعنې لومړی خو په پېښور کې د جهادي تنظیمونو ترمنځه د واک پر سر جوړه نه راتلله. رباني به د تاجکو په نامه په سلو کې پنځوس حق غوښته، هزاره ګانو به د محسنی او فاضلي په مشرۍ په سلو کې پنځه ویشت حق غوښته او همدارنګه د د وستم استازي به د ازبکو په نامه په سلو کې پنځه ویشت حق غوښتلو، چې په دې توګه د پښتنو په نامه حکمتیار ته هیڅ نه پاتې کېدل. د عربانو په نامه د مجددي او ګیلاني لپاره خو هډو هیڅ سوال نه رامنځ ته کېده، یعنې د افغانستان بدن د یوې ښکار شوې هوسۍ ته ورته والی لرلو، چې د حقیقي ښکاري پر ځای د مردار خورو ټپوسانو پرې تالان جوړ کړی وی. نړۍ والو ځواکونو چې پر سر کې یې د امریکې متحده ایالات او د روسیې فدراتیف جمهوریت قرار درلود. په افغانستان کې جهادي تنظیمونو ته د دې فرصت ورنه کړ، لکه څنګه چې د جهاد په نامه د ویاړونو مدعیان وو، په سیاسي اړخ کې هم د یوه متحد او غښتلي نظام په جوړولو کې د ویاړونو خاوندان شي، لکه څنګه چې په ژنیو کې د افغانستان لپاره په خبرو کې د جهادي تنظیمونو د استازیو لپاره لاره وتړل شوه او د سولې خبرې یې یواځې د کابل او اسلام اباد د استازیو ترمنځه رواني وساتلې. په هماغه توګه یې د سیاسي واکمنۍ پر ګدۍ باندې هم د جهادي تنظیمونو واک د اختلافونو له لامله نیست او نابود کړ. یعنې بیا هم پاکستان ته مشروعیت ورکړ شو، چې کابل ته یو ګوډاګی واکمن وټاکي. هماغه

وو، چې د پاکستان د صدراعظم نوازشریف له لوري د لومړیو دوه وو میاشتو لپاره صبغت الله مجددي، د جمهور رییس په توګه او ورپسې برهان الدین رباني د څلورو میاشتو لپاره د جمهور رییس په نامه وګمارل شول. یعنې لکه څنګه چې وایي: پاکستان په یوه ګذار دوه پختکۍ وویشتلې. دوه تنه د لړګیو قومونو څخه د سروالانو په نامه د واک پر ګدۍ کېنول او په دې توګه یې په سماسمه توګه د سیاسي کړکیچ د پراخولو سره یو ځای د جهادي تنظیمونو یو غښتلی او د ویاړه ډک ځواک یې په خپل منځي جګړو کې لتاړ کړ، څو کوم غښتلی امنیتي ځواک چې د شوروي اتحاد په مرسته په افغانستان کې جوړ شوی او پر خپلو پښو ودرول شوی و، تیت او پرک، نیست او نابود کړي، چې همداسې هم وشول. د مجددي په دوه میاشتني جمهوري ریاست کې اردو، پولیس او امنیتي ځواکونه چې څه لا هم شته والی لاره لا پسې وشړېدل، کله چې رباني د واک پر ګدۍ کېناسته، دا مهال نور نو د افغانستان د څو پېړیو جوړ شوي امنیتي ځواک خپل شته والی له بنسټه له لاسه ورکړ. د کابل ښار د کوڅه ډبو واکمنیو په جال کې داسې راګیر شو، چې هیڅا ته د سر او مال خوندیتوب پاتې نه شو. پوښتنه دلته دا ده چې د پاکستان له خوا افغانستان ته په کوم دلیل د دوه وو او د څلورو میاشتو لپاره موقتي مشران ونومول شول؟ ځواب هماغه دی چې په پورتنیو کرښو کې ورته ګوته ونیوله شوه. په نامه د جهادي تنظیمونو هلې ځلې هر یو یې ځان ته د عادلانه حق نه زیات واک غوښتلو، د واک پر سر د جګړې لاملونه وځېږول او راستر یې کړل. هیڅ یوه تنظیم به نه ویلې چې ګني دی به پاوی وی، هر یو ځان من من ګاڼه، خو هیڅ یوه دا نه منله چې هر من له پاویو، یعنې له کوچنیو وزنونو جوړېږي او هر کوچنی وزن د من په منوالي کې پوره اغیزه لري. مګر هیڅ کوچني وزن نه شي کولې د من سره ځان وتلي او برابر وګڼي. دې خبرې ته چا نه کتلې، لکه څنګه چې مجددي د تنظیمونو په منځ کې یو کوچنی وزن و، په هماغه توګه رباني هم د من په وزن دروندوالی نه لرلو. دغو وړو وړو وزنونو د عدالت په تله کې ځانونه سپک ګڼل. نو له دې لامله د بهرنیو اغیزمنو ځواکونو سره د سر خوځولو او د من وزن ته د ځان رسولو په هڅه کې لا د پخوا څخه ښکېل

وو. وګورئ کله چې د ډاکټر نجیب په مهال د سولې د خبرو لپاره له کابل څخه یعقوبي، کاوياني او مزدک د المان اتحادي جمهوریت ته راتلل، په هماغه مهال به له پېښوره مجددي، ګیلاني او رباني یو ځای المان ته راتلل، دا چې دغو دوه وو ډلګه ګیو په المان کې د سولې پر سر یا د واک د لېږد پر سر چیرته او د چا په کور کې سره خبرې کولې؟ ځانله بحث دی. مګر د دې دواړو د سفر موخه ښکاروي چې په افغانستان کې د ډاکټر نجیب نه وروسته نور به ډېرکي ولس د من په نامه په واک کې نه وي، داسې هلې ځلې کېدلې چې کوچني وزنونه راټول کړي او له هغوی څخه یو څوک د من د و زن په نامه د واک پر ګدی کېنوي، چې همداسې هم وشول، هغه د پیشو او مږک کیسه شوه، هیڅ یوه مږک دغه وسه نه لرله چې د پیشو په غاړه کې غړوندي واچوي، په همدغه توګه په افغاسنتان کې هم د لږکیو کوچني کوچني وزنونو څخه هم من جوړ نه شو، دا ځکه چې هر یوه ځان من ګاڼه او هیڅ یوه هم په خپل رښتیني وزن قانع نه وو. درګرده برابر حق غوښتنه او د دې غوښتنې لپاره هم د دیموکراسۍ له نامه څخه ناوړه ګټه پورته کول وو، کوم چې دیموکراسي د من واکمنۍ پر پاویو باندې یو روا او نه ماتېدونکی دود ګڼي.

داسې ناروا غوښتنې وې چې په پېښور کې د کابینې د وزیرانو پر سر جوړجاړی نه راته، څو په پای کې د سعودي عربستان، د ایران او د پاکستان د واکمنو کړیو له خوا مجددي د دوه میاشتو او رباني د څلورو میاشتو لپاره د واک د ګدی پر سر د ناستې جوګه وګڼل شول، چې په حقیقت کې یو ستر مجاهد ولس ته سپکاوي نه پرته بل څه نه وو، و ايي: د غرض خاوند لېونی وي، د دغو لېونیانو خپل هېواد او خپل ولس ته د خپلو شومو اغراضو پر مخ د کور دېوال بنسټ کېښود. دا چې بنسټ کوږ و، دېوال تر سره ونه رسېده. د مجددي او د رباني په سروالۍ چې کوم د جهادي تنظیمونو په نامه د اسلامي جمهوریت بنسټ کېښودل شو، د لومړي سر نه کوږ او ووړ، اومه، خام او خټول راوخاته. کور په کور جګړې یې راوپارولې، د کابل ښار یې کنډواله کنډواله کړ، داسې یې ویجاړ کړ، چې ته به وایې بیا چنګیز راغلی او د بلخ ښار یې له بنسټه نړولی دی. د دغې اومه او کوږ بنسټ لپاره انګرېزانو ډېرې خولې

تويې کړلی، د خپل نامتو ژورنالیست په مرسته کله چې، احمدشاه مسعود یې له پنجشیره د کابل ښار ته په چورلکه کې رالېږداوه، لا له چورلکې نه یې هم نارې وهلې چې په افغانستان کې د ډېرکي ټبر د واکمنۍ وار تېر شو، اوس د لږکيو وار دی. د لږکيو د واکمنۍ کومه غوره څېره چې وه، هغه یې په چورلکه کې کېنولې او دا دی کابل ته یې بیایي. د لږکيو ډلې چې له پاویو او نیم پاویو څخه د من په نامه جوړېدل، د عدالت په تله کې د وزن له مخې د ډېرکي د من والي ځای ونه شو نیولی. دغه لامل او دا چې د اسلام د دین د مومن بها د درېیم رکن یعنې د (انفاق) د حکم سره روغه نه لرله او لا له پخوا څخه د شیطاني وسوسو ښکار شوي وو، په کابل کې د ننوتلو سره جوخت پر هغو نادودو ورسر شول، چې پخوا لا په کومه سیمه کې چا نه وو لیدلي. یعنې د نوې واکمنۍ سروالان کوم چې د کمونستي په ډلو پورې تړاو درلود، هغوی خو په ظاهره (انفاق) منلی وو، مګر ایمان پر غیب او د لمونځ رکنونه یې نه منل او هغوی چې په جهادي ډلو پورې نښتي وو، ایمان پر غیب او د لمونځ پر رکنونو ښه ټینګ نښتي وو، مګر د (انفاق) رکن ته یې شا اړولې وه، هیڅ یوه یې دغه رکن ته وفاداري ونه ښودله، هغوی لومړۍ ورځې نه چې د بهرنیو هېوادونو د جاسوسۍ شبکو په لومو کې لتاړ شوي وو، د (انفاق) د رکنه څخه یې څه وقوف نه لاره او نه هم چا هغوی ته له (انفاق) څخه څه ورښودلي وو، څه چې پرې ډېر زیات ټینګار کېده، هغه خو ایمان پر غیب او لمونځ و، چې باید وخت ناوخته پرې لګیا شوي وای. د مهاجرینو په نامه چې له بهره څومره مرستې رابهېدلې د هغه نه څه د کوربه واکمنیو کړیو او څه به د جهادي تنظیمونو سرواله کړیو غلا کول. څو په خپلو حسابونو کې چې د بهرنیو هېوادونو په بانکونو کې یې لرل، ورزېرمه کړي، چا چې خر نه درلود، هغه د لوکس موټر خاوند شو، چا چې کنډر نه درلود، هغه د ښکلې بنګلې څښتن شو، چا چې افغانۍ نه پېژندلې، هغوی د ډالرو او پونډونو مالکان شول، چا چې په خپل هېواد کې د کابل ښار نه وو لیدل، هغوی د لندن، پاریس او واشنګټن د ښارونو سیلانیان شول.

په دې توګه په خوله به یې د خدای نوم اخیسته، خو په عمل کې به یې هغه

څه کول، چې شیطان به ورته ویل، همدغه په ظاهره رحماني او په باطن کې شیطاني څېرې په ډالرو او پونډونو داسې وپړسېدل، ته به وایې چې کټ مټ چا په باد پړسولي دي. انسان د انسان سره د روغ او د غل کولی شي، لکه چې دغو شیطاني څېرو وښودله، خو هیڅوک له خپله خدایه سره په غلطه څه نه شي پرمخ بېولی، وګورئ پاکستان ته له افغانستانه په میلیونونو افغانان مهاجر شول، هر مهاجر په دښتو او بیدیاوو کې شپې سبا کولې، چا د لمر او باران، چا د سړو او تودو څخه د ژغورنې په پار کومه څپره یا کېږدۍ نه لرله، د بهرنیو هېوادونو له خوا چې د دغو مهاجرینو په نامه په سلګونه میلیونه ډالره مرستې وبهېدلې، د دغو مرستو څخه ډېره لږه برخه هغه هم هغو مهاجرینو ته ورسېدلې، چې د تنظیمونو د واکمنیو کړیو سره یې څه ناڅه خپلوي، دوستي یا پېژندګلوي لرله، نور نو ټول د دوی او د دوی د پاکستاني واکمنیو کړیو جیبونو ته تویې شول. دا رنګه د رڼا ورځې غلا د تنظیمونو د واکمنۍ کړیو د هر غړي څخه په سیمه کې د زمانې لوی شتمن وګرځاوه، خو په خوا کې یې ډېر داسې مهاجرین د سر د سیوري د نه لرلو له لامله او همدارنګه د ولږې او تندې له زوره مړه شول، چې د دغو شیطاني کړیو سره یې خپلوۍ یا لږ تر لږه پېژندګلوي نه لرله، هغه ټولې هدیرې چې د کمپونو د مهاجرینو د مړیو څخه ډکې شوې دي، د دغو نادودو څرګندې بېلګې ګڼلی کېږي، خو سره د دغو ټولو نارواوو، د تنظیمونو واکمنو کړیو یوه بله ناروا هم ودودوله، هغه دا چې د اسلام په نامه یې هغو نجونې اومېړوخه مېرمنې چې یې د افغاسنتان په دننه کې د کوم غافل ګیره حملې له لیارې یې نیولې، د جنګي اسیرانو په نامه به یې څه د پاکستان په بازارانو کې پلورل او څه به یې په خپلو کورونو کې د وینځو په نامه ښکېلولې او په دې توګه د اسلام د دین هغه ستر مرام چې انسانیت ته د انسان د ازادۍ او شرافت پیغام و، یو ځل بیا تر پښو لاندې کړ. یعني: د مریي او د بادار رسم او رواج یې بیا راژوندی کړ. په داسې حال کې چې دغه نجونې او مېروخه مېرمنې ټولې مسلمانې او د هغوی کورنۍ هم د نیکونو څخه را په دې ښخوا مسلمانان وو. مګر ځینو د جهادي تنظیمونو واکمنه کړیو په خپلو دغو ننګینو عملونو سره وښودله چې دوی د اسلام د دین د عالي

مفاهیمو څخه چې انسانیت ته ازادي ببني، څه پوهه نه لرله، څه چې هغوی غواړي، په عمل کې پلي کړي، هغه کټ مټ د شیطاني کړیو غوښتنې وې، چې تر اوسه پورې زموږ په هېواد کې په پرله پسې توګه کله په یو رنګ او کله په بل رنګ سره سر له جیبه راوباسي او ځان ټولنې او نړۍ ته ښکاره کوي. د دې ننګین عمل پر ضد په هماغه مهال کې په پېښور کې د ځینو پېښوري سیاستوالو رسمي احتجاجونه راپورته شوي وو، چې د مهال جمهور رییس غلام اسحاق خان په نامه استول کېدل، لکه چې بیا په همدې تور د عربو د ډلې عبدالله عزام او د افغانانو د ډلې مولوي جمیل الرحمن هم ترور شول، څو د داسې ننګین اعمالو مخ نیوی وشي. باید ووایو، په دې مهال کې د کمونستانو او جهادي ډلوترمنځه جګړه خپله انساني څېره د لاسه ورکړې وه، نور نو هغه څه کېدل چې په ځنګل کې د وحشي ژویو له خوا رامنځ ته کېدلی شي. په دې توګه په شلمه پېړۍ کې په افغانستان کې چې کوم جنایات پېښ شول، ښايي د تاریخ په کوم بل پړاو کې نه وي پېښ شوي. د دغو نادودو جنایاتو یوه بېلګه هم د کابل ښار دی چې جهادي ډلو ټېلو او کمونستي عواملو په ګډه سره په کابل کې مرتکب شول، یعنې کوم جنایات چې د مجددي او رباني په مهال کې په کابل کې وشول، په هغو ټولو کې کمونستان او ځینې جهادي ډلې په سماسمه توګه لاس لري او پړه دي.

دا ځکه چې په دې مهال کې چې د کابل د حکومتي قواوو له خوا کوم بم غورځېده یا راکټ توغېده، هغه به اورمرو د کمونیستي ځواکونو پر لاسونو توغېدلي چې په دولتي قواوو کې ځای پر ځای شوي وو. همدارنګه کوم راکټ یا کومه ګولۍ چې د هغوی پر ضد د جهادي کومې ډلې له خوا راتلله، په هغه کې به هم کمونیستي څېرو لاس درلوده. د مثال په توګه د مجددي او رباني په مهال کې د عظیمي، دلاور، دوستم او ځینو نورو مشهورو پرچمي څېرو شته والی دی، چې د د ولتي قواوو رنګ بدرنګولی شي. همدارنګه په مقابل لوري کې د شهنواز تني خلقي څېرې شته والی هم د بېلګې په توګه یادولی شو. دغه لاملونه او داسې نور عوامل سبب شول چې په کابل ښار کې جګړې خپله انساني څېره وبايلله او ښار په وحشيانه توګه ړنګ او کنډ کپر شو.

هغه چې د امریکې متحده ایالاتو او د شوروي اتحاد ترمنځه د روغې او سولې مفهوم چې سړه جګړه نه چا ګټلې او نه چا بایللې، په کابل کې یې خپله بڼه په څرګنده توګه وښودله.

نه کمونستان هغه بدنامه کمونستان پاتې شول اونه مجاهدین هغه نېکنامه مجاهدین. په دې توګه د دواړو ډلو کچه یوه برابره وختله. نور نو احمدشاه مسعود خپله څېره بایلودې وه او د هغه پر ځای دا ډاکټر نجیب و، چې د کابل د ښار د وګړو لپاره یې د ستر ژغورونکي څېره خپله کړې وه. د کابل جګړه کې چې څه وشول، هغه ښايي د سړې جګړې د پای ټکی وي، چې په نه (بري) او نه (ماتې) پای ته ورسېدله. مګر چا چې تاوان وکړ، هغه خو یواځې افغانان دي، چې کلي، کورونه او ښارونه یې ړنګ شول، په میلیونه اواره، په سلګونه زره معیوب او په میلیونونه ووژل شول، چې دا لړۍ لا هم په غځېدلو ده، هغه چې د سولې نارې وهي، د جګړې اور تازه کوي او هغه چې د جګړې جګړې نارې وهي، په څرګنده توګه د بهرنیو دښمنو کړیو د واکمنۍ موده په افغانستان کې اوږدوي. دغه خبره څه پټه نه ده، هر څوک یې په خپلو سترګو لیدلی او په خپلو غوږونو اورېدلی شي. هغه دا چې: د رباني واکمنۍ پر روسیې، ایراني، تاجیکي، اوزبکي او ځینو اروپایي هېوادونو په سر کې د امریکې متحده ایالاتو په مرستو تکیه و هلې وه، خو په داخلي پړاو کې ډېر زیات د ایران پر نظامي مرستو متکي شوي وو. مګر د دوي پر ضد د حکمتیار جګړه بیا د پاکستان او ځینو عربي هېوادونو پر مرستو پرمخ بېوله کېدله. په لومړي پړاو کې د عربو د القاعدې ډلې مرسته د رباني د ډلې سره وه، خو کله چې رباني په کابل کې د ثبات او امنیت د ټینګولو نه پاتې راغی، نور نو القاعده هم ورسره پاتې نه شوله. له بله لوري د کابل د جګړې د پای ته رسولو په نامه چې کومې کورنۍ او بهرنۍ هلې ځلې راروانې وې، په دې هلو ځلو کې د رباني او حکمتیار له خوا په دې ټکي هوکې راغله چې نه رباني او نه حکمتیار، بلکې د جهادي څېرو څخه کومه بله ډله چې د کابل په جګړو کې ښکېل نه وي، رامنځ ته شي، هماغه وو چې د طالبانو په نامه یوه بله ډله، هغه هم د کویټې او د کندهار د لیارې د امنیت د ټینګولو په نامه رامینځ ته شوه، دغې ډلې ته په

لومړیو کې د رباني له خوا د ژغورونکو پرښتو نوم ورکړل شو او په دې نامه رباني خپله واکمنی په کندهار او غزني کې هم په رسمي توګه د طالبانو غورځنګ ته وسپارله. په داسې حال کې چې د حکمتیار ځواکونو لا تر میدان ښاره پورې د طالبانو پر ضد په جګړه بوخت وو.
کله چې د حکمتیار قوماندان تورن امان الله له جګړې نه پرته طالبانو ته میدان ښار وسپارلو، احمدشاه مسعود هم له کابل نه په چورلکه کې میدان ښار ته راغی او د طالبانو سره یې جلا تړون لاسلیک کړ. ویل کېږي چې په دې تړون کې راغلي وو چې طالبان دې له میدان ښار نه د کابل په لوري نه راځي، بلکې لومړی دې د لوګر د لیارې نه چاراسیاب ته ورشي او له چاراسیابه څخه دې حکمتیار لرې کړي. کله چې حکمتیار له چاراسیابه څخه لرې شو او چاراسیاب د طالبانو لاسته ورغی، په هغه مهال کې به احمدشاه مسعود د کابل ښار طالبانو ته وسپاري.
د همدې تړون لیک پر مخ طالبانو د لوګر له لیارې چاراسیاب ونیولو او په دې توګه د کابل په جنوب کې د طالبانو او د احمدشاه مسعود ځواکونه سره پوله په پوله شول. احمدشاه مسعود د دې پر ځای چې د تړون پرمخ د کابل ښار طالبانو ته وسپاري، نوي شرطونه وړاندې کړل، وایي چې په نوي شرطونو کې یو شرط دا و، چې طالبان باید د د وی تر بیرغ لاندې راشي او د رباني واکمني ومني، دا چې د طالبانو د غورځنګ د رامینځ ته کېدلو په موخه دا خبره نه وه چې رباني دې پاتې شي، نو له دې لامله طالبانو ونه شوای منلی او له بله اړخه نور نو طالبانو جنوب او جنوب لویدیځ ولایتونه تر خپل کنټرول لاندې راوستي او په دې توګه یو ستر ځواک ترې جوړ شوی و، د کابل په لوري یې خپل پرمختګونه ودرول او لاړل، د ننګرهار، کونړ او د لغمان ولایتونه یې یو په بل پسې ونیول. حکمتیار چې په لغمان کې دېره شوی و، له لغمان نه بغلان ته لاړ او هلته دېره شو. طالبانو له لغمان څخه تر کابله پورې غځېدلې لویه لیاره په ډېره مېړانه د رباني او احمدشاه مسعود له ځواکونو څخه ونیوله او تر خپل کنټرول لاندې یې راوستله. کله چې طالبان د پلچرخي سیمې ونیولې، نور نو رباني او مسعود ته په کابل کې د اوسېدلو وسه پاتې نه شوه. نو

ډېر په چټکۍ سره له کابله د شمال په لوري جبل سراج، پنجشیر او خنجانو ته وتښتېدل، لکه چې د جبل السراج او د خنجان د ایتلافي غونډېو نه نوم اخیستلی شو. وایي چې احمدشاه مسعود له کابله څخه مخکې له مخکې ثقیله وسلې ویستلې او پنجشیر ته یې لېږدولې وې. د کابل ښار په وران او ویجاړ حالت سره د طالبانو لاس ته ورغی. طالبانو په کې خپل اسلامي امارت اعلان کړ. په ادلون بدلون کې ډاکټر نجیب چې د ملګرو ملتونو په دفتر کې پناه اخیستې وه، د طالبانو له خوا راوایستل شو، لومړی ووژل شو او بیا د کابل د ښار په انصاري واټ کې د هغه د ورور سره یو ځای پر دار وځړول شو. نړۍ والو د طالبانو دغه عمل د ټولو قوانینو په خلاف وګاڼه او و یې غانده. په دې کار کې ځینو ګاونډېیو هېوادونو هم د طالبانو عمل وغانده، په کورني اړخ کې هم طالبان ونه ستایل شول او چا یې پلوي هم ونه کړه او په دې توګه په یوه سپک کار سره طالبان سپک شول، چا چې طالبانو ته د دغې کړنې مشوره ورکړې وه، ښایي هغوی به هماغه کړی وې چې بیا یې د طالبانو د ټکولو او له مینځه وړلو په پار د امریکې د متحده ایلاتو د ځواکونو لپاره خپلې هوایي او ځمکنۍ لیارې او ګودرونه ورپرانستل.

# طالبان په کابل کې

طالبانو د کندهار په نیولو سره یوه لویه غونډه جوړه کړله، په دې غونډې کې د افغانستان له ټولو ولایتونو څخه تر یو نیم زرو دیني عالمانو پورې برخه واخیستله او د افغانستان لپاره یې د اسلامي امارت بنسټ کېښود او په سر کې یې ملا محمد عمر اخوند د سروال او د امیرالمومنین په توګه وټاکه او په دې هوډ سره یې د خپلو مبارزو لړۍ وغځوله، د غزني، میدان و ردک، لوګر، پکتیا، خوست، پکتیکا، ننګرهار، کونړ، لغمان او د کابل ولایت په لاسته راوړلو لاپسې هوډمن شول، چې کولی شي د هېواد نورې برخې هم ونیسي. د دوی د نظامي اړخ ځواکونو خپلې هلې ځلې توندې کړلې. تر څو د کابل په ګاونډ کې د پروان او د کاپیسا ولایتونه هم تر خپل کنټرول لاندې راولي او د کابل د ښار په دننه کې یې د مذهبي ځانګې ځواکونو ته لارښوونې وکړلې، تر څو مذهبي احکام په خپلو وچو او کلکو دریځونو سره یو ځای په ښار کې پلي کړي. د طالبانو دغه ډله چې تر هر څه نه زیات د اسلام په دوم رکن یعنې پر لمانځه باندې ډېر ټینګار کاوه، د ښار خلک به یې هر کله او په هر ځای کې د لمانځه د ادا کولو په نامه جېلونو ته ورننویستل. که چا ویلې لمونځ یې کړی، هغه به بیا هم په ډانګونو او مذهبي دورو وهل کېده او تر څو چې به یې د طالب ډانګه مار په مخه کې لمونځ نه و، کړی، نه به خوشې کېده، داسې هم ویناوې خپرې شوې، چې یو چا لمونځ کړی و، خو د طالب مذهبي ډانګه مار له خوا بیا هم جومات ته ورننویستل شو او ورته وویل شول چې همدا اوس دې د ده په مخه کې لمونځ وکړي. هغه سړی هم د طالب په مخه کې ودرېده او نیت یې وکړ، چې: نیت کوم چې ادا کړم هغه لمونځ چې طالب یې رانه غواړي، خاص د ملاعمر اخوند لپاره، مخ مې د کندهار په لوري الله اکبر. دارنګه پېښې ښایي ډېرې پېښې شوې وي، چې د طالب واکمنه کړیو په امر، هغه هم د طالب د ډانګه مارانو له خوا پر ولسي وګړیو په جبري توګه عملي

کېدلو. خبره دا ده چې لمونځ لکه ایمان یو وګړنیزه وجیبه ده، چې هر وګړی یې دځان لپاره غوره کوي. خو طالبانو دغه وګړنیزه وجیبې ته د ټولنیزې وجیبې په توګه کتل او هغه به یې داکراه او اجبار له لیارې په خلکو عملي کول. د اسلام د دین د دریو رکنونو نه یواځې یو رکن چې هغه هم درېیم رکن دی او د انفاق په نامه یادېږي، چې ټولنیزه وجیبه ګڼل شوې، چې باید د زکوات، خیرات او صدقاتو نه پرته یواځې د انفاق په نامه د یو ټولنیز مکلفیت په څېر په ټولنه کې خپل شته والی وساتي، خو دغې دندې ته د طالب چارواکو هیڅ اعتنا نه لرله، دین وایي «لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ» مګر طالبانو به د جبر او اکراه له لیارې پر خلکو لمونځونه کول. طالبانو د دغې اجباري لمونځونو سره یو ځای پر خلکو به دا خبره هم وپتییله چې په ودونو او د خوښیو په نورو پروګرامونو کې به د ټنګ ټکور نه کار نه اخلي. په دې توګه یې د خپلواک ژوند چې د خوښیو میلې په کې د کلتور اغیزمنه اړخ ګڼل کېږي، یو قلم منع کړل. ته به وایې چې له اسمانه نوی پیغمبر راکوز شوی او نوی دین یې راوړی دی. د اسلام د دین پیغمبر خو خپلو امتونو ته د خوښیو دمنع کولو په هکله څه نه وو ویلي، دا چې د خوښیو په مراسمو کې د خوښیو د وسایلو څخه ګټه اخیستنه یې احسن کار ګڼلی و، څه چې د اسلام د دین له خوا منع شوي، هغه خو افراط او تفریط دی. طالبانو په خپلو افراطي کړنو و لس سترې کړ او جهادي ډلو په خپلو غلاوو او لوټماریو خپل نوم بد کړ. دغه لامل و، چې طالبانو به خپلو سلفو ته د شر او فساد په نامه بد او رد ویلې او د شر او فساد ډلې به طالبانو ته د افراطي، جاهل او وحشي نوم ورکاوه. د طالبانو افراطي خوی او خصلت چې د القاعدې د افراطي ځواکونو څخه ورته د یوې روښانې لیارې په توګه ورسپارل شوي وو، القاعدې ته د دې وسه و بښله چې د طالبانو سره په نظامي اړخ کې د شر او فساد په ځپلو او ټکولو کې پراخه ونډه واخلي. په دې مهال کې چې د القاعدې په سروالۍ کې اسامه بن لادن خپلو موخو ته د رسېدلو په لیاره کې د پراخو هلو ځلو تکل ته لاس اوږدکړی و، طالبانو هم پر خپلو مخالفینو باندې په مختلفو سنګرونو کې یو په بل پسې برې ترلاسه کاوه، خبره دې ته ورسېده چې احمدشاه مسعود افغانستان پرېږدي او

بهر ته په تېښته لاړ شي، خو د روسيې مقاماتو ورته په اخطاريه توګه سلا ورکړه، چې که بهر ته لاړ شي د تل لپاره به افغانستان له لاسه ورکړي. په دې توګه احمدشاه مسعود د روسانو په سلا د افغانستان په شمال کې د خواجه بهاءالدين په سيمه کې ځان ته سنګر جوړ کړ او هماغلته د روسانو د هوايي او ځمکني ځواکونو په ډاډ واوسېده. کله چې طالبانو پر کاپيسا او پروان ولايتونو برى وموند، په دې هڅه کې شول چې پنجشېر هم رالاندې کړي، مګر په دې مهال کې د روسې د جمهور رييس مرستيال يوه اعلاميه خپره کړه او وويلې، چې (پنجشېر د مسکو حيثيت لري، که طالبان پنجشېر ونيسي، دا د دې معنا ورکوي، چې مسکو يې نيولى دى). په دې اعلاميې کې روسانو وښودله چې که چيرې پر پنجشېر حمله کېږي، نو د روسې قواوې چې په تاجکستان کې پرتې دي، بې تفاوته نه شي پاتې کېدلى، ښايي هغوى به د مسعود په ملاتړ په جګړه کې د طالبانو پرضد برخه واخلي.

د دې اوليتماتوم له مخې طالبانو په کاپيسا او پروان کې خپلې کرښې پرېښودلې او د هېواد په لويديځ کې د هرات د نيولو په هڅه کې شول. طالبانو هرات، بادغيس، جوزجان او سرپل ولايتونه يو په بل پسې ونيول، خو د مزارشريف د ښار په نيولو کې يې سخته ماتې وخوړه. ډېر طالبان تلف شول او د طالبانو په صفونو کې کوم کسان چې منځ لاري وو، لکه د ملا محمد غوث اخوند په څېر هغوى د تل لپاره د طالبانو د غورځنګ د صفونو نه جارو شول. کله چې طالبانو په دوهمه هڅه کې د مزارشريف ښار ونيو، نور نو د شمال د پاتې ولايتونو دفاعي کرښې تر تخاره پورې يو په بل پسې وړنګېدلې.

طالبان په ګړندۍ توګه د تخار د ولايت مرکز د تالقانو د ښار د نيولو په محاصره بوخت شول، د اروپايي شورا له خوا احمدشاه مسعود راوبلل شو، هغه فرانسې ته لاړ، په فرانسه کې يې د اروپايي پارلمان په وړاندې خپله تګلاره روښانه کړه او و يې ويل چې دا ځل به د دوه وو مياشتو په دننه کې طالبانو ته ماتې ورکړي او ټول افغانسان به په خپل کنټرول کې راولي. نوموړي د اروپايي ټولنې نه د اتيا ميليونو ډالرو مرستې د لاسته راوړلو نه وروسته سره د دې چې پخواني پادشاه محمد ظاهر خان بللي وو، روم ته لاړ نه شو او بېرته تالقانو ته

وگرځېده. مگر لکه څنگه چې وعده يې ورکړې وه، نه يواځې دا چې په دوه وو مياشتو کې يې ټول افغانستان ونه نيوه، چې طالبانو ته يې د ماتې ورکولو په بدل کې په خپله ماتې وخوړله او د تالقانو ښار يې هم وبايلود. نور نو احمدشاه مسعود په ټول تخار ولايت کې يواځې د خواجه بهاوالدين سيمه د يوې کوچنۍ ټراټگې سره چې تر پنجشېره به يې هوايي اړيکې سمبدلې، نور څه په افغانستان کې ورته پاتې نه شول. په داسې بدحال او پرېشانه چاپېريال کې احمدشاه مسعود ترور شو. پړه يې پر دوه وو تنو عربي خبريالانو واچول شوه، چې د ترور پر ځای کې يو يې د بم د چاودنې سره او بل يې د مسعود د ساتونکيو له خوا ووژل شو. د پېښې ريښتينوالی لا تر اوسه پورې نه دی څرگند شوی. يواځې دومره وويل شول چې عربي خبريالانو د خپل د عکاسۍ په کمره کې بم تعبيه کړی و، چې د هغه په چاودېدنې سره دغه پېښه راپېښه شوې ده، مگر دې ټکي ته چا ځواب ونه وايه چې دغه دوه تنه خبريالان خو لا د پوې اونۍ نه مخکې د ډېرو اختونو او پوښتنو وروسته چې د چک پاينټ او کنترول د څانگو له خوا وشوې، خواجه بهاوالدين ته رسېدلي وو، نو دوی څرنگه وکولای شول، په خپله د عکاسۍ هغه غټه کمره د بم سره يو ځای د ځانه سره ولري؟ د کمرې په عدسيه کې بم تعبيه کول او بيا تر هدفه رسول خو د داسې دوه وو تنو عربي خبريالانو له وسې نه بهر کار دی. داسې او دارنگه نور ډېرې پوښتنې د مسعود د ترور سره يو ځای خاورو ته وسپارل شوې. يوه مهمه پوښتنه چې هر کله زما په ذهن کې ښکته پورته کېږ.ي، هغه دا ده چې: که عربانو د دې وسه لرلې، چې د عکاسۍ په کمره کې بم تعبيه کړي نو اوس به د ځمکې پر مخ د اسرايلو په نامه څه نه وو پاتې؟ په هر حال دا د نړۍ د سياسي واکمنيو پاليسي ده چې څوک په کوم هېواد کې د دوی تر اهدافو پورې ځان ونه شي رسولی، هغه خو نور د ژوند حق نه لري، نو ځکه زه فکر کوم چې مسعود د عربانو د کمره يي بم له لاسه نه دی وژل شوی، بلکې د هغه ژوند د اروپايي ټولنې د اتيا ميليونو ډالرو د بم د چاودېدلو له لامله پای ته ورسېد. لکه چې په سيمه کې وروستيو سياسي او نظامي پرمختگونو هم په دې هکله خپله څېره په ډاگيزه توگه بربنډه کړه، لکه څنگه

چې موږ ولیدله یا مو واورېدله، د امریکې د نیویارک او د واشنګټن په ښارونو کې د ۲۰۰۱ د سپټمبر د میاشتې په یوولسمه نېټه یوه ستره پېښه راپېښه شوه، چې زما د سترګو لیدلی حال داسې دی: په همدې ورځ چې د سپټمبر یوولسمه ورځ وه، زه او زما مېرمنې په خپل کور کې چې د المان د بن په ښار کې واقع دی، اوسېدلو. د ماسپښین د لمانځه مهال و، زه د ماسپښین د لمانځه د ادا کولو په هوډ د کور د سالون څخه چې هلته تلویزیون مو کاته، لاړم. د ماسپښین لمونځ مې لا نه و، پای ته رسولی، چې زما مېرمنې راته نارې کړې، چې هله زر راشه چې یوه پېښه شوې ده. زه چې د سالون خونې ته راغلم، ګورم چې د (Z.D.F) چینل کې د نیویارک د تجارتي دوه وو برجونو نه یو برج د اور د تور دود په لوخوړو کې پټ دی. ما لا ورته کتل چې د همدې برج له ځینو اړخونو څخه ژوندیو انسانانو د ژغورنې د مرستو غوښتنه کوله. دې پېښې ته سوچ وړی وم، چې یوه بله ستره الوتکه په ډېر مهارت او په یوه خاص مانور سره راغله او پر دې بل برج ورننوتله. د ننوتلو سره سم شاوخوا ته یوه سره لمبه راووتله او نور نو د یو تور دود، لوخوړو سر راپورته کړ. دغه پېښه په همدې توګه ما په خپلو سترګو لیدله، چې د نیمې ګېنټې په موده کې دواړه برجونه یو په بل پسې را پرېوتلی او د پرېوتلو سره سم سیمه د ستر غبار د برید ښکار شوه. هر چا هره خوا تېښته کوله، څو ځانونه د غبار د مرګاني اغیزو څخه وژغوري. داسې په تلویزیون کې ویل کېدل چې یوې بلې الوتکې غوښتل چې پر سپینې ماڼۍ وویشتله شي، مګر له سپینې ماڼۍ څخه ورته وویل شول چې جمهور رییس (بوش) په ماڼۍ کې نشته، نو هغه الوتکه بیا د پنسلوانیا په کوم ځنګله کې راوغورځېدله. د نیویارک او واشنګټن پېښو په نړۍ واله کچه د چاپي او تصویري رسنیو له لیارې یوه ستره غوغا راوپاروله. له هرې خوا به د پېښې پړه د القاعدې پر غاړه اچوله کېدله، چې په دې کار کې د امریکې متحده ایالاتو د جاسوسۍ شبکې (CIA) په سر کې وه خو په اروپا کې د عام ولس له خوا ورته د شک په سترګه کتل کېدل. لکه څنګه چې په تیت پآنو کې راغلي وو، ویل کېدل چې د دغو سترو الوتکو په هماغو لوړو او عالي مانورونو سره الوځول د یو څو تنو د کوچنیو سپورتي الوتکو د پیلوټانو له وسې څخه

وتلی کار دی. په دغو تیت پانو کې چې ما هم لوستلي وو، راغلي وو، چې (سي آی اې او موساد په ګډه سره د دغې پېښې طراحان دي، دوی غوارې چې د اسرایلو د تلموت د پېښو په څېر داسې یوه ستره او نړۍ واله پېښه راوپنځوي، چې وکولی شي د هغه په بهانه په نړۍ کې د خپلې خوښې ستر ستر بدلونونه را پلي کړي. ښايي په تلموت کې چې د کومو پېښو څخه يادونه شوې، هغه د نوح علیه السلام په مهال د طوفان، د ابراهیم علیه السلام او د اور، همدارنګه د موسي علیه السلام په مهال کې په نیل کې د فرعون د لښکرو ډوبېدل او هلاکېدل او داسې نورې پېښې راغلې وي. د سي آی اې او موساد په دې طرحه کې القاعده د یو ستر نړۍ خور بلا په څېر ونومول شو او داسې ډنډورې وغږول شوې، چې د دې بلا د سماسم تهدید له مخې د نړۍ سولې ته ستره خطره مخامخ شوې ده. نو د دې خطر د مخ نیوي لپاره د امریکې متحده ایالات به په خپل ټول زور سره جګړه وکړي. القاعدې هم چې په سر کې یې اسامه بن لادن ولاړ و، د اسلامي امت لپاره په ملګرو ملتونو کې د ویټو د حق د لاسته راوړلو او همدارنګه د امریکایي، روسي او نورو غربي هېوادونو د غړوندیو څخه د اسلامي امت د تیتو پرکو هېوادونو د ازادولو او خپلواکولو شعار پورته کړ.

دا چې القاعده او سي آی آې سره په خپلو منځونو کې څومره نیژدې او د څومره تفاهم خاوندان دي، ځانله د پراخې څېړنې اړتیا لري. خو د سي آی آې او د القاعدې توده جګړه په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د اشغال سره یو ځای ښه په تونده او په وحشیانه توګه پیل شوه. د امریکې جمهور رییس بوش اعلان وکړ، چې که څوک موږ سره نه وي، هغه زموږ دښمن دی، دې خبرې رنګارنګه غبرګونونه راوپارول، خو د نړۍ ځینو هېوادونو لکه اروپایي ولسونو لا تر روسې پورې د امریکې د دې غږ سره ملګري شول. د روسیې نه پرته نورو ټولو اروپایي هېوادونو چې د امریکې سره په دې جګړه کې ملګري شوي وو، خپل پوځونه افغانستان ته واستول، هر یوه هېواد خپلو پوځونو سره جوخت خپلې جاسوسي شبکې هم په افغانستان کې فعالې کړلې. دغو جاسوسي شبکو ته بهرني جاسوسان راغلل او یو شمېر نور د افغان ولس له

منځه هم په کې وګمارل شول، چې په دې ډله کې ډېرکي هغه کسان وو، چې د کمونستي پير څخه روزل شوي او کارول شوي وو، هغو د افغان ولس سره هغه پېښه پيل کړه، کوم چې د کمونستانو په مهال کې يې لړلې وه. يعنې: خپلې پخوانۍ دښمنۍ يې له دې لپارې تازه کړلې. د دوی په غلطو اطلاعاتو د امريکې د هوايي او ځمکني پوځونو له خوا په افغانستان کې د بې ګناه افغانانو پر ودونو، جنازو، جوماتونو او نورو ديني مراسمو پر غونډو بمونه وورول شول، په دې توګه د افغان ولس په رڼو سترګو وليدل چې د د يموکراسۍ په نامه د ديموکراسۍ ډېر ستر ستر او مرګاني بمونه پر پراخو پرګنو وورول شول، هغه هم د کمونستانو د پاتې شوو تالي څټو مزدورانو پر غلطو اطلاعاتو. په افغانستان کې دغه انسان دښمنه عمل وښودله چې نه يواځې د سوسياليزم په نامه د روسانو دعوی د هېوادونو اشغالول وو، چې د امريکې او د هغه د ملګرو د ديموکراسۍ دعوی هم د هېوادونو د ولسونو وژل او د هغوی د کليو او کورونو نيول دی او بس. امريکايانو په دې انسان دښمنه جګړه کې چې لا تر نن ورځې پورې په بې رحمۍ توګه روانه ده، وکولی شول طالبان د واک د ګدۍ څخه وشړي او د رباني د شر او فساد ډلې ته چې څه يې په خواجه بهاوالدين او څه يې د تاجکستان په کولاب او نورو ښارونو کې مېشته وو، بېرته کابل ته راولي او کابل په رسمي توګه هغوی ته وسپاري، دا چې د رباني د حکومت پر ځای په کابل کې د پخوا څخه د پاکستان او ځينو نورو هېوادونو له خوا د طالبانو حکومت په رسميت پېژندلی شوی و، چې د هغوی پر ځای د رباني واکمنۍ ته د ر سميت ښنل ګرانه برېښېدله، له بلې خوا د افغان ډېرکي ولس د رباني حکومت نه غوښته، نو له دې امله امريکې د راتلونکې واکمنۍ په هکله د چين د هېواد په پلازمېنه (بی جينګ) کې د نړۍ د سترو هېوادونو غونډه کې چې د بوش د ابتکارونو څخه شمېرل کېږي، د افغانستان د نوې واکمنۍ د رامينځ ته کولو په هکله ومنل شوه، چې راتلونکی مشر به يو پښتون وي، خو واک به د تېر په څېر د تاجکو په لاس کې وي، کوم چې دغه خبرې په هماغه مهال کې هم د اروپايي هېوادونو په رسمي رسنيو کې کټ مټ خپاره شوي وو، لکه چې د روسيې جمهور رييس پوټين هم د

بیجنګ ښخه په سیده توګه دوشنبې ته راستون شوی او په دوشنبې کې یې د ربانې او فهیم سره د لیدلو په ترڅ کې هم همدغه خبره رباني او فهیم ته کړې وه. یعنې په سر کې به یو پښتون وي، نور نو واک به ستاسو په لاس کې لاندې باندې کېږي. په دې هکله د اروپایي رسنیو لا د پوتین، رباني او فهیم د ګډې غونډې فوټوان یا عکسونو د خپرولو سره جوخت همدغه متن هم لیکلی خپور کړی و، هماغه وه چې رباني، فهیم او د دوی نوره ډله په ګډه سره د روسیې د ایروفلوت په الوتکه کې له دوشنبې ښخه سیده کابل ته راغې او په کابل کې د دولتي او حکومتي کدرو.نه ټول پر خپلو پلویانو باندې ویشي. دا چې د رباني او د هغه د ډلې د راتللو نه په کابل او د کابل سره د ټول هېواد په کچه چا استقبال نه کړ او همدارنګه د پاکستان په ګډون د عربي هېوادونو او نورو هم د رباني د بیا واکمنۍ سره موافق نه وو، نو امریکایانو د المان د (بن) په ښار کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د استازي تر مشرۍ لاندې یوه غونډه راوبلله. په دې غونډې کې د افغانستان ښخه د طالبانو او د حزب اسلامي حکمتیار نه پرته نور ټول جهادي تنظیمونه چې په لړه کیو پورې تړاو درلود، راوبلل شول، چې هغه دا دي: د پخواني پاچا ډله د دري ژبو په استازیتوب، مجددي او ګیلاني د عربو په استازیتوب، یونس قانوني او عبدالله عبدالله د تاجکو په استازیتوب، د عبدالرشید دوستم ډله د ازبکو په استازیتوب او د و حدت د ګوند له خوا د شیعه هزارګانو په استازیتوب، خو د پښتنو په نامه هیڅوک د استازي په توګه نه وو راغلي، دغه لامل و، چې حاجي قدیر له غونډې وواته او بېرته لاړ، ځکه چې چا د پښتنو استازیتوب نه کاوه. داسې برېښېدله چې پښتانه د جګړې په پای کې ماتې خوړلي او مغلوب شوي دي. نو د هغوی پر سر او اِمال باندې ویش او تالان ګډ دی. په واقعیت کې هم پېښه همداسې وه، امریکایانو خپله جګړه په افغانستان کې د پښتنو سره په دښمنۍ کې پیل کړې، چې لا هم دغه جګړه لا ر وانه ده.

په هر حال لکه ښنګه چې د بیجنګ په غونډه کې منل شوي وو، د بن په غونډه کې هم د افغانستان لپاره حامد کرزی چې په هغه مهال کې ښایي د ارزګان یا د فراه د ولایتونو د کوم غره په لمنه کې پټ و، د پښتون په نامه د

راتلونکي موقت حکومت د مشر په توګه وګمارل شو، ځکه چې د ویش او د تالان غونډه بریالۍ شوې وه، طالبان نور د واک له ګدۍ نه شړل شوي وو، ایراني لاس پوڅو د امریکایي دیموکراسۍ د مدعیانو سره یو ځای د پښتنو پر سر او مال باندې تالان ګډ کړ، هغه هم د یو پښتون په نامه تر مشرۍ لاندې. د شر او فساد ډله چې فساد یې جهادي غړي او شر یې کمونیستي ډلې پېژندل کېدلې او دغې دوی ډلې د کابل ښار څخه یوه کنډواله جوړه کړې وه، د بن د غونډې د پرېکړې له مخې یو ځل بیا خپلو موخو ته ورسېدل. غلو ته د خزانې د ساتلو واک وسپارل شو او قاتل ته د مقتول ورثه لاس تړلې ور وړاندې کړی شوه، څو ټول یې په دار وځړوي. ځکه چې د دیموکراسۍ غوښتنه ده. دیموکراسي په افغانستان کې د دې پر ځای چې پلیتي پر او بو وویني، په سرچپه توګه پلیتیو ته یې واک ورکړ، چې اوبه ووینځي. پلیتیو هم خپل کار وکړ، د اوبو نوم یې هم ورک کړ. هر چېرته چې وګورې د اوبو پر ځای پلیتي ایښودل شوې دي. استنجا به پر پلیتیو کوي، ځان به پر پلیتیو وینځي او ځای به هم پر پلیتیو پاکوي. که جامې دې پلیتې شوې نو په پلتیو به یې لاپسې ککړوې. که داسې نه کړې، نو ته به د تروریست په نامه تر ګونتانامو واستول شې. دې لامل ولس وپاروه چې په ټولنیره توګه د شر او فساد پر ضد غبرګون وښيي. نور نو طالبانو او د طالبانو ملاتړو ته هم خدای ورکړې وه.

# د امریکې په سروالۍ په افغانستان کې بهرني پوځیان

لکه څنګه چې په پورته کرښو کې ورته ګوته ونیوله شوه، د امریکې سمندري پوځیانو د افغانستان د ځمکني او هوايي واک په خپل لاس کې واخیست. دوی سره د ناټو د غړیو هېوادونه هم راغلل، دا چې د پخواني وارسا د ځینو غړیو هېوادونو پوځونه هم د دوی په ملاتړ افغانستان ته راودانګل، نور نو افغانستان سر تر پایه د دوی په واک کې پرېوتی و. دکابل حکومت د حامد کرزي د تش په نامه سروالۍ سره خپل شته والی ښوده.

د دوی په موقت حکومت کې په نامه لویه جرګه جوړه شوه، چې د کنټرول مزي يې د سي آی آې په لاس کې وې. په دې جرګې کې حامد کرزی د یو دوه کلن انتقالي حکومت په سروالۍ وګمارل شو، جرګې پخواني پاچا محمد ظاهر شاه ته د بابای ملت لقب ورکړ. همدارنګه د جرګې له خوا څنګه چې له پاسه ورته دېکته کېدله، احمدشاه مسعود ته د قهرمان ملي او محمد قسيم فهيم ته د مارشالۍ رتبه وبښل شوه.

د پاړسۍ ژبې متل دي: هر عيبيکه سلطان به پسندد هنر است. امریکایانو د شر او فساد ځواکونو ټولو ناوړو کړنو ته د هنر په سترګه وکتل، جرګې دېته ونه کتل چې بابای ملت یعنې د کوم ملت بابا؟ هغه چې په افغاني ژبه پښتو هیڅ نه پوهېده، همدارنګه قهرمان ملي یعنې کومه قهرماني؟ احمدشاه مسعود خو د لومړي سر نه د پاکستان د آی اېس آی د شبکې په سیده مرسته په پنجشېر کې د قوماندان په نامه وګمارل شو، کوم چې آی اېس آی د هغه لپاره ډېر پنجشېریان ترور کړل. تر څو مسعود ته په پنجشېر کې د پښو ځای پیدا شي. همدارنګه هغه خو د جهاد په پیل کې د شوروي اتحاد د پوځونو سره اړيکې تودې کړلې، تر څو د شوروي پوځونو په مرسته د حزب اسلامي حکمتیار د ځواکونو سره خپله جګړه بري ته ورسوي. تر دې اخوا لا ویل کېږي چې کله

چې به شوروي پوځيانو پر پنجشېر حمله کوله، په هغه مهال کې به احمدشاه مسعود د کابل د شش درک په خاد کې اوسېده، څو ورته تاوان و نه رسېږي او ژوند يې خوندي وي. شورويانو چې د مسعود پر ضد هره ډنډوره په لاره اچوله په هغه کې به د مسعود د راتلونکو کاذبو اتلوليو ځرګندولو موخه په ښه توګه نغښتې وه، کومه جګړه چې د شوروي پوځيانو له خوا په دې سيمه کې پرمخ بېولې شوې، په هغه کې د مسعود د ساتنې پوره پوره پاملرنه شوې ده، دغه خبره د هغو شوروي جنرالانو په ليکنو کې هم راغلې، چې په افغانستان کې جنګېدلي، لکه د مثال په توګه جنرال ګروموف.

په دې ځای کې مې يوه خاطره را په ياده شوه، هغه دا چې په کال۱۹۸۹م کې چې د جنورۍ مياشت وه، زه په پېښور کې وم، په دې مهال مې د پلار د تلين په مناسبت د فاتحې مراسم پر ځای کول، چې يوه ډله د بغلان د ولايت د اندراب د ولسوالۍ ځوانان چې پېښور ته د هجرت او جهاد په نامه راغلي وو او زما سره يې پېژندګلوي لرله، راغلل. دوی لا شپه هم ماسره پاتې شول، په صحبت کې هغوی دې ټکي ته اشاره وکړه، چې تر اوسه پورې په اندراب کې د حزب اسلامي او جمعيت اسلامي ترمينځه د دښمنۍ له لامله د دوولسم ټولګي نه فارغ شوي يو نيم زر ځوانان وژل شوي دي، هغوی دا لا هم وويلې، چې تېره ورځ د استاد رباني د دفتر په انګړ کې يوه لويه غونډه شوې وه، چې د اندراب ډېر کسان ناست وو. په دې غونډې کې هغه شير (قصاب) چې د اندراب د بنو اوسېدونکی دی، هم راغلی و. استاد په خپلو ويناوو کې وويلې، چې تاسو ته مې ډېرې وسلې او پيسې درکړې، خو تاسو يواځې د جمعه خان چاره ونه شوه کولی. د دې ګيلې په ځواب کې شير قصاب چې د جمعيت د يوه قوماندان په توګه ګڼل کېده، راپاڅېده او وې و يل چې استاده! زه راغلی يم چې وسله و اخلم د روسانو سره وجنګېږم، نه دا چې د جمعه خان سره جګړه وکړم. نوموړي د دې ځواب سره خپل څادر وځنډه او له غونډې ووواته.

دا وه يوه مشت نمونه خروار. په افغانستان کې د جهاد چې د مادي هلو ځلو په معنا خپل لوري ميندلی و. هر تنظيم د پيسو او د څوکۍ په خوب او خيال

کې د افغانستان څېره وويستله. ډېر سپېڅلي انسانان يې چې د حقيقي جهاد غوښتونکي وو، د خپلو شومو او ناوړو موخو په لياره کې بې لارې او نيست او نابود کړلؤ چې د دې ډلې څخه يو هم جمعه خان و، جمعه خان هغه څوک و، چې د حزب اسلامي سره يې اړيکې لرلې او په سيمه کې د احمدشاه مسعود ستر سيال ګڼل کېده. خو نوموړی د مسعود د ډېر فشار له لامله شورويانو ته پناه يوړه. او بيا د مسعود له خوا هغه ته د د وستې او ورورولۍ لاس اوږد شو، او په دې توګه د دوستۍ له ليارې يې ترور کړ.

داسې ډېر انسانان د حزب او جمعيت ترمنځه د ځان غوښتنې د رنځ له لامله تباه شوي، چې د افغانستان په شمالي ولاياتو کې يې کيسې او افسانې ويلې کېږي. لکه چې د تخار د ولايت پېښې په دې هکله د بېلګې په توګه ګڼلی شو. دا خو د شوروي د زمانې د جهاد يوه نمونه وه، راشئ اوس د ديموکراسۍ د زمانې جهاد ته څه غوندې سترګې پرانيزو او وګورو چې بهرنيانو په سر کې د امريکايي سمندري پوځونو په افغانستان کې څه وکړل؟ لکه څنګه چې فرعون د خپلو ټولو پوځونو سره په ډېر شور او زور سره په موسی پسې ورواته او د هغه د قوم په لورې د نيل سيند ته ورسېده، د خپلو ځواکونو سره يو ځای ډوب شو. په هماغه توګه لويديځوالو د امريکې په سروالۍ په ډېر زور او شور سره د افغانستان په بې وزله، جګړه ځپلي، وچکالۍ نتلي او طالب څټلي ولس باندې يرغليزه بريد وکړ. ډېر ستر ستر بمونه يې وازمايل، د چا کور، کلی، جومات او هوجره يې په امن کې پرې نه ښووله. جنازې، ودونه او نور ولسي غونډې يې تر بريدونو لاندې ونيولې، مړي يې پر بمونو وويشتل، د ناوې وراګانې يې تر بمونو لاندې ونيولې، ګډې، غوايان، اوښان، انسانان لا چې په کور کلي کې د کور چرګوړي او چرګان يې هم په امن کې پرې نه ښوول.

ته به وايې چې بيا چنګيز ژوندی شوی او راغلی د بلخ، باميان او د افغانستان نور ښارونه ړنګوي. لکه څنګه چې د سوسياليزم په نامه ولس مو ځينې ووژل شول او ځينې بې کوره او اواره شول. بيا هم د ديموکراسۍ په نامه ګڼ شمېر بې وزله ولس د بمونو لاندې مړه، کورونه او کلي د کروندو سره تباه او يو شمېر زيات څه دننه او څه له هېواده بهر اواره شول. لکه په هرات او په کابل ښار

کې د اواره ګانو بې وزله ژوند چې لا په تېرو دیارلسو کلونو کې چا یې د ستونزې د لرې کولو او بېرته میشت کولو غم نه دی خوړلی، د مثال په توګه ګڼلی شو.

دغو ځواکونو په افغانستان کې د طالب واکمنۍ د القاعدې د تروریستي اعمالو په تور ړنګه او د کابل ښار چې د افغانستان پلازمینه ګڼل کېږي، لاس نیولې د شمال ایتلاف ته وسپارله. د شمال ایتلاف چې په سر کې یې د جمعیت اسلامي شورای نظار ولاړه و ه، د امریکایي بي دوه پنځوس ډوله بمبارد الوتکو د سیوري لاندې کابل ته ننوتله. په کابل کې ټولې د ولسي او حکومتي پوستونه یې په خپلو لاسونو کې ونیول او برهان الدین رباني د پخوا په څېر د جمهور رییس د څوکۍ پورې ټینګ ونښت. کله چې د المان د بن په ښار کې د افغانستان لپاره د حکومت او دولت سروال ټاکل کېده، دغې غونډې کې هم د هغو تنظیمونو استازیو برخه اخیستې وه، چې د طالبانو سره په جګړه بوختې وې، څه چې د دې غونډې نچوړ وواته. هغه خو د رباني پر ځای د حامد کرزي په سروالۍ واکمني وه، خو د دې واکمنۍ د ملا تیر هم د هماغو نه جوړه شوې وه، چې ورته د نظار شورا ویل کېږي. مګر د یو څه بدلون سره. یعنې د رباني د نوم پر ځای د حامد کرزي نوم ولیکل شو. نور نو هماغه کټوه او هماغه برغولی. په دې توګه امریکایي کاوبایانو په افغانستان کې هغه چاته واک وسپاره، چا چې په تېرو جګړو کې د دیموکراسۍ نوم لا په راکټ ویشتلی و. څوک چې د زاړو څخه کټوري غواړي، هغوی به همدغه امریکایي کاوبایان وي. کاوبایانو خو به د فلم په لړ کې د خپل د بري کرښې ټاکلې مګر په افغانستان کې داسې ونه شول، هلته وهل، وژل، ړنګول او سیزل کټ مټ لکه د فلم په څېر پلي کېدل، مګر د فلم د پاي په ښودنه کې د بري څه نښې نښانې نه په ګوته کېدلې او دا هم لا نه څرګندېده چې دوی به د خپلو فلمي حرکاتو په پای کې نړۍ والو ته څه ووایي؟

نتیجه دا شوه چې د دیموکراسۍ د هر بنسټ په رامینځ ته کولو کې فساد واکمن شو، ولسي ټاکنې چې جمهور رییس او پارلمان ټاکي، سل په سلو کې په فساد ککړ شو. دولتي او حکومتي څانګې په فساد کې ډوبې شوې. د

نیاومنۍ تله ماته شوه، د عدالت او مساوات څخه په نامه هم څه پاتې نه شول. د لیدلو خویي لا څه څرک هم نشته. د چا خبره چې اوښ چیرته او کټی یې چېرته؟ یعنې د اوښبانه د لاس نه د اوښ وندني پر ځمکه غورځېدلی او اوښ یو خوا او خاوند یې بله خوا زغلي. د بهرنیو پوځیانو تر سیوري لاندې په هېواد کې د سولې په موخه په نامه لویې جرګې او لویې غونډې پنډې شوې، یو شمېر ډېر مخور کسان غوره شول، څو د طالبانو سره د خبرو اترو د لارې سوله اور وغه وشي. په دې هکله د افغانستان او پاکستان د مشرانو په ګډون هم غونډې جوړې شوې، لکه چې وايي پر کنګل یې ولیکل او لمر ته یې کېښودل. له دغو ټولو غونډو منډو هیڅ څه لاس ته رانغلل. د دې پرځای چې جګړه څه غونډې سړه شي، لاپسې توده شوه. په ورځ کې که یو افغان وژل کېده، تر لسو شلو پورې د و ژلو کچه لوړه لاړه. د ژوبلو او د بې پښو او لاسونو انسانانو شمېره خو لا تر اوسه چا نه ده تر لاسه کړې، دا ولې؟ دا په دا چې په افغانستان کې د جګړې او د سولې واک نه د کابل حکومت په لاس کې دی او نه د طالبانو په وسه کې، څوک چې په افغا نستان کې د جګړې پیلونکی دی، هغه خو القاعده او سي آی آې ده. تر څو چې القاعده او سي آی آې په خپلو منځونو کې د سولې او روغې تفاهم ته ونه رسېږي. دا به ډېره لرې خبره وي، چې افغانستان یا دغې سیمې ته سوله او روغه راشي. په دې سیمه کې سوله لکه د ډالرو په څېر کاغذي بڼه لري. د کاغذ پرمخ که سپین وي ځینې یو څه لیکي او ځینې بل څه؟ او که تور وی نو پر سپینولو یې همدغسې جګړه روانه وي، لکه چې په افغانستان او پاکستان کې پر مخ بېوله کېږي. تورې ډالرې د تورو مخونو سره خپلوۍ لري، تور مخونه هغه دي چې د خپلو ناوړو موخو ته په لیاره کې د ولسونو پراخه پرګنې په وینو کې لمبوي او له هېوادونو څخه کنډوالې جوړوي. دا تور مخونه یواځې نن نه دي چې زموږ په سیمه کې د بهرنیانو په لمسون ولسونه یې په وینو کې کېنول، چې پرون هم د همدوی په څېر تورمخیو کسانو زموږ د سیمې ولسونه په وینو کې لمبولي وو، که په همدې توګه پاینت ولري او زموږ په بڼه او کړو وړو کې هم څه بدلون رانه شي، سبا به هم زموږ د سیمې تورمخي ګوډاګیان، زموږ ولسونه په وینو کې ولمبوي،

گانده به د هغه چا وی، چې د خپلې سیمې د پیسو مریان وپېژني او د خپل د ژوند د واک د گدۍ څخه یې لرې وشړي.

د تېرو درې او درې نیمو لسیزو پېښو په افغانستان کې دا په ډاگه کړه، چې د داود خانه وروسته حفیظ الله امین، د خلکو په نامه د کمونیستي گوند په صف کې د دې وسه ومیندله، چې په خپل مټ نظامي کودتا وکړي او سیاسي واک په خپل لاس کې واخلي. خو د شوروي اتحاد د دښمنانه موخو له لامله نه یواځې دا چې خپل ژوند یې له لاسه ورکړ، چې د خلکو گوند هم د پرچم د ډلې په خېټه کې واچول شو. ښایي شوروي اتحاد داسې اندېښنه لرلې وي، چې حفیظ الله امین یو ملي او له کنټرول نه وتلی کس دی او دی به د پښتنو د یووالي د تحقق په لیاره کې داسې یو گام پورته کړي، چې هغه به نه یواځې د امریکې متحده ایالاتو د گټو پر ضد وي، چې د شوروي اتحاد د ارمانونو سره به هم ټکر ولري. نو د دې اندېښنې نه د ځان ژغورلو په پار یې غوره وگڼله څو په یو اړخیزه نظامي برید هغه له خپلې لیارې لرې او افغانستان اشغال کړي، چې همداسې یې هم وکړل.

شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړ او حفیظ الله امین یې د ځینو کورني غړیو او ځینو گوندي ملگرو سره وواژه. بهانه هم هماغه د امریکایي امپریالیزم سره سازش وگڼل شو او زیاته شوه چې دغه کار د امین د ظلم او زیاتي څخه د افغاسنتان ولس ژغورل وو.

د شلمې پېړۍ په اتمه لسیزه کې د شوروي اتحاد کړنه او بیا د یوویشتمې پېړۍ د لومړۍ لسیزې په پیل کې د امریکې د متحده ایالاتو کړنې ته که څوک یوه لنډه غوندې کتنه وکړي، وبه پوهېږي، چې په دې دواړو پېښو کې هیڅ توپیر نه لیدل کېږي. یعنې امریکایانو زموږ په سیمه کې القاعده جوړه کړله، وې روزله، پیاوړې او د واک په خوند یې پوهه کړله، بیا یې ورسره د طالبانو په نامه غورځنگ رامینځ ته کړ، دغه غورځنگ په ډېره چټکتیا سره د افغاسنتان په سلو کې نوي خاوره ونیوله. خو چې کله امریکې ته څرگنده شوه، چې د ملا عمر اخوند طالبان د نه کنټرول کېدلو کچې ته رسېدلي دي، نو بیا یې لکه د شوروي اتحاد په څېر په ټول زور او شور سره پر افغانستان

ورودانګل، طالبان یې تار او مار کړل او چیغې یې کړلې، چې دادی د طالبانو د ظلم او زیاتي څخه مو د افغانستان ولس وژغورلو، عجب! آیا ټیک ټاک همدغسې وه؟ چې نه وه. ټول پوهېږي چې شوروي اتحاد د کمونیزم سوسیالیزم په نامه په افغانستان کې خپل تالي څټي وروزل، بیا یې پر افغانستان ورودانګل، چې په هماغه توګه د امریکې امپریالیزم هم څه د القاعدې، څه د طالبانو او څه د دیموکراسۍ په نامه خپل تالي څټي وروزل او بیا یې پر افغانستان ورودانګل. د شوروي اتحاد بهانه د حفیظ الله امین د ظلم او زیاتي څخه د افغانستان ولس ژغورل او د امریکې امپریالیزم بهانه هم د طالبانو د ظلم او زیاتي څخه د افغانانو ژغورل ونومول شول. حفیظ الله امین د چا په مرسته د واک پر ګدۍ کېناست؟ او طالبان چا راوستل؟ د دې پوښتنو ځواب د افغانستان د هرې سیمې کاڼو، بوټو، مرغانو او انسانانو ته هم په ډاګه څرګند دی. ځکه چې هره تږه او هره پرخه یې پر و ینو لړلې شوې او په هره ولېشت کې ارو مرو یو افغان شهید شوی دی. دا وینه چا تویه کړې؟ او دا افغانان چا شهیدان کړل. روښانه خبره ده چې څه د شوروي اتحاد له خوا او څه هم د امریکې د دیموکراسۍ مدعیانو وژلي دي. لکه څنګه چې سوسیالیزم د بمونو، راکټونو، توپونو او الوتکو په زور پلي کېده، په هماغه توګه دیموکراسي هم وغوښتل د یوې بدنامې ډلګه ګۍ په لاس هغه هم د توپونو، ټینګونو او د بي ۵۲ ډوله بمبارد الوتکو په زور په افغانستان کې پلي شي. څنګه چې دغو دواړو امپریالیستانو د زاڼو نه کټوري غوښتل، نه زاڼې یې ونیولې شولې او نه کټوري یې ترلاسه کړي. هو! د امریکې امپریالیسم په دې سیمه کې یوه ډېره مهمه وسله په لاس کې لري، چې هغه هم پاکستان دی. پاکستان په سیمه کې د امریکې د لاس کوتک دی او تل هم د کوتک په څېر کارېدلی دی. یعنې: پاکستان د محتسب په څېر دوره په لاس ولاړ دی او ګوري چې د چا ږیره نشته؟ څوک په کیڼ لاس لیکنې کوي؟ او د چا نوم عربي نه دی؟ همدارنګه د امریکې په لمسه یې تر اوسه پورې، هغه څه کړي چې د پاکستان په کې ګټه ترسترګو کېدله. نو په لنډه پاکستان د امریکایي بادار تر قوماندې لاندې کوتک په لاس او په ښه غوره توګه د فرصتونو نه ګټه پورته کوي. د

پاکستان اسلام، هغه اسلام نه دی، چې په قران کې یې مومن بها ایمان پر غیب، لمونځ او انفاق درې رکنه ګڼل شوي. د پاکستان په مسلمانۍ کې د شتمنۍ د بنسټ د خپلولو پر موخې د ایمان د درې ګونو رکنونو څخه یواځې پر دوه وو لومړنیو رکنونو ډېره اتکا شوې د ه، خو د درېیم رکن چې انفاق ګڼل کېږي او هغه په ټولنیز ژوند کې عدالت او برابري خوندي کوی، هیڅ خیال نه دی ساتلی. د مثال په توګه هر مذهبي مشر یې په خپل ځای کې یو لوی شتمن وګڼي په شمار راځي. د فزیکي غوټوالي له اړخه که و ګورئ نو هم دغه مذهبي مشران داسې غټ غټ او غوټ غوټ دي، چې ته به وایې چا د لاندې لپاره روزلي دي او دوی هیڅکله د روژې نوم نه دی اورېدلی او د ورکړې په نامه د انفاق نه هیڅ هم نه پوهېږي. که چیرې دوی د اسلام ددین د مومن بها درېیم رکن څخه پوهه لرلی، منلی او پلي کړی وای لکه د اسلام د پیغمبر په خبر په خپلو کورونو کې به هیڅ نه لرلی او په دې توګه په پاکستان کې به دا هومره بې وزلي انسانان چې نه کور لري، نه کلی، نه خواړه لري او نه څښاک، نه جامې لري او نه درمل، هیڅ بې نوابه نه وو، پاتې شوي او د هغوی ټولو به په ټولنیز عدالت او برابرۍ کې ښه خسمانه شوې وای.
مګر د پاکستان مذهبي مشرانو په دې تېرو څو لسیزو کې چې د هندوستان او افغانستان له لمنې نه راوټوکېده او سر یې راپورته کړ، یواځې او یواځې لومړی د بریتانیا او بیا دا دی د امریکې د متحده ایالاتو په لاس کې د عبرت د سوبارۍ په توګه په سیمه کې د خپل محتسبانه دندې باندې د ډېرې بې شرمۍ سره سره بوخت دی، کله پر هند برید کوی او کله پر افغانستان. دا به یوه ورځ پر نورو اسلامي هېوادونو هم د اسلام په نامه بریدونه پیل کړی. ګني نو بیا ولې لویدیځوالو په سر کې د امریکې متحده ایالاتو د افغانستان پر ځای پر پاکستان ونه دانګل؟ کوم چې د القاعدې د زېږېدلو، رالوېدلو او خطرناک کېدلو پلازمېنه خو پاکستان و، نه افغانستان. لکه چې د القاعدې مشر هم په پاکستان کې هغه هم د پاکستان د پوځیانو په خېټه کې ووژل شو. دغو مذهبي مشرانو لکه د ځان په څېر د افغانستان لپاره هم هغسې مشران د جهاد په نامه وروزل، چې هر یو یې د جهاد په پیر کې د میلیاردونو شتمنیو خاوند شول، یعنې په

یوه جوړه جامو کې پاکستان ته په تېښته ورغلی و، خو اوس یې د جهاد له برکته د نړۍ بانګونه د ډالرو څخه پړسولي دي. د ایران د شیعه مذهبي مشران هم په دې لاره کې څه بېرته نه دي پاتې شوي. هغوی هم د اسلامي نظام د واکمنانو په نامه هر یو یې د میلیاردونو ډالرو شمتني ترلاسه کړې، کله چې په خوله خبره د رحمان وي او په زړه کارونه د شیطان نو کار به اورمرو همدغه ځای ته رارسېږي، لکه چې په پورته کرښو کې مو ولوستل: څوک چې د شیطان د لیارې څخه شتمن شي، د هغوی به د شیطاني شتمنیو سره سیالي او خپلوي وشي، کوم چې همدغسې هم وشول. د جهادي ډلو څخه یو شمېر چې سکتاریستي خوی او خصلت یې درلود. د یو شمېر کمونیستي ډلو سره چې هغوی هم د شیطان صفته سکتاریستي کړیو په څېر پېژندل کېدل، یو ځای شول او په افغانستان کې یې د روسیې او امریکې د مالي او نظامي مرستو په زور کابل ته ورننوتل او کابل یې د خپلو خونړیو جګړو چور او تالان ډګر وګرځاوه. دغه عمل چې د نړۍ د سترو ځواکونو په سر کې د امریکې غوښتنه و ه، دغو شرپسندو سکتاریستي ډلو ته په خلاص مټ د شیطاني شتمنیو د لاسپې ور ډېرولو او د نړۍ والو بانګونو د لاسپې پړسولو په موخه یو بریالی چانس و، چې خپل کړي یې وو.

د کابل جګړو چې د هیڅ یو اړخ د بري زېری نه ورکاوه، نړۍ والو ځواکونو د جګړو د اور د لمبو د لاسپې پایښت په موخه د عبرت د سوبارې پر لاس د طالبانو د غورځنګ په نامه یوه بله ډله د لوبې ډګر ته وړاندې کړه. دغې ډلې چې ښایي د کابل د جګړه مارانو په خوښه رامینځ ته شوې وي، د پیل څخه چې په کندهار کې وځلېدلی، بیا تر کابله پورې د ژغورونکو پرښتو په څېر په توندۍ سره د پخوانیو جګړه مارو سنګرونه نیول او پرمخه تلل. خو کله چې د کابل د وره خولې ته راورسېدلې، د کابل د جګړه مارې سکتاریستي ډلې له خوا د واک پر سر وننګوله شوه، یعنې دغې ډلې خپلو هغو ټولو پخوانیو لوظونو او سوګندونو ته شا واړوله، کوم چې د طالبانو سره یې تر میدان ښاره پورې لاسلیک کړې وی. په دې توګه د نړۍ والو سترو ځواکونو له خوا یو ځل بیا هم په کابل کې او بیا ورپسې په ټول افغانستان کې د جګړې میدان

سور اور وگرځېده. خو په نتيجه کې طالبانو کابل ونيوه، خو جګړه د کابل د ښار نه بهر د پروان ولايت په لوري وغځېدله. په کابل کې چې طالبانو پخواني جمهور رييس ډاکټر نجيب د ملګرو ملتونو له دفتر نه ويستلی، وژلی او ځړولی و، دغه عمل په نړۍ واله توګه وغندل شو. نور نو طالبانو ته هغه پخواني د ژغورونکو پرښتو نوم نه ورکول کېده. روسانو د جبل السراج او د خنجان په غونډو کې وښودله چې د خپلو سکتاريستي ډلو سره مرسته لاپسې زياتوي چې کابل بيا ونيسي او پرې واکمنه شي. په بله خوا کې د امريکې متحده ايالاتو دريځ د طالبانو د ملاتړ څخه په بل مخې واوښت او طالبان يواځې د پاکستان او سعودي عربستان او ځينو نورو د خليج شيخانو ته پرېښودل شول. دا ځل چې په افغانستان کې جګړه په روښانه توګه سيمه ايزه شوې وه، يوه خواته روسيې، ايران، هند، تاجکستان او ازبکستان مرسته کوله. بلې خوا ته چې طالبان وو، همغه پاکستان، عربستان او ځينې د خليج شيخان پاتې شول. جګړې بيا هم خپل وحشت د پخوا په څېر وساته، کابل چې پخوا ړنګ شوی و، څه يې نه لرل چې ړنګ شي، خپله مخه يې هغو کليو او بانډو ته واړوله چې لا ودان پاتې وو، په دې لړ کې د سکتاريستي ډلې له خوا د جبل السراج نه د سالنګ تر تونله پورې هغه ټول پلونه او پلچکونه چې روسانو ودان کړي وو، پر بمونو والوځول. لا پر دې يې هم زړه يخ نه شو د تونل يوه برخه يې هم پر بمونو والوځوله، څو شمال ته د غه لاره بنده شي. په دې توګه دغه ليار چې د افغانستان دسهيلي برخې سره د شمال برخه نښلوله، په عملي رنګ وتړل شوه. نور نو د موټرو تګ راتګ بند شو، نه يواځې دا چې د طالبانو په دې ليارې تګ راتګ بند شو، چې ولسي خلکو ته هم لوی خنډ وګرځېد. ډېر بې وزله انسانان په دې لياره کې په پښو د تللو راتللو له لامله تلف شول. طالبانو د شمال په لوري په دې ليارې خپل تګ وځنډاوه او مخ پر لويديځ شول. په لويديځ کې يې هرات نيولی و، بادغيس، فارياب او جوزجان ولايتونه هم تر تهديد لاندې ونيول شول. د دغو ولايتونو د نيولو نه وروسته په بلخ کې د مزار شريف ښار ته هم ورننوتل. مګر د ډېرو تلفاتو سره واپس وتمبېدل. خو طالبانو د دوهم بريد په ترڅ کې له خپلې لياري څخه د عبدالرشيد دوستم ځواکونه

او نور څه چې وو، لرې کړل او د مزارشریف ښار یې ونیوه. بیا یې هوډ وکړ چې پر پنجشېر درې هم برید وکړي، مگر په دې مهال د روسیې د جمهور رییس مرستیال طالبانو ته اخطار وکړ، چې که چیرې دوی پنجشېر ونیسي دا به کټ مټ د مسکو نیول وي. د دې اخطار له لامله نور نو هیڅکله هم طالبانو د پنجشېر د لاندې کولو خبره ونه کړه. خو په شمال کې یې د مزار شریف نه وروسته، سمنگان، بغلان او د کندز ولایتونه ونیول او بیا یې پر تالقانو چې د تخار ولایت پلازمېنه وه، برید وکړ او هغه یې هم ونیوه. د شمال د ایتلافي ځواکونو مشر احمدشاه مسعود هوډ وکړ، چې نور به له هېواد نه بهر کوم بل هېواد ته مهاجر کېږي، خو د روسیې حکومت ورته مشوره ورنه کړه او ورته وې ویلې که له هېواده بهر هجرت وکړي، نو به په هغه حالت کې د تل لپاره له افغانستان نه بهر پاتې شي او نور به د افغانستان مخه ونه ویني. خو که چیرې د پخوا په څېر د افغانستان په دننه کې پاتې شي، دا هیله شته چې یوه ورځ به ټول افغانستان ونیسي. د دې مشورې پرمخ احمدشاه مسعود بهر ته د هجرت له هوډه واوښته او د تخار د ولایت د خواجه بهاوالدین په سیمه کې د روسیې د هوایي او ځمکني ځواکونو د سیوري لاندې میشت شو. دغه سیمه د تاجکستان پولې ته نیژدې پرته ده. هلته چې د روسې پوره نظامي او سیاسي شته والی خوندي دي. په خواجه بهاو الدین کې چې نور د برهان الدین رباني په نامه د حکومت پلازمېنه گرځېدلې وه، هر هغه اوسېدونکی چې پښتون ټبره وو یا ووژل شول یا له کوره او کلي وشړل شول. کورونه او ځمکې یې تاجکو او ازبکو ټبرونو ته په غصب ورکړل شوې، او هم د ځمکو او کورونو د څښتنانو په غیاب کې د برهان الدین رباني په امر ازبکو او تاجکو ته په جعلي شرعي قبالو وپلرول شوې. دغې سکتاریستي کرکې خپله سکتاریستي څېره لا په نورو کړنو کې هم بربنډه کړه. لکه د افغانستان د نامه سره دښمني او د خراسان زنده باد نارې، هغوی چې جگړه بایللې وه او یواځې د خپلو بهرنیانو بادارانو د مرستو په هیله شپې او ورځې تېرولې او باد ا رانو هم خپلې هیلې د دوی په شته والي کې مړې لیدلې، په داسې ودرېدلي حالت کې د سیاست د ودرېدلې څپې د بیا په خوځېدو په هیله احمدشاه مسعود ترور شو.

لومړی د ترور په خبره کې احمدشاه مسعود ژوبل او بیا وویل شول چې نوموړی د روغتون په لاره کې خپله ساه ورکړه او مړ شو. د ده پر مرگ روسیې، لویدیځو هېوادونو او د افغانستان ځینو گاونډیو لکه تاجکستان او ایران د ویر اوښکې تویې کړلې، خو لوی مصیبت د احمدشاه مسعود د مرگ په دومه ورځ راپرېوت، چې د امریکې د متحده ایالاتو د نیویارک پر دوه وو برجونو او د واشنگټن ډي سي په ښار کې د دفاع وزارت پر ودانۍ د سترو ملکي الوتکو لگېدنې وې، دغې پېښې چې ټوله نړۍ یې ولړځوله، په ظاهره ښه په رښتینه توگه غم لړلې وې. د دې پېښو تور چې پر چا ولگېده، هغه څو تنه عربي ځوانان وو، چې د القاعدې غړي ښودل کېدل. د القاعدې مشر اسامه بن لادن د سعودي عربستان میشتي وگړي دي، چې د افغانستان دجهاد په بهیر کې د امریکا د استخباراتي شبکې، سی آی اې له خوا د جهاد لپاره روزل شوي او گمارل شوي وو. د دې سړي د لاسته راوړلو په پار د امریکې جمهور رییس بوش په نړۍ واله کچه د خپلو غوښتنو ډنډوره وغږوله، او گواښ یې وکړ که چیرې په افغانستان کې د طالبانو واکمنۍ اسامه موږ ته ونه سپاري، موږ به په ټول زور پر هغوی برید وکړو. جمهور رییس بوش دا هم ورزیاته کړه چې د نړۍ وال هېوادونه لا به موږ سره وي، لا به د القاعدې سره. بله لیاره نشته. په ځواب کې د طالبانو واکمنۍ په ظاهره د امریکې غوښتنې ونه منلې، په پټه کې لکه چې د هغوی د کورنیو چارو مرستیال وزیر ملا عبدالصمد خاکسار وینا ده چې (د اسامه د سپارلو هوډ یې امریکې ته وړاندې کړی، مگر دا د امریکې د سي آی اې شبکې کار و، چې د اسامه د تسلمېدو څخه ډډه وکړه او هغه یې وانخیست.

ملا عبدالصمد په خپلې وینا کې چې د اروپا د هېوادونو په ټولو تلویزیوني چینلونو کې خپور شوې، ویلي وو، چې ده په خپله درې ځلې د سي آی آې دفترونو ته څه په پېښور کې او څه په اسلام اباد کې مراجعه کړې او د اسامه د سپارلو هوډ یې ورښکاره کړی، خو هغوی په هماغه لومړنیي دریځ پاتې شول او د اسامه د تسلمیدو څخه یې ډډه و کوله.)

# پاکستان د عبرت سوباړي

لکه څنګه چې د (ربنتیا ربنتیا دي) په کتاب کې د خان عبدالولي خان له خوا لیکل شوي، پاکستان د هغې موخې لپاره رامینځ ته شو، چې په هند کې د بریتانیا د استعماري لمنه په ټولېدو شوه. استعماري ځواک د هند د ټاپو وزمې د راتلونکي په هکله په اندېښنه وه. هغوی داسې انګېرله، چې که چیرې بریتانیا هند په خپل حال پرېږدي او ورنه ووځي. په هغه حالت کې به د روسیې استعماري ځواک پر افغانستان ودانګي او هغه به اشغال کړي. د روسیې د اشغال د مخنیوي په موخه باید داسې یو سنګر ولري، چې وکولای شي، له هغه ځایه څخه د روسیې د پرمختګ مخه ونیسي. د دې موخې لپاره د هند د ویش او د پاکستان په نامه د یو بېل هېواد د رامینځ ته کېدلو پلان او پروګرام یې د لاس پر سر ونیولو. همغه وو چې د هند څخه د وتلو سره جوخت سمدلاسه پاکستان ته ورننوته او میشت شو. د پاکستان د جوړېدلو د لومړۍ ورځې څخه تر نن ورځې پورې د بریتانیا استعماري ځواک وکولی شول، د پاکستان څخه د عبرت د سوباړي په توګه ګټه واخلي. لکه چې له همدې پاکستان څخه یې د روسیې شوروي پوځونو د پرمختګ مخه په افغانستان کې ونیوله. بریتانیا وکولای شول، له پاکستان څخه د هند په خاوره کې هم په مختلفو رنګونو او بهانو لاس وهنه ولري. د کشمیر لانجې په دې لیاره کې د هند او پاکستان ترمنځه د سیاسي سیالیو سره جوخت تسلیحاتي سیالیو ته هم پراخه ورشو ببنلې ده. خو د افغانستان او پاکستان ترمنځه یې د پښتنو مسئله یوه شوده وره غوا جوړه کړې ده. بریتانیا د پښتنو په خاوره کې هغه چې د پاکستان په نامه شوې په پراخه توګه سیاسي نظامي او کلتوري سیوری غوړولی دی، بریتانیا پر دې پوهېږي چې پښتانه د پردیو واکمنیو ته غاړه نه ږدي. بیا هم له اسلام اباد څخه په سیده توګه د پښتنو د سیمې چارې څاري. هر خوځښت چې د پښتنو په خاوره کې راولاړېږي، په هغه کې به اورمرو د بریتانیا

لاس وي. دا څه پټه خبره نه ده، کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان ودانګل، د پښتنو په همدغې سیمې کې د شوروي د مخنیوي په موخه مختلفه نظامي تنظیمونه جوړ شول چې مالي مرستې یې په ډېره لوړه کچه د بریتانیا څخه تمویلیدلی. بریتانیا په عمل کې د پاکستان څخه د اسلام په نامه په څرګنده توګه د وهلو او ټکولو سوباړي جوړ کړي، هر چانه یې چې زړه بد شي، هغه به پر پاکستاني سوباړی وډبوي، چې دا عمل لا تر اوسه پورې هم په ښه زور او شور سره پر مخه درومي، کله چې په امریکې کې د سپتمبر یوولسمې نیېټې پېښه رامینځ ته شوه، د امریکې جمهور رییس پاکستان وګواښه چې یا به دوی سره د القاعدې پر ضد په جګړه کې برخه اخلي، یا به د امریکې بریدونو ته ځان سنبالوي. پاکستان د دې ګواښ له لامله د امریکا سره یو ځای شو، چې باید هم د هغوی سره یو ځای شوي وای. دا ځکه چې د پاکستان موروثي بادار بریتانیا هم په دې جګړې کې د امریکې په ملاتړ راوتلې وه. د امریکې متحده ایالاتو د بریتانیا او د ناټو د هېوادونو په مرسته پخوا له دې چې پر افغانستان ودانګي د روسیې پر مرستو د افغانستان د شمالي ګاونډېیو هېوادونو په خاوره کې خپل پوځونه پلي کړل او بیا یې د ایران او پاکستان د هوایي کربنو نه په ګټه اخیستنې په افغاسنتان کې د طالبانو پر مورچو او تم ځایونو بریدونه پیل کړل.

طالبان یې د دوه وو میاشتو په اوږدو کې دې ته اړ کړل، چې واک پرېږدي. طالبان له واکه ووتل او هره خوا اوراه شول. خو د هغوی ځایونه هغو بدنامو ځواکونو ته و سپارل شول، چې د شر او فساد په تور د طالبانو له خوا له واکه شړل شوي وو. دا چې په یوه بېګانه هېواد کې هر پره دې سرتېري په خپل ذات کې یو ځان وژونکې دي، ځکه چې سر تېري نومېږي، یعنې له خپله سره او ځانه تېر دی. نو د امریکې د پوځونو هر یو سرتېري په افغانستان کې هغه هم د افغانستان د اشغال په معامله کې په خپل ذات کې یو ځان وژونکي ګڼل کېږي. دغو امریکایي پوځي ځان وژونکو د افغانستان د نیولو په موخه د شر او د فساد د ځواکونو سره یو ځای افغانستان ته ورننوتل. په افغانستان کې یې هغه طالب ځواکونه چې ژوندي تسلیم شوي وو او د جنګي اسیرانو په څیر ګڼل

کېدل، په بې رحمانه توګه څه ووژل او څه یې هم ژوندي تر خاورو لاندې کړل، چې لا ترننه پورې د دې جنګي جنایت پوښتنه چا ونه کړای شوه، عدالت په لاهه کې او د بشر د حقوقو ځانګه په نیویارک کې ګونګه خوله پاتې شوه.

کله چې د پردیو پوځونو ځان وژونکیو سرتېرو د افغاسنتان په سهیلي، سهیل ختیځ او ختیځو سیمو کې د افغاسنتان پر کلیو او کورونو بریدونه پیل کړل او هر چیرته یې کورونه، کروندې او باغونه په ناحقه توګه په بمونو والوځول او اوسېدونکي یې ووژل. نو دغه لامل د سیمې اوسېدونکي یې دېته اړ کړل، چې باالمثل عمل غوره کړي او د پردیو ځان وژونکیو سرتېرو څخه په باالمثله توګه غچ واخلي، نو هر ځوان او زوړ په ډېر ویاړ سره د خپلې خاورې او ناموس د ساتنې په نامه ځان وژلو او غچ اخیستلو ته چمتو شو، خو خواشیني په دې ټکي کې ده چې د افغان دفاعي عمل ته د ځان وژونکي په نامه بد او رد ویل کېږي او هغه رټي، خو د پردیو پوځونو څخه چې هر یو یې په خپل ذات کې یو ځان وژونکی دی، ستاینه کېږي. دوی چې دخپلو پوځونو هر وګړي ته د سرتېري او سرباز په نامه چې په ځرګنده توګه د ځان وژونکې معنی لري، و یاړونه ښي او ستاینې کوي، مګر د مقابل لوري سرتېري ته چې حقیقتاً سرتېري دې او له خپل مال، ناموس او وطن نه دفاع کوي، بد او رد وایي او غندي یې. د زور په قانون کې د تل لپاره لیدل شوي، چې د ځان، ناموس او د هېواد دفاع کوونکي ته، خاین، قاتل، تروریست، د پردي اجنټ او اشرار نوم ورکړ شوی، خو د ځان لپاره یې چې د بل چا پر سر، مال، ناموس او هېواد بلوسېدلی دی، د فاتح، ژغورونکي او د اتل نوم اخیستی دی. مګر تاریخ خپل عادلانه قضاوت نه هېروي. موږ ولیدل له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د وتلو نه وروسته چې باید امریکایان ورته ننوتلي وای، د ځینو جهادي تنظیمونو له خوا سره د دې چې د امریکې ډېرې مرستې یې ترلاسه کولې، مخالفت او ممانعت وشو. چا چې مخالفت وکړ، هغه یې د فاسد په نوم ونوماوه، چا چې ممانعت و کړ، هغه یې د فاشیست په نامه وټکاوه، امریکایانو لکه څرنګه چې په اروپایي رسنیو کې که هغه رسمي وې او که غیر رسمي د سپتمبر د میاشتې د

یوولسمې نېټې پېښه یې د سي آی اې او موساد د جاسوسي شبکو له خوا طرحه او پلي شوي عمل وګڼه. دوی داسې انګیرې چې امریکایان غواړي د اسرایلو د تلمود د کتاب د سترو پېښو په څېر دغه پېښه نړۍ والو ته وښیي او بیا د تلمود د پېښو په څېر په نړۍ کې سترې سیاسي، جغرافیایي او کلتوري بدلونونه رامینځ ته کړي او په دې توګه د خپل ستر نړۍ وال ځواک عظمت وښیي، د تلمود دکتاب په پېښو کې د نوح علیه السلام په مهال دتوپان، د ابراهیم علیه السلام او د نمرود، د موسی علیه السلام او د فرعون او داسې نورې کیسې او پېښې د نړۍ والو پېښو په نامه نومول شوي دي. نو دا دي امریکایانو هم د اسرایلو په مرسته یوه بله نړۍ واله پېښه وزېږوله، څو د هغه په نامه هر چیرته او په هر هېواد کې د تروریزم په نامه خپل پوځونه پلي کړي او په دې توګه خپلو شومو موخو ته ورسېږي. له دې کبله د سپتمبر د یوولسمې نېټې پېښې سره سم پر طالبانو د تروریست تور ولګول شو او پر دې بهانه افغانستان ته ورننوتل، څو د شوروي پوځیانو خلا ډکه کړي، چې د روسیې له خوا هم په دې لیاره کې د امریکایانو سره د جوال خوله ونیوله شوه. ځکه چې دغه دواړو ځان غوښتونکیو په نولسمې او شلمې پېړۍ کې د استعماري ځواکونو په بڼه چې له کوم هېواده په و تلو مجبورېدل، بل به یې په هغه هېواد کې ننواته، لکه چې په و یتنام کې پېښه شوه، فرانسوي استعمار له ویتنامه وواته، خو امریکایان ورننوتل، امریکایان ووتل، روسان ویتنام ته ورننوتل، په افغاسنتان کې هم د دوی دواړو ترمنځ همدغسې ګڼل کېدله. خو د شوروي د ځواکونو د وتلو سره جوخت، دېته زمینه مساعده نه شوه څو امریکایي ځواکونه ورننوځي. د بهرنیو ځواکونو پر ځای مجاهدینو ومنله چې یو داسې غورځنګ ته واک وسپاري، چې هغه د مجاهدینو د ډلې څخه جوړه شوي وي. د دې پلان د پلي کولو لپاره پاکستان چې د عبرت د سوباړي په توګه کار ورکاوه، د طالبانو غورځنګ رامینځ ته کړ او نتیجه هماغه شوه، چې د طالبانو په برخه کې مو و رته ګوته ونیوله، طالبانو چې د لویدیځو هېوادونو د پوځیانو د ننوتلو څخه انکار وکړ، لویدځوالو هم ورته د تروریست نوم وبانبه او راغلل، راغلل خو په ډېر زور او شور سره، داسې زور او شور سره چې د

**ځځوالي له مخې ډېره ستره کچه ګټل کېږي.**
**دا دي دیارلس کاله تېر شول، چې لویدیځوال د امریکې په سروالي خپله جګړه پرمخه بیايي، په دې دیارلسو کلونو کې که یو رښتینی طالب و، نهه نوي تنه نور د بهرنیو جاسوسي شبکو له خوا چې پوځونه یې په افغانستان کې په جګړه بوخت دي، د طالب په نامه وروزل شول، مسلح شول او د ځان وژونکو په نامه وکارول شول. اوس به ښايي ډېر داسې طالبان ومیندل شي، چې څه یې ایراني، څه یې هندي، څه یې پاکستاني، څه یې امریکایي، څه یې چینایي او څه یې د کابل د حکومت جاسوسي شبکو روزلي او د ځان وژنې ډګر ته یې ورټاندې کړي وي. که یو ماین په کوم ځای کې د رښتینو طالبانو له خوا اینښودل کېږي، خوا کې به یې نور نهه نوي ماینونه هم د نورو شبکو له اړخه د طالبانو په نامه اینښودل شوي وي. دا ځکه چې د افغانستان د هوا او ځمکې کنټرول د بهرنیو پوځونو چې د امریکې پر سروالۍ جګړه مخ ته بیايي، په لاسونو کې ده او هیڅکله ممکنه نه ده. په دغې پراخې کچې چې په افغانستان کې ماینونه کارول کېږي، یواځې د رښتینو طالبانو کار وي، په افغاسنان کې سیاست خپله انساني بڼه له لاسه ورکړې ده، څه چې د سیاست په نامه اورېدل کېږي یا لیدل کېږي، هغه خو د سیاست د وحشت او بربریت اړخ دی، چې له هوا او له ځمکې نه پر بې وزلو پښتنو لورول شوي دي، دلته لکه څنګه چې په تېرو بحثونو کې مو ورته ګوته ونیوله، جګړه ایز جنایت روان دی. دغې جګړه ایزې جنایت په شلمه پېړۍ کې د کمونیزم مخ تور کړ او د تاریخ کندې ته یې وغورځاوه. د یوویشتمې پېړۍ د پیل سره بیا هم همدغې جګړه ایزې جنایت په افغاسنتان کې د دیموکراسۍ مخ ور تور کړ او ورسره یې د سیاسي اسلام بڼه هم په بل مخې واړوله. دا ځکه چې نه کمونیزم دکمونیزم لپاره غوښتل کېده او نه دیموکراسي د دیموکراسۍ لپاره د دې سره جوخت سیاسي اسلام هم د رښتینې مسلمانۍ د ترجمان په توګه پاتې نه شوه. یو د روسیې، بل د امریکې او دا دربیم یې د پاکستاني واکمنۍ مدعیان و ګرځېدل. د سیاست په شیطاني اړخ کې د هرې لورې نه چې څه و شول، هغو ټولو ته د جنګي جنایت په سترګو کتل کېږي. چې همداسې هم دي، د سیاسي اسلام مدعیان**

**د ډالرو او کلدارو په راټولولو کې د جهاد ټول افتخارات وبایلل. د دیموکراسۍ مدعیانو هم د دیموکراسۍ په نامه په میلیاردونو ډالره په افغانستان کې حیف او میل کړل، چې اوس د فساد د کچې له مخې په ټوله نړۍ کې د ټولو په سر کې ولاړ دی. « په کوم ځای کې چې کوم تور پر چا لګېږي، ته هماغلته ولاړ لکه لکړه، مبارز څاپې»**

**هو! افغانستان د هغې بتۍ په څېر شوه، چې پردي په کې خپلې اومه کلالي لوخې پخوي. دلته د سیاسي اسلام د کلال لوخي د دې پر ځای چې پاخه شي، اومه راووتل. په دې کې کمونیزم وسوځېده او ایره شو. دا دی د دیموکراسۍ د کلالانو لوخې هم یو په بل پسې اومه راوځي، چا چې اسلام غوښته، هغوی ورته د غلو داړه مارانو ډلګه ګۍ راوستله، چا چې ورته کمونیزم غوښته، هغوی ورته انسان وژونکي قاتلان راوستل او چا چې ورته دیموکراسي غوښتله، هغوی ورته د شر او فساد، د ترور او ځان وژونکو قاتلان راوستل. لورینه او پېرزوینه د هنداري بڼه لري. څه شی چې ورته په مخه کې ودروي، هماغه درته ښيي، هوډونه چې فاسد وي، د پلي کېدلو په مهال کې د فساد خپرولو له لامله ټولنه د فساد په لوري بیایي. په افغانستان کې د شلمې او یوویشتمې پېړۍ جنایتکارانو په خپله وښودله، چې د هغوی هوډونه سپېڅلي نه وو. دغو ناوړو هوډونو او انسان دښمنه کړنو په نړۍ کې د یو ستر ناورین د پېښېدو لامل وګرځېد. وګورئ په افغانستان کې چې د ځان وژنې نوم چا نه و اورېدلی، د پنځوسو نه د زیاتو ښکېلاګرو هېادوونو د ځان وژونکیو سرتېرو د اشغال د ماتولو په موخه د طالب ځان وژونکیو ورځنیو پېښو نه یواځې دا چې د افغانستان بې وزله او سوله دوسته و لس په ویر کې اچولې. بلکې د نړۍ د نورو هېوادونو سوله يې هم د ګواښ سره مخامخ کړې ده. د ځان وژونکیو، ځان وژنه داسې یو عمل دی، چې د پېښې پر ځای کې د مجرم په نامه څوک ژوندي نه پاتې کېږي، چې ونیول شي، محاکمه شي او په خپله سزا ورسېږي. خو د هغوی د مقابل لوري د سرتېرو شته والی هم تر اوسه چا د ځان وژنې په تور تر پوښتنې لاندې نه دی نیولی او چا د ځان وژونکي په نوم نه دی تورن کړی، چې زما په اند دغه یو اړخیزه کړنه د عدالت د تلې نه د تېښتې پرته بله**

څه نه شي ګټل کېدلی. دا ځکه که چیرې موږ د سرتېري په لغوي معنی څه غوندې سوچ وکړو، په خپله به و پوهېږو، چې سرتېري یعنې ځان وژونکي، خو هغه چې د سرتېري په نامه راغلي څو یو پردی هېواد ونیسي او اشغال کړي، سره د دې چې پوهېږي د بل چا پر سنګر دانګل په خپل ذات کې ځان وژنه ده، بیا هم سترګې پرې پټېږي او هغه ځان وژونکي کړنې ته د اتلوالۍ بڼه وربښي او ستایي یې. کوم چې په حقیقت کې هره خوا یعنې هغه چې له خپله سره تیرېږي او پر پردي سنګر دانګي هم او هغه چې له خپله سنګره د ساتنې په نامه ځان وژني، دواړه ځان وژونکي دي، مګر په دې توپیر څوک چې د بل چا پر سنګر برید کوی، روا وي او که ناروا، له خپله بریده د بهر وتلو معنی ورکوي او د غندلو وړ دی، خو هغه کسان چې غواړي له خپله سنګره د ساتنې په موخه ځان وژنه کوي او په دې توګه د بریدګرو ځان وژونکیو شاته تمبول اړین بولي، دغه کسان د دې پر ځای چې وستایل شي، ګورو چې په پراخه کچه غندل کېږي، دا چې ځان و ژنه په هر حالت کې هغه که روا وي او که ناروا، یو ناروا کار دی، چې باید په کلکه توګه یې مخه ونیول شي. مګر د دیموکراسۍ غوښتونکیو د ځان وژنو د دودېدلو په هکله لا پسې لاملونه زېږولي دي، دغه لاملونه کولی شو، په دې ټکیو کې په لنډه توګه وشمېرو.

۱-د دیموکراسۍ د مدعیانو ځواک خپله هوایي او ځمکنۍ جګړه مخ ته بیایي. کوم چې طالبان د هوایي چتر په نامه کومه دفاعیه نه لري او په ځمکنۍ جګړه کې هم د وسلو له اړخه د مقابل لوري سره نه شي پرتله کېدلی.

۲-د دیموکراسۍ مدعیان د طالبانو څلور خواوې یعنې ختیځ، لویدیځ، شمال او سهیل یې په خپله ولکه کې نیولی او په ټولو ګاونډیو هېوادونو کې یې هم خپل پوځونه ځای پر ځای کړي، څو هیڅ یو طالب په هیڅ یو لوري ونه شي تښتېدلی.

۳-طالب ته چې د سهیل په لورې د تېښتې کومه ورشو ښکارېدله، پر هغه خوا هم د پاکستاني پوځیانو د حضور له لامله د تللو او دمه کېدلو وسه له لاسه ورکړې، لکه چې ډېر طالبان ونیول شول او د امریکې ځواکونو ته ژوندي وسپارل شول، چې تر ګونتانامو هم رسېدلي دي.

په دې توګه طالبانو ته نور څه پاتې نه وو، لا به جګړه کوي، لا به ځانونه سپاري. د ځانونو په سپارلو کې یې ارومرو مرګ په خپلو سترګو کې لیدلو، لکه چې د افغانستان په کندز او مزار شریف او د شبرغان د لیلي په دښتې کې پېښې شوې نو له دې لامله څنګه چې وایي چې په تنګ راشي نو په جنګ راشي.

طالبان چې له هرې لوري محاصره وو او محاصره هم ورځ تر بلې لاپسې ټینګېدله، له بلې خوا د دښمن سره په جګجړه کې هم سیاله وسله نه لرله، نو څه به یې کړي وای؟ همدغه یوه لیاره پاتې وه، چې د ځان وژنې سره دښمن ته هم مرګاني ګذار ورکړي. دا د دیموکراسۍ د مدعیانو غوښتنه وه، چې په افغانستان کې د انسانانو هغه هم د پښتنو شمېر باید ټیټې کچې ته ورسېږي، څو د خپلې خوښې لاس وهنه په کې وکولی شي، نو د دې هوډ پرمخ که پښتانه په هر اړخ کې ومري د دوی د دښمنانه موخې په ګټه دی، ځکه نو د کابل پر واکمنۍ باندې تپل شوی ځواک ته د دې وسه ورنکړله شوه، څو د ورځنې مرګ ژوبلې نه پرته ارامه ساه وباسي. پښتانه څه د بهرنیانو په سیده بریدونو او څه د کابل د واکمنۍ د ملاتړ په نامه د کابل د ځواکونو سره د ګډو عملیاتو په ترڅ کې او څه هم د طالبانو د جګړو او ځان وژونکیو بریدونو په لړ کې مړه شول. پر پښتنو یې داسې تندریزه بلا وغورځوله، چې ته به وایي بیا چنګیزي مصیبت پر سیمې راغلي او دا دی په سیمه کې د ژوند د پای ته رسولو څپه یو په بل پسې پرمخه بیایي. دا خبره ښایي د حقیقت څخه هم لرې نه وي، ځکه چې د ځمکې پرمخ د انسانانو شمېره تر هغې کچې رسېدلې ده، چې نور په کې نه ځایېږي او باید د شمېر کچه یې ټیټه شي. د کچې د ټیټولو او تر لږه کیو رسولو بهانې هم څه لږې نه دي. ښایي یوه به یې هم همدغه وي، چې لېوه له پاسه نه په ښکته کې پسه ته وایي چې دا اوبه دې ولې خړې کړلې؟ او بیا راشي د پسه غاړه ماته کړي او وې خوري. لویدیځو هېوادونو په سر کې د امریکا متحده ایالاتو هم د دیموکراسۍ په نامه پر ډېره کیو د لږه کیو واکمنوولو په لیاره کې یواځې افغانستان نه دی چې په کې دا دیارلس کاله کېږي، جګړه مخ ته بیایي، د تاریخ په اوږدو کې یې پر نورو هېوادونو هم دا

او داسې ډېرې بې گناه او بې وزله ولسونه يې ژوندي ژوندي په اور کې سوځولي دي.
دوی سره مسيحيت يواځې د خولې يوه خبره ده او کنه نو په مسيحيت کې په کوټلې توگه د انسانانو وژنه د کورونو ړنگونه او د و لسونو شړنه کوم چې په افغانستان کې په عملي توگه وليدل شول، ناروا گڼل شوي او هيچاته دا واک نه دی ورکړل شوی، څو د يو انسان کور ړنگ کړي، يا له کوره يې وشړي او يا يې ووژني. امريکايي ځواکونو دا ټول کارونه په افغانستبان کې وکړل، د دې نه هم لا اخوا مړي يې وسوځول، د مړيو بې حرمتي يې وکوله. د افغانستان په دننه کې بې شمېره زندانونه يې جوړ کړل. په زندانونو کې يې ډېر بې وزله او بې گناهو پښتنو ته د انسانيت د حرم نه بهر زجرونه، ربړونه او تکليفونه ورسول او په دې توگه د ديموکراسۍ مخ يې داسې تور کړ، چې بيا به په راتلونکيو پېړيو کې سپين نه شي. خو د دې ټولو ظلمونو او ناروااوو سره سره امريکايانو ترننه پورې هيڅ يو داسې پښتون وگړی پيدا نه کړای شو، چې هغه دې د القاعدې غړی يا د امريکا د نيويارک او واشنگټن په پېښو کې ښکېل وي. د انسان له خوا د انسان وژنه، همغه  د آدم عليه السلام د زوی قابيل عمل دی، چې خپل ورور هابيل يې وواژه. قابيل چې د خپل ورور د وژلو په کار کې د تشدد نه کار اخيستی او په دې توگه د تشدد د لومړني پنځوونکي په نوم يادېږي. گورو چې د ديموکراسۍ مدعيان هم د خپل د غور نيکه قابيل په څېر دي. يعنې دا د نن ورځې د ديموکراسۍ مدعيان د پرون ورځې د فرعون بچيان، د تېرې ورځې د نمرود لمسيان او د هغه نه اخوا د قابيل نبـيره گڼل کېږي، چې د بې گناه انسانانو په وژلو خپلې ناروا غوښتنې د وسلو پر زور ترلاسه کوي. د د وي د ناروااوو غوښتنو په سر کې ښايي د دوی نړۍ واله واکمني وي، چې د عيسی عليه السلام له مهاله تر اوسه پورې په دې ټکي کلک ښتي دي، چې گني عيسی عليه السلام د نړۍ لپاره د پادشاه په توگه راغلي وو او نړۍ بايد د هغه سلطنت ومني، خو د دغې سلطنت په لاسته راوړلو او جوړولو کې هم په خپلو منځونو کې ويشلې پاتې دي. يوه ډله د ارتدوکس په نامه چې په سر کې يې روسان ولاړ دي، دغه سلطنت د ځان

لپاره غواړي، بله ډله چې د پروتسانو په نامه او په سر کې یې انګرېزان ولاړ دي، له هرې لوري خپل ځان د.عیسی علیه السلام ځای ناستی ګڼي. دغه د عیسی ځای ناستي د دیموکراسۍ په نامه هر هغه څوک چې په نړۍ کې سر پورته کړي، په مرګوني توګه یې ټکوي. یعنې د نړۍ پر پادشاهۍ باندې یا دا چې د دوی د یواځیني واکمنۍ نه پرته بل کوم سیال رامینځ ته نه شي، په رنګ په رنګه بهانو د جګړو د اور مخه هری خواته بیایي. کله په اسیا کې، کله په اروپا کې، کله په امریکا کې او کله په افریقا کې همدوی دي، چې بې ګناه او بې وزلي انسانان د اور په لمبو کې سوځوي. څو د د وی د واکمنۍ د پرمختګ په لاره کې خنډ سر راپوته نه کړي.
د د وی بهانې لکه چې په افغانستان کې ولیدل شول، کله د کفر او کمونیزم، کله د اسلام او ترورېزم او کله هم د جهالت او ناپوهۍ سره د مبارزې په نامه خپل لاسونه هره خوا اوږدوي او د هغو سیمو ولسونه د اور په لمبو کې لولپه کوي، خو دوی د یوې موخې ملګري دي، چې د مسیحي ګروهي نه پرته د بلې ګروهې سیالي به په دې لیاره کې نه زغمي. لکه چې د تاریخ په اوږدو کې یې خپله څېره هم په څرګنده توګه ښودلې ده. زموږ په هېواد کې د شوروي پوځونو سره د اوږدې جګړې په پای کې لویدیځ او ختیځ سیالګرو ځواکونو په دې ټکي یوه خوله شول، چې په افغانستان کې به لکه د ایران د خمیني رژیم په څېر یو انقلابي نظام چې په اسلامي اصولو ولاړې وي، نه رامینځ ته کېږي. کوم چې په دې هوډ کې ترننه پورې بریالی هم دی. په دې کار کې لویدیځوال تر ختیځوالو په ښه توګه مخکې دي. دا ځکه چې لویدیځوالو سره پتیلي وه، چې اسلامي بنسټ پاله ډلې به په پاکستان کې تر یوې مشرۍ لاندې نه شي راغونډېدلی، همدغه لامل وو، چې د ضیاءالحق په مهال کې پاکستان د افغانستان لپاره اوه تنظیمونه جوړ کړل او دا اوه واړه یې یو د بل پرضد هم وجنګول. کله چې په ژینو کې د سولې خبرو وار راغی. بیا نو دا تنظیمونه، نه وو چې د خپل هېواد او د خپل جهاد استازیتوب یې کړی وای. یا لږ تر لږه د خپلو تنظیمونو په نامه مطرح شوي وای. د دوی پر ځای دا پاکستان و، چې د لویدیځوالو په مرسته د افغانستان د جهادي تنظیمونو په

نمایندګۍ د سولې د خبرو پر کورسۍ کېناست. په دې توګه له لومړي سره د لویدیځوالو له خوا د افغانستان لپاره د اسلام په نامه جهادي تنظیمونه په پام کې نه وو نیول شوي او نه هم دا خبره په پام کې وه، چې ګني دوی به یوه ورځ د واکمنۍ مدعیان وګرځي. لویدیځوالو د پاکستان په لاسونو داسې لوبه وکړه، چې هیڅ یوه جهادي تنظیم ورته سوچ هم نه وو کړی. له بلې خوا شوروي اتحاد له افغانستان نه د وتلو په درشل کې د لویدځ والو سره په پوهاوي داسې لوبه وکړه، چې د جهاد د بریالي توبونو بنسټ یې ولړځاوه. هغوی د جهادي تنظیمونو سیمه ایزو قوماندانانو سره اړیکې وزغلولې. لا په شمال کې یې د شورای نظار په نامه جلا ډله رامینځ ته کړله. په دې ډلې کې د سیاسي پلوه پرچمیان، ستمیان، شعله یان او اخوانیان راټول کړل، چې هغوی ټول د اتنیکي له اړخه د افغانستان د لږه کیو قومونو پورې چې تاجیک، ازبک او هزاره ووو تړاو درلود. د دې ډلې بنستیزه موخه له پیله روښانه وه، چې د جهاد د بریالیتوب بنسټ به له بنسټه دړې وړې کوي، چې همداسې هم وشول، دا ډله چې د جمعیت اسلامي په خېټه کې د مرخیړي په څېر سر راپوته کړی و، له لومړي سر نه یې خپله تېره چاړه د حزب اسلامي د ډلې د قوماندانانو په لوري ونیوله. د مثال په توګه په تخار ولایت کې ډېرې دردوونکې او غملړلې پېښې یې رامینځ ته کړلې، چې په نتیجه کې د حزب اسلامي د قوماندانانو سره یو ځای د جمعیت اسلامي هم یو زیات شمېر قوماندانان تلف شول. دغو پېښو او د دې سره د افغانستان په نورو سیمو کې د نورو پېښو په کتلو دا ټکي څرګندېږي، چې د شورای نظار جګړه د شوروي اتحاد د پوځونو سره دومره نه وه پېښه شوې، څومره چې د حزب اسلامي د ځواکونو سره یې پر مخ بېولې ده. د دې خبرې تایید په خپله د شوروي اتحاد د قوماندانانو په لیکنو کې هم خپل غبرګون ښودلی دی.

د لویدیځو او ختیځو یعنې د امریکې او شوروي اتحاد په هم غږۍ سره په افغانستان کې د جهاد بریالیتوب په ډېره مرموزه توګه، خو د د اخلي ځان نه ناخبرو څېرو په لاس کې په څرګنده توګه توکړې توکړې کړی شو.ه د شوروي اتحاد له خوا د احمدشاه مسعود منل او همدارنګه د امریکې له خوا د جنرال

دوستم منل یوه څرګنده بېلګه ده، چې د دې دوارو دښمنو اړخونو د همغږۍ ښودنه کوي. دغو دوارو څېرو په ډېره زغرده توګه د جهاد ټول امتیازونه او ټولې ښېګڼې د ځان کړلې او دا یې نړۍ ته وښودله چې جهاد یعنې احمدشاه مسعود او جنرال دوستم په پښتو کې متل دی، چې د تارو یې کېزه وي، د هغه آس به څه مزه وي؟ جنرال دوستم د شوروي اتحاد د کمونیزم په بتۍ کې پوخ شوی، خو د امریکې لپاره د جهاد یو لوی مجاهد وګرځېد، همدارنګه احمدشاه مسعود چې د امریکې په لمنه کې را لوی شوی و، د شوروي اتحاد لپاره د هغوی د ګټو د ساتلو په لیاره کې د یو ستر اتل په توګه وپېژندل شو. د پارسي ژبې د دې متل پرمخ، هر عیبیکه سلطان بپسندد هنر است. روسي او امریکایي سیاست خپل لوری پیدا کړ، جهاد له خپله اصولې ځوښه راوغورځېده او د دوستم او مسعود په لاسونو کې ومرووړل شو.

د تنظیمونو مشرانو لکه حکمتیار، رباني، ګیلاني، مجددي، سیاف او نور لکه په ایران کې اته تنظیمونو مشران د دې وسه نه لرله، چې د جهاد د نتیجو مخه اصولي کرښو ته راواړوي. دا ځکه چې د لویدیځ او ختیځ سره په همغږۍ نور نو په افغانستان کې د اسلام انقلابي نظام رامینځ ته کېدل نه یواځې دا چې د روسانو او امریکایانو د ګټو سره ټکر و، چې د ایران او پاکستان لپاره هم یو ستر سرخوږی او ګواښ ګڼل کېده. له دې کبله که ایران و، که پاکستان او که د هند په څېر نور هېوادونه ټولو خپل لاسونه سره یو کړل او په افغانستبان کې یې د جهاد د بدنامولو او د مجاهدینو د وژلو سوچونه په کار واچول. له هرې خوا او هر چا د خپلې خوښې جهادي ډله لمسوله څو د جګړې د اور لمبې بلې وساتي.

د دې موخې لپاره یوه جهادي ډله د یوې کمونیستي ډلې او بله جهادي ډله د بلې کمونیستي ډلې سره یو ځای شول، بمونه، الوتکې، ټانګونه او د جګړې رنګ په رنګه وسلې چې څه د شوروي اتحاد او څه د امریکې او څه د یو شمېر نورو هېوادونو له خوا په افغانستان کې د جهادي تنظیمونو او کمونیستي واکمنو ته په لاس ورکړل شوې وې، نورې وسلې هم ورکړل شوې، څو د خپل هېواد ژوي ژوندي پرې نه ږدي.په دغې توطیې او دسیسې کې همدغو پورتنیو ډلو په کابل ښار کې هغه څه وکړل، چې په تاریخ کې چا نه وو کړي. کابل ړنګ شو او

اوسېدونکي يې څه ووژل شول او څه اواره شول. چا چې کمونيستانو او د شوروي اتحاد ظلمونه او نارواوې غندلې، همغو خپلې غندنې بېرته واخيستلې او ځانونه يې ملامت وګڼل. نور نو کمونيستانو د خپلو بادارانو په مرسته او د امريکې متحده ايالتو په همغږۍ خپل کسات اخيستي و. په جناياتو کې سره برابر او د رټنې کچه کې هم څوک د چا نه لږ نه وو پاتې شوي. هغه چې وايي په ټولنه کې ډېر ستر قاضي د ټولنې وګړي دي، زموږ د ټولنې وګړيو د يو ستر قاضي په څېر قضاوت کړی و. نور نو مجاهدينو خپله تله سپکه کړې وه، د ولس په سترګو کې يې خپل پخوانی درونداوالی بايللی او له خپل سپېڅلي دريځ څخه د څوکۍ او منصب، د رتبو او پيسو په مينه کې اوښتی او د خپل د هېواد پلازمېنه د کابل ښار يې په بل مخې اړولی او کنډواله کړی و. طالبان چې په کابل کې د جګړه مارو ډلو د تفاهم په نتيجه کې رامينځ ته شوي و و، لکه چې په تېرو بحثونو کې مو ورته ګوته ونيوله. په لومړي سر کې د خپلې سپېڅلتيا د ساتلو سره په زغرده پرمختګونه وکړل. سيمې يې يو په بل پسې تر کنټرول لاندې راوستلې، غله او ډاکوان يې وټکول، سوله او امنيت يې خوندي کړ، خو د کابل ته د رسېدو سره نور هر عيب ای که سلطان بپسندد هنر است. شته والی له لاسه ورکړ، چيرته يې چې هنر لاره، هغه هم په عيب کې و شمارل شو. چا دې ته ونه کتل، چې طالبانو په سيمه کې يوالی، سوله او امنيت ټينګ کړي، غله او داړه ماران يې ټکولي او د حکومت واکمنۍ يې پراخه کړې ده. له هرې خوا نه سپکې سپورې او د ناوړو او ناروااوو چيغې پورته شولې، نور نو چا د طالبانو د راتللو له ضرورته خبرې نه کولې،، چا چې د طالبانود راتللو سره خپلی ګټې له لا سه ورکړې وی او چا چې په کې ګټې تر لاسه کړی وي ټولو په يو اواز د طا لبانو په بدو و يلو او غندلو پيل وکړ. طالبانو هم د واکمن سياسي او نظامي حالاتو له مخې خپلو ديني او مذهبي سپېڅليو لارو چارو ته په شا اړولو. يوه کوټلې ډنډه ماره واکمنۍ ته مخه کړه. هغه کار چې بايد يو انسان يا په بله معنی يو مسلمان په خپله خوښه وکړي، طالب ورته خپله دوره او ډانګی په لاس کې واخيست او هر څوک يې که هغه ښځه وه يا نر، په خپلو دورو او ډانګيو ډباوه. داسې حالات رامينځ ته شول، چې ته به وايي په افغانستان کې د طالب نه پرته بل څوک انسان

نشته، که انسان وي نو مسلمان نشته، وګورئ یوسف علیه السلام چې کله د مصر اشرافي ټولنې کې ټولنیز عدالت پلي کړ او اشراف یې د مریانو سره برابر کړل، پر چا یې د لښتو وار هم نه و کړی، همدارنګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې کله په مدینه کې خپل اسلامي ټولنه د مومنینو په نامه جوړه کړه او په هغه کې یې اشراف او مریان یو برابر کړل، پر هیچا یې د سزا په نامه لاس نه وو وچت کړی. دا خو په خپله روښانه کېږي، چې د طالبانو په ډله کې څوک په دې ټکي نه پوهېدل، چې د هر دین موخه په انساني ټولنه کې د عدالت خوندي کول دي او بس. په عادلانه ټولنه کې د کوتک او د ډانګي د ښودلو اړتیا نه وي، ځکه چې هر څوک خپله دنده پېژني. طالبانو پخوا د دې نه چې عادلانه ټولنه جوړه کړي، د خپلو ډنډه مارو د ناروا کړنو له لامله د ټولنې مخه وګرځوله. نور نو چا د طالبانو اسلامي عادلانه ټولنه نه غوښتله، ځکه چې په پښتو کې وايي: (په زور کلي نه کېږي). ولس د طالبانو د زورزیاتي نه په تنګ راغلي وو، د بلې خوا نه د افغانستان د خپلواکۍ دښمنانو هم بهانې لټولې. په دې منځ کې د سپتمبر د میاشتې د یوولسمې نېټې پېښه راپېښه شوه. د دې پېښې سره سمدستي د امریکې متحده ایالاتو جمهور رییس د افغانستان پر طالبانو چې پر افغانستان واکمن وو، وګواښېده. په ظاهره کې د اسامه بن لادن د سپارلو خو په باطن کې د هغه د نه سپارلو شرطونه وړاندې کړل. په نتیجه کې د لویدیځ ستر ځواک د خپلو ملګرو سره یو ځای چې د ناټو د هېوادونو ځواکونه دي، پر افغانستان ودانګل. افغانستان یې لکه د شوروي اتحاد چې اشغال کړي وو، اشغال کړ. طالبان یې تار او مار کړل. خو د هغوی پر ځای د شر او فساد ځواکونو ته بیا بخت و خندل او کابل ته راوستل شول.

امریکایانو په دې کار سره د افغانستان جهادي تنظیمونو او همدارنګه نړۍ والو ته وښودله، چې دا دوی دي چې په جګړه کې یې شوروي اتحاد ته ماتې ورکړه او هغه یې ړنګه کړله نه د افغانستان مجاهدین. دا دوی دي چې د سرې جګړې د فاتحینو په څېر باید ولمانځل شي، نه د افغانستان څو بې سره او بې تنه جهادي تنظیمونه، خو د جهاد په نامه تنظیمونو هیڅکله هم دې ټکي ته پام وانه ړاوه او په ډېره بې حیایۍ توګه د جهاد په نامه د څوکیو او رتبو،

منصبونو او پیسو په غوښتنو بوخت شول، نو دا شیطان غولولې ډلې به هیڅکله د رښتیني جهاد ویاړونه ترلاسه نه کړی شي. لکه څنګه چې په تېرو لیکنو کې ورته ګوته ونیوله شوه، دا ځل د افغانستان د واکمنۍ مزی په ظاهره کې د بن د غونډې د پرېکړې پرمخ حامد کرزي ته په لاس کې ورکړ شو، خو په باطن کې څنګه چې د پیکنګ د سرمشریزې غونډې پرېکړه وه، د شمال ایتلاف د ځمکې پرمخ مختار مطلق وګرځېد. د امریکې د متحده ایالاتو د پوځي واکمنۍ تر سیوري لاندې چې د افغانستان هوا او ځمکه یې په خپل کنټرول کې اخیستې وه. د شمال ایتلاف هغه څه وکړل، کوم چې د دوی د شخصي دښمنیو څخه ورپاتې انتقامونه وو، د غچ او کسات په هنداره کې هغه څه لیدل کېږي. کوم چې څه ورته وښیل شي، شورای نظار یا د شمال ایتلاف د بهرنیو پوځونو په غېږه کې داسې ډوب پراته وو، چې د ځان نه بهر د هیڅ یوې کړنې د غبرګون څخه په کوټلې توګه څه نه غوښتل، چې واوري. چېرته چې پښتون و، د طالب په نامه د تروریست په تور وژل کېده. کورونه، کروندې او سیمې به یې تر غصب لاندې راوستل کېدلې، چې د مثال په توګه کولی شو، په خواجه بهاوالدین کې د پښتنو د اوسېدنو ځایونو څخه نوم واخلو. ولس ته د شمال د ایتلاف له خوا داسې وښودل شوه، چې ګني لویدیځو پوځونو، د د وی په ملاتړ او د پښتنو د جنوسایډ لپاره راغلي دي. په شمال کې اوسېدونکي پښتانه په ډله ایزه توګه څه ووژل شول، څه وکوچېدل او تر پاکستانه پورې په تېښته ولاړل. په لویدیځ سهیل او سهیل لویدیځ کې پښتانه خو په سیده توګه د لویدیځو پوځونو تر هوایي او ځمکني بریدونو لاندې راغلل. په دې سیمو کې هم په پراخه توګه بمباري وشوې، ولسونه قتل عام شول، کورونه او کروندې ړنګې شولې، د څه او د چا لپاره؟ البته په افغانستان کې د لړه کیو د واکمنۍ د ټینګښت لپاره خو هغه پښتانه چې په سیده توګه ددیموکراسۍ په دې مصیبت کې تاوان لیدلی و، په کراره کېنناستل. د غبرګون په توګه د هرې وسلې او وسیلې څخه یې کار واخیست، څو تاریخ ته سر کوزي پاتې نه شي.

د بهرنیو پوځیانو هر وګړي ته یې د انتحاري یعنې ځان وژونکي په سترګه وکتل

او د هغوی سره يې بالمثل عمل وکړ. هر چا چې د ديموکراسۍ په مصيبت کې خپله کورنۍ بايللې وه، هغه ته د ژوندي پاتې کېدلو څخه د ننګ په چوکاټ کې له هره اړخه بې ننګي وبرېښېدله او لاړ د ځان په وژلو دوه درې بهرنيان د دوه درې بهرني ګوډاګيانو سره يو ځای هم ووژل، خو کورني او بهرنيو رسنيو يواځې د پښتنو انتحاري عمل وغانده، مګر د بهرنيانو د هر يو پوځي عمل چې په خپل ذات کې هر يو يې يو انتحاري ګڼل کېږي، و نه غانده. داسې وښودل شول چې د رسنيو لپاره په افغانستان کې يو بام او دوه هواوې دي. د بام په يوه څنډه کې پښتانه ځان وژونکي غندل کېږي، خو د بام په بله څنډه کې بهرني ځان وژونکي چې پوځي سرتېري دي، ستايل کېږي. څوک چې يو باطل عمل ته د حق په سترګه ګوري او هغه ستايي. داسې ښکاري چې د خپل پلار او مور په مړي پسې د لمانځنې پر ځای کنځلې کوي. اوس اوس زمونږ د وطن د رسنيو کړنې کټ مټ هماغسې دي، لکه پورته چې ورته ګوته ونيوله شوه. دا خواران ملامت نه دي، ځکه چې د دوی رسنۍ هم د بهرنيانو د سيده مرستو پر مټ خړوبېږي او پرمخه د رومي. که د بهرنيانو مادي، سياسي او نظامي مرستې نه وي، دغه ټولې رسنۍ به په ډېره لږه موده کې د تاريخ د کندې مېلمانه شي. دوی چې خپل وژني او پردي لمانځي. يوه ورځ به د بهرنيانو مرستو سره سره د خپلو کړنو په سزا ورسېږي. دا ځکه چې د ژوندانه بهير د هغې بې وندني نيز يا سيلاب ته ورته دی، چې نن په يوه لوري درومي او ګانده په بل لوري، چې هيڅرته هم لا تر اوسه پورې د داسې سرغړاندو نيزونو مخه چا نه ده نيولې. د سترګه ورو انسانانو په ليد لوري کې ښايي دې ټکي ته به پام رااوښتی وي، چې زمونږ په هېواد کې د شاهي نظام کوم چې زمونږ د ولس د يوه منل شوي دود په څېر اوښتی و، په نه څه خبره بل مخې واوښت او ړنګ شو. ورپسې د جمهوري نظام موسس او واکمن د نظامي کودتا له لارې ووژل شو. بيا چې شوروي اتحاد د خپلو پوځونو سره پر افغانستان ودانګل او افغانستان يې اشغال کړ، هيچا دا خبره نه منله، چې يوه ورځ به شوروي اتحاد له افغانستان څخه و وځي. خو شوروپانو ماتې وخوړله، ووتل، لا چې خپل سر يې هم وخوړ. دا د ژوند بهير دی او په همدې توګه روان دی. سبا به د ديموکراسۍ د مدعيانو اشغال هم

**مات شي او د هغوی پوځونه به هم له افغانستان څخه ووځي. بيا به د هغو کسانو په مخونو کې څه پاتې وي، چې لاپسې خپل وژني او پردي لمانځي؟ هغوی دې وپوهېږي، چې نه به نورې پيسې راشي، نه به نورې وسلې راشي او نه به دنداسې، دوی به وي او د دې هېواد ولس. دوی به وي او هغه کسان چې د بهرنيانو په لمسه يې غندل او وژل. داسې ورځ به د هغې ورځې په څېر وي، چې ورته محشر وايي.**

**په محشر کې به دوی ته د د وی بهرني لمسوونکي هم ووايي چې هر څوک چې خپل وژني او پردي لمانځي لکه د تاسو په څېر به د ژوند په تېکنده غرمو کې سر بدډاله پاتې شي.**

# د پای خبرې

د دې کتاب په پیل کې د احسن الخالقین احسن القصص په نامه د وینا غوټه پرانیستل شوه. په ګړه کې پر دې ټینګار وشو، چې د غوره پنځوونکي له خوا هغه کیسه غوره وګڼله شوه، چې د ټولنې په ټولنیزه عدالت او مساواتو ټینګار کوي. یعنې د قرآن کریم په ټولو کیسو کې یواځې د یوسف علیه السلام کیسه غوره وګڼله شوه او نورو کیسو ته چې په هغه کې د ادم علیه السلام نه نیولې تر عیسی علیه السلام پورې کیسې دي، یواځې د قصص الحق په نوم نومول شوې. یعنې رښتینې کیسې په رښتینو کیسو کې د یوسف علیه السلام کیسه هم راغلې، خو د هغه غوره والی زما په اند په دې کې ګڼل شوی، چې د یوسف علیه السلام د ماشومتوب نه تر ځوانۍ پورې موده، ټول په ټوله په بې وزلۍ، محرومیت، ظلم، حسرت او مریي توب کې تېره شوې، خو کله چې د واک پر ګدۍ کېناست، په خپلو سمونوالو پروګرامونو کې د اشرافیت دامتیازونو د له منځه وړلو او د یوې عادلانه ټولنې د جوړولو په هڅه کې د بري پر څلي نښ وخاته. یوسف علیه السلام وکولی شول، چې په مصري اشرافي ټولنه کې د مریانو او اشرافي طبقو شته والی له منځه یوسي او پر ځای یې یوه عادلانه ټولنه چې په کې نه مریي شته والی ولري او نه اشرافي وګړي. هر څوک د خپل د کار او زیار د ییبرې څخه ژوند او ژواک ولري، دغه انګېرنه ورته د و روڼو د ظلم او زور د کاروان سره تر مصره په تللو، په مصر کې د مریي توب په موده کې او همدارنګه په زندان کې د یو زنداني په توګه د ژوند د ډېرې ټیټې کچې د لرلو له لامله په تجربه کې یې ترلاسه کړې و.

په دې توګه یوسف علیه السلام هغه څوک و، چې د زمانې د تاوده اور د لمبو په بټۍ کې روحي او جسمي ویلې شوی او د عمل ډکر ته راوتی و. کوم چې د ده په څېر نه نوح علیه السلام ، نه ابراهیم علیه السلام او نه عیسی علیه السلام د ژوندانه تودې او ترخې لیدلې وې. د پیغمبرانو او مرسلینو د ژوندانه د

کړکیښ له مخې یوسف علیه السلام نه وروسته دا یواځې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی چې د زیږېدو نه مخکې پلار له لاسه ورکړ. په ماشومتوب کې یې مور او بیا خپل نیکه عبدالمطلب له لاسه ورکړ او په دې توګه په یوه د ماشومانو نه ډکه ستره کورنۍ کې چې د روحانیت د نامه نه پرته نور د اقتصادي مسایلو له اړخه هیڅکله هم د دې جوګه نه وو، چې دغسې یو ماشوم د یتیم توب د حسرت او بې وزلۍ د سیوري نه پرته وروزلی شي. په کورنۍ کې د نورو ماشومانو د ښه ژوند له لامله چې هر یو یې د پلار او مور خاوندان وو، د امتیار او حسرت د زغملو ستر او دروند بار د ده پر ولي پروت و. د مکې په ټولنه کې د ځان او د نورو ماشومانو ترمینځه یې څرګنده توپیر لیدلو. په داسې یوې د حسرت او ارمان نه ډک ژوندانه کې د داسې یو ماشوم لوئیدنه چې د سبا د ورځې د عادلانه ژوندانه د قوانینو راوړونکی به وي د ټولنې د لاربنوونې دنده پر غاړه اخیستنه، کټ مټ هماغسې د یوه ځواک جوړېدنه وه، چې د ده نه ډېرې پېړۍ پخوا په مصر کې د یوسف علیه السلام په نامه رامینځ ته شوي وو.

د ژوند د کړکېښ له مخې به د دې دواړو ترمینځه ډېر لږ توپیر ولیدل شي. یعنې دوی دواړه په ډېر لږ توپیر سره د ژوند په بتۍ کې د زمانې د اور د لمبو له تاووه په ټولنه کې د عادلانه ژوند د پلي کولو په موخه د تجربو عملي یېبرې ترلاسه کړې دي او لکه څنګه چې یوسف علیه السلام په مصر کې د مصر اشرافي طبقه رنګه کړله او پر ځای یې یوه داسې ټولنه چې په کې نه مریي و، نه بادار، ټول د حکومت له خوا په دندو ګمارل شوي وو او هر چا د کار په مقابل کې د ژوند د اړتیاو په کچه باړه ترلاسه کوله، په هماغه توګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هم په مدینه کې یوه داسې ټولنه جوړه کړه، چې په کې نه مریي شته و الی درلود او نه بادار. ټول د مومینو په نامه د اسلامي امت د د ولت په چوکاټ کې په چوپړ بوخت وو. یواځینی توپیر دا و، چې په مصر کې حکومت د دولتي تشکیلاتو څښتن و، خو په مدینه کې داسې تشکیلات شته والی نه درلود. حضرت یوسف علیه السلام په شته وو تشکیلاتو کې ټولنیزه عادلانه سمونونه رامینځ ته کړل، خو حضرت محمد صلی الله علیه

وسلم په مدینه کې له نشت څخه یو څه جوړ کړل، چې په کې ټول په ټوله د
]یوې عادلانه ټولنې سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اډانه وه. په دې اډانه کې د
انسان لپاره د مادي او معنوي ژوند د ټولو اړخونو سوچ خوندي شوی دی.
وګورئ د مومن بها د اصل په دې درې رکنونو کې چې وايي :« الَّذِينَ
يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاةَ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ» په دې توګه د
انسان د ژوند د دنيايي اړخ سره یو ځای د اخیرت غم هم خوړل شوی دی.
یعنې د مومن انسان لپاره د ایمان په ساتلو کې په شخصي ژوند کې لمونځ چې
د لوی خدای د معبودیت لمانځنه ده او په ټولنیزه ژوند کې انفاق چې په
ټولنه کې مریي توب او اشرافیت له مینځه وړي او ټولنیزه عدالت خوندي
کوي. دارنګه انسان کولی شي، د ایمان په چوکاټ کې د عبادت له لیارې په
اخیرت کې د لوی خدای په وړاندې خپل کرامت یا درناوی وګټي او د انفاق
له لیارې په دنيايي ژوند کې په ټوله کې ټولنیزه عدالت خوندي وساتي. دا
ځکه چې د یو انسان لپاره د دنیا او اخیرت نه پرته بله غوښتنه نشته، هر څوک
په دې اړ دي چې د خپل د ژوندانه په اوږدو کې څه چې د دنيايي ژوند د
سمونوالو هلوځلو په لارو کې پرمخ بيايي، په هماغه توګه د اخروي ژوند د
نېکمرغه کېدلو په هلو ځلو کې هم بوخت پاتې شي. د ژوندانه دغو دوه وو
اړخونو د تنظیم قانون ته تقوی ویل کېږي. او دا تقوی ده چې په پورتنیو
دریو رکنونو کې د انسان دنيايي او اخروي ژوند د نېمکرغۍ په لوري بيايي.
دغه درې رکنونه یواځې د اسلامي دین په شریعت کې نه دي راغلي، بلکې
همدغه درې رکنه د زردشت د اویستايي دین په شریعت کې هم تر یوې کچې
کټ مټ راغلي دي او هغه دا دی، هومته، هوخته، هورتشته، دغه درې رکنه
په پاړسي ژبه په دې توګه ژباړل شوي دي: پندار نیک، ګفتار نیک و کردار
نیک، چې په پښتو ژبه کې کولی شو ووايو، غوره سوچ، غوره وینا او غوره
کړنه. د حضرت زردشت دغه درې رکنه چې لا هم په اريايي تولنه کې د منښت
ارزښت لري، د انساني نړۍ په هیڅ یوه ګوټ کې هیچا نه ده د منښت له
دریځه غورځولې.
په همدې توګه د چینايي ولس د تاویزم مخکښ پیغامبر چې لایوتسه نومېږي،

هم خپل ولس ته درې اصله په خپل شریعت کې په میراث پرېښیدي او هغه دا دی: شفقت، صرفه جویي او تواضع، دا درې ټکي په دې توگه شرحه شوي دي:

۱-د چا چې شمتني لږه ده، بری مومي او هغه چې شمتني ډېره لري گمراه کېږي.

۲-ښه اخلاق لکه جاري اوبه داسې دي، چې خپله سیمه ښېرازه او زرغونه کړي.

۳- هغه چاته غني ویلی شو، چې پوه شي د ده مایحتاج او غیر مایحتاج څه شی دي؟

د لائوتسه نه چې ورتېر شو نو د حضرت بودا په تعلیماتو کې هم د نیروانا په نامه په درې رکنه شریعت تاکید شوی او هغه دا دي: که چیرې انسان خپل نفس د هوا، هوس او د مادیاتو له دوستۍ څخه وژغوري، د دایمي او حقیقي ازادۍ او خوشالۍ حالت ته چې د ځان هیرولو او تر ځان تېرېدلو سره جوخت وي، رسېږي، چې دغه حالت ته نیروانا وایي. د نیروانا د دغې درې رکنونو پرمخه لا په افغانستان کې د بودا لارویان په دوه وو برخو ویشل شوي وو. یو یې مهایاني نومیدل چې د ژغورنې د لویې لیارې لارویان و و او بل یې هنایاني نومېدل چې د ژغورنې د وړې لیارې لارویان گڼل کېدل.

داسې خو د هر دین په لارویانو کې د لیارو اختلاف رامینځ ته شوی او لارویان په مختلفو لیارو تللي دي. لکه چې همدا اوس هم د بودا لارویان په مختلفو برخو ویشلي ژوند کوي، چې د مثال په توگه کولی شو د سیلون د بودایانو چې د تبت د دالای لاما د بودایانو سره یووالی نه لري، نوم واخلو.

په هر حال بودا هغه څوک و، چې د استبداد د تاج او تخت نه راکوز شو او لاړ څو د سولې روغې او وروروليِ د لورینې او برابرۍ رڼایۍ ته چې نیروانا نومېږي، ورسېږي. کوم چې د انسانیت په تاریخ کې داسې کار هیچا نه دی کړی.

په دې توگه د بودا کیسه هم د یوسف علیه السلام د کیسې نه چې د لوی خدای له لوري د احسن القصص په نامه نومول شوې که لوړه نه وي، ټیټه خو

هم نه شي شمېرل کېدلی. دا ځکه چې بودا د خپلو کړنو له لیارې په انساني ټولنه کې د سولې، روغې او ورورولۍ او برابرۍ شریعت پلي کړ او خپل ځان یې چې سلطان و، د ټولنې د یوې کوچنۍ کورنۍ د غړي سره چې په مریانو کې شمېرل کېدل، برابر او مساوي وګاڼه. بودا د انسانیت د کړکیښ پر تور داغ باندې چې پر تاج او تخت یې د وژنو او تالاترغۍ کولو د پېښو نه ډک دی، سپین څادر وغوړاوه او د تل لپاره یې د ځځوالي او استبداد په وړاندې خپله کرکه و ښودله، بودا هغه څوک و، چې له تاج او تخته تېر شو او یو سوله ایزه زغمونکې او سمونواله ژوند یې غوره وګاڼه.

تر بودا بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لاپسې مخکې لاړ او پر تاج او تخت باندې یې د فقر او تقوا غوره منصب کلک ونښلاوه. یعنې پخوا به د تاج او تخت خاوندانو د سولې او روغې پر ځای جګړې او یرغلونه غوره ګڼل. د تاج او تخت نه به یې د ظلم او ناروا سمبول جوړاوه او تاج او تخت به یې د لوړ او د ویاړه ډک ژوند ګاڼه، خو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه څوک و، چې په لومړي ځل د ځمکې پرمخ ډېره غښتلې او وسیاله ټولنه رامنځ ته کړه، چې نوم یې مومنین وو او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه څوک و ، چې د تاج او تحت پر ځای د ځمکې پرمخ کېناسته او عدالت یې د تقوی په درې ګونو بنسټونو کې خوندي کړ، چې د مومنینو په ټولنه کې د عدالت لومړی سمبول په خپله دی و. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د یوې عادلانه او وسیا او بسیا ټولنې د جوړولو په لیاره کې چې اشراف یې د مریانو سره یو برابر ګڼلي و، تر هغه ځایه مخکې لاړ، کوم چې د مکې نه مدینې ته د لېږد په لومړیو ورځو کې په مدینه کې خپلو انصارو مومنینو نه وغوښتل څوک چې دوه درې مېرمنې لري، د هغو څخه دې خپله هغه مېرمنه طلاقه کړي، چې دی ورسره مینه نه لري، څو هغه مېرمنې چې طلاقې کېږي، د مهاجرو مومنینو سره چې له مکې نه راغلي دي واده وکړي او په دې توګه د هغوی کورونه هم ودان شي او داسې وانګېري، چې بې کوره او بې اوره نه دی پاتې شوی. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دې دستور د پلي کولو سره یو پلو مهاجرینو ته د کورني ژوند ښېګنې وبښلې او د بله پلوه د مهاجرو او

انصارو ترمينځه يې د وروری او خپلوی د مزيو د ټينګولو سره يو ځای په مدينه کې د ميشته کېدلو په لاره کې د پردي توب کومې ستونزې چې وې، هغه يې لرې کړلې.

دا هغسې کار دی چې په بله ټولنه کې نه دی پلي شوی او څوک به هم کله داسې ونه زغمي، چې خپله ښځه طلاقه کړي او هغه خپل مهاجر دوست ته وسپاري. زموږ په معاصر ژوند کې چې له پرمختګه او ديموکراسۍ لافي وهو، هيچرې داسې نه دي پېښ شوي او هيڅوک يې هم د زغملو وسه نه لري او چا هم داسې نه دي ليدلي چې انصارو دې خپلې مېرمنې د مهاجرو په واک کې پرېښې وي، لا چې زموږ د مهال انصارو د مهاجرو د سر او مال نه د شيطاني وسوسو او د سيسو له لياري ناوړه ګټه پورته کړه.

لنډه دا چې ټولنيز عدالت په ژوندانه کې تر هرې بلې کړنې يوه غوره کړنه ده، چې د لوی خدای جل جلاله له لورې غوره ګڼله شوې، هغه هم د يوه داسې چا له خوا چې په خپله د بې عدالتيو د لاسه خپل ماشومتوب او خپل ځلميتوب د يو مور مړي په څېر د زمانې د اور په بټيو کې سرته رسولی او د رنګارنګه ظلمونو او ناروااوو ښکار شوی و، هغه چې د ژوند د ازميښت په کنډه کې د امين، رښتين، متين او نياومن مرتبه ګټلې وه، انساني ټولنې ته يې د خپل ژوند سپېڅلی دود په ميراث پرېښود. په دې سپېڅلي دود کې د انسانيت لپاره د دنيايي چارو سره جوخت د اخروي چارې هم خوندي شوې دي.

ټولنيزه عدالت وسياله ټولنه رامينځ ته کوي او وسياله ټولنه پر نړۍ والو د هوساينې بسياينې او د نېمکرغۍ د لمر وړانګې شيندي.

«لائوتسه» د چين د تاوويزم مخکښ پيغامبر څه ښه ويلي دي:

«ولس ته تر منځنۍ کچې پوهه او روزنه غوره د ه، چا چې لوړ تعليمات کړي دي، هغوی د ډېرو سترو جناياتو مرتکب شوي دي».

هو! دغې وينا په افغانستان کې هم کټ مټ خپل ريښتينوالی ښودلی دی. هغه دا چې: کله چې د د ولت مامورين د ټيټو تعليماتو خاوندان وو، له مراجعينو څخه به يې د نسوارو په بيه قلمانه اخيستله او دا د فساد ډېره ټيټه کچه وه، خو چې کله نه د پوهنځيو څخه فارغان راغلل او دا د پوهې منځنۍ

کچه ګڼله کېدله. بیا نو د قلماني بیه له مراجعینو څخه د یوه ډېبي سګرېټو پیسې شولې؛ مګر کله چې له بهر نه د لوړو تعلیماتو خاوندان راغلل، د قلماني بیه د یو بوتل شرابو تر کچې ورسېدله او دا په هغه مهال کې د فساد ډېره لوړه کچه وه، چې تر کمونیستي واکمنیو پورې یې دوام درلود. خو د کمونیستي واکمنۍ په مهال کې د ټیټو کچو مامورینو څخه فساد کډه وکړه او لاړه د لوړو کدرونو په واک کې د کورونو د تلاشۍ په نامه په لوټمارۍ بدله شوه او چې بیا د جهاد او مقاومت وار راغی، اوس نو تاسو وواياست چې فساد په کومه کچه لوړ ختلی او څومره نارواوو او بې عدالتیو خپل شتون لرلی دی؟

دلته پوښتنه داده، چې: د جنایاتو څخه څنګه مخنیوی کېدلی شي؟

ځواب: کله چې د فساد مخه ونیوله شي.

پوښتنه: د فساد مخه به څنګه ونیسو؟

ځواب: کله چې د مفسدینو ټغر ټول شي.

پوښتنه: د مفسدینو ټغر به څنګه ټوله شي؟

ځواب: کله چې د هغوی د کورنیو او بهرنیو ملاتړو لمنه ټوله شي.

پوښتنه: د بهرنیو او کورنیو ملاتړو لمنه به څنګه ټوله شي؟

ځواب: کله چې زموږ انساني وجدان ژوندی شي.

پوښتنه: زموږ انساني وجدان به څنګه ژوندی شي؟

ځواب: کله چې د اجتماعي عدالت د تامین په موخه د اسلام د دین د مؤمن بها درې رکنه چې «تقوی» نومېږي ومنو او پلي یې کړو. په دی دری رکنونو کې دریم رکن چې انفاق نو میږي او لغوي معنا یې (ورکړه) ده داجتماعي عدالت د خوندیتوب یوه مهمه غوښتنه ګڼله کیږي٠خو په پلي کېدلو کې هر کله هم د شیطاني هوسونو او ارمانونو له خوا د برید لاندې راغلی او هېر شوی دی. انفاق یا (ورکړه) د ازاد لاس د لرلو او د شتمنیو سره د داسې مینې د نه لرلو چې انسان تر لمانځلو پورې سر ټیټولو له پاره بیایي- ډاډمن ساتي. خو د انفاق یا د ورکړې په نه لرلو کې انسان نه د زماني قارون جوړ شي. ځکه: هر کله په هر ځای او په هر دریځ کې چې د (انفاق) یا ورکړې! دود شته والی ونه لري وګړنیزه ژوند او هم ټولنیزه ژوند ارومرو په نارواوو شخړو او جګړو کې لتاړ

او دړې وړې شویدی. په دې او داسې نورو دلایلو ویلی شو چې: لکه څنگه چې د زردشت په اویستایي شریعت کې پر دریو اصلونو یا رکنونو چې وایي: غوره اندنه* غوره وینه* او غوره کړنه*) کلک، نه هېرېدونکی او نه پرېښودونکی دود گڼل شوی- په هماغه توگه د چینایي پیغامبر (لاووتسه) له خوا د (تاوو) په شریعت کې هم څه نا څه یا کټ مټ همغسې پر دریو رکنونو یا اصلونو غوښتنه چې وایي: د چا چې شتمني ډېره وي گمراه کېږي او د چا چې شتمني لږه وي برى مومي په دریو بنسټونو دودېدلي دي یعنی: شفقت- صرفه جویي او تواضع) د (تاوو) د شریعت د پیغامبر ددې دریو رکنونو او اصلونو د په یاد کې ساتلو سره سره که چېرې لږ ذره هم ځیر شو- وبه پوهېږو چې د حضرت بودا په شریعت کې (نیروانا) هم په روښانه توگه د (تقوی) په څېر د دریو رکنونو د بنسټ په توگه ورته گڼل کېدلی شي. او دا ددغو ادیانو پر ربښتینوالي او ورته والي باندې هېڅ شک او شبهه نه پرېږدي. حضرت بودا په خپل شریعت کې له خپلو پلویانو د (نیروانا) د دریو اصلونو د پلي کولو غوښتنه کوي چې وایي: که چېرې څوک د هوا- هوس- او د شتمنیو څخه ځان وژغوري د دایمي او حقیقي ازادۍ او خوشالۍ حالت ته چې ځان هېرول او د ځان نه تېرېدل دي رسېږي- چې دغه حالت ته (نیروانا) وایي. یعنې؛ (نیروانا) کټمټ لکه څنگه چې د اسلام په شریعت کې (ایمان* لمونځ* او انفاق) ته د (تقوی) نوم ورکول شویدی- د (تقوی) په څېر گڼلی شو. په دې توگه پوهېدلی شو چې د اسلام په شریعت کې د (تقوی) او د حضرت بودا په شریعت کې (نیروانا) او همدا رنگه د اریانا د پیغامبر حضرت زردشت او د چین د (تاوو) شریعت د پیغمبر حضرت (لاووتسه) درې اصلونه او رکنونه که د ژبنې توپیر نه ور تیر شو په معنی او مطلب کې کټمټ سره یو رنگه او د ورته والي سره جوخت د یوې موخې لپاره پلي شوي- څو په ټولنه کې د ټولنیز عدالت له لیارې د ټولنې هر وگړي ته د هوسا-بسیا او نېکمرغه ژوند وسه وښبله شي او په دې توگه په دنیا او اخرت کې د سرلوړي ژوند د مرتبې خاوند ووسي.

د ژوند د لارښوونو په دغو کاڼو کرښو کې موږ درې رکنیزه دودېدلې لارښوونې وینو- خو حضرت عیسی په خپل ژوند کې په ژبنې توپیر په دې دوو رکنونو یا

بنسټونو خپلو پلویانو ته د پلي کولو لارښوونه کړې چې وايي:
«وژغورئ او ودرملوئ» د الماني منابعو له مخې د عیسی علیه السلام په شریعت کې په دې دوو ټکیو باندې د مسیحیت ټول اصول را څرخي. حضرت عیسی وايي: «وژغورئ او درملنه یې وکوئ» دغه ده د مسیحیت له خوا د انسانیت د ژغورنې لیاره. لکه څنګه چې په اویستايي؛ بودايي؛ تاوویستي؛ او اسلامي شرایعو کې د ټولنیز عدالت دخوندیتوب کولو په لیاره کې د ری رکنیزه کو ټلي لیار
ښوونې لیدلی شو؛ په هماغه توګه په مسیحیت کې هم د موسوي شریعت سره جوخت ددې دوو رکنونو له مخې د ژوند د هر اړخ سمونه تر  سترګو کېدلی شي. دا څکه چې حضرت عیسی د انسانیت ژغورنه او درملنه غوښتې چې په دې غوښتنه کې هغه ټولې غوښتنې چې د اسلامي شریعت په (تقوی) او د (بودایي) شریعت په (نیروانا) او همدارنګه د حضرت زردشت په غوره اندنه؛ غوره وینه او غوره کړنه. او د حضرت (لاووتسه) په شفقت؛ صرفه جویي او تواضع) کې لنډه ګنډه شوې نغښتې دي؛ یعنې: په دې دوو غوښتنو کې که چېرې په رښتیا سره پلې شي د انسانیت د ژغورنې په پار هر کله او هر چېرته ټولنیز عدالت په خورا بنسټیزه توګه خوندي کېدلی او وګړي په دنیا او اخرت کې د نېکمرغۍ او د خوښیو شېبې خپلولی شي.
د عیسی علیه السلام په مهال کې انسانیت ناروغه وو؛ د هغوی د درملنې غوښتنه یې وکړه او همدا رنګه په هغه مهال کې انسانیت د ناپوهۍ؛ ناروا؛ تادا- ناروغۍ او لوټمارۍ په وژونکیو سمندرونو کې ډوب شوی وو؛ نو څکه یې د هغوی لپاره ژغورنه وغوښتله. لکه چې ویل کېږي په خپله حضرت عیسی هم ډېر داسې ناروغان چې درملنه یې د انسان د وسې نه وتلې وه روغولي او ډېر داسی کسان چې په رنګارنګه وژونکیو پېښو کې تباه کېدل ژغورلي وو. په دې توګه د عیسی د شریعت سنت ژغورنه او درملنه وګرځېدله؛ چې د مهال غوښتنه وه.
خو د اسلامي شریعت؛ بودایي شریعت؛ اویستایي شریعت؛ او د تاوویستي شریعت

سنت د هغو ی د مهال د انسانیت د ټولنیزو لانجو؛ شخړو او ستونزو د اوارولو او په
ټولنه کې د عدالت او مساواتو د پلي کولو غوښتنه وه چې بنسټیزه وګرځېدله.
د مهال او د مکان د شرایطو د ایجاباتو له مخې دغه هر یو شریعت په لږ څه توپیر سره رامینځته شوی او په سیمه کې د کاڼو د کرښو په څېر په غورځنګینه توګه سمونونه پلي او خوندي کړیدي چې هغو ټولو ته د رښتینو قصو سره سره د احسن القَصَص نوم هم ورکولی شو.
یوه بله خبره چې زما په اند د اندېښنې وړ ده؛ هغه داسې واکمن ذهنیت دی چې وایي: «پرته د ابراهیمي ادیانو څخه نور ټول ادیان چې په نامه یادېږي د منلو وړ نه دي. دا ځکه چې لارویان یې بتان لمانځي».
دغه ذهنیت، نور ادیان یو مخیزه د منلو وړ نه ګڼي؛ چې هېڅ هم عادلانه نه ده او د رښتینولۍ پر بنسټ ولاړ نه ګڼل کېږي- دا په دا چې: څنګه چې کتل کیږي د ځمکې پر مخ هر یو لارښود بنسټ چې د عربي ژبې په اصطلاح (شریعت) نومېږي؛ خوامخوا د نورو شرایعو سره خپلوۍ اونیژدېوالی لرلی دی.
ځکه: که لږ غوندې ځیر شو! وبه پوهېږو، چې د نوح علیه السلام د مهال د توپان د پېښې نه وروسته د ځمکې پر مخ د نوح د شریعت نه پرته بل شریعت نه وو پاتې. دا په دا چې په توپان کې د نورو شرایعو لارویان ټول په ټوله سره د ظالمانو؛ کافرانو او طاغوطیانو په نامه تباه او نابود شول. نو ځکه د توپان نه وروسته د ځمکې مخه وه او د نوح په بېړۍ کې ژغورل شوي ژوي او انسانان.
کله چې خبره په دې تو ګه وي نو بیا څنګه ویلی شو چې د نوح د شریعت نه پرته بل شریعت به هم د نوح د بېړۍ په سورلیو کې شته والی لرلی شوای؟
پوره څرګنده ده چې د توپان نه وروسته تر ډېرو پېړیو پورې دا د نوح شریعت وو چې د هغوی په زوزاد کې واکمن پا تې شوی وو.
د نوح زوزاد که د ځمکې په هره څنډه کې مېشت وو؛ د هغوی په کړو وړو او فرهنګي خویونو کې ارومرو د یوه خدای د لمانځنې دود نغښتی پاتې شوی چې بېلګې یې هم؛ هر هغه شریعت ګڼل کیدلی شي- چې د نوح د شریعت په رڼا کې د هغوی په پاتې شویو زوزادو کې رامینځته شوي دي. لکه د مثال په

تو گه د چيني تاووستي؛ د اريايانو اويستايي او بودايي او د ابراهيمي ملت په اسلامي شريعت کې د درې رکنيزه مؤمن بها شرطونو يو رنګوالی ليدلی او هغه د انسانيت د کرامت د بشپړوالي مرتبه ګڼلی شو. دغه د ځمکي په ختيځو سيمو کې او همدارنګه د ځمکې په منځنيو سيمو کې د ولسونو په شرايعو کې ګډ ټکي او د زماني او مکاني توپيرونو سره سره د ژوند د سمبالولو په موخه يو رنګ درې رکنيزه لياري چارې ښيي چې:

۱- دغه شرايع د نوح د شريعت نه راپاتې شوې لارښوونې دي.

۲- ددغو شرايعو رښتينوالی په ټولنيز ژوند کې د عدالت؛ مساوات؛ او نياومنی د تلې په تللو کې په رښتيا سره يو رنګوالی دی.

۳- د ابراهيمي ملت نه پرته نور ملتونه هم د رښتينو شرايعو خاوندان وو او دي.

د پورتنيو ټکيو له مخې کولی شو د نوح نه وروسته تر نن ورځې پورې په ټولو اديانو او شرايعو کې د ژبنيو توپيرونو او د زماني او مکاني بدلونونو سره سره په انساني ټولنه کې د ټولنيز ژوند د سمبالولو په موخه د عدالت؛ مساوات او نياو منی د تلې په تللو کې د يو رنګوالي تړاوونو شته والي نه شلېدونکي پاتې شويدي. هېڅوک نه شي کولی د تاوو د شريعت عدالت غوښتنه د اويستايي او بودايي شريعتونو د عدالت غوښتنې څخه جلا او يا په دغو شرايعو کې د عدالت غوښتنې دريځ د ابراهيمي ملت د شرايعو څخه چې همدا اوس په دريو امتونو کې وېشلي پراته دي جلا وښيي.

عدالت يو ځواک دی چې د هغه په پلي کولو سره په ټولنيز ژوند کې ډاډ؛ يووالی؛ بسيابنه؛ هوساينه؛ او خوښي رامينځته کېږي. لکه چې د احسن الخالقين له خوا د احسن القَصَص په غوره کولو کې همدا لامل د منښت پر دريځ ولاړ ځلېدلی دی.

هغوی چې د تاوويستي؛ اويستايي؛ او بودايي شرايعو کې بت لمانځونکي شوي دي ښايي دغه رنګه اوښتني او بت لمانځل به د ابراهيمي شرايعو په لارويانو کې هم وليدل شي. لکه د مثال په توګه د حضرت عيسی لارويان، چې عيسی د خدای ځوی ګڼي او لمانځي يې؛ چې دغه کړنه د حضرت عيسی د دين

گناه نه ده- بلکې گناه د دين د لارويانو په اعمالو کې ده؛ ځکه: که د حضرت موسی په پېښو کې هم ځير شو وبه وينو چې د حضرت موسی د څو ورځو په غيابت کې هم (سامري) نومي د غوايي د خوسکي بت جوړ کړ چې ډېر يهودان د هغه په لمانځلو بوخت شول.

لکه څنگه چې د انسان پټ شعور د الهي الهام اخيستونکی دی- په هماغه توگه همدغه پټ شعور د شيطان د وسوسو منونکی هم دی. شيطان له لومړۍ ورځې او له ډېر نيژدې نه د هر انسان په پټ شعور کې د خپلو وسوسو له لارې واکمن شوی چې له دې لامله د اسلامي دين په شريعت کې لومړنی کار د شيطان له وسوسو څخه د لوی خدای په وړاندې د ژغورنې غوښتنه اړينه گڼله شوې چې دغه کار د نورو اديانو په شرايعو کې هم لومړنۍ اړتيا ښودل شوې ده. نو ځکه گناه د دين نه ده- بلکې انسان په خپله پړ دی چې د شيطان د وسوسو په چوپړ کې د لوی خدای د ژغورنې مراتب هېر او د شيطاني بتانو په لمانځلو کې بوخت شوی دی.

انسان ته د شيطان له خوا ډېر زيات بتان د لمانځلو وړ ښودل کېږي چې په هغو کې د ختې؛ خوتې او خېټې بتان تر هر بل بت څخه نيژدې؛ مهم او هر کله د سترگو په وړاندې نبغ نبغ ودرېږي. خدای دې هر انسان ددغو او نورو شيطاني بتانو له لمانځلو څخه وژغوري.

امين

پای

# ایړاګان

# او

# بیړاګان

مبارز څاپی

۲۰۱۶/۱۳۹۵



# ایړاگان او بیړاگان

لیکوال: **مبارز څاپی**

چاپ کال: **۱۳۹۵ل/ ۲۰۱٦ز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

# لړلیک

ایړاګا ن او بېړاګا ن ............................................................. ۲۰٤
افغانستان د پاکستان په هنداره کې ........................................ ۲۱۳
په افغانستان کې د مجاهدینو واکمني ........................................ ۲۳۵
طالبان په ا فغا نستا ن کې ......................................................۲٤۵
امریکایان په افغانستان کې .................................................... ۲٦۱
شفقت، صرفه جویي او تواضع ............................................... ۲٦۹

# اېراګا ن او بېراګا ن

په او س مها له نړیواله مناسباتو کې انسا نې تو لنه د اېراګانو او بیږ اګانو په لاسونو کې لاندې باندې کېږ ې چې اېراګان په دریو ډلو او بېراګان په دوو ډلو وېشلی شو:

ا لف: اېراګا ن تو ل ټال په د ر یو برخو کې بو ختیا لر ي

ـ سیاسي چا ر ي

ـ مذهبي چاري

ـ اقتصادي چاري

۱ ـ دسیاسي چار و اېراګان هم په در یو برخو وېشلی شو:

ـ ستر اېږ اګا ن

ـ منځني اېراګا ن

ـ واړ ه اېراګا ن

ستر اېراګان په واشنګتن، مسکاو، پیکنګ او لندن کې؛ منځني اېراګان په پاریس، برلین، انقره، تهران، اسلام اباد او نوي ډهلي کې او واړه اېراګان په روم، اتن، تاشکن، اسلو، ستوکهولم او دوشنبې کې شتون لري.

۲ - مذ هبي اېږ اګا ن: مذ هبي اېراګا ن په لند ن ؛ مسکو؛ تهر ا ن؛ ر یا ض ؛ قاهره ا و نوي ډهلي کې کارونه پر مخ وړي. دا وي د سیاسې او مذهبي اېراګانو پتي.

ب ـ بېرا ګا ن: بېرا ګا ن هم په دوو برخو وېشلی شو: یوه ډله یې سیا سي او بله ډله یې مذهبي بېراګا ن د ي.

سياسي بيړاگا ن له واشنگتن مسکو، پيکنگ، لند ن، قاهر ه، پاريس اونو ي ډهلي څخه روز نه او پالنه ترلاسه کوي خو د مذهبي بيړ اگا نو ر و زنه او پالنه په لاندې پتو کې پر مخه درومي:

۱ ـ په لند ن کې د لوتر ي پروتستانو مسيحيا ن

۲ ـ په روم کې د کاتوليکه مسيحيان

۳ ـ په مسکوکی ارتودوکسه مسيحيا ن

۴ ـ په رياض کې سني مسلما نان

۵ ـ په تهران کې شيعه مسلما نان

٦ ـ په لند ن کې اسماعيليه مسلمانان

دا وو د ايړاگاو او بيړاگا نو د ډلو په هکله پېژ ندگلوي.

بايد وويل شي چې ايړا هغه چا ته ويل کېږي چې د بادار په څېر له خپلو مريانو څخه هر څه ډېر ژر او په تادی سره غواړ ي خو بيړا کوای شو د مريې په څېر لا دمر يې نه په ټيټه درجه کې يعنی بې عقله او د بل چا سندرو ته نڅېدونکي په څېر وبولو.

د پورتنيو نومونو لاندې غواړم هغو نيمگړتياوو ته گوته ونيسم چې زموږ د هيواد او ولس په اړه په دې تېرو څلورو لسېزو کې ماپه خپلوسترگو لېدلي يا خومې په ملي او نړ يوالو رسنيوکې او ر بډلي او لوستلي دي.

بخښنه غواړم ما دهيوا د او ولس نو م واخيست ځکه چې ځينې به و پوښتي چې کوم هيواد او کو م ولس؟

هغه چې واک يې د بل چا په لاسونو کې ښکته پورته کېږي؟

هغه چې دا تېر څلويښت کلونه کېږي د جگړ و د او ر په لمبو کې سوزي او هغه چې پرې کله يو زبر ځواک او کله بل زبر ځواک يرغل کوي او اشغا لوي يې؟

همدغو پوښتنو ته راځم، راځم چې ووايم لايې ښه په ډاگه ووايم چې که و ني تبر ته لاستی نه وای ورکړ ی تبر به هم هيڅکله و نه نه وای پرې کړي او

ټو ټې ټو ټې کړ ې.

یرغلګر چې په سیمه کی لا سپوڅي ونه لري خپل یر غل نه شي پیلو لی، غله ته چې په کور کې د ننه لارښوونه ونه شي نه شي کو لی د پیسو او ګېڼو دساتني ځا ی وپېژ ني. دا هغه اور دی چې له خپلې لمني څخه راپیلېږي که لمنه اور وانخلي کمیس نه سوزي که غله ته د کور د ننه څخه لارښونه نه وي غل د چا کور ته نشې ننوتلی که تبر ته ونه لاستی ورنه کړي تبر به څرنګه ونه پرې کړ ي؟

پدې توګه یرغلګره ایړاګان چې په کومه سیمه کې خپلو موخو ته سیاسي او مذهبي بیړاګان ونه لري هیڅکله هم خپلویرغلونوته زړه نشي ښه کولای.

داخبره څه ټوکه نده ثبوتونه لري اوڅرګنده نښې یې لیدلی شو، د دغونښونښانواوڅرګندوبیلګودراسپړلوپه نیامت دسترو ایړاګانود اغېز لاندې د سیاسي او مذهبي بیړاګانو څخه داسې راپیلوم الف ـ بیړاګان: بیړاګا ن دوه ډلې دي یوه یې سیاسي او بله یې مذ هبي؛ لومړ ی به دسیاسي بیړاګانو په اړه ووایم:

هغوی چې د واک دترلاسه کولوپه موخه په خپل هیوادکې دبهرنیوهیوادونوپه پیسواو وسلوبهرني تیوریتیکي او پراکتیکي اوامر پلي کوي لکه د مثا ل په توګه په ا فغا نستا ن کې دخلق دیموکراټیک ګونداو په وړاندې یې د مسلمانو ځوانانو په نامه ډ له.

زموږ په هیوادکې ترڅوچې شاهي نظام په واک کې وو دسیاست د ونو پاڼې نه رپېدلې، کو مه پاڼه به چې دکو م باد له خوا ور پېده دهغې پاڼې د رپېدا مخه به دهغه په ښا خ کې ونیوله شوه او یا به له ښاخه لاندې وغورځوله شوه، څو بله پاڼه ونه خوځوي مګرکله چې شاهي نظام پای ته ورسېده اوپرځای یې دخدای بښلې داوود خان جمهوري نظام رامنځته شودامهال سیاسي بادونه او توپانونوله هرې خوا نه خپل شته والی راڅر ګند کړ.

د دغو بادونو او توپانونو څخه د را ر پیدونکیو پاڼو په تو یېدو کې لړ لړ اوکرارکرار دسیاسي بیړاګانو څهرې دهغومذهبي بیړاګانو په هلو ځلو کې

راځرګندېدلې چې د لوېدیځو ز برځواکو ایراګانو په لا سونو نځېدل.
د ختیځ زبرځواک ایراګانو چې د خپلو یرغلیزو موخو د ترلاسه کولو په پار د سیاسي بیراګانو کومه ډله روزلې اوساتلې وه، د جمهوریت دستر بیرا ترسیور ي لاندې واک ته ورسول شول.

دجمهوریت ستر بیرا چې ځانته یې د رهبر بزرګ نوم ګټلی وو په دې نه پوهېده چې د ده سره کومه ډله ملګري شوي هغوی خو دختیځ د زبرځواک ایراګانو په سیده مادي مرستو روزل شوي یعني لږ تر لږ ه دې ته یې پام نه وو کړي چې څوک د چاله خوا وروزل شي یا څوک چې د چاپر مادي مرستو رالوی شي هغه به څنګه د خپل ولي نعمت دچوپړ نه بله خوا مخ واړ و لی شي؟

ستر بیرا د پښتو د دې متل پر مخ چې وایې ((ایرا نور غواړ ي او بیراپورغواړي)) هیڅ پوه نه شوچې د ایرا یعنی د ختیځ زبرځواک یرغلیزوموخودپلي کېدلوپه لاره کې روزل شوي بیراګان به هیڅکله هم دده په ګټه په کار رانه شي، دا ځکه چې ایرا نور غواړي او زموږ دجمهوریت ستربیرا پور غواړي.

د چا نه پورغواړي؟ د هغو بیراګانو نه پور غواړي چې هغوی ته د ستر ایرا له خوا دنده ورکړل شوې وه، څودخپل ستر بیرا سره تر یوې لنډې مودې پورې یوځای منډې ووهي او بیا کله چې د تګ لوری بدلېده دوی دې د خپل سروال سره ملګرتیا نه کوي لکه چې همداسي هم وشول؛ وګورئ دختیځ دستر ایرا له خوانه روزل شوي بیراګانو ته دنده ورکړ ل شوې وه چې د جمهوریت د نظام د جوړېدو سره سم دلته، هلته او لا په ټول ا فغا نستا ن کې چاچې ږیره لرله اوچاچې سپینه پګړۍ پرسر لرله د مذهبي بیراګانو په نامه ونیسي، وتړي او ووژني چې هغوی د جمهوریت دبیر غ لاندې همدغه کار وکړ خو څوک چې ددغومذهبي بیراګانو څخه یوڅه د راتلونکو پېښوڅخه پوهېدل هغوی له هیواده د بهر ملکونو په لورې پښې سپکې کړې او وتښتېدل چې غټه برخه یې د پاکستان په هیواد کې راټو ل شوي وو ښایې ځینې به

داسې پوښتنه ولري چې ولې دغو ډلوته د سیاسي بیړاگانواومذهبي بیړاگانو نوم ورکړل شوی دی؟

په پښتو ژ به کې ایړا هغه چاته وایې چې په هرکارکې عجول او هر څه ډېر ژر او په تادي سره وغواړي ترلاسه یې کړي.

او همدارنگه بیړا هغه چاته وایې چې لوده، بې عقل اوناپوهه وي، ز ه به په دې لیکنه کې پړاو پر پړاو داخبره روښانه کړم چې زموږ سیاسي او مذ هبي ډلي په رښتینه توگه ټول په ټوله بیړاگان وو.

او س به راشم لومړي پړاو ته او هغه داسي چې:

دجمهوریت دستر بیړا په دوهمه کابینه کې یوڅوک دعبدالقدیر نورستاني په نوم د کورنیو چارو د وزیر په توگه دنده لرله چې د ده د وزارت ترمهاله پورې دده د نورستان ولس تذکرې یا پېژندپاڼې نه لرلې یا نه یې وې اخیستي، نوموړي وزیر چې د ستر بیړا د ښې سترگي په څېر گڼل کېده وغوښتل چې دنورستان ولس ته ډېر ژر پېژندپاڼې ورکړل شې چې د دې موخې له پاره د هغه له خوا یوخوراستر هیئت وټاکل شو څوله کابل څخه سیده نورستان ته ورشي او هلته دې پېژندپاڼې نورستانیانو ته ووېشي هیئت چې د معمول سره سم باید لومړی د لغمان ولایت ته تللی وای او دولایت د مقام څخه یې دخپل کارله پاره مرسته او لارښوونې غوښتې وای دا کار یې ونه کړ. هیئت سیده د نورستان ولسوالۍ ( دواب ) ته لا ړ.

د نورستان په دواب ولسوالۍ کې خلکو دکورنیو چارو وزیر هیئت ته هرکلی ونه وایه او په دې خبره ټینگ ودرېدل چې د قدیر تذکرې نه اخلو هیئت بیا هم ددې پرځای چې د لغمان ولایت مقام نه مرسته وغواړي سیده کابل ته ځي او وزیر ته وایي چې ستا ولس موږ ته وویل چې موږ دقدیر تذکرې نه اخلو.

قد یر چې په ر ښتینه توگه یو بیړا وو نو په غصه شو اوامر یې وکړ چې د ضربې غونډ دې نورستان ته ورشي او خلک دې مجبور کړای شي چې تذکرې واخلي.

د ضربې غونډ یومازدیگر (لرمل) نابېره له کابله لغمان ته ورسید او دلغمان

ولایت په پلازمینه مهترلام کې تم شو، کله چې د ضربې غونډ په مهترلام کې پلی کېده د دوی د راتګ څخه تر هر چا لومړی د مخابراتو د مدیر یت د تلیفون د سوچپور د کارکوونکي له خوا د ولایت والي ته چې هغه مهال حسن خا ن ( ګر د یز ی )وو؛ خبر ورکړ شو.

والي ته پوښتنه پیدا شو ه چې دا د ضربې غونډ ولې او د څه له پاره راغلي دي؟ ولس خو ټول ارام دی؛ چا بغاوت ندی کړ ی ؛ نو ژ ر یې یو څوک واستوه څو په دې هکله د ضربې د غونډ د مشر څخه د هغوی د راتللونه پو ه شي.

د ضربې د غونډ مشر چې ښا غلی موسی ( نعیمي) نومیده د دې پوښتنې په ځواب کې وویل چې موږ راغلي یو څو نورستان ته لاړ شواو هلته د هغې سیمې ولس ته تذکرې ورکړو. نوموړ ي په خپلو خبروکې زیاته کړه چې څو ورځې پخواهم د وزارت څخه یو هییت سیده نورستان ته استول شوې وو.

چې د نورستان ولس ته تذکرې ورکړي مګر ولس د وزارت هییت بیرته شړ لی او تذکر ې یې نه دي اخیستي. له دې کبله وزیرصاحب موږ ته امرکړ ي چې نورستان ته لاړشو او هغوي دې ته اړ کړو چې تذکرې واخلي) کله چې د دې خبرو نه د لغمان دولایت والي (حسن خان ګردیزی)خبرشو هک پک شواو د شیبې سوچ نه وروسته یې وویل:

چې دا (بیرا) وزیر څه کوي؟

ځا ن وژني که ولس وژني؟

لکه چې هم ځان وژني اوهم ولس وژني ؛ ژر یې تلیفوني ته وویل چې هله دکورنیوچارو وزیر راپیداکړ ه، تلیفوني هم نوموړی والي یی د وزیر سره په تلیفو ن کې ور مخامخ کړ.والي وزیر ته وویلی چې ښاغلی وزیر صاحب دا څه کارکو ي؟ په خپل ژوند دې په تنګ راغلی یې که څنګه؟

وزیر والي ته په ځواب کې وویل ما څه کړي دي؟

والي ورته وویل ؛ نور به څه وکړي؟

دضربې غونډ دې استولی څو د نورستان ولس ته تذکرې ورکړي. ته پو

هیږي؟ یو خو دا کار غلط وو چې د ولایت دخبرتیانه پرته دې له وزارت نه سیده نورستان ته هییت استولي، اوبل دا کار دې غلط دی چې د ضربې غونډ دې استولی دی! همد ا ر نګه ته پو هیږ ي؟ که دا د ضر بې غونډ په همدې سوچ سره چې تاسو استولی نورستان ته ورشي، د نورستان خلک به په نورستان کې پا تې شي؟ هیڅکله نه!

داځکه چې نورستان یوه سرحدي سیمه ده د سرحدنه په بله غاړه کې د پاکستان دحکومت خراړ ي لا د ډیرې مودې نه راپه دیخوا دې ته سترګې په لار ناست دي چې کله به د ا فغا نستا ن د ناوړه کړنوڅخه د هغوی خواه ته څوک راواړوي.نو ددغې مهمې سیاسي لانجې پرمخ که چېري را استول شوی د ضربې غونډ نورستان ته ځي؛ د نورستان ولس به ارو مروپاکستان ته په کډه لاړ شي او هلته به ورته ژورنالیستان او د رسنیو خبریالان په مخه کې ودر ول شي. او په دې توګه به یوه لویه هنګامه جوړه کړي چې بیابه یې د سمیدو او رغیدو په لاره کې لا به ته وژل کیږ ې لا به رهبر کبیر!

اوس نو ته ووایه چې ستا دغه کړنه کټ مټ ځان وژنه ده اوکه نه ده؟ دکورنیو چارو وزیر (قدیر نورستاني) چې دلغمان د والي دغه خبرې واوریدلی ډیر زیات وارخطا شو اود والي څخه یې و غو ښتل چې هیله لري ډیر ژر ورته د لانجې درغیدنې چاره وروښيي. والي ورته وویل: څنګه چې دې امرکړی اودضربې غونډ دې استولی په هماغه توګه امر وکړه او دا د ضر بې غونډ دې بیرته دروغواړ ه. پاتې دتذکر و د ویشلوکار پر ماپورې اړ ه لري او ز ه به ورته لاره جوړه کړم. وزیر د والي په وینا د ضربې دغونډ قوماندان ته چې موسی ( نعیمي) نومیده امر وکړ چې خپل ځواکونه بېرته د کابل په لورې ولیږ دوي. هماغه ووچې د ضربې غونډ د نورستان پرځای دکابل په لورې وخوځیده او لانجه پاتې شوه. میاشت لا پوره نه وه چې د نورستان څو تنه سپین روبي د لغمان ولایت ته راغلل او دحج دادا کولوپه موخه یې پاسپورتونه وغوښتل. والي هغوي ته وویل چې پاسپورت خو دتذکرې پر مخ جوړیږي کوم چې تاسې تذکرې نه لرئ. لومړی تذکرې واخلئ او بیا پاسپورت. هماغه وو چې

هغوي د تذكرو د اخيستلونه وروسته پاسپورتونه هم تر لاسه كړل اولاړل څوپه مكه او مدينه كې د حج مراسم پر ځاى كړ ي. كله چې د حج څخه بيرته راغلل هغوى ته د لغمان والي دهركلي او ښه راغلاست په نامه ميلمستيا جوړه كړه او د ميلمستيا په تر څ كې وپوهول شول څو خپل نور ولسونه هم وپوهوي چې تذكرې واخلي.

په دې توګه د نورستان لانجمنه كړكيچ پاى ته ورسيده. يعنې: دنورستان ولس د ضربې دغونډ نه پرته په خپله خوښه تذكرې واخيستلى.

د نورستان د ولس د تذكرو خبره مې د دې له امله وكړه چې زموږ د دولت او حكومت مشران لكه څنګه چې مې په پېل كې ورته ګوته ونيوله د بيړا د درجې نه پرته بله كومه مرتبه نه لري. د ا ځكه چې د هغوي ايړاګان هم همداسې غواړي.

وګورئ كله چې د داود خان واكمنۍ غوښتل دخپل د ايړا د مشر تابه دسېو ر ي څخه وو ځي. د مسكو په كرمل كې ناست مشر ايړا په تادۍ سره د داودخان واكمنۍ نسكوره او د ا فغا نستا ن واكمني يې د كمونيستو بيړاګانو په لاس كې وركړه.

د ۱۳۵۷ هجري لمريز كال دغوايى داومې نيټې كودتاه نه وروسته هر چا وليدل چې كمونيستوبيړاګانو په ټول ا فغا نستا ن كې څه نه وو چې ونه كړل. هغوي هره ورځ اوهره شپه د خپل ستر ايړا د خوښۍ په موخه دخپل وطن په هره سېمه كې خپل ورور خپله خور خپل پلا ر اوخپله مور او همدارنګه د خپل كلى اوكور دخپل ښار او ولسوالۍ واړه او زاړه، كونډې او يتيمان ونيول وتړل ؛ ووژل اولايې په ژوندي توګه دخاورو لاندې كړل. هاغه وسلې چې د ا فغا نستا ن د ولس په پيسو راپيرودل شوى وو ؛ او ويل كيدل چې پر هغو وسلو به د ا فغا نستا ن څخه دفاع كيږي. مګركمونيستانو د خپل كور اوكلي په ړنګولو؛ د خپل پلار او مور ؛ د ورور او خور؛ او د خپل قوم ا و ولس پر وژلو او تباه كولو ولګولې ولس چې نه ښايى لكه څنګه چې د لغمان د ولايت والي حسن خا ن ( ګرديزي) له خواه د مهال د كو رنيوچارو وزير قدير نورستاني ته

وويل شول مجبورشي اوله پولې نه هخوا پاکستان ته واوړي. په خواشینۍ سره د کمونیستو بیړاگانو واکمنانوله خواه ولس دې ته اړ شو څو د ځان ساتنی په موخه له خاورې او خواږ ه ټاټوبي څخه بهرته کډه وکړي او مهاجر شي. هغه هم په ټولیزه توگه کډوالي داسې کډوالي چې لا یې په نړئ کې چا سارى نه وو لید لی.

نه په مسکو کی نا ست ( ایرا) پر دې پوهیده چې دکډوالۍ لانجه به د دوي سر وخوري او نه په کابل کې د کابلي (بیړاگانو) داسې انگیرله چې گنې د دوي ظلمونه ؛ نارواوې او وژونکي سیاست به یوه ورځ د دوي سرونه هم وخوري. تاریخ په خپله گواه دي چې چا څه وکړل ؛ هغه یې د خپلې غاړې امیل وگرځید.ربنتیاچاچې ښه وکړل ښه یې ولیدل او چا چې بد وکړل بدیې ولیدل. نړ ی د هنداړې په څېر هر چاته د هغه څهره لکه څنگه چې ده په هماغه توگه وربنيي. هر عمل عکس العمل لري.

وگورئ کله چې په سېمه کې د انگریز استعماري واکمن څواک پر ا فغا نستا ن یرغل وکړ او د ا فغا نستا ن د خاورې ځینې برخې ونیولې؛دغه اشغالگریز ه یرغل سره د دې چې ا فغا نستا ن نه غوښتل د روسیي استعمارې ځواک په لمنه کې پرې وځي؛ خو ا فغا نستا ن د روسیي لمن ته وغورځاوه. همدارنگه کله چې د شوروي اتحاد په نامه استعماري ځواک دڅور ( غوایی) د اومې کو دتا په نتیجه کې پر ا فغا نستا ن یرغل وکړ او اشغال یې کړ ؛ د هغوي دغه نیواکگره یرغلیز سیاست په سیده توگه ا فغا نستا ن یې د انگریز او امریکا استعماري ځوا ک لمنې ته وغورځاوه.په دې هکله غوره گڼم ا فغا نستا ن د پاکستان په هنداره کې ووینم.

# افغانستان د پاکستان په هنداره کې

کله چې دانګریز د استعمار پر ضد د هند د ټاپووزمې د ازادۍ او خپلواکۍ په موخه په سیمه کې څه د هند په دننه او څه د هند نه بهرګوندونه او ډلې ټپلې راوټوکیدلې د هغوي د مبارزو او په وروستیو پړاونو کې د عدم تشدد د سیاسي مبارزو له امله انګریزان دې ته اړ شول چې نور به د هند د ټاپووزمې نه پښې سپکي کړ ي او وځي اود تل له پاره به سیمه د سیمې اوسیدونکیوته پریږدي. د اسنادو او شواهدو پر مخ لکه څرنګه چې دخان عبدالولي خان له خوا هم د ( ربښتیا ربښتیا دي) په کتاب کې لیکل شوي: انګریزانوله هند نه د وتلو په مهال دې ټکي ته پام شو که دوي له هندڅخه وو ځي ؛ کیدای شي شوروي اتحاد پر ا فغا نستا ن را ودانګي او هغه اشغال کړ ي. بیا به نو په هاغه مهال کې داسې څوک نه وي چې دسیمې او د ا فغا نستا ن څخه دفاع وکولی شي.
له دې کبله انګریزانو د ا فغا نستا ن د دفاع په موخه یوه سېمه د پاکستان په نامه چې په هغه کې څه د هند او څه د ا فغا نستا ن خاوره ورګډه شوې ؛ جلاکړله او دهند نه د وتلوسره جوخت پرخپل جوړ کړ ي پاکستان ور ننوتل اوپه کې میشت شول.
پاکستان نه یواځې د ا فغا نستا ن د دفاع له پاره چې په سیمه کې دټولو هغو ډلو ټپلو د پاکولو په موخه هم جوړ شوی چې د انګریز استعمار پر ضد جګړو اومبارزو کې ښکیل وو ؛ اویابه له دې وروسته د هغوي پر ضد را ټو کیږ ي. هما غه وو چې د پاکستان دجوړیدوسره سم په سیمه کې د هغو ټولو آزادي غوښتونکی مبارزینواومجاهدینوپر ضدجګړه تاوده شوه چې د انګریزي استعمار ضدسوچ یې لرلو یایې روزلو.
پاکستان نه یواځې داچې د ا فغا نستا ن د دفاع په لاره کې وکارول شو چې دپاکستان جوړوونکي څهرې محمدعلي جناح اودهغه ملګري یې هم د هند

دازادۍ غوښتونکیو پرضد وکارول. داخو د دې خبرې روښانه بیلګه ګڼله کیږي چې هغوي چې ازادي غوښتله په خپله د ازادۍ غوښتونکیو دښمنان شول داولی؟ داپه دې چې دوی ته یوه ټوټه ځمکه د پاکستان په نامه ونومول شوه چې په سیمه کې دسوله ایز ژوند پرځای یوتل پاتې جګړه ایز سیاست کې ژوند ولر ي چې همداسی هم وشول.

و ګور ئ دپاکستان دجوړیدلو نه وروسته څو ځلې دهندسره وجنګیدل؟ سره د دې هم دا څو لسیز ې کیږ ي چې په ا فغا نستا ن کې د هغه د دفاع په نامه په جګړه ایزه سیاست کې ښکیل پاتي دی. انګریزانو وکولای شول په پاکستان کې د ا فغا نستا ن د دفاع په لاره کې کله د اسلام اوکفر کله د تروریزم اودیموکراسي په نامه جګړه پر مخ بوځي چې دا دې نن سبا د طالبانو، القاعدې او داعش په نامه نه یواځې په ا فغا نستا ن کې چې په ټوله اسلامي نړۍ کې خپله انسان دښمنه جګړ ه پر مخه بیا یی.

انګر یزان پر دې بریالي وو چې دکفر اواسلام په جګړه کې د اسلامي ځواکونو د وکالت اوکفالت دنده پاکستان ته وسپاري.

همدارنګه د القاعدې سره په نامه جګړه کې هم دپاکستان ډنډه ماره (بیړاګان) وکاروي اودادې نن د طالب سره په جګړه کې یې ټول پاکستان بوخت کړی دی.

په سیمه کې انګریزې سیاست په دې بریالی وو، چې دکمونیزم مخ پر وړاندې سیاست یې دمجاهدینو دجګړه مارې ډلې پرقربانیو ډپ کړي. پاکستان ته د دې واک ورکړل شوې ووچې داسلامې مجاهدینو د ویاندپه توګه په هره نړیواله غونډه کې برخه واخلي. انګریزان د امریکایانوپه زور په سیمه کې غواړي په ورو ورو هره هغه ډله ټپله چې له پخوا نه پاتې وي یا په راتلو نکیو کې رامینځته کیږ ي؛ یو په بل پسې و ځپې او نابود یې کړي.

د انګریزانو په دې سیاست کې ولیدل شول چې کمونیستان یې پر مجاهدینو وټکول مجاهدین یې پرطالبانو او طالبان دا دي پر داعش باندې ټکول کیږي. لکه څنګه چې مجاهدینو له خپله ځا نه ویاندنه درلود. په هماغه توګه طالبانوته

یې هم تر اوسه پورې په نړ ی واله کچه ویاند نه دی ټاکلی.
کومه څانګه چې په قطرکې پرانستل شوی ؛ هغه ته هم هیڅ داسې واک نه دی په لا س ورغلی چې وکولی شي سل په سلوکې د طالبانوله خوا باوري سر چېنه وګرځي.
دا په داچې په دې سیاست کې طالبانو ته دلومړیو ورځو نه را په دې خواه چې د طالبانوغورځنګ ډاګیز ه شوی د انګر یز ي سیاست په لمنه کې رالوی شوی دي.
یو متل د ی چې:
(که خوسی دې په وندنه کې رالو ی شوی وي غاښ یې مه ګو ر ه).
په دې توګه انګریزان د مجاهدینو اودطالبو بیړاګانو دغاښونو لیدلو ته څه اړتیا نه ویني. هر کله او هر چیرته چې وغواړ ي د هغوي څخه کار اخیستلی شي.
طالبان او د دیموکراسی پلویان د افغانستان د حکومت بیړاګان هرکله طالب دپاکستان د لاس څو باړي ګڼلی ؛ کوم چې هغوي د انګر یز ي سیاست په چوکاټ کې تر اوسه پورې لوبیدلي دي یعنې: طالبانو هیڅ کله هم د پاکستان له پاره لمونځ نه دی کړ ی.
ځکه چې هغوي ته داسې واک نه دی ورکړل شوی.له بلی خواه پاکستان هم د دې واک او ځواک نه لر ي چې په خپلی ارادې سره طالبان ولوبوي. دا په دا چې د لوبی په ډګر کې چې څه مادي او معنوي مرستې په کار راځي یا ورته اړتیا شته ؛ هغه په پاکستان کې د پاکستانیانو په جیبونو او لاسونوکې نه پیداکیږي. څه چې د دې هوډ ونو ا و موخو په نامه طالبانو ته په لاس ورکول کیږي یا وررسیږي ؛ هغه هماغه مرستې دي چې د انګریز دحکومت له خواه پاکستان ته ورکول کیږي. که چیرې امریکا او انګلستان وغواړي چې نور په دې نامه پاکستان ته خپلې ډالري او پونډې مرستې ودروي؛ د طالبانوغورځنګ به په خپله له منځه لاړ ه شي.
وګورئ د طالبانو جګړه ایزه ماشین څه د خولې خبره نه ده ! هغوي ته د جګړ ې له پاره هر رنګه وسلې او په خورا پراخه توګه خوراک ؛ څښاک او پوښاک

رسول کېږي، چې دغه کار د طالبانو او هم د پاکستانیانو له وسې پوره نه دی. دا ځکه چې د دې ټولو اړتیاوو د پوره کولو په پار یو غښتلی ترانسپورټي سیاست په کار دی، چې له هوا او ځمکې نه په هر رنګه جوي حالاتو کې کارې وسه ولري. کوم چې مو ږ وینو او اورو چې داهر څه په پرانستي لاس او په غښتلي مټ پوره کېږ ي. دا خو د حیرانتیا خبره نه د ه، ځکه چې په دې انګریزي سیاست کې د مجاهدینو د جګړ ې ا و دواکمنی د پیر نه راپه دیخوا، نه یواځې چې د طالبانو سر ه په پراخه کچه مر سته شو ې چې د کابل واکمنۍ ته یې هم تر هغو لا ډېره مرسته رسول شوې، لاچې د انګریزي سیاست په مرسته دکابل واکمنۍ خپلې واکمنۍ ته هم ژوند ښنلي دی. دا که د رباني واکمني وه که دکرزي اویاکه داشرف غني اوعبدالله واکمني ده. ځکه نه رباني په خپل زور واک ته رسیدلی، نه کرزی او نه اشرف غني اوعبدالله، دوی ټول باید دشوروي اتحاد اشغال ګریزې یرغل منندویه اووسي چې ا فغا نستا ن یې لاس تړلي د امریکی او انګریزي سیاست لمنې ته چې د پاکستان په نامه په سیمه کې پرپښوود رول شوی وغورځاوه او دا ټکی هم د هیرولو نه دی چې امریکی هم د خپل انګریزي سیاست د روحیي سره سم پر ا فغا نستا ن ودانګل او هغه یې اشغال کړ. کوم غبرګون چې د دې اشغال پر ضد لیدل کېږ ي، سره د دې چې دطالبانو په نوم یادیږي، خو په حقیقت کې همدغه اشغالګره کړنه، که څوک ومني او که یې ونه مني ا فغا نستا ن یې لاس تړلی بیرته د روسیي استعماري ځواک لمنې ته ورغورځولی دی.

وګورئ هغه تفاهم چې د ا فغا نستا ن د جګړې دپای ته رسولو په موخه دامریکی او د وخت د شوروي اتحاد په منځ کې شوی وو، داخبره په ډاګه څرګندوي. یعنې: په ا فغا نستا ن کې جګړه نه شوروي اتحاد بایللی اونه امریکی ګټلی. په ا فغا نستا ن کې به هم د روسیي پلویان ووسي او هم د امر یکی پلویان. په ساده ژبه ویلی چې: جګړه نه تاګټلی او نه ما؛ نه تابایللی او نه ما. هم ته اووسه او هم ز ه. د دواړو ګټې دې خوندي پاتې شي.)

وګورئ دسولې دغه بنسټ داشرف غني اوعبدالله تر مینځ هغه هم په ټاکنیزو لانجو کې دامریکی د بهرنیوچارود وزیر له خواه کېټ مېټ وکارول شو.( شپه که تیاره ده، منې خوپه شماردي) د عبدالله سره د ایران، روسیي اودهند پلویانو درنه برخه لرله، اوداشرف غني سره دامریکې، سعودي عربستان اوترکیي پلوه ډلې غښتلی ښکاریدلی.

همدغو دواړو اړخونو په ناروا توګه د ټاکنو چار چلند ته په سپکه وکتلی او هغه یې تر پوښتنو لاندې ونیولی، د تاریخ په وړاندې به دغه دواړه اړخونه ډېر زیات وغندل شي. دا ځکه چې د ډالرو بنډلونه د عبدالله او اشرف غني د جوالونو او جیبونوڅخه را ویستل کیدل. یعنې: که د دې دواړو له خواه د ډالرو بنډلونه پر کمپاینرانو نه شیندل کېدلی چابه هم تخلف، تخطي، تقلب ا و جعل نه وای کړی. ټاکنه به په خپل رښتینوالی سره سم او، سیده پاتی شوی وای. نه به جعل وای نه به تخلف اوتقلب. دګنده خیټې نه ګنده بوی راوځي.

دیموکراسي ښه ده خو دګنده خیټو نه دګنده بوی د راوتلو له امله د دیموکراسۍ هوا او فضا ککړه شي. ز ه باور لرم چې ښکلی ګل په ډېران کې رازرغونیږ ي. دیموکراسي چې د ډېران ښه لري، په ډېران کې دګنده ګیوسره یوځای هر رنګه هر ز ه بوټي اوخس اوخاشاک هم غورځول کېږ ي، چې له امله په ډېران کې هر کله او هر رنګه هر زه بوټي راشنه کیږ ي. خو کله کله هم داسې یو ښکلی ګل رازرغون شي چې ساری یې دنړ ۍ په هیڅ یوه بڼ کې نه موندل کېږ ې.

په ا فغا نستا ن کې هم د دیموکراسۍ له ډېران نه هیله کیدله چې داسې یوګل به راوټوکیږ ي چې له بویه څخه به یې په ټول هیواد او لاپه ټوله سیمه کې د سولې او ورورولۍ مزي ټینګې کړي. خوپه خواشینۍ سره دګل د زرغونیدو په مهال په ډېران کې دسرې پرځای چې رښتینولي او برابري ده د جعل، تقلب ا و تخلف زهروشیندل، چې دې. زهرو پردیموکراسۍ باندې دانسانیت د ښیګڼوپه بدل د بربریت او وحشت هوا او فضا واکمنه کړله. دیموکراسۍته یې

دانساني ښيګڼو په لو ر ې څه ونه ښنل. دا ځکه چې زهر چاته ژوندنه ښني. بلکې ژوند اخلي، اوڅوک چې د ژوند د دښمن سره دوستي کوي، په خپله ښيي چې د ژوند غوښتونکي نه دی. زموږ د هیواد ټاکنې چې د بهرنیانو دسیده مرستو او څارنو لاندې وشوې دوینا له مخې دانسانیت د ښیګڼو په پار او دعدالت د خوندي کولو په موخه وې.

خودعمل په ډګر کې دعدالت، مساوات او نورو ښیګڼیزو برخونه ډیرلېرې وغورځول شو، او چیرته ودرول شوچې سل په سلوکې دټولنې دتباهی له پاره دسترې کندې نه پرته نور څه نه تر سترګو کیدل. داولی؟ داپه دا چې د( بیراګانو) له پاره د ظرفیت کچه همدومره وي. ځکه که چیرې د دغو بیراګانو په وسه کې وای او هغوي د ډالرو د بنډلونو ویشلو ته نه اړکیدلی، نوپه هغه مهال کې به هرڅه دروغي، اوجوړې او برابز ی په لورې سمیدلی، بیا به بهرنیوڅارګرو اونیواکګرو ځواکونوته اړتیا نه لیدله کیدله، او په دې توګه به ښاغلي (کرې) نه راته اود ا فغا نستا ن ټاکنې به یې نه تاګټلي اونه مابايللي په لورې نه بیولو. هرڅه به د ا فغا نستا ن د ولس په واک کې پاتې شوي وای. خپلې چارې په خپلو منګولوکې ساتل چې د بیراګانو د وسې نه پورته کار دی. د ا ځکه چې (ایراګان) د دې دپاره خپلې پیسې نه شیندي اوخپلې وینې نه تویوي چې بیراګان دې خپلواکه اووسي. له بلې خوا بیراګان هم دخپلواکۍ وړتیانه لري. هغوی خوسیده دبهرنیو ایراګانو پر ولیوسواره راوستل شوي دي. داسې سوار ه چې هیڅکله هم ونه شي کولای دخپلواکۍ په لوري مخه وکړي. هغوی ته بهرني ایراګان امنیت سا تي.

پر هغوی خپلې ډالرې شیندي اوخپلې ويني تویوي، څو واک ته ورسیږي. د څه دپاره؟ روښانه خبره ده چې غواړي د تاریخ په څپوکې خپلی استعماري موخې لاپسې پراخی کړي. ولسونه ترخپلو ارادو لاندې راولي. سیمی او هیوادونه یو په بل پسې لاندې کړي او په استعماري منګولوکې یې ټینګ وساتي. خپلی ژبني، دیني او کولتوري اړخونه لاپسې پراخه اوتلپاتی کړي، او په دې توګه دنړۍ دیواځني زبرځواک په څیر وځلیږي.

ددې حالت درامنځته کولو او دهغه په نتیجه کې په ا فغا نستا ن کې دواک د ویشلو موخه په خپله ښيي چې ایړاګانو د ډالرو نه ډکې بوجۍ عبدالله او اشرف غني ته ورکړي څو په ټولنه کې په ویشلو جعل، تقلب، تخلف اوتخطي ته لیاره پرانیز ي، چې همداسی هم وشول. څکه که چېری دع اوغ دګماشتهګانوله خوا د ټاکنیزوکمیټوکار کوونکیو ته ډالری نه وی ورکړل شوی، د هغوی له خوا به هیڅکله هم د ټاکنو په چارو کې جعل، تقلب، تخلف اوتخطي نه وای شوی. ټاکنی به نه بې لیارې کیدلی اوغوغا به هم نه وای راپورته شوی.

په ا فغا نستا ن کې د امریکې، ناټو او د نورو دوه ووځلویښتو هیوادونو پوځې شتون یاسوبتیاکله چې د شوروي اتحاد دړنګیدلوسره جوخت په نړۍ کې د امریکی متحده ایالات د نړ ی د یواځنی زبرځواک په څیر وځلیده، د ا فغا نستا ن جګړې هم نور نود کفر او اسلام په نامه خپل ارزښت وبایللو. یعنې: دخدای ښنلي باچاخان خبره رښتیا شوه چې ویلي یی وو: داجګړه دکفراو داسلام جګړ ه نه ده، بلکی د امریکی او دشوروي اتحادجګړه ده.

چی په هماغه مهال کې دمجاهدینو د خینو مشرانو له خوا باچاخان دشوروي اتحاد د پلوي په نامه دغندلو سره جوخت خپله جګړه یې هم دکفراو د اسلام جګړه وبلله. مګر رښتیا هرکله رښتیاپاتې کیږ ي، نوله دې امله د شوروی اتحادپه ماتې سره دامریکی له خوا هم د جګړ ې اور مخ په سړیدوشو. اوهمدارنګه دامریکی اودروسيي دمشرانو د پټوهوکړوله مخې د جګړې ماهیت هم ورورو په بل نوم بدل او په نورو بڼواو نومونو خپل شته والی وساته.

دا چې امریکایانونه شوای کولای څنګه چې په پلان کې یی لرل په افغانستان کې د شوروي اتحاد دپوځونو د وتلو نه وروسته ا فغا نستا ن ته خپل پوځونه واستوي.دبلی خواپه کومه موخه چې دانګریز د استعمارله خوا په سیمه کې د پاکستان په نوم دجګړې اډه یامورچله جوړه شوې وه، نودهغې دبنسټیزې موخې له مخې یواځې د شوروي اتحاد داشغالګریزو یرغلونو د مخنیوي او په

شاه تمبولو اړتیا لومړ نی دنده گڼله کیدله. خونورو لانجو ته چې په سیمه کی د انگریزي اهدافود مخالفو او مخاصموځواکونو په گډون دسیمه ایز و لانجو اوکړکیچونوپه هکله په سیاست کې څه روښتیا نه لیدله کیدله. نو ددغو او دهغو نورو ټولو عیني، ذهني، سیاسي او اقتصادي مخالفو او مخاصمو ځواکونو د بیخ او بنسټ د ورانولو او له منځه وړلو په هوډ، د یوه پراخه او اغیزمنه پلان او پروگرام د جوړولو او پلي کولو اړتیا لا پسې زیاتیدله، چې په نتیجه کې هغه څوک چې احمدشاه ( مسعود) نومیده او دهغه په گمارلوسره د شوروي اتحاد او د امریکی هوډ، هغه هم یواځې اویواځې د اسلام انقلابي نظا م د مخنیوي په پا ر وکارول شو.

یعنی: امریکایانو او روسیانو په گډه سره احمدشا ه ( مسعو د) دمجاهدینو له ډلې او عبدالرشید ( دوستم ) دکمونیستانو د ډلې څخه وگومارل، څو په ا فغا نستا ن کې د یوه سوچه اسلامي نظام درامنځته کیدلو مخه و نیسي. کوم چې په ا فغا نستا ن کې د کورنی جگړې د اور دلگیدلو لامل هم همدغه دوه تنه دي، چې په دې لیاره کې ولوبید ل.

مگر کله چې جگړه د دوی د لاسه ووتله، او طالبانو دا لقاعدې د مرستو له مخې د غه وسه تر لاسه کړله چې د ا فغا نستا ن په سلو کې پنځه نوي خاوره په خپل واک کې ولري. په دې مهال کې د دوه زره او یوعیسوي ز یږ دیز کال د سپتمبر په نهمه ورځ احمدشاه ( مسعود) ترور شو او دده د ترور پړ ه پر القاعدې اوطالبانو واچول شوه. د همدې کال او دهمدې میاشتې په یولسمه نیټه د امریکی د نیویارک په ښار کې ډیره ستره پیښه ر اپیښه شوه چې د هغه له امله په زرگونه انسانان ووژل شول. په پیښه کې دوه سترې الوتکې د نیویارک پر دوو تجارتي برجونو وویشتلی شوې چې د واړ ه برجونه د نیمې گینټې په موده کې له سرنه ترپایه پورې و نړیدلی، اوڅوک چې په کې وو، هغوی ټول تباه شول. همدارنگه د امریکی رسمي منابعو ادعا وکوله چې یو ه بله ستره الوتکه د پنتاگون پر ودانی وویشتله شوه چې ډیر ځاني او مالي تاوان یې ورساوه. د دې ادعا سره سم کومی بلی سترې الوتکی هم غو ښتل چې پر سپیني مانی راپریوزي، مگرله

سپیني ماڼۍ نه ورته وویل شول چې همدا اوس په سپینه ماڼۍ کې دامریکې جمهور ریس جورج بوش نشته. نوله دې امله الوتکه لاړله اوپه کوم ځنګله کې راپرېوتله. مګر کومې څېړنې چې دفني کسانو له خوا په دې هکله په هماغو لومړنیو ورځوشپوکې وشوې، هغوی په ډاګه کړه چې پرېنتاګون د راپرېوتلې الوتکې نه یواځې د څوارلسو کیلو ګرامو په کچه د اوسپنو پارچې لاسته راغلې. نور نو په الوتکه کې د سورلیو او دسورلیو د سامانونو نه د بیلګې په توګه څه نه وو چې لاسته راغلی وای. همدارنګه په پنسلوانیاکې هم دراغورځېدلې الوتکې نه دیوې کندې څخه پرته بل څه چې بیلګه وګڼله شي ونه میندل شول. هرڅه چې وو هغه ټول یواځې د نیویارک د ښار پر دوو برجونو ننوتلو الوتکو مصیبت وو، چې نړیواله خواخوږ ي يې و پاروله.

او دهغه پر مخ جورج بوش دخپل پلان له مخې د پیښې پړه په سیده توګه پر القاعدې او د القا عدې پر مشر اسامه بن لادن ولګوله. القاعده چې تر دې مهاله په پوره توګه چانه پیژندله. د دې پیښې له امله دسترې بدې بلاپه څیر نړیواله پیژندنه وګټله.

د سیاست په ظاهري بڼه کې امریکایانوپرطالبانو ډېره ستره دړکه واچوله څو اسامه امریکې ته وسپاري مګر د سیاست په باطن اړ خ کې لکه څنګه چې د طالبانو دکورنیو چارو د وزارت مرستیال ملا عبدالصمد ( خا کسا ر ) وینا ده امریکایان دې ته چمتو نه شول چې اسامه بن لادن تسلیم شي.

د امریکې په ظاهري سیاست کې نړیوال د باوو چلول شو او خبره دې ته ورسیدله چې پر طالبانو یا په بله خبره پر ا فغا نستا ن لکه د شوروي اتحاد اشغالګریزه یرغل وکړي. د امریکایانو د یرغل نه یوه میاشت پخوا دالمان د فدرالي جمهوریت د کلن په ښار کې د عراق د ولس او حکومت له اړخه یوه پراخه مظاهره وشوه. په دې مظاهرې کې عراقیانوشعار ورکاوه چې دامریکې موخه ا فغا نستا ن نه دی. بلکې غواړي په دې بهانه پر عراق یرغل وکړي او هغه اشغال کړي.په اروپا کې داسې ډېرې مظاهرې وشوې او پر ا فغا نستا ن باندې د امریکې یرغلګریز ه هوډ وغندل شو.

خو د امریکې په تهاجمي سیاست کې چې څه راغلي وو هغه پلي شو ل.

**امریکایانو پر ا فغا نستا ن د اسامه په بهانه په پراخه توگه یرغل وکړ او اشغال یې کړ. طالبان یې وشړل او پرځای یې پخواني د شر او فساد د بیړاگانو ډله راوستله. د امریکا د ایړاگانو په منطق کې د هغوی خپلې گټې ځای لري نه بل څه ! دغه گټې که د هر چا او د هرې لیارې څخه دوی ته ورسیږي روا دي. دې ټکي ته نه گوري چې: څوک د دوی دگټو د گټلو په لاره کې پلی شوی د انسانیت، عدالت او شرافت له لورې د باور وړ کسان دي او که نه؟**

**لکه څنگه چې وویل شول دیموکراسي د ډیران بڼه لري، په ډیران کې هر رنگه خاورې خزلې، غول او خوشایی اچول کیږ ي. د ډیران محتویات هم لکه د د یموکراسی په څیر خاورې خزلې، غول اوخوشایی دي. څه چې په ډیران کې زرغونیږي هغه ټول هرزه بوټي دي چې هیڅا ته نه په کاریږي. خوکله کله له ډیران څخه داسی یو گل هم رازرغون شي چې ساری یې د نړۍ په هیڅ یوه بڼ کې نه وي لیدل شوي.**

**په ا فغا نستا ن کې هم زموږ ولس هیله لرله چې ښایی د امریکا د دیموکراسۍ په ډیران کې به یو ښه ښکلی گل راوټوکیږ ي او په ا فغا نستا ن کې به د دې گل د زړه راښکونکو وږمو څخه سوله، روغه، جوړه، وداني او ښیرازي راخوندي شي. خو په خواشینۍ سره د دیموکراسۍ په دې ډیران کې او په دې تیرو څوارلسو کلونو کې د هر ز ه بوټو نه پرته هیڅکله هم کو م گل را زرغون نه شو چې ښکلا او وږ مې ولري. هیله هم نوره نه ده پاتی چې به یوه ورځ داسې یو گل رازرغون شي، او له بلی خوا نه لا تر اوسه پورې په دې ډیران کې هم د داسې گل زړی نه دی اچول شوی چې را زرغون شي. ځکه چې: ډیران د خاورو خزلو، غول او خوشاییوو نه ډک دی، که دکوم گل پاڼې یا ډنډرې غوځول شوي وي، هغه خو د گل زړی نه لري چې را زرغون یې کړي.**

**اوس دوه کاره په مخه کې ښکاري چې امریکایان یې د خپلو بدرنگیو جبیره وکړي:**

**۱ ـ دا چې په ا فغا نستا ن کې د دیموکراسۍ د ډیران نه اوسني خاورې خزلی، غول او خوشایی لرې وغوځول شي او ډیران پاک شي او پرځای یې یو ښکلی**

**او سمسوره بڼ جوړ کړاي شي.**

**۲ ـ دا چې ډېران په خپل حالت کې پرېږدي اولاړشي. که دا کار وشي ډېران به ډېر ژر لا به د لمر د سوزوونکیو وړانگو له امله وچ شي لابه دباران اوسیلیو له امله پر اوبو لاهو او پوپنا شي او په دې توگه: بیابه نه ارسلاخان وي نه به یې سره ا وښان. یعنې: نو ربه د دیموکراسۍ د ډېران څخه نه نوم پاتې شي اونه نښان. دغو پایلوته په کتلو ویلی شو چې امریکایانو په ا فغا نستا ن کې د خپلو باوري کسانو پرلاس تر اوسه پورې کومه لاسته راوړنه نه ده لرلې. څه چې شوي هغه خو د امریکایی ځواکونو وینې او د امریکایی و لس ډالرې دي چې په میلیاردونو په ا فغا نستا ن کې ورو‌بهیدلی. پر دې سربیره هغه چې د ا فغا نستا ن د ولس ما دي او معنوي شتمنۍ‌یادېږي او داخلسیز ې کیږ ي چې د امریکایی سیاست داورلمبو په څپو کې لولپه شوي اوسوزیدلي دي دحسا ب نه وتلی خبره ده.**

**لکه څنگه چې د پیل په کرښوکې وویل شول: ایړا نور غواړي او بیړا پور غواړي) ددې متل پر مخ امریکایانودتل له پاره دخپلوبیړاگانوڅخه په گړندۍ توگه او په زغرده غوښتنی لرلي دي چې د بیړاگانو دوسی نه پورته دي.**

**دغه دوسی نه وتلی غوښتنی د دې ټکي ښکارندویه بریښي چې امریکایانو په خپله نه دي غوښتلي چې د دوی بیړاگان دې په خپلو دندو کې لاسته راوړنې ولري دا ځکه چې د هغوی لاسته راوړنې به په ښه حکومتولۍ، سولې، روغې، ډاډ او د فساد نه خالي بیرو کراسي کې گڼلی کیدلی. کوم چې دغو لاسته راوړنو له امله به ښایی په سیمه کې نور به د امریکایی پوځي شتون ته اړتیانه پاتی کیدله. کله چې اړتیاپای ته ورسیږي، په هغه حالت کې د بهرنیوځواکونو د پاتی کیدلو خبره تر پوښتنې لاندې راځي، چې داسې حالت په سیمه کې د امریکایی سیاست له مخې د سیاسي، نظامي او اقتصادي بوختیا په لمنه کې څه ځای نه لري.دا ځکه چې د نیویارک د پیښی د پیښیدو یو لامل هم همدا دی، چې امریکایی ز برځواک وکولی شي په دې بهانه په نړۍ کې دخپل دځواکونو شتون غوره والی وښیي.**

سياسي او مذهبي بيراګان کله چې دشاهي نظام د ديموکراسۍ په لسيزه کې سره د دې چې په رسمي توګه نه وه منلې شوې، خوپه خصوصي توګه سياسي ګوندونو ته زمينه مساعده شوه چې يودخلک ديموکراټيک ګوندپه نامه د شوروي اتحاد له خوا اوبل د مسلمانو ځوانانو يا مسلمانو ورونو په نامه مذهبي ډلې دلويديځوالو له خوا دکا بل د ښار په زړه کې راوټوکيدل.

دغو دوو، کيڼ اړخواو ښي اړخو ډلو په خپلو پټو او برالا هلوځلوسره خپلې ر يښې د هيواد په زياتروسيموکې وزغلولې او هريويې په خپلومنځونوکې د اختلاف له کبله پر ټوټو وويشلی شوې.

يعنی: د خلک د يموکراټيک ګوند د پرچم، شعله او نورو نومونو، او همدارنګه دمسلمانو ورونو ډله دحزب، جمعيت او په نورو نومونو، وويشلی شوې. کله چې دا وو د خا ن د پرچم ډله دځانه سره کړه او په ا فغا نستا ن کې يې د پوځي کودتا له لياري واک ترلاسه کړ، تر هر څه د مخه يې پر مسلمانو ورونو دړکه او دباو، واچاوه. چيرته چې سپين پګړی اواوږده ږ يره وه، ويې تاړه او ويې واژه. دغه نيونی، ترنی او وژنی يې دکودتا، توطيه او نورو نومونو په نامه تر سره کولې، خولاهم ترهه د ولس منځته نه وه رسيدلی.

يعنی: ترهه تر هغو انسانانو ورسيدله، چاچې سياسي پوهه لرله ياپه سياسي مبارزو کې بوخت وو، يا بوخت ګڼل کيدل. داچې کوم شتمن ياد لوړې پوهی خاوند وو، چې ښايی په راتلونکوکې به د هغوی څخه کيڼ اړخو (بيراګانو)ته دخطر دپيښيدو احساس کيده، د دې نيولو، وهلو او وژلو په دوران کې پری نه ښودل شول. د دغو ټکولو اوځپلوړ ی ونه دريدله، لاپسې اوږده شوله. ځکه ځينو هغو مسلمانو ورونو لکه در باني، حکمتيار، مسعود او نورو چې له پولې اوښتي او پاکستان ته پناه وړې وه. د ا فغا نستا ن په دننه کې لکه، لغمان، پنجشير او نورو ځايونوکې خونړي بريدونه ترسره کړل. په دې بريدونو کې سره د دې چې يولړناامنی يې رامينځته کړلی، خو دولس په کچه

چا یی پلوي ونه کړه. یوخوا دبریدگرو ماتې او دبلی خوا نه د پاکستان د (بیړاگانو) سره د ا فغا نستا ن دستر بیړاخبرې اوتفاهم په ا فغا نستا ن کې د مسلمانو ورونو د خونړیو مبا رزو لړۍ په ټپه ودروله. ځکه چې دکابل او اسلام اباد د بیړاگانو ترمینځ سوله ایز ه تفاهم رامنځته شوی وو.

دغه کړنه د مسکو د( ایړاگانو) پر د ماغ باندې بده ولگیده. (ایړا) چې باید هرڅه ډیر ژر وغواړي، داځل هم دمسکو (ایړاگانو) په تادۍ سره په کابل کې د خلک دیموکراټیک گوند دوه ډلی چې لاهم په ویشلي اوتیت او پرک ډول اوسیدل، یوځای کړل او هغوی یې دستر( بیړا) پر ضد ولمسول.ستر ( بیړا) چې د پرچم د ډلی سره په واک کې شریک وو، غوښتل یې پرچمیان دواک دگدۍ نه وشړي او واک ټول په ټوله په خپل لاس کې واخلي، خوپه خواشینې سره دې ته یې پام نه وو چې د مسکو (ایړاگانو) دپخوا څخه د دغې ورځې غمه خوړلې وه.هغوی د دې ورځې په هوډ دخلک او دپرچم د ډلو ریښې په پوځ کې هره خوا غزولی وې. پوځ ځومره چې د ستر بیړا په واک کې گڼل کیده تر هغه ډیر دکمونیستو بیړاگانو په لاسونو کې غورځیدلی وو.

# د غوايي اوومه کال ۱۳۵۷ هجري لمریز

په کال ۱۳۵۷ د غوايي مياشت په اومه نيټه کمونيستانو د ملګري ( امين) په مشر ی وکولای شول په ا فغا نستا ن کې د یوې خونړ ی کودتا له لیارې واک تر لاسه کړي. په دې کودتا کې چې کمونیستان ورته انقلاب وايي ستر (بيړا) د خپلې کورنۍ او دکابينې دځینوغړیو سره یوځای خپل سر وخوړ. کله چې کمونيستانو په کابل او لاپه ټول ا فغا نستا ن کې ټول واک خپل کړ، بيا نو دواک پر سر د خلک او پرچم د ډلو تر منځه ناندرې راپرته شوې، څو واک سره د دې چې په کودتاکې د پرچم ډلې کومه اغيزمنه ونډه نه لرله ددې دواړو ډلوپه منځ کې وويشل شي، واک وويشل شو. داسې وويشل شوچې مشري به د خلک او مرستيال به د پرچم د ډلی وي. لکه چې ملګری ( تر ه کی)رئيس او رفیق ( کارمل) يې مرستيال شو. مګر دلږې مودې نه وروسته د دواړو ډلو په منځ کې د ګډکار موخه په دښمنی واوښتله او دپرچم د ډلې مشران له هيواد نه دکودتا په تور بهرته وشړ ل شول. دلته يوه پوښتنه لا تر اوسه پورې بې ځوابه پاتی او هغه داچې: که چېرې په رښتينه توګه کودتايا ن وو، نو ولی ونه نیول شول او محاکمه نه شول؟ هغوی د نيولو اومحاکمه کولو پرځای په بهرنیو هیوادونو کې دسفيرانو په توګه وګمارل شول، چې په دې توګه د پرچم د ډلې مشران بهرته لاړ ل او بيا له هغو ځايو نو نه د واک د لاسته راوړلو په موخه د شوروي اتحاد مشر( بر يژ نيف ) نه په ګونډوشول، او په مسکو ک د شوروي اتحاد مشرانو څخه يې په زاری او ننواتو هيله وکړه:
څومره چې ژر کيږ ي په کابل کې ( امين) له واک نه وشړل شي او وا ک دوی ته وسپارل شي. که ( ا مين ) ونه شړل شي او واک دوی ته ونه سپارل شي بنايي په ډيره لږه موده کې به د دوی د ډلې ټول غړي نيست او نابود کړي.) شوروي اتحادهم همدغه ورځ غوښتله او همداسي غوښتنه ! هماغه وو چې

شوروي اتحا د ټولو نړۍ والو قوانینوپرخلاف او همدارنګه د ګاونډیتوب دټولواخلاقي نورمونو پر ضدپر ا فغا نستا ن یرغل وکړ، حفیظ الله( ا مین ) یې وواژ ه او ببرک ( کارمل) یې راوسته او د وا ک پر ګدۍ یې کیناوه. داسې یې کیناوه چې یواځې په کابل کې د واکمنۍ څوکۍ د دوي او نور ټول ا فغا نستا ن د شور وي اتحاد په ولکه کې !

د پرچم ډلې چې په سیاسي مبارزو کې یې هرڅه د خلک دګوند دغړي ملګري (امین ) په وړاندې بایللي وو، په دې کارسره څه ترلاسه کړل؟ په ځواب کې ښایي دومره وویل شي چې: (امین) یې دشوروي اتحاد پرلاسونو وواژه اوخپل هیواد یې د بهرنیانو پوځونو په ولکه کې واچاوه اوپه دې توګه خپل هیواد او خپل ولس یې دیوې اوږ دې جګړې ډګروګرځاوه، چې لاتر اوسه پورې دجګړو دپای نښې نښانی نه لیدل کیږ ي.

که د ا فغا نستا ن دولس څخه یو څوتنه د جمهوریت دستر( ببړا) داوود خان او همدارنګه یو څوتنه دخلکو دیموکراټیک ګوند( ببړا) یعنی: (امین) په مهال پاکستان ته تللي وو، د پرچمیانو دهیواد پلورنی له امله ټول ولس په ټولیزه توګه د پاکستان لمنې ته وغورځیده. دانو هغه مهال دی چې دپاکستان دبیړاګانو ستر وسترو ایړاګانوهم همداسې غوښتل. یعنې: څه چې غواړې پر هغه واوړې) د دی متل پر مخ لویدیزو ایړاګانو ته خدای ورکړ ې وه، څه دکډوالوپه نامه اوڅه دجهاد په نامه د شور وي اتحاد دلا پسې پرمختګ دمخنیوي په موخه په میلیاردونو ډالرې اوپوندونه او نورې مرستې یې پر پاکستان وورولی.

جهاد اوجګړه څنګه چې انګریز انود پاکستان دجوړولو په مهال کې ټاکلي وو، په هماغه توګه د شوروي اتحاد پر ضدتاوده او خونړ ۍ شوه. شوروي اتحاد که هر څومره خپلو و ژ ونکو بمباریو ته زور ورکاوه هغومره به د ا فغا نستا ن د مجاهدینو له خوا غبرګون پیاوړی کیده.

په دې جګړې کې په زرګونو دشوروي اتحاد پوځیان مړه اوټپیان شول او همدارنګه دافغان ولس له خوا هم په میلونونه افغانان شهیدان او په سلګونو زره

معيوب شول. د کونډو، يتيمانو اوکډوالو او اوارګانوشميرخولاهيڅچا ته نه دي څرګند. څه چې ويل کيږ ي هغه په پاکستان، ايران، هند، اروپايي هيوادونه او آن تر امريکی او استرا ليا او نوي زي لاند پورې په ميليونه افغانان کډوال شوي دي چې د نړ ی په تاريخ کې په دې کچه کډه والي او او ارګي چا نه و ه ليدلې او اوريدلې.

د شوروي اتحاد د ايراګانو دځان غوښتنې او د ا فغا نستا ن د پرچمي بيړاګانو دځان پلورنې نتيجه دا شوه چې د شوروي اتحاد مشران له ډيره غمه يوپه بل پسې ومري، او په پای کې شوروي اتحاد هم دړې وړې شي.

د شوروي اتحاد دړنګيدلو نه ډيره لږه موده وړاندې دپرچم ډلې په واکمنۍ کې بدلون راغی. د ببرک پرځای ډاکتر نجيب دواک پر ګدۍ کينول شو. نجيب دخپلی واکمنۍ په موده کې ډيری منډې ترړې وکړې چې مجاهدينوسره روغه، جوړه او سوله وکړي. مګر د هغه ټولی منډې او ترړې لکه څنګه چې په خپله د يوه بيړا په څېر څه په واک کې نه لرل، په هماغه توګه د مجاهدينو په نامه دبيړاګانو ډلو ټپلو سره هم لا د کمکيو بيړاګانو د درجې په کچه څه په واک کې نه وو، څو دغه دواړ ه اړخونه په ګډه سره دسولی او روغی په لورې تللای وای. نوله دې کبله ناکامه شولې. مګرکله چې پر داکتر نجيب د باو راغی څو د سولې په لاره کې د واک نه لرې شي. په دې مهال کې لکه څنګه چې د باوري شخصيت د خولې وينا اوماپه خپله اوريدلي دي، داکترنجيب د امر يکی د واکمنو چارواکو ته وويل:

څو ورته ليکلی تضمين او تعهد ورنه کړل شي چی: د ده د استعفا نه وروسته، به هيڅکله هم ا فغا نستا ن د غو ړيرورومجاهدينو ته نه سپارل کيږ ي واک نه، نه لا س پر سرکيږ ي.) هماغه وو چې د امريکی د دواړو ګوندونو واکمنوکسانو په لاسليک يو ليکلی تعهد کابل ته واستول شو. په تعهد ليک کې راغلي وو چی: ا فغا نستا ن به د داکتر نجيب د ګوښه کيدلو نه وروسته هيڅکله هم د غو ړ يرورو مجاهدينو ته ونه سپارل شي. )

د دې ضمانت لیک پر مخ داکتر نجیب د واک دګدۍ نه ګوښه شو، او د هغه د ګو ښه کیدلو سره جوخت څنګه چې په هوکړ ه لیک کې راغلي وو دپرچم د ډلې له خوا په کودتایی توګه واک لومړی په خپلو منځونو کې او بیا د جمعیت د اخواني ډلې سره وویشل شو........

یعنې: داکتر نجیب په ظاهره کې د پرچم او جمعیت د کودتا له امله، خو په باطن کې د امریکایانو د لیکلي ضمانت د تر لاسه کولو نه وروسته له واک څخه په ګوښه کیدلو اړ شوی دی. دنوموړی د ګوښه کیدلو په مهال کې د پرچم د ډلې هریو: عبدالحق علو مي، نورالحق علومي، نبي عظیمي، فرید مز دک، کا ویا ني، عبدالوکیل، عبدالرشید دوستم او نور چې د کودتا مشر ان وو، په پنجشیر کې میشت د جمعیت جهادي قومندان او د نظار شورا امرصاحب کا بل ته راوست. د پرچم دډلی دغو مشرانو لا د مخه کابل ته د مسعود او د دوستم ملیشه یی ځواکونه ننویستلي وو.

کله چې د جمعیت قومندان احمدشاه مسعود ته لار ه پرانستله شوه څو کابل ته راشي ا و د واک مز ي په خپلو لاسونو کې ونیسي. دغه رابلنه په ناڅاپه توګه نه وه را منځته شوې. بلکی د دې کار له پاره نورې ډیرې هلې ځلی شوي او رنګ په ر نګ کړنې تر سره شوې وې، څو دغه کابل ته د ننوتو پړاوته ورسیږي. چې یو څو یې په دئ توګه ګڼلی شو:

دجهادپه موخه په پاکستان کې اوه تنظیمونه او په ایران کې اته تنظیمونه جوړ شوي وو. د ایران تنظیمونه ټول په شیعه مسلمانانو اوپه پاکستان کې ټول د سني مسلمانانو پوری تړاودرلوده. دا چې په ا فغا نستا ن کې دسنیانو ډله د ټول نفوس په سلو کې ښایی دنوي نه زیات وي. نوله دې امله د جهاد جګړه هم په سلو تر پنځه نویو پورې په پاکستان کې دمیشتو تنظیمونو پرغاړه لرله چې پر مخ بیوله. نوکله چې د واک لیږ د رامنځته شو، له پاکستان نه داوه تنظیمونو او دایرن نه یواځی دیوه تنظیم چې د وحدت په نامه یادیدله، استازي توب کیده. دغه استازیتوب په هغه ډله کې ښه تر اوځلید له کومه چې دبرهان الدین ( ر باني) په مشری له پیښور نه مسکو ته لاړله. په مسکو کې د واک دلیږ

د خبرې یواځې د پیښور نه د استول شوي ډلې چې په هغوی کې: د ا فغا نستا ن د تاجیکو، اوزبکو، او هزاره وو ور و نېو د ډلو استا ز ي وو، چې په لږ ه کیو پورې تړاولري. خو د پښتنو استاز ی یا استا ز ي چې د ولس په ډیرګی اړخ پورې تړاو لري په کې نه وو تللی.

یعنی: د شوروي اتحاد دړنگیدلو نه مخکې داسې وړاندوییینه کیدله چې د روسانو او امریکایانو تر منځه د گډتفاهم له امله او څنګه چې په ( ژ ینو ) کې د سولی او روغې سندونه لاس لیک شوي وو، نو ر به له ا فغا نستا ن نه د شوروي اتحاد پوځونه وځي او واک به په سوله ایز ه توگه د ولس استازیو ته چې په هغه کې ټول اړخونه خپل شته والی ووینې ولیږدول شي. ) مگر په عمل کې د مسکو خبرو و ښودله چې واک به د شوروي اتحاد دکمونستو ( بیړاگانو ) نه د اخواني جمعیت د مشر ( ر با ني ) ته لیږدول کیږ ي چې څو د ( کارمل ) د واک ته د رسولو موخه پائښت وموميٍ، او هغه هم په ا فغا نستا ن کې د لږکیو قامونو د ( بیړاگانو ) د واکمنۍ خوندي کول دي.

نو د دې له امله د پښتنو استازی نه وو تللی. لکه چې و روستیو پیښو هم وښودله په کابل کې د ( مسعود او رباني) د واکمنولو په هلو ځلوکې د ملگرو ملتونو سوله ایز ه پلان ا و پر و گرم چې واک به یوې بی پرې ډلې ته وسپارل شي شنډکړای شویعنی: د دې پر ځای چې له پیښوره د ملگرو ملتونو له خوا جوړه شوې بې پرې شورا کابل ته لیږ دول شوی او واک ورته سپارل شوی وای، پرکابل باندې د دوستم لوټماره ملیشی او د( مسعو د) د شورای نظار لنډه غري وخیژ ول شول، چې داهم دکودتا دپاسه بله کودتا وگڼله شوه.

د دی کودتا نه وروسته په پیښور کې د نوازشریف په مشر ۍ چې په هغه مهال کې دپاکستان لومړی وزیر وو، د ایران او دسعودي عربستان د استازیو په گډون ډیرې هلی ځلی وشوې، څو دمجاهدینو له خواه چې په ایران او پاکستان کې میشت وو، یو منل شوی دولت اوحکومت جوړ شي چې بې پایلې او ناکامه شوې. دا په دا چې: برهان ا لدین ( ر با ني ) د تاجیکو په نا مه په سلو کی پنځوس، د دوستم استازیو په سلو کې پینځه ویشت. د اوزبکو په

نامه او همدارنګه د وحدت د تنظیم استازیو په سلو کې پینځه ویشت د هزاره وو و رنېو په نا مه حق یا ونډه غوښتله چې باید سل په سلو کې ټول واک دغو دریو لړه کیو ډلو ته ورکړل شوي وای. دا ولې؟ دا په دا چې: کومې خبرې چې په مسکوکې د واک دلېږ د پر سر شوې وې او په هغوکې د پښتنو له خواکوم استازي برخه نه لرله، نو په هماغه توګه په پېښور کې هم دغولړکیو د مسکو په اشاره ونه غوښتل چې پښتنو ته د ډیر کي په حساب حق قایل شي. د پښتنو ګناه داوه چې د شوروي اتحاد د اشغال پر ضد جګړه کې ډیره ستره او نه پخلا کیدونکي دریځ خپل کړی وو، چې له دې امله د روسیي د حکومت واکمنه کړې دې ته چمتو نه وو، څو د ا فغا نستا ن په راتلونکي واکمنۍ کې پښتانه هم برخه ولري.د پیښور په ګورنر هاوس کې د ا فغا نستا ن د واکمنۍ پر سر د نومورِ و ناندر و له امله نوازشریف او ملګر ي یې دې ته اړ شول چې د لومړیو دوه وو میاشتو له پاره حضرت صبغت الله مجددي چې عرب دی او وروسته د څلورو میاشتو له پاره برهان الدین رباني چې تاجیک دی د جمهورو رییسانو په توګه ونوموي. هماغه وو چې مجددي، ر باني او ډلی یې د نواز شریف په بدرګه له پیښور نه کابل ته واستول شول.

د مجددي په دوه میاشتني کابینه کی ګلب الدین (حکمتیار) ته چې دلومړي وزیر څوکۍ ته نومول شوی وو د احمدشاه مسعود او دوستم له خوا پرې نه ښودل شوکابل ته راشي. غواړم مخکې د دې نه چې د مجاهدینو بیړاګانو په هکله خبرې اوږدې کړ م، د داکتر نجیب په هکله څه ووایم:

داکتر نجیب د یو عادي بیړا نه زیاته څه درجه نه لرله. خوکله چې د امریکا د دوه وو ګوندونو نه د ا فغا نستا ن د سیاسي واکمنۍ د لیږ د په هکله چې به د غو ږیره ورو ته نه سپارل کیږ ي، ضمانت لیک تر لاسه کړ د ستر بیړا درجه وګټله. هغه دا چې: د شوروي اتحاد د مشرګورباچوف او د امریکې د جمهور رئیس رونالدریګان تر مینځه هوکړ ه شو ی وه چې شوروي پوځونه به له ا فغا نستا ن نه وځي اوپه ا فغا نستا ن کې به له کمونستانونه واک ولس ته ولیږ دول شي. مګر دا ټکی په دې هوکړه لیک کې څرګنده وه چې په ا فغا نستا ن کې

به د ایران په خیر د اسلا مي نظام نه رامنځته کېږ ي. کو م چې د دی موخې له پاره د امریکایانو له خوا دوستم چې شورویانو کمونیست روزلی وو، او همدارنګه د شور وي اتحاد له خوا احمد شا ه مسعود چې د امریکایانو په لمنه کې د اسلامي ډلې د اخواني په څیر روزل شوی وو، ومنل شول، او دغو دواړو ته دنده وسپارل شوه چې په ا فغا نستا ن کې به د اسلامي انقلابي نظام دجوړېدو مخه ونیسي. لکه چې په هماغه توګه هم وکارول شول.

یعنی: مسعود به دلومړي دیوال په څیر په کړنوسر ه د اخواني مجاهدینو په مینځ کې اختلا ف واچو ي، د جهاد تنظیمي ډلو کې د لړه کیو خبره توده کړي، او خپله جګړ ه د شوروي پوځیانو پر ځای د حزب اسلامي ځواکونو سره تونده کړي. لکه چې همدغی خبرې ته د شوروي اتحاد دهغوجنرالانو په لیکنوکې هم اشاره شوې چې په ا فغا نستا ن کې جنګیدلي دي. له دې سربیره د مسعود په هکله د کابل د کمونیستي نظام د جمهور ر ییس مرستیال عبدالحمید محطاط هم هغه مهال چې مسعود دپاکستان د پوځ له خوا پاکستان ته را بلل شوی وو، ویلي وو، چې مسعود هغو ټولوترونونو له مخې چې موږ سره لري، هیڅکله هم نه شي کولی د پاکستان د پو ځیانو غوښتنې ومني.

ددغو ملحوظاتو له مخ ویلی شو چې: داکتر نجیب خوشی په خوشی د امریکایانو سره د ضمانت د لاسته راوړلوپه بهانه لاس او ګریوان شوی اوکله چې سند یی لاسته راوړی بیا یې د واک څخه ځان ګوښه کړی دی. داځکه چې نجیب خوپه حقیقت کې د شوروي اتحاد او د امریکی د متحده ایالاتو دحکومتونو د روغی، جوړې له امله د واک نه باید لرې شوی وای چې بیا لرې شو. لکه چې د ده د لرې کېدلو وروسته هر څه راڅرګند شول.سند د نجیب له پاره یواځی او یواځی په هغه مهال کې په کار راغی، کله چې طالبان راغلل، کابل یی ونیوه او نجیب یې پر دار وځړاوه.

په دی توګه امریکایانو وښودله: څوک چې پر امریکایانو باور نه لري او سند غواړي هغوی به د نجیب په څیر پر دار وخیژول شي.

د امریکایانو له پاره لکه څنګه چې د مجاهدینو په نامه د بیړاګانو رنګ په رنګه خیتورو ډلو څه ارزښت نه درلود نو داکتر نجیب به څوک وو، چې د سند د اخیستلو په نامه دخپلی کرکی د ښودلو سره ځان امریکایانو ته خوږ او نژدې و ښيي؟ ز ما په اند داکتر نجیب د دی سند پر سر وژل شوی او پر دار ځوړل شوی دی، چې سند به هم سیایی ورنه بیرته اخیستی وي. په دی کار کې طالبان خو یواځی د ډیر و بدنامو بیړاګانو په څیر په کار راغلي دي او بس.

د داکتر نجیب د واکمنۍ په مهال کې یوه بله پیښه هم وشوه چې ډیره مهمه ګڼله کیږي او هغه دا دی: کله چې دګورباچوف او رونالدریګان تر منځه پر ا فغا نستا ن باندې د روغې او جوړ ې هوکړه وشوه، د هوکړ ې د روحیاتو پر مخ د لومړني ګام په څیر په ژینو کی د روغې جوړې لاس لیکول او د هغه نه وروسته د جنرال شهنواز (تڼی) په مشر ۍ یوه مصنوعي کودتا پلي کول وو. جنرال ( تڼی ) چه په هغه مهال کې د داکتر نجیب د واکمنۍ د ملي دفاع وزیر په توګه دنده لرله د خلک دګوند د ډلی څخه وو، چې د پرچم د ډلې د چیغو او نارو سورو له له امله په کودتا تورن او، د یو ماتی خوړونکي په څیر په جنګي الوتکه کې پاکستان ته وتښتیده. په پاکستان کې د هغه او دهغه دیوشمیر نورو خلکي پوځیانو د راتللو تود هرکلی وشو. جنر ال ( تڼی ) چې د ډلی سره د بریتوروخلکیانوځخه وو، نور نو دمجاهدینو په مینځ کې د بروتورو مجا هدینو نوم وګاڼه. داځکه چې د خپلې ډلې او خپلو پلویانو سره یو ځای د نجیب د واکمني د پرځولو په لاره کې د مبارزی او دجګړ ې در یځ خپل کړی وو.

پاکستان ته د برو تورو مجاهدینو اوړیدنه د دې لامل شو چې نور به د حزب اسلامي ړ یر ور مجاهدین د خپلو نویو راغلیو بروتورو مجاهدینو سره یوځا ی د نجیب د کمونیستي نظام د پرځولو په جګړه ایز و هلو ځلو کې بوخت ووسي.

په دی توګه یوه ډله خلکي کمونیستان د برو تورو مجاهدینو په نامه دحزب اسلامي د ړ یر و ر و مجا هدینو سره او بله کمونیستي ډله چې پرچمیان

نومیدل دجمعیت اسلامي د ړ یر ورو مجاهدینو سره یوځای شول او هغه ویاړ چې دجهاد په نامه د افغانانو په برخه شوي وو په دغو ناوړو کړنو سره نیست ا و نابود شول. په وروستیو پیښو کې لا پسې په ډاګه شوه چې په ا فغا نستا ن کې جګړه هیڅ یوه اړ خ نه ګټلی ده او نه با یللی. هغه رباني او هغه حکمتیار چې په کا ل ۱۹۷۹ع کې د ماشینګېو په خوځولو به ویلی:

د کمونستانو سره روغه جوړه نه لري. د هغوی سره تر وروستۍ سلګۍ پورې جګړه کوي. ) خو د کمونیستانو د نا اهله ځامنو سره یوځای شول. دا ولی؟ دا په دا چې: بادارانو وویلی چې نوره جګړه پای ته ورسیدله، روغه جوړه وشوه او ټول اړخونه به په واک کې خوند ي شي.

د ژینو د روغې جوړې په ترون لیک کې چې د ا فغا نستا ن له خوا د کابل کمونیستي رژیم د بهرنیو چاروزیر( و کیل ) او دمجاهدینو لخوا د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر ( ز ین نوراني ) لاس لیک وکړ دجګړ ې د پېر نه د سولې په لورې همدغه یوګام وو چې د دوه وو نړیوالو زبرځواکونو له خوا پورته شو. د نړیوالو سترو ځواکونو اراده او د هغه پر مخ د مجاهدینو او کمونیستو بیړاګانو کړنو د جهاد ټول ویاړونه یومخې پر اوبو لاهوکړل. نه د جهاد مدعیانو او نه دکمونیستي بیړاګانو دې ټکي ته پام راواړو ه چې که هر څه وو، خو د جهاد ویاړونه د ولس په ملي ویاړونوکې شمیر ل کیږ ي چې باید ورته هم درناوې شوې وای او هم ساتل شوې وای، څو تاریخ ته مختوری نه وای پاتی شوی.

په پاکستان کې حکمتیار او ځینو نورو د ژینو د روغی جوړی ترون ونه مانه او ورسره د پاکستان پوځي واکمن ضیاؤالحق هم خپل مخالفت څرګندکړ چې له امله یی د حکومت مشر ( جو نیجو ) او دبهرنیو چاروزیر ( ز ین نو ر ا نی )له دندو ګوښه کړای شول. مګر دغه مخالفت چې باید د حکمتیار سریی خوړلی وای د ضیاؤالحق سر یی وخوړ. دحکمتیار په هکله چې یو خوا د خمیني واکمني د هغه د ترور امر صا در کړی اوله بله خوا امریکایانو هم په پام کې لرل چې د جګړی له ساحې نه حکمتیار حذف کړي، غرونو ته ختلی وو، څو خپلې جګړې ته لا پسې دوام ورکړي. په دې هکله به د مجاهدینو په برخه

کې ولولو:

# په افغانستان کې د مجاهدینو واکمني

کله چې د شوروي اتحاد او دامریکی متحده ایالاتو تر منځه د ا فغا نستا ن په هکله روغه جوړه راغله، د دغی روغې جوړې له مخې د کمونستانو نه د واک د لېږ د په پړاو کې لومړنی ګام د ژ ینو د سولې د تړون لاس لیکول ا و په دوم ګـام کې د تنې په نوم د کودتا چیغې، نارې او سورې راپورته شوې. د دغو دوه وو ګامونو په پورته کولو، نور نوپه ا فغا نستا ن کې نه یواځې د کمونیستي انقلاب ببولالی پای ته ورسیدلی چې د اسلامي انقلاب په نامه د جهاد مفاهیموته هم وژونکي ګذار ورکړل شو.
یعنی: په لومړي ګام کې د خلک دیموکراټیک ګوند نوم د وطن دګو ند په نامه بدل شو چې ورسره جوخت ډیر داسې کسان په واک کې شریک شول چې لا د نا پېیلو په در یځ کې پیژندل کیدل.
په دوم ګام کې د سولې روغې او اشتي خبرو زورو اخیست. په دې ډنډوروکې د جنرال تنې په نا مه د کود تا غږ راپورته شو. د کودتاپه تورکی ځینې بی خبره او بی ګنا خلکي پو ځیا ن و و ژ ل شو ل، ا و ځینې بند یا ن شو ل. خو د کودتا مشر شهنواز تنی د ځینو ملګرو سره په پوځي الوتکه کې پاکستان ته وتښتید. په پاکستان کې هغوی ته تود هرکلی وویل شو. خو د جهادي تنظیمونو ځینو ډلو دغه کړنه وغندله او ورسره یې حکمتیار هم وغانده.
په دې غندنو کې د رباني ډله په سرکی وه. خو رباني په خپله د شورای نظار د مشراحمدشا ه مسعود له لیار ې لا ډ یر په خوا د پرچمي ډلې کمونیستانو سره یوځای شوی وو.د ا چې دا ټول کارونه د شوروي اتحاد او دامریکی د متحده ایالاتو د روغې جوړې د روحیې سره برابر پیښیدل، نو له دې کبله د پا کستان

پو ځي بيړاګانو چې بايد ورته هرکلی ويلی وای هم تود هرکلی و وايه.. په دې توګه د جهاد په ډله کې د ړيرورو مجاهدينوسره، بروتوره مجاهدين هم ور ګډشول. په کابل کی د داکتر نجيب له خوا د دې دوه وو ړ ير ورو او برو تورو ډلو پر ضد پلار وطنه جبهه او ورسره دلته هلته قومي مليشی جوړې شوې، څو جګړ ه د جهاد دسپيڅلي دريځ څخه لاندې را وغورځو ی او قومي او قبيله يی بڼه غو ر ه کړ ي، چې همد اسې هم وشول. ډير داسی قومي او قبيله يی مليشی جوړې شوې چې په راتلونکيو کلونو کې هغوی ټول د نجيب د واکمنۍ پر ضد وکارول شوې. لکه د دوستم ا و سيد منصور ر کيا ني مليشو کړ نې.

د ا پړاو به په همدې ځای کې پريږدو او رابه شو د شوروي اتحاد او د ا مريکې متحد ه ا يالا تو دريم ګام ته چې څنګه يی پورته کړ؟

په دريم ګام کې چې شوروي اتحادلا ژوندی وو، د ا فغا نستا ن د جهادي تنظيمونو څخه يوه ډ لګه ګۍ مسکو ته راوبلله شوه، څو دسولی، روغی او د واک د ليږد خبرې وشي. د ې سر ه جوخت د ملګرو ملتونو له خوا د پخواني پادشاه محمد ظاهرخا ن د سو لې در ې پړاويز پلان له مخې د يوې ناپيیلی شورا دجوړولو هلې ځلې هم پيل کړل شوې. همدارنګه دا مريکی متحده ايالاتوله خوا هم د هغوی د موخو له مخی د جهادي قوماندانانو دسرتاسري شورا په نامه يوخوځښت رامنځته شو. خو شوروي اتحاد دخپلو وروستيو سلګيو کې د دې وسه وميندله چې په ا فغا نستا ن کې د خپلو ګټو د ساتلو په موخه له کمونستانو څخه د ا فغا نستا ن د جهاد په نامه واک هغو ډلو ته وليږ دوي چې په ا فغا نستا ن کې دسليز ې په کچه په لړه کيوکی شميرل کيږ ي. لکه چې همداسی هم وشول.

دبر هان الدين رباني په مشرۍ يوه جهادي ډلګه ګۍ له پيښورنه مسکو ته لاړله. په دې ډ لګه ګۍ کې دمحاذ ملي، نجات ملي، جنبش ملي او دحزب وحدت د تنظيمونو استازيو ګړيتوب درلود. خو د حز ب اسلامي، اتحاد اسلامي، انقلاب اسلامي او د مولوي خالص د تنظيمونو استازيو په کې ګډون نه وو

کړی.

په دې توګه برهان الدين رباني دخپلو ملګرو سره مسکو ته تللی او په مسکوکې دشوروي اتحاد د مسؤولينو پرځا د روسيي د فيدراتيف د جمهور رئس (يلسين) سر ه کتلي ا و بير ته راستون شوی دی. په دې دوران کې چې شوروي اتحاد له ا فغا نستا ن نه خپل پوځونه ويستلي او داکتر نجيب هم د واک نه ګوښه کيدلو ته راضي شوی ا و د ورځو شميرل وو، نن دی که سبا، نجيب واک پريږ دي. نو چې په کومه ورځ داکتر نجيب اعلا ن وکړ چې د سولی په پار نور په واک کې نه پاتی کيږي. په همدې مهال هغو پرچمي، ستمي او شعله يی ډلو چې د نجيب په و اکمني کې څه د پلار وطنه جبهي اوڅه دقومي مليشو د ليکو له لیارې په واک کې سره شر يک شو ي ؤو، او د دوی دکا رد نتيجي په نا مه په تالقانو کې د شورای نظار په پښو ودرول ؤو، په کابل کې يی د نجيب د سولی د هوډ پرضد کودتا وکړه. نجيب چې په دې مهال کې غوښتل له کابل نه دنوي ډ هلي په لورې په الوتکه کې لاړ شي، د هغه د تللو مخه و تړل شوه خو نجيب لاړ په کابل کې دملګرو ملتونو په انګړک پناه واخيستله. دغو کودتاچيانو چې هريو: نور الحق علومي، عبدالحق علو مي، نبي عظيمي، فريد مزدک، نجم الدين کاوياني، عبدالرشيد دوستم او نور وو، ونه شوای کولی، چې حکومت جوړ کړي. دا ځکه چې د دوی واک همدومره وو چې: نجيب نه واک واخلي او هغه چاته وسپاري چې دروسيي د وا کمنو ايراګانو خوښه وي. لکه چې همدغو پر چمي، ستمي او، شعله يی بيړ اګانو هم همداسي وکړ ل. نجيب يی لری کړ ا و د شورای نظار قوماندان احمدشاه مسعود ته يی بلنه ورکړه چې کابل ته راشي او واک خپل کړ ي. احمدشا ه مسعود چې لاد پخوا څخه دغی ورځی ته ناست وو، سره د دی چې په پيښور کې د ملګر و ملتونو له خوا ناپيیلي شورا جوړ ه شوې وه او غوښتل يی دغه شورا کابل ته ولیږ دوي ـ کابل ته د خپلو پوځونو سره ننوته، خو دننوتلو سره جوخت په کابل کې چې لا له پخوا څخه د جنبش، وحدت او

کیاني ملیشی ځای پر ځای شوي وې، چور او تالان پیل شو. د د ې چور او تالان د پیلیدو سره جوخت کوم امنیتي پوځ چې په کی پولیس، ا ردو او امنیتي ځواکونه شمیرل کېدل او دنجیب له مها ل نه راپه دیخوا یې شته والی درلود، هغوی د دی پرځای چې ا حمدشاه مسعود ته سلامي شي متلا شي شو ل. کله چې امنیتي ځواکونه متلاشي شول تر هر څه د مخه د ملي دفاع د وزارت پر پوځي وسایلو او او وسایطو لکه: الو ټکي، زرهي ټانکونه ا و دجګړ ې نور ټول خفیفه او ثقیله سامان او لوازم د شورای نظار او نورومليشو له خوا چور او تالان ولګیده. ځینی جنګي الوټکي لکه: میګ۲۷-۲۹) ا حمد شا ه مسعو د او ځینی اسمعیل خان ته په لا س ورغلل. زرهي ټانکونه او وسایل هم داحمدشا ه مسعود، دوستم، اسمعیل خا ن او د حزب وحدت په مینځ کې وویشلی شوې او په دې توګه د ډیروکلونو نه راپاتی د ا فغا نستا ن مجهز پوځ د دغو ځا ن نه ناخبر ه بیړګانوله خوا تیت او پیت، نیست او نابود شول.

لکه څنګه چې دشوروي اتحاد او دامریکی متحده ایالاتو ترمینځه د شوروي کمونیستي سیستم د ړنګېدلو په هکله منل شوي وو په هماغه توګه په ا فغا نستا ن کې هم د ا فغا نستا ن دفاعي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیز سیستم د هماغو ډلو ټپلو په لاس ړ نګ شو چې لا هم د جهاد دافتخاراتو مدعیان دي.

دغه جهادي بیړاګان چې تر اوسه هم د دښمنو بهرنیو هیوادونو پیسی او وسلي اخلي او په خپل هیواد کې خپل کور، کلی او ښار ورانوي او خپل ورور، خور، مور، پلار تر ه او تربور وژني.

لکه چې د غو جهادي بیړاګانو په خپلولاسونو د کابل ښار ړنګ کړ، په زرګونه د کابل ا و سیدونکې یې شهیدان، په زرګونه یې بهرنیو هیوادونو ته کډوال کړل؛احمدشاه مسعود دخپلو پرچمي، ستمي او شعله یي ملګروسره ددې وسه ونه میندله، څو یواځې په کابل ښار کی پرا خ بنسټه حکومت جوړ کړي او امنیت خوندي کړي.

نویې په پیښور کې له جهادي مشرانو مرسته وغوښتله، هغوی چې لا دخپل

ځان واک نه در لود، د بل چاپه لمسه په حکومت کې هريو ځان ته هغه څه وغوښتل چې مستحق یې نه وو؛ دا ولې؟
دا په دا چې د بهرنیانو موخه هم همداسې وه چې: په ا فغا نستا ن کې د ړیرورو بیړاگانو له خواه کوم اسلامي سپیڅلی نظام چې وکولی شې عدالت او امنیت خوندي کړي جوړنه شي.
د جهادي بیړاگانو هم د دښمن په لمسه په خپل تبر خپلې پښې پرېکړ ې او په دې سره یې د پراخ بنسټه حکومت ا وعادلانه نظام دجوړېدلو مخه ډپ کړله.
په کابینه کې یو دتاجیکو په نامه په سلوکې پنځوس، بل داوزبیکو په نامه په سلوکې پینځه ویشت او دریم یې دهزاره وو په نامه هم په سلو کې پینځه و یشت برخه غوښتله. دوی دې ته ونه کتلو چې دغه دریځ خو د سولې، روغې، ډاډ او د جگړې د پای ته رسولو د موخې مخه نیسي! دا یې هم دسترگو په وړاندې و نه دربېدل چې په دې دریځ سره خو په ځرگنده توگه د جگړې د اور پر لمبو باندې د تیلو پاشل دي.
دریم ټکی به هم ښایي د گاونډیو هیوادونو شومي او دښمنانه موخې وي چې نه غواړي په ا فغا نستا ن کې جگړه پای ته ورسېږي؛ په هر حال د دښمن ناوړی موخې د ناوړو مخونو له لورې پر مخ بیول کیږي، کوم چې ناوړه مخونه، یوأځی او یواځی همدغه بیړاگان دي چې زموږ پر ژوند او ژواک واکمن گرځول شوي دي.
وگورئ داحمدشاه مسعود نه به بل ستر بیړا هم څوک کېدای شي؟ هغه ته چې د روسانو له خوا د ( آ مرشورای نظار )نوم او عنوان ورکړ ل شوی وو، سر ه د دې چې د ملي دفاع و زارت واگي هم ورته وسپارل شوې، خو دآمریت نوم یې د امریکایانو له خوا په وزارت بدل نه شو. کوم چې لا تر اوسه پورې هم د امر صا حب په نو م یا د یږي.
د روسیې او امریکې گډو توطیوکې د پیښور د گورنرهاوس د غونډې له خوا چې د پاکستان د لومړي وزیر نوازشریف په مشر ی جوړه شوی وه، صبغت الله مجددي د دوه وو میاشتو او ورپسی برهان الدین رباني د څلورومیاشتو له

پاره د جمهورو رئیسانو په نامه ونومول شول، او ددوی سره جوخت ګلب الدین حکمتیار د لومړ ي وزارت د دندې پر سر په جګړه کې بوخت کړای شو، او نوموړی پری نه ښودل شو، څو کابل ته ننوځي او پرخپلې دندې باندې پیل وکړ ي.

د کابل د واک پر سر جګړه کې عبدالرب رسول سیاف ته هم چې یو پښتو ن وو، یواځې دومره واک ورکړل شو چې: دکابل د ختیځ وره له لیارې کابل ته ننوځي او د لویدیځ وره له لیارې بیرته ووځي او په پغمان کې میشت شي.

نور نوپه کابل کې جګړه کوڅه په کوڅه نښتی وه، هرچا پر هر چا مرګوني ګذرارونه کول، لکه څنګه چې کابل ښار د نجیب د لری کیدلو نه وروسته د حزب وحدت، شورای نظار او د دوستم د لنډغرو په منځ کې ویشل شو ی ؤ.

په هماغه توګه په لوړه کچه دجګړو داور د بټی په څیر وکارول شو.

امر صاحب شورای نظار چې د ملي دفا ع وزارت څوکۍ ورته ډیره ستره وه، وی نه شوای کړای، یواځی دکابل په ښار کی سوله او امنیت ټینګ کړ ي. لکه د حکمتیار په څیر به یی کله د هز اره وو، او کله به د اوزبکو سره د دوستۍ اودښمنۍ په مورچلونو کی ناست وو. او د ر وسيي د الوتکو او ټانکونو نه به یی د خپل هیواد د ولس د وژلو په لاره کی کار اخیست. همدارنګه د مقابل لوري هم هرڅه به چې په لاس کی لرل، هغه به یی د خپل هیوادني ورور پر ضد د بهرني دښمن په څیر کارولی. چا پر چا رحم ونه کړ. چا هم د ې ته و نه کتل چې له د غو ټینکونو او الوتکو نه باید د بهرنیو دښمنانو پر ضدکار واخیستل شي. چاته هم داسی سوچ په سرکی پیدانه شو چی: څه چې موږ کوو، دا خو د بهرنیانو په لمسه او لارښوونه دي او دا ټول زموږ په تاوان دي. خو یوه خبره روښانه وه او هغه دا چی: که پیسی او وسلي له هرې لوري راشي اخیستل یی روا دي. که د دې پیسو او وسلو په لاسته راوړلوکې زموږ مور پلورل که خور، که پلار پلورل کیږ ي که ورور، او که هر څه کیږ ي، ودې شي، خو زموږ لاسونه دې له وسلو او جیبونه دې له پیسوخالي نه وي.

دجهاد دغه بيړاګان چې د جګړو له برکته هر يو يې جلاجلا د غټو شتمنيو سره يو ځای ستر ستر جنايت کاران هم جوړشوي وو، د بهرني دښمنانو پرلاړو لامده او د هيواد په ورانولو کی خورا لوړو ځليو ته وروختل. هر يو يې چيغي وهلی چې دا بل لوری کافر دی. هيچا دې ته نه کتل چی: څه چې دې کوي هم دکفرکار او جنايت دی. په دې وژلو او ورانولوکی د صبغت الله مجددي دوه مياشتنۍ موده پوره شو ه او بايد چې له واکه ګوښه شوای وای مګر تر څو چې د شورای نظار دړکه پرې رانغله نوموړ ي واک پری نه ښود. کله چې آ مر صاحب شورای نظار ورته ويلی: وو ځه ! ها غه مها ل له ا ر ګه وواته ! خو په تللو تللو سر ه پر رباني او د هغه پر ملګرو دکفر ويلو خوله پرانيستله، خو څه ګټه يې و نه کړ له. ځکه چې نو ر نو و ا ک د ر با ني په لا س کی، ا و ر با ني ار ګ ته ننو تی وو. په ارګ کې ر باني د څلورو مياشتو د جمهوري رياست د مودې لوړه په داسې غرغړو، وغړنګوله چې ته به و ايی: څو چې ژندی وي ريئس جمهور به وي ( يا به ارګ وي يا به مرګ).

رباني هوډ درلود چې واک به چا ته نه پرېږدي نوځکه يې دخپل واک د مودې د غزولو په پار دحل او عقد په نوم اسلامي شورا راوبلله؛ نوموړي په دې شوراکې وويل: پرته له ما بل هيڅوک د کانديدکېدلو حق نه لري او پرته له ما هم څوک چاته خپله رايه نه شي ورکولای ددغې حل او عقد شورا نچوړ د رباني دواکمنۍ د مودې د اوږ دولو او غزولو نه پرته نور څه ونه ختل. څه چې د پيښور په ګورنرهاوس کې غوښتل کيدل هماغه د دوی په تله کې را ووتلی. يعنې: په سلوکی پنځوس دتاجيکو او نور په سلوکې پنځوس د هزاره وو، او داوزبکو له پاره وويشل شول.

حکمتيار چې لا هم د لومړي وزير په نامه يادېده کابل ته رانه غی داځکه چې چا ورته د راتللو لاره نه ورکوله خو دخپل ځان پرځای دخپل د تنظيم يوغړی چې فريد صبور نومېده او تاجک وو، لومړ ی وزارت ته ونوماوه، صبور فريد چې د جبل السراج د توابعو څخه وو، هم ونه شوای کولی د لومړ ي وزير په توګه دنده ترلاسه کړ ي، دا په دا چې د لومړي وزير واک هم د شورای

نظارسر ه وو، او دشورای نظار په سرکی احمد شاه مسعود ولاړ وو.
مسعود چې د دفاع وزارت پر څوکۍ ډېره وهلی وه سره د دې چې د حکومت ټول واکمن ګنل کیده له بده مرغه یواځې په کابل کې یی هم سوله او امنیت خوندي نه کړای شول. د ده او د ده د ملګرو ځان غوښتنې له لا مله د کابل ټول ښار د جګړو داور په لمبوکی وسوزیده او لولپه شو.
یعنی: په کابل ښارکې څنګه چې داکتر نجیب ان ګیرلې او ویلی د هغه دګوند دملګرو له خواه داحمدشاه مسعود په کارولو سره دکوڅه ډبولنډغرو دجانیانو ځواکونو په لاسونو چور، تاراج، نیونو "وژنو او سوزونوکړنو ورځنی د ودا و د ستورو ګرځیده. په دې مصیبت کې د شورای نظار د ځواکونو په مشر ی د دوستم ملیشې، دسیدکیان ملیشی، د وحدت ملیشی او داسې نور د ځان نه بی خبره ځواکونه په سماسمه توګه ښکیلی وې. د دی جهادي او غیر جهادي بیراګانو څهری کټ مټ د شوروي اتحاد دیرغل د پیل د ورځو په څیر یادونه کوله ـ خو مصیبت یی لا هم ګران او لاهم وژو نکی وو. حکمتیار اوسیاف له ښار نه بهر ناست اودکابل ښار یی ویشته ـ مسعود، دوستم، مزاري او محسني د کابل د ښار له د ننه څخه د کابل د ښارشاه اوخواوې په بمونو او راکټونو ویشتلی.
داسی بریښید له چې ګنی د جګړې ټولو اړخونو لوړه کړې، څوکابل او دکابل د ښار اوسیدونکي نیست او نابود نه کړي د جګړې څخه لاس نه اخلي. د هیوادنه بهرپه ایران کی دایران د صدا اوسیمای اسلامي د رادیو ډنډو رڅیانو خپله ډنډوره لا پسی تاوده کړې وه او درګرده به یی ویلی چی: په ا فغا نستا ن کې جهادي نظام په لوی ځواک سره واکمن شوې، هیڅ یوخنډ مخې ته نه شي ودریدلی، تر هغه ډیر پیاوړی دی څومره چې فکرکیږ ی.
داسی ډاډمنی او خوندورې خبرې د صدا اوسیمای اسلامی یی ایرا ن ورځنۍ تبلیغات ګرځیدلي وو. ما په خپله دنوموړي رادیو په خپرونو کی د ایا ت ا لله خا منه یی، ا کبر ر فسنجا ني ا و علی ا کبر و لا یتي د خو لی نه واوریدل چې ویل به یی:

د جمعیت او شورای نظار ځواکونو سره په ملګرتیا یواځې د کا بل په ښا ر کې د عبدالعلي مزاري په مشري د وحدت د ګوند دوه سوه او پنځوس زره ځلمیان په وسلو مسلح او د نظام د دفاع په لیکو کې ولاړ دي. هغوی هر کله او په هر ځای کې هر رنګه مخالفه خوځښتونه ډېر په زغرده او په توندۍ سره له منځه وړلای شي. دلته د ایران داسی ډنډوریزه سیاست او هلته د پاکستان هسې جګړ ه ایز ه هوډ یواځنی لامل وو چې د نړ ۍ د ز برځواکو ناوړه موخې د هغوی د پیسو او وسلو په ویشلو په ا فغا نستا ن کې د دښمنه اړخونو د جنایتکاره کړنو په پایښت سره خوندي پاتی شي.

په دې توګه امریکایی اېراګانو د هغې هوکړې پر مخ چې د داکتر نجیب سره یی کړې وه نه رباني، مسعود، ګیلاني، ملانبي او مجددي ته وسه وښبله چې څو ورځې په کابل کی د واک پر ګدۍ آرامه سا واخلي او نه هم حکمتیار، سیاف او خالص ته وسه تر لاسه شوه چې کابل ته ننوت ځي.

یعنی د ا فغا نستا ن واک خو لاخبره ده، امریکایانو یواځې د کابل واک هم د غو ړیرورو ته ونه سپاره، د برهان الدین رباني له خوا دا چې هغه وکولی شي خپله واکمني ټینګه کړ ي د ا لقا عدې مشر اسا مه بن لا دن د هغه فامیل او هغه د ډلی یوه برخه چې په سودان کې د اسامه سره اوسېدل، د سودان له پلازمینې خرطوم نه د اریانا په الوتکه کی کابل ته راوستل کېږي، او په کابل کې هغوی ټولو ته د ا فغا نستا ن د تابعیت تذکرې یا پیژ ندپاڼې هم ورکول کېږي څو د القاعدې ځواکونه چې د جهاد په مها ل کی د سی آی اې له خوا روزل شوي وو د دوی د واکمنۍ د ساتلو او پراخولو په لاره کې دوی سره په جګړو کې برخه ولري خو دغوځواکونو هم چې زیاته برخه یی د هیواد په ختیځ کې میشته شوي وو، هم دوی ته د واکمنۍ په ټینګولو او پراخولو کې کومه ګټه ونه شوه رسولای.

د کابل پر واک باندې د جګړې سره جوخت، دسولی روغې او د یو پراخ بنسټه حکومت د جوړولو په لاره کې هم خبرې روانې وې. په دې لړکې د ننګرهار د تارا جګړی قوماندان حاجی قدیر له خواد جلال اباد ښار په شا هي

مانۍ کې د غونډېدلو په هوډ دجګړې ټول اړخونه راوبلل شول. دغې غونډې ته د احمدشاه مسعود نه پرته نور ټول راغلل. دا چې احمدشاه مسعود د جګړې یو مهم اړ خ ګڼل کیده او هغه نه وو راغلی، نو له دې امله په غونډه کې کومه پریکړه نه شوه کیدلای. هماغه وو چې د سولې روغې پړاو ته درسیدلو په موخه د غونډې د ګډون کوونکیو څخه یو تن جهادي بیړا استاد سیاف غږ وکړ چې: ز ه ځمه او احمدشاه د ځانه سره غونډې ته راولمه. )په دی توګه استاد سیاف هم د غونډې نه و وت او لاړ په پغمان کې کیناست او بیارانه غی. غونډې چې په لومړۍ ورځ کې یو تن ناسوب درلود، په دومه ورځ کې دوه تنه ناسوبه شول. همدارنګه څنګه چې د دوی په لاس کې دجګړې واک نه وو، د پراخ بنسټه حکو مت د جوړولو واک یی هم نه درلوده او دارنګه د حاجی قدیر هلی ځلی هم بابیزه لاړلی. له بلی خواه هرکله چې د بل چا تر قوماندې لاندې جګړه د سولې روغی د خوندي کولو او د سیاسی نظام د جوړولو په معنا نه ګڼل کیږي او همدار نګه څنګه چې د امریکی او د شوروي اتحاد د ایراګانو په مینځ کې د هوکړه لیک پر مخ دغو ړیرورو ته د ا فغا نستا ن د سیاسي واک سپارل هم نه وو راغلي. نوله دې امله پر واک باندې د ړیرورو جهادي بیراګانو جګړه لا پسې تاوده او لاپسی اوږده شوله. داسی ګنګوسی ترغوږ ونو ورسیدلی چې مجاهدین باید پخوانی پاچا محمدظاهر خان ومني، چې هغه راشي په ا فغا نستا ن کې پراخ بنسټه حکومت جوړکړي.

مګر دغه نظر د رباني او د حکمتیار له خوا په چورلټه توګه رد او ونه منل شو، خو وړاندیز وشو چې: که چېري د مجاهدینوکوم د ریم ګړي ډلې ته سیاسي واک وسپارل شي دوی به یی و مني.

دا وړاندیز، وړاندیز نه وو بلکی د بابا د ړیري سره لوبه وه چې په دې لوبه کې دپاکستان د حکومت د بیړاګانو له خوا د در یم ګړي په نامه هغه هم د امریکایي ایراګانو په نغوته د طالبانو ډله راپیداکړه. د طالبانو د ډلی هم ځانته کیسه ده او هغه هم داسی:

# طالبان په افغا نستان کې

د شوروي اتحاد سره په جګړه کې د طالبانو په نامه یوه جها دي ډله هم د کندهار ولایت او شا او خوا سیموکې په جهاد بوخته وه خوکله چې د شوروي اتحاد پوځونه له ا فغا نستا ن نه ووتل د طالبانو ډله هم هره خواه لاړله او تیت او پرک شوله. مګرکله چې دمجاهدینو په نامه دمفسدو واکمنانو ظلم او فساد مخ په زیاتېدو شو، نو د ار و ز ګان څخه د ملاعمر په نامه چې هغه هم د جهاد په مهال کې د مولوي محمدنبي په مشرۍ د اسلامي انقلاب د تنظیم یوقوماندان وو، راپاڅېده او ځوتنه طالبان یې د مدرسو څخه د ځانه سره ملګري کړل او چېرته چې د جهادي تنظیمونو کوم مفسد چارواکي لیدل کېده پر هغو به یې بریدکاوه او هغه به یې واژه.

په دې توګه د ملاعمر نوم عمرۍ ثاني شو او د ا فغا نستا ن په سهیل لویدیځو، ولایتونو کې یو پېژ ندل شوی او نوموتې څهره وګرځیده؛ د پاکستان بیراګانو ته چې هم خدای ورکړې وه، ملاعمر یې په خپلو منګولو کې ونیوه د هغه نه یې د طالبانو د ډلي د مشر په توګه په سیمه کې چې کومې لاري د مفسدو جهادي بیراګانو له خوا تړل شوې وې، د بیرته پرانستلو په موخه ګټه پورته کړه.

طالبانو له چمن نه تر کندهاره او لاتر تور غونډۍ پورې لاره پرانستله، څود پاکستان د تجارتي کاروان ترکمنستان ته ورسېږي نور نو د ملاعمر نوم وتلی وو، د ده هره ارا ده په سیمه کې دلاس لاندې طالبانو له خواه ټکي په ټکي پلي کېده. په دې توګه دملاعمر د طالبانو ډله ورځ تر بلي زیاتېدله او غښتلي کېده او داسې ګچې ته ورسېده چې کولای یې شوای په سهیل لویدیځ ا فغا نستا ن کې د ولسوالیو د نیولو او اداره کولو سره یوځا ی ولایتونه هم ونیسي

اوتر خپلي ولکې لاندې يې راولي؛ په پارسي ژبه کی متل دی چې وايي: هر عيبيکی سلطان بپسند هنراست.) د ملاعمر د ډلي هنر خو د هنر په څېر ولمانځل شو چې لا عيب يې هم هنر وګڼل شو؛ د پيغمبري دعوی يې نه وه کړې مګرکارونه يې کټ مټ د پيغمبرانو په څېر وو.

لکه څنګه چې دپاکستان بيراګانو د جهاد په لومړيو شپو او ورځوکې د برهان الدين رباني، ګلب الدين حکمتيار، مولوي محمدنبي محمدي، مولوي محمديونس خالص، حضرت صبغت الله مجددي، پيرسيداحمد ګيلاني، او عبدالرب رسول سياف نه د زمرو صفته پيغمبران جوړ کړي وو. د طالبانو په دې پړاو کې هم د ملاعمر نه يی يو ستر بيړا جوړ کړ د ملا عمر نه مخکی نړ ي والو ایراګانو په ايران کی د روح الله خميني نه هم يو ستر بيړا جوړ کړی وو.

د طالبانو د لويي بلا د رامينځته کېدو سره چې بايد دکوچنيو بلا ګانو سر خوړلای وای، همداسی هم وشول. د ملاعمر ډلی د اسلامي عدالت د پلي کولو په نامه خپل سپين بيرغ اوچت کړ، لومړي يې پر کندهار بريد وکړ، په کندهار کې چې ملا نقيب اخند واکمن او هغه د جمعيت اسلامي قوماندان وو دغه جميعتي قوماندان چې پر کندهار باندې د واکمنۍ په هوډ د حزب اسلامي د قومانداانو سره جګړه کوله، د طالبانو د ځواکونو د منظم پرمختګ له لا مله مجبور شو، د کندهار واک لابه حزب اسلامي ته سپاري لابه طا لبانو ته په کندهار کی دواک پر سر د جګړ ې په داسی مهال کې او هم لکه څنګه چې پخوا هوکړه شوې وه، چې به دريم ګړې ډلې ته سياسي واک سپارل کېږ ي، نو د دغو لاملونوله مخې برهان الدين رباني خپل قوماندان ملا نقيب اخند ته د يوه فرمان په ترڅ کی امر وکړ چې کندهار به طالبانو ته سپاري چې همداسی هم وشول ملا نقيب اخند دخپل واک لا ندې سيمه ټوله طالبانو ته وسپارله او طالبانوهم دکندهار د ولايت واګې په خپلو لاسونو کې ونيولې له کندهاره وروسته مخ پر غز ني راغلل، د غزني په ولايت کی چې هم دحزب او د جمعيت دځواکونو تر مينځه پر واک باندې جګړه روانه وه، خو د غزني ښار په عملي توګه د جمعيت د قوماندان قاري بابا( قاري عبدالمالک) په واک کې

وو.

لکه د کندهار په څېر کله چې په غزني کی هم د طالبانو دړکه او فشار زيات شو، دا ځل بيا هم بر هان الدين رباني قاري بابا ته د فرمان د لارې امر وکړ چې غزني طالبانو ته وسپاري قاري بابا هم د غزني ښار طالبانو ته وسپارلو په دې توګه دکندهار نه وروسته دا دغزني ښار او د غزني د ولايت پلازمېنه ده چې د طالبانو په منګولو کې پريوځي په دې دوران کې وو، چې د ( رباني ) ډلهوورچيانو له لورې طالبان د ژغورونکيو پربښتو په نامه ستايل کېدل په دې خبره لا د رباني د شورای نظار ټول دولتي نظام هم يوه خوله وو.

د غزني د ښار څخه وروسته طالبانو د کابل په موخه مخ په ميدان ښار راغلل په ميدان ښار کې د حزب اسلامي قوماندان تورن امان الله واکمني لرله تورن امان الله ته د حزب اسلامي له خوا امر وشو چې دطالبانو مخه ډب کړي، مګر هغه دغه امر ونه مانه. او ويی ويلی: زما جګړه د جمعيت د ځواکونو سره ده، نه د طالبانو سره.

هماغه وو چې تورن امان الله د خپل تنظيم د اوامرو په خلاف د ميدان او وردکو د ولايت واګې طالبانو ته وسپارلې دلته او دا مهال وو چې د جمعيت اسلامي واکمني په کابل کې د سماسمی دړکی او فشار لاندې راغله، او له دې امله احمدشاه مسعود چې په کابل ښار کې يې نيمه واکمني لرله، په چورلکه کې ميدان ښار ته راغی او د طالبانو سره يی په دريو ټکيوکی هوکړه وکړه:

۱ ـ طالبان دې لومړی د لوګر ولايت په لورې ولاړ شې او هغه ولايت دې ونيسي.

۲ ـ طالبان دې له چاراسياب نه حکمتيار او د هغه ډله وشړ ي.

۳ ـ د لوګر ولا يت او دچاراسياب د نيولو نه وروسته به د کابل ښار طالبانو ته وسپارل شي.

د دغو دريو ټکيو پر مخ، طالبانو له ميدان نه د کابل پر ځای د لوګر ولايت په لورې مخه وکړه او هغه يی و نيولو او حکمتيار يی هم له چاراسيا ب نه وشاړه او راغلل د کابل د ښار په هغه پوله کی و درېدل، کوم چې د حکمتيار د

ځواکونو په لاسونو کې وو، په دې توگه د کابل د فاسدې واکمنۍ پر ضد دجگړې له پاره د حزب اسلامي د ځواکونو ځای د طالبانو د ځواکونو په لاس کې کیووت، دا په دا چې مسعود او رباني د پخوانیو تړونونو او بیا بالخاصه د میدان ښار د تړون سره سم دې ته چمتو نه شول چې د کابل د ښار واگې طالبانو ته وسپاري یعنې: د کابل نیمه واکمنې ډلې دطالبانو څخه و غوښتل: اوس چې حکمتیار له چاراسیا ب نه شړ ل شوی دی نوغوره به دا وي چې: طالبا ن دې د کابل د واکمنې ډلې د ځواکونو سره یوځای او دکابل د واکمنۍ د بیر غ لاندې راشي او تسلیم شي. لکه چې همدغه هوډ به یې د میدان ښار د تړون نه وروسته تل په خپلو تبلیغاتي رسنیوکی څرگنداوه. مگر کله چې د طالبانو د مینځته راتگ موخه د دریم گړي په توگه د کابل واکمنۍ نه د واک ا خیستل وو. نو له دې امله طالبانو دکابل د واکمنۍ غوښتنه ونه منله. په کابل کې چې په دې مهال کی د جمعیت، شورای نظار، وحدت او د محسني ځواکونه په خپلو مورچلونوکی ناست وو د طالبانو پرضدیی هوایی او ځمکني بریدونه پیل کړل او په دې توگه هغه پخوانۍ جگړه چې د حزب او د جمعیت تر مینځه روانه وه داځل د جمعیت او د طالبانو په مینځ کې پیل شوه. په لومړي پړاوکی د حزب وحدت له خوا په نیرنگ سره له طالبانو څخه فني کسان وغوښتل شول، څو خپلی ثقیله وسلې او ټینکونه ورته وسپاري مگرکله چې د اویاوو په شمېر فني کسان د وحدت تنظیم ته واستول، نوموړي تنظیم د دې پر ځای چې خپلي ثقیله وسلې او وسایط هغوی ته وسپاري، په ناځوانۍ، غدر او خیانت سره هغه ټول او یا فني کسان یی ووژل د دې پیښې نه چې طالبان خبر شول، په خپل ټول ځواک یې پر وحدتیانو برید وکړ، هغوی ټول یې مات کړ ل او د تنظیم مشر عبدالعلی مزاري یې هم ژوندی ونیولو او د ځانه سره یی بوتلو. خو عبدالعلی مزاري په څرخي ا لوتکه کې د نښتې له امله د طالبانو په لاس ووژل شو چې بیا مړی یی په غز ني کی د وحدت د تنظیم پلویانو ته د طالبانو له خوا وسپارل شو.

که چېر ي عبدالعلي مزاري د طالبانو فني کسان چې د هغه په غوښتنه ورته

استول شوې وو، په خدعه او نیرنګ سره نه وای وژلي نو ښایي هغه به نه نیول کېدلای او نه وژ ل کېدلای؛ او اوس به لکه د نورو جهادي بیراګانو ژوندی وای.
په هر حال هره خدعه او نیرنګ که د شیطان له خواه د شیطانه سره هم وشي، په خپل ذات کې ناوړې پایلی لرلای شي. وګورئ! دغه مز اري چې د ایران د صدا او سیمای اسلامي راډیو په ډنډورو کې د دوه سوه او پنځوس زرو وسلوالو ځواکونو مشر او خاوند ښودل کېده، د خپلی خدعی ا و دوکه مارۍ له لامله څنګه مات شو او څنګه بیا ووژل شو؟
داچې په کا بل کی ټوله لوبه پر درواغو، چل او دوکه مارۍ روانه وه، چې لا هم په هماغه توګه روانه ده. نو له دې لامله کابل ته او لاټول ا فغا نستا ن ته سوله، روغه، جوړه او هوساینه رانه غله، چې را به نه شي هم. چاچی طالبان د ژغورنی پرښتی ګڼلی، د هماغو له خوا د عذاب د لښکرو په نوم ونومول شول. هغوی چې جګړه د حل لاره نه ګڼله، لا پسې یې د جګړی د اور پر لمبو د اوبو پرځای تیل وشیندل. او هغوی چې د ورورولي او اسلامیت چیغي وهلی په خپله یې د خپلو اسلامي ورونو د وژلو او ورکولو له پاره له بهرنیو هیوادونو څخه د مرستو په نامه بهرني پوځیان وغوښتل.) حکمتیار چې له چا راسیاب نه شړل شوی وو، لغما ن ته لا ړ، ا و په لغما ن کی میشت شو. مګر طالبانو د لوګر د ولایت نه وروسته د ننګرهار پر ولایت برید وکړ ا و هغه یی و نیوه. بیا یې د کونړ پر ولایت برید وکړ، هغه یې هم ونیوه. ورپسی د لغمان ولایت ته لاړل او لغمان یې هم له حکمتیار نه ونیوه. له لغمان نه حکمتیار د بغلان ولایت ته لاړ او په بغلان کې دخپل د تنظیم د قوماندان ( بشیر دولت زي ) سر ه میشت شو. ) په کا بل کی چې د ایران صدا او سیمای اسلامي راډیو په وینا یواځی د و حدت د تنظیم دوه سوه او پنځوس زره وسله واله ځواکونه د جګړ ی په لیکو کی بو خت وو، د جګړ ې او ر په پر له پسې توګه خپل شته والی وساته. خو دجګړ ی له لا مله د وحدت د تنظیم مشر عبدالعلی مز اري د طالبانو له خوا د نیولو نه وروسته ووژ ل شو ا و ځواکونه یی هم یو په بل پسی د جګړ ی

په لیکو کی د ماتې سره مخ شول. دې سره جوخت د شورای نظار او د جمعیت د ځواکونو ملا هم ما ته شوله او نور نو په کابل کی یی د پا تی کیدلو وسه وبایلله.

په دې توګه پرکابل باندې واکمنه د شر او فسا د ډله په تیښتی سر ه له کا بله پښی سپکي کړلی او له کابل نه د شمال په لورې لاړل. په دې تیښته کې څه چې په وسه کې یی وو، ثقیله او خفیفه وسلي یې هم د ځانه سره یوړلی.

نور نو داحمدشاه مسعود او د هغه د ډلی ملګرو دکابل نه لاس په سره او په جبل لسراج او پنجشیر کی میشت شول.د د وی سره عبدالرب رسول سیاف چې په پیل کې د حزب اسلامي په ملاتړ په کا بل کی جګړه پر مخ بیوله هم د شمال د ایتلاف سره ملګری او له کابل نه شمال ته وتیښتیده. د شمال د ایتلاف ډلی چې په سرکی یې رباني او مسعود و دریدلي وو، په جبل السراج او خنجانو کې د روسیي د استازي د مشر ی لاندې غونډو کې دفاعي ترونونه لاس لیک کړل.

یوه خبره چې د ویلو نه پاتې هغه داده چی: عبدالرشید دوستم لومړی د خپلو ملیشو سره د احمدشاه مسعود په ملاتړ کابل ته راغی، په کابل کې یې خپله لار ه بدله کړله او د حکمتیار د ځواکونو سره یو ځای د مسعود او د ربا ني دځواکونو پر ضد وجنګیده. خو چې کله کابل ته طالبان راغلل بیا نو بیرته داحمدشاه مسعود په لورې واوخت او د هغه سره د شمال د ایتلاف غړ ی شو. لکه چې د جبل السراج او د خنجان په غونډو کې یی هم برخه لرله. د جبل السراج او د خنجان د غونډونه وروسته، کله چې د طالبانو له خوا پر چاریکار او جبل السراج د ړکه ا و فشار راغی. په دې مهال کی د احمدشاه مسعود له خواه له جبل السراج نه د سالنګ تر تونله پورې څه چې پلونه او پلچکو نه وو، هغه ټو ل پر بمونو ونړول شول او پردې هم بسیا ونه شوه، د تونل یوه برخه هم پر بمونو والوځول شوه، چې په دې توګه او پردې لاره شمال ته د طالبانو د پرمختګ هلوځلو مخه ډب کړای شوه.. یعنی: په عملي توګه له جبل السراج نه د سهیلي سا لنګ تر تونله پورې د موتوریز ه وسایطو له پاره لاره بنده شوله،

چې په دې رنګ شمال ته د طالبانو د بر یدونو مخه وتړل شوه.
طالبان او په کابل کی اسلامي امارات چا چې غوښتل په کابل کی اسلامي ا نقلابي نظام جوړ نه شي، هغوی خو په ظاهري توګه وکولی شول د حز ب او د جمعیت د جګړو له لارې د اسلام د انقلابي نظام د جوړیدلو مخه ونیسي. خو دغه کار، ا فغا نستا ن اود ا فغا نستا ن ولس ته خورا ګران پریوته او تباه کوونکي. دا په دې چې یو خوا د ا فغا نستا ن د ولس د جهاد ویاړونه تباه شول اوله بل لورې ټول هیواد او ورسره ټول هیوادوال د جګړو په اور کې لولپه شول.
کابل چې لا دجهاد په مهال کی ودان پاتی وو، د خپل مینځي جګړو له کبله ړنګ او شاولې باولې شو. پر مړیو، ټپیانو او اواره وو، نور هم ورزیات شول. کومې ملي شتمني چې یادیدلې، هغه ټولې نیست او نابود شولې. کورونه کنډوالې، کروندې شاړې او واټونه ړنګ شول. دا ولې؟ دا په دا چې د لویدیځو او ختیځو ز برخو اکونو او لا هم د ګاونډیو هیواد ونو ناوړه هوډ ونه او ارادې او د هغوی د ګټو غوښتنی وې. د هغو یوګټوایجاب کاوه چې ا فغا نستا ن له خپلوجګړ ه ایزو، تجربو لرونکیو ځواکونو او امکاناتو نه بی برخې شي. هغوی چې د جهاد په لیکو کې د جګړه ایزو چارو له اړخه څه ناڅه غښتلي شوي وو، نور به د ځغاستو له کرښو نه بهر غورځول کیږ ي او بی وسې کیږ ي به. دا کار یی وکاوه، داسي یې وکاوه لکه د مثال په توګه د سالنګ لویه لاره چې د شوروي اتحاد په مالي او تخنیکي مرستو جوړه شوې وه، د روسیي په شیطاني لمسونو د شورای نظار د آمر صاحب په قومانده له جبل ا لسراج نه د سالنګ تر تونله پورې ړنګه شوه.
یعنی: هغه لاره چې روسانو.په خپلو لاسونو جوړه کړې وه د خپلو افغان تالي څټو پر لاسونو یی ړ نګه کړله چیرته چې تعلیمي موسسات وو، چیرته چې اقتصادي مو سسات وو، چیرته چې اجتماعي موسسات وو، هغه ټول د تالي څټو بیرا افغانانو پر لاسونو نیست او نابود شول. دا هغه افغانان وو، چې څه یی په شوروي اتحاد کی په کمونیستي خوی او خصلت، څه یی په لویدیځو

هيوادونوکی په ديموکراته خوی او خصلت او څه يی په اسلامي هيوادونو کې انقلابی رنګه اسلامي خوی او خصلت سره د شتمنيو په دوستی کی روزل شوي او دجګړې ډګر ته دکوکريانو په څير وړاندې شو ي وو. هغوی چې سوسياليزم غو ښته، ټولی اجتماعي ټولنې او اجتماعي موسسات يی له مينځه يوړل. هغوی چې لوړې ښوونې او روزنې لرلې، يايی غوښتلې، ټول تعليمي موسسات يې ونړول او هغوی چې د شتمنيو د خوندي کولو او پراختيا غوښتنه کوله، په خپله يې اقتصادي موسسات ړ نګ کړل لکه څنګه چې د داکتر نجيب د واکمنی په وروستيو شپو او ورځوکی هغه هم د مزار شريف په ښار کی د شوروي اتحاد دوروستني استازي ښاغلي ورانسوف تر مشری لاندې غونډه جوړه شوې او په هغه کی مسعود، مزاري، دوستم او نورو په کې برخه اخيستې وه، ا فغا نستا ن يی په لړ کيو قامونو ويشلی او د هغی ويشنې پر مخ د نجيب د لرې کېدلوسره جوخت دملي دفاع، امنيت او دپوليسو ټولي وسلې او جنګي وسايط که هغه خفيفه وې که ثقيله پر لړکيو باندې وويشل شول چې په دې کار سره د شمال ايتلاف د يوې لړکيو ډلګه ګيو په څېر وکارول شوه.
يعنی: د غه ايتلاف چې په قامي ا و ژ بني اړ خ کې د تاجکو، اوزبکو او هزاګانو نه جوړه شوې وه، د جبل السراج او د خنجان په غونډو کې د عربو نه ګيلاني او نادرکياني هم په کې ورګډ شول خو حضر ت مجددي چې په لومړ ي پړاوکې ورته د جمهوري رياست څوکی رسېدلې وه او دايتلاف غړ ی و دڅوکی دمودې د پوره کېد لو سره جو خت له ا يتلافه هم ووانه ا و د حکمتيار او دوستم سر ه يې داسلامي انقلاب عالي شورا جوړه کړ ه، خو د دوی د غه شورا هم درباني د سقوط او د طالبانودرا تګ سر ه سم ړ نګه شو ه، چې په وروستيو بدلونونوکې دوستم بيا دمسعود، مزار ي، ګيلاني او نا دري سره مل او د شمال دايتلاف مهم غړ ی وګرځېد.
د شمال د ايتلاف د غو ټولو بدمرغه کړنو او انګيرنو له لامله د دې پرځای چې افغانستا ن ته سوله راشي جګړ ه راغله او د جګړ ې سيوری يوځل بيا پر ټو ل ا

فغا نستا ن کې خپور شو.

داځکه: که چېر ي د شمال ایتلاف لکه څنګه چې په لومړ یو کې یې د طالبانو ډله د دریم ګړي په تو ګه د ژغورنې دپر ښتو په څېر منلي وو؛ د کابل واک یې هم ورته سپارلای وای، ډ ېر امکا ن یې درلود چې ا فغا نستا ن له د غې اوږ دې جګړ ې نه ژغورل شوې وای.

خو خبره داسی نه شوه د شمال د ایتلاف بیراګانو، بیا هم د خپلو ا یړاګانو په لار ښوو نه د ځان غوښتنې د غرور پر نیلي سپار ه شول ا و د چلول ا و دوکې نه یې کار واخیست.

د و که خو هر کله ا و په هر ځا ی کی ښه پایله نه ورکوي او دوکه ماران هم د تل له پا ره پټ نه شي پا تې کېدلای. نو ځکه د شمال ایتلاف واک ته درسېدلو سره جوخت یو خوا امنیتي ا ورګانونه ړ نګ شو ل ا و د بلې خوا کو مي اقتصادي موسسات چې پاتې وو، هغه هم د جګړ و د اور د لمبو له لامله و سوز ېدلې او په بل اړخ کې چې ډېر بدمرغه اړخ ګڼل کېږ ي د بهرنیو هیوادونو بالخا صه د ایران او پاکستان لاسونه دي چې په ا فغا نستا ن کې ډېر زیات را ننوتلي دي چې د غو دوو هیوادونو په سیالی سره د دې وسه تر لاسه کړه چې د ا فغا نستا ن ټولې هغه ریښې چې پر ې ژوندپایښت موندلی شې له بیخه وچ کړ ي؛ پاکستان د پښتنو او د سونیانو په نا مه لا س ا وږ د کړ ایران د تاجیکو پارسیانو او دشیعه ګا نو په نا مه خپلو لاس وهنو ته لارې پرانستلې. د غه لاسوهني ددې دو اړ و هیوادونو له خوا لادجهاد د پیل نه ډ ېره موده پخوا پیل شو ې و ې خو په پټه توګه وې مګر د شمال د ایتلاف د ځا ن غوښتنو او د حزب اسلامي د غر و ر له لا مله په څر ګنده او برالا توګه ر امینځته شو ې.

ا یر ا ن د شما ل ا یتلا ف ته ا و پا کستان لو مړ ی حز ب ا سلا مي ا و بیا طا لبا نو ته د خپلو پیسو ا و وسلو مرستې پیل کړ ې.

د دغو لا س وهنو شاته څرګند ه خبر ه ده چې روسان او امریکایان ولاړ وو، له دې لامله جګړ ې نیا بتي بڼه غوره کړ ې و ه. په دې نیابتي جګړې کې کله چې طالبانو کابل ونیوه په همدې مهال کې داکتر نجیب د ملګرو ملتونو له

دفتر نه وویستل شو، لومړی ووژ ل شو، ا و بیا د کا بل د ښا ر په ا نصا ر ي و ا ټ کی پر د ار و ځړول شو. په ظا هر ه ښه د داکتر نجیب د و ژ لو پړ ه طا لبا نو پر غاړ ه واخیستله. مګر ز ه فکر کوم چې حقیقت نو ر څه ښیي.
په هر حال امریکایانو په دې بهانه چې طالبان یو خوبنسټپاله دي او له بلې خوا داکتر نجیب یې پر دار وځړاوه، د طالبانو دملاتړ کولو نه ډډ ه کول غور ه کړل په دې تر څ کې په کینیاکې د امریکې د سفارت د وداني د پر بم الوځولو پیښه ر ا پیښه شو ه ا و د دغې پیښې تور پرالقاعدې ولګیده چې دالقا عدې مشر په افغا نستا ن کی اوسیده له دې امله امریکایانو د القاعدې د ټکولو ا و ځبلو په بها نه د ا فغانستا ن پر ختیځو ولایتونو لکه: خو ست، ننګر ها ر او نورو ډېر سترستر بمونه و و ر و ل، چې ډیر بې ګنا ه افغانان چې په کی ښځی ا و ما شو ما ن هم وو، ووژل شول او ډېرکلي او کورو نه هم په کې ړنګ شو ل نو ر چې د القاعدې سره د دښمنۍ له امله د امریکایانو مخه دطالبانونه اوښتی او طالبا ن هم یواځې د پاکستان، سعودي عر بستا ن ا و د قطر د هیوادو نو له خواد په ر سمیت پیژندنې نه پر ته بل هیڅ یو کوم هیواد په ر سمیت و نه پېژندل.
د ا فغا نستان په دننه کې هم لکه څنګه چې وویل شو ل ډېر په چټکۍ سر ه سهیل، سهیل لویدیځ ا و ختیځ ولایتونه یې خپلې ولکې لا ندې راوستلې ا و په لویدیځ کې هم چې د جمعیت قوماندان اسمعیل خان په هرات کې واکمن وو او هغه ځانته د لوېدیځ امارت په نا مه لنډه پاچاهي جوړ ه کړ ې وه، د طالبانو د پام و ړګر ځېدلي او د هرات او ورسر ه شا اوخوا ولا یتونو د ترواک لاند ې نیو لو په مو خه پر هر ا ت بر ید ونه پیل کړل ا و هغه یې و نیو ه.
د مرکزي ولایتونو د ترولکې لاندې را وستلو په موخه پر پروان، کاپیسا او پنجشیر متمرکز شول خو جګړه د کابل او پروان د ولایتونو په مینځ کې اوږده شوله او دبلی خوا طالبانو ته دشمال په لور ې د پر مختګ هڅی د سا لنګ د لویې لارې د ورانېدلوله لامله ډب شوې وه نو له دې امله د پر وان او دکاپیسا د ولایتونو د نیولو نه ور و سته د لوېدیځ ا و شمال لو یدیځ ولایتونو په لو ر ې

لا ړ ل. هر ا ت يې په واک کې وو د بادغیس، فاریاب، سرپل او جوزجا ن و لایتونه يې یویه بل پسې ونیول.
خو د بلخ ولا یت په مر کز مزار شر یف کی یی په لو مړ ي ځل ډیر ه سخته ماتي وخوړله، ډېر طالبان په کې تباه شول چې دغې پیښې له امله دطالب ځواکونو په مینځ کې هغه ډله چې د پخوا ني پاچا محمد ظا هر خا ن پلویان وو، هغو ی هم یو مخې جار وشول خو طالبا نو په خپله د وهمه هڅه کې چې ټول بنسټپاله وو، په دې بریالي شول چې د مزار ښار ونیسي او ور سر ه پر ټو ل ولایت خپله واکمني خپره کړ ي.
د بلخ د و لا یت د نیو لو نه وروسته د جمعیت ا و شورای نظار د و ا کمني لمنه د شما ل لو ید یځو ولا یتو نو نه ټو له شو ه.
د کند ز، بغلا ن ا و سمنګا نو و لا یتو نه هم یو په بل پسی د طا لبا نو تر و لکې لا ند ې ر ا غلل، او په دې توګه د حکو مت پخواني اداره ټوله د تخار ولا یت په مرکز د تالقانو په ښا کي راغونډاوپنډه شوه.
د طالبانو ددغو چټکو پر مختګونو نه لودیځ هیوادونه دامریکي په ګډون په وېره کې شول چې نه ښایي دغه د ړ ېر و ر و ځواکونه پر ټول ا فغا نستا ن واکمن شي؟ نو له د ې کبله د شو رای نظار آمراحمدشا مسعود، دار وپایې اتحاد له خوا فرانسي ته راوبلل شو.
نوموړي فرانسې ته لاړاو د فرانسي د شتراسبورګ په ښارکې د اور وپایي پارلمان په وړاندې خپلي کړن لارې ا و هوډنه څرګندکړل. دده په هوډېزه کړن لاروکې راغلي وو چې: که چیر ی و ر سر ه مر سته و شي، نو د دوه وو میاشتو په موده کې به دطالبانو څخه ټول ا فغا نستا ن ونیسي. )
د اور و پا یی پا ر لما ن هم د نو مو ړ ي د د غی پلا ن د پلي کو لو په مو خه نو مو ړ ي ته پو ر ه ا تیا میلیو نه ډ ا لر ه مر سته و ر کړ له خو د غی مر ستی هم کو مه ګټه و نه ښئله. ا حمد شا ه مسعو د د د ې پر ځا ی چې ټو ل ا فغا نستا ن ونیسي د تالقانوښارېې هم له لاسه ورکړ او د تاجیکستان دکولاب ښار ته و تیښتیده. بیانوداسي ګنګوسې خپر ې شو ې چې ګنی احمدشا مسعود نو ر نه غو

ا ړ ي خپلی جګړ ې ته د وام ورکړ ي خودر وسيي د حکومت له خوا ورته وويل شو ل که چيري جګړه ونه کړې په دې حا لت کې به د تل له پا ر ه ا فغا نستا ن له لا سه و ر کړ ې ا و بيا به ا فغا نستا ن و نه ويني احمدشا مسعو د دروسانو د دغي اخطارئي له امله بيرته و ګر ځيد ه ا و د تخا ر د و لا يت د خواجه بهاوالدين په سيمه کی چې تا جيکستا ن ته نيژدې ا و د ر و سا نو د هو ا يی ا و ځمکني څا ر نی اوسا تنی لا ند ې پر ته و ه، خپلی مو ر چلی جو ړ ي کړ لې او په کې ووسيده کله چې طالبانو د تخار د ولايت مرکز د تالقانو ښارونيو ه، په دې سوچ کې شول چې پنجشير هم ونيسي مګر په دې مهال کې دروسيي د جمهور رييس مر ستبا ل ا علا ن و کړ چی: که چير ی طا لبا ن د پنجشير د ر ه و نيسي، د ا به په د ې معناوي چې ګني د مسکوښار يې و نيولو. )

د دې اولتيما تو م له لا مله نو ر نو طا لبا نو د پنجشير نو م په خو له و ا نه خيست. کله چې د ۲..۱ عيسوي کا ل د سپتمبر ميا شت په نهمه نيټه ا حمدشامسعو د د خو اجه بها والدين په سيمه ا و د ده په مو ر چله کی د بم د چا و د نی له لا مله وو ژ ل شو.

ددې پيښې په دومه ورځ يعنې: د سپتمبر په يوولسمه نيټه د ا مريکی د نيو يارک او واشنګتن په ښار و نو کې د الوتکو د غورځېدلو يالګيدلوپيښې را پيښې شو ې. لکه څنګه يې د احمدشا ه مسعو د و ژ ل کېدلو پيښې پړ ه پر طالبانو اوا لقاعدې واچو ل شو ه په هما غه تو ګه د نيويا ر ک ا و و ا شنګتن پيښو پړ ه هم پر ا لقا عد ې ا و طا لبا نو و لګيد ه. د ا چې د ا لقا عد ی مشر په د ې مهال کی په ا فغا نستا ن کی ا و سيد ه. د طا لبا نو څخه د هغه د سپا ر لو غو ښتنه و شو ه. خو طا لبا نو له ا مر يکی څخه په پيښه کی د ا سا مه د لا س لر لو، ثبو تو نه و غو ښتل، چې د غه يو ه لا نجمنه خبر ه و ګر ځيد له، په ظا هر ي سياست کی نه طا لبا نو ا سا مه ا مر يکی ته و سپا ر ه، ا و نه ا مر يکی د ا سا مه د غوښتلو نه لا س و ا خيست.

يعنی: څر نګه چې د امر يکی په تها جمي سيا ست کی منل شو ي وو، سر ه د د ې چې طا لبا نولکه څنګه چې د طا لبا نو د کورنيو چارو د وزارت مرستيال

ملا عبد الصمد خا کسا ر و ینا د ه: ا سا مه یی ا مر یکی ته سپا ر لو، مګر ا مر یکی د هغه د تسلیمید لو څخه ډډ ه و کو له ا و په د ې بها نه یی په ډیر ز و ر ا و شو ر ا و د ټو لو نړ ی و ا لو قو ا نینوا ا و پر نسیپو نو په خلا ف پر طا لبا نو یعنی پر ا فغا نستا ن یی یر غل و کړ ا و د د و ه وو میا شتو په مو د ه کی طالبان یی تا ر ا و ما ر ا و ا فغا نستا ن یی ا شغا ل کړ. د لته ا مر یکا یا نو ددغی کیسې ر ښتیا تو ب و ښو د لو چې و ا یی:

په یو ه ځنګل کی یو ملنګ ا و سید ه ا و ملنګ به تل په عبا د ت بو خت وو.

یو ه و ر ځ، یو مو ږ ک ر ا غی ا و ملنګ ته یی عر ض وکړ: یه د لوی خدای محبوبه ! ز ه په خپله سیمه کې په ډاډ ه ز ږ ه ژ و ند نه شم کو لی ا و د پیشو د لا سه نا ر ا مه یم.

نو له تا نه هیله کو م چې له لو یه خد ا یه و غو ا ړ ی څو ز ه هم پیشو شمه.

ملنګ د موږک هیله ا و غو ښتنه لو ی خد ا ی ته و ړاند کړ ه. د لو ی خد ا ی له لو ر ې د مو ږ ک نه پیشو جو ړ ه شو ه. پیشو لا ړ ه ا و بله و ر ځ ر ا غله ا و ملنګ ته په خو ر ا درناوې کینا ستله. کله چې د ملنګ ورته پا م شو، ورنه یی و پو ښتل چی: یه پیشو! بیا څله ر ا غلې یی؟ پیشو په ځو ا ب کی وو یل: یه د لو ی خد ا ی محبو به ! ا و س د سپیا نو د لا سه نا ر ا مه یم، په کلي ا و کو ر و نو کی ګر ځ ید لی نه شم.

له تا سو نه هیله کو م چې د لو ی خد ا ی. په و ړ ا ند ې عر ض و کړ ه چې ما نه سپی جوړ کړ ي. ز ه به په دې هکله له تا سو نه ډ یر ه منند و یه وو سم. )

ملنګ د پیشو غو ښتنه د لو ی خد ا ی په و ړ ا ند ی عر ض کړ. غو ښتنه د لو ی خدای له لوري ومنل شوه او د پیشو نه غټ سپی جوړ شو. سپي خپله لکۍ و خوځو له ا و ځان یی و خنډه ا و له ډ یر ې خو ښۍ په ز غا ستو سر ه د خپلی سیمې په لو ر ې لا ړ.

خو مو د ه پس بیا ملنګ ته ر ا غی ا و په ژ ړ ه غو ني تو ګه و کوږو نجید ا و وو یل: کله نه چې د سپي غو ند ې شو ی یم، له کلي نه بهر د پړ ا نګانو له لا سه ګر ځید لی نه شم د ا د ی په ډیر ې خو ا ر ۍ می ملنګه تر تا ځا ن ر ا و ر

سا و ه، هیله د ه:

له لو یه خد ا یه و غو ږ ي چې ز ه پر ا نګ شم. ستا به د تل له پا ر ه مننډ و یه ا و سم. )

د تیر په څیر بیا هم ملنګ له لو ی خد ا ی نه هیله و کړ ه چې سپي نه پړ ا نګ جو ړ کړ ي. همد ا سې هم و شو ل، سپی نو ر نو سپی نه وو، بلکې یو و یر وو نکي پړ ا نګ ا و ښتی وو. پړ ا نګ په غو ر ا و فش د ځنګله په لو ر ې روان شو. په ځنګله کی د څو و ر ځو د تیر ید لو و ر و سته، د یو ې تنکۍ هوسۍ د ښکار پر سر د ز مر ي سر ه یی تن په تن جګړ ه شو ه. په جګړ ه کی زمري را سملا و ه ا و ښه یی و د ا ړ ه. پړ ا نګ، د ز مر ي په و ړ ا ند ې له ماتې نه ملنګ ته په ژ ړ ا ا و ز ا ر یو ا یله ځا نر ا و ر سا و ه. ملنګ چې ولیدل پړ ا نګ و ر ته په بد حا لت کی ځا ن ر ا ر سو لی د ی، نو په ز ړ ه سو ا ند ه ژبه و پو ښتل: د ا پر تا څه بلا پر یو تی چې په د ا سی بد حا لت کی ر ا غلی ی‌ې؟ پړ ا نګ د ملنګ په ځو ا ب کی و و یل: ملنګه با با ! تانه چیز ه لا ړ م په ځنګله کی پر یو ه ظا لم ا و جا بر ز مر ي و ا و ښتم. ز مر ي نه یو ا ځی د ا چې د ا ز ا د ښکار ټو لی لا ر ې پر ماوتړ لی ا و د ا د ی نن یی ډیر ز یا ت و د ا ړ لم، چې ځا ن می ټو ک ټو ک د ی. نو له د ې لا مله تا نه غو ا ړ م چې د لو ی خد ای له دربا ر ه هیله و کړ ه چې ما نه ز مر ی جو ړ کړ ي څو په ا ر ا م ز ړ ه ژ و ند و کو لا ی شم. )

ملنګ هم د لو ی خد ا ی په و ړ ا ند ې د پړ ا نګ له پا ر ه هیله ا و د عا و کړ له. د لو ی خد ا ی له لو ر ې هم د ملنګ د عا و منله شو ه ا و په هما غه ځا ی کی د پړ ا نګ نه ز مر ی جو ړ شو مو ږ ک چې و لید ل، د ملنګ په لطف ا و مهر با نۍ د ا د ی تر ینه یو ستر ز مر ی جو ړ شو ی، نو ډیر په غر و ر ا و بر م سر ه له ملنګ څخه په ځنګله کی خپلی سیمی ته لا ړ. په سیمه کی چې څو مر ه خر ید و نکي ا و ا لو تو نکي ژو ي وو، هغو ی ټو ل یی و نیو ل، وو ژ ل ا و و خو ړ ل. کله چې د د ه په سیمه کی ژ و ند ی ژ و ی پا تی نه شو،

بیا نو ر ا غی ملنگ ته. ملنگ ورنه وپوښتل ز مریه ! بیا نو و لی ر ا غلی یی؟ ز مر ي په ځو ا ب کی وو یل: د ا ځل ر ا غلی یم چې تا و خو ر م. ) ملنگ و پو ښتل چې د ا نو بیا څر نگه هو ډ د ی؟ ز مر ي و و یل: په ځنگله کی می د ټو لو ژ و یو غو ښه و خو ړ له، خو یو اځی د ا نسا ن غو ښه می نه د ه خو ړ لی. د ا چې په ځنگله کی له تا نه پر ته بل ا نسا ن نه شته، نو له د ی لا مله را غلم په تا پسی، چې ستا د غو ښی په خو ړ لو د خپل د ز ړ ه ا ر ما ن پو ر ه کړ م، هو ! غو ا ړ م د ز ړ ه ا ر ما ن پو ر ه کړ م. ) ملنگ چې و لید ل په بد ه بلا ا و ښتی، نو ز مر ي ته یی وو یل: ز مر یه ! ځنگل ډیر لو ی د ی او په کی هر رنگه ژ و ي ا و سيږي، و ر ځه ؛ خپله خیټه د ی د نو ر و ژ و یو پر غو ښو مو ړ کړ ه. ا و بیا د ا نسا ن د غو ښی نو م و ا نه خلی ؛ کنه ډیر ز یا ت به پښیمانه شې. ) ز مر ي ستر گی بر هگي کړ لی ا و و یلی: ملنگه بله چا ر ه نه شته، د ا ز ما د ز ړ ه ا ر ما ن ستا د ځان غوښه ده او بس ؛ ملنگ ز مر ي ته مخ ر ا و ا ړ و ه ا و و یلی: چې خبر ه د ا سی د ه نو ځه بیر ته مو ړ ک شه ! په هما غه د م له ز مر ي نه مو ړ ک جو ړ شو.................

د غه پو رتنۍ کیسه ر ا ښیي چې ا مریکایانو دافغانستا ن دجهاد په موده کې څر نگه د موږکو نه زمریا ن او بیا د ز مر یا نو نه یی مو ږ کا ن جو ړ کړ ل. ا مر یکا یا نو د یر غل ا و ا شغا ل نه پخو ا څنگه چې د سیا یی په کتا ب کی خپا ر ه شوي دي، د ا و یا میلیو نو د ا لر و په و یشلو، د شما ل د ایتلاف نه یی د افغانستان د خا و ر ی ا و و لس ټو ل و ا ک راپیر لی د ی. و ا یی چې د غه ا و یا میلیو نه د ا لر ه قسیم فهیم، یو نس قانوني، عبد ا لله عبد ا لله، عبد الر شید د و ستم محمد محقق، کریم خلیلي اونوروته په پنجشیر ا و نو ر و ځایو نو کی و یشل شو ي ا و په مقا بل کی یی د یو نس قا نو ني ا و عبد ا لله عبد ا لله په لا س لیکونو د ا فغانستا ن دولس د ژ و ند او مر گ و اک لا سته ر ا و ړ ی د ی. کوم چې د غه و ا کپا ڼه په دې وروستیو کې د ا فغا نستا ن د و لسي جر گې له خو ا ه د آ ر ا وو، په ا تفا ق با طل ا علا ن شو ه. له بلی خو ا ه د

شما ل د ایتلا ف ځو ا کونو تر هغې پورې له پنجشیر نه کابل ته رانه غلل، تر څو چې د امریکې د هو ا يې ځواکونوله خوا د لا رې په ا و ږ د و کی ګا م په ګا م د طا لبا نو د ځو ا کو نو د ځپلو اوتباکولو په مو خه بمبا ر د ونه کړ.

وګورئ کله چې د ببرک کمو نیستي ډ لي د امین د کمو نیستي ډ لی له خواه په سیاسي مبا ر ز ې ا و د واک د ترلا سه کو لو چا ر و کی ما تې و خو ړ له، بیا نو و ر ته د شو ر و ي ا تحا د د ځو ا کو نو ا و د هغو ی له خواپرافغان ولس بمبارد او د ا فغا نستا ن اشغال یو مشروع عمل وګڼل شوا و په د و اړ و لیمو یی و ما نه په هماغه توګه د شمال ایتلا ف هم چې کله د طا لبانو په مقابل کې سیاسي اونظامي ماتې وخوړله، بیا نود امر یکی د ځو اکونو یرغل دافغانستا ن د هوا اوځمکې اشغال، د افغان ولس وژنه او په دې تو ګه د و ا ک لا سته ر ا و ړ نه، یو مشر و ع عمل و ګڼل شو. د و ی په خپل د غه ببر کانه عمل کې ا ستدلال کو ي چې طالبانو سره دالقاعدې ا و د پاکستان ځواکونو مر سته کو له چې دغه یوخارجي هجو م نه پرته بل څه نه ګڼل کېږ ي. هو! خبره همد ا سی ده، خو د غه نیوکه پرشمال ایتلاف هم واردیږي. یعنی: هغو ی ته د ا یر ا ن د سپاه پا سد ا ر ا نو له خو ا ه په غو نډو نو ا و فر قو مر ستې ر ا تللې. کو م چې د ثبو ت په څیر په مز ا ر شر یف کی د ا یر ا ني. ځو ا کو نو ا و ا فسر ا نو تلفا ت په ګو ته کید لی شي.

یعنی: څه چې په پټه تو ګه طا لبا نو ته بهر ني ځو ا کو نه ر ا تلل، په هما غه تو ګه د شما ل ا یتلا ف ته هم په پټه توګه د بهر نیو ځو اکونو دراتللو مخه چا نه و ه نیو لی.

هغه چې و ایی: خو دکش، بیګا نه پر ست.) کټ مټ په همد غو د و ه وو، ډ لو کی نظر ي ا و عملي کا ر نه و لید ل شو ه څو ک چې د بلچا په لمسه خپل و ر و ر و ژ ني ا و خپل هیو ا د پر پر د یو پلو ر ي، د هغو ی سر ه خو هیڅکله د هیو ا د د و د ا نو لو ا و دو لس د هو سا کو لو سو چ نه لید ل کیږ ي څه چې کو ي هغه خو د خپل د ځا ن ا و د خپلی کو ر نۍ له پا ر ه په بهر کی د ښه ژ و ند د جو ړ و لو هلی ځلی د ي ا و بس.

# امریکایان په افغانستان کې

**کله چې امریکایانو په افغانستا ن کی د طا لبانو وروستي ځو اکو نه وځپل او ا فغا نستا ن یی اشغا ل کړ، بیا نو د چین هیوا د په پلا ز مینې بیجینګ کی یی دچین د حکو مت په مر سته د نړ ۍ د ستر و هیوا د و نو مشر ان راو بلل په د ې غونډه کې دامر یکې جمهور رئس جو ر ج بو ش، د ر و سیي جمهور ر ئس پو تین، د بر یطا نیی لو مړ ی و ز یر تو ني بلییر، د فر ا نسی جمهور ر ئس سر کو ز ی، د ا لما ن د ا تحا د ي جمهور یت لو مړ ی و ز یر شر و د ر، د پاکستان جمهور ر ئس مشر ف، د هندد صد راعظم ما ن مو هن سنګ ا و داسې نو ر و ر ته و ر غلي وو.**

**په غو نډې کی د ا فغانستا ن په هکله ښا یی ډېر ې پر ېکړ ي شوې وي خو یوه یې دا وه:**

**په ا فغا نستا ن کې دې یوپښتون ټبر ه په نا مه د مشر، یا د جمهو ر ر ئس په تو ګه و ګمار ل شي، نو ر و ا ک به ټو ل د شما ل د ایتلا ف په لا سو نو کی وي.)**

**د دې غونډې نه وروسته، د امریکا یانو په دوم ګام کې دالمان دا تحادي جمهوریت د بن د ښا ر د پتر س برګ په هوټل کې یوه نړ ۍ واله غونډه راو بلل شوه څو ا فغا نستا ن ته یو ه پراخ بنسټه او ولس منلې نظام رامینځته کړ ي. دغې غونډې ته چې په ظاهره کی داخضر ابراهیمي د مشر ۍ لاندې جوړه شوې، خواغېزمنه برخه یې دامر یکې د ا ستا ز ي په لا س کی و ه، د ر و سیي د استازیو په ګډون د ډېرو نورو هیوادونو استازي هم راغلي و خو چا چې پریکنده رول لوباوه هغه هم یواځې دامریکې، رو سیې اودایران استازي وو.**

**په دغه غونډه کې چې د بیجینګ د غونډې دپریکړو پرمخ جوړ ه شوې وه،**

طالبانو ته دمات شوي دښمن په توګه بلنه نه وه ورکړل شوې ځوک چې رابلل شوي هغوی خو تول د هغو ډلواستازي ووکوم چې په تیر وکلونوکی په ر وم کې دروم د غونډې په نامه د ا فغا نستا ن د پخواني پاچا په مشر ی راټو ل شوي او په هغه کې د لړکیوقامونو دایتلاف په توګه خپله سوبتیا ښودله د روم په غونډه کې چې ښايې هغه غونډه په ا فغا نستا ن کې د سکتاریستانو د وروستیو سلګیو په څېر وګڼل شي داځکه چی: پخوا نی پاچا د قامونو له اړخه په ظا هر ه تو ګه د پښتنو په استازیتوب، خوپه حقیقت کې د ( د ر ي ) ژ بو استاز ی، عبدالله عبدالله ا و یو نس قا نو ني د تا جکو د استازي، د د وستم له خو ا د او ز بکو ا ستا ز ی ا و د و حد ت د تنظیم له خو ا ه د هز اره وو ا ستا ز ي بر خه ا خیستې و ه، چې په سیا سي ا ړ خ کې د غو کسا نو د پر چم، شعلی، ستم، ا خو ا ن ا لمسلمین ا و شا ه پسند ا نو په تو ګه خپل ر و ل لو با و ه ا و د غه ر و ل هم د هغو تر و نو نو په شا ه ا و خو ا ه ر ا څرخید ل، کو م چې لا پخو ا د ا مر یکی ا و شور وي ا تحا د په مینځ کی د ا فغا نستا ن د لا نجي د حل په پار لاسلیک شو ي وو.

یعنی: په ا فغا نستا ن کی جګړ ه نه تا ګټلې اونه ما؛ نه تا بایللی اونه ما هم ته په کې واوسه او هم ز ه په کی ا و سم.)

د د ې هو کړ ه لیک پر مخ چې په ا فغا نستا ن کې د شوروي اتحاد پرلاس جوړ شوی نظام ړنګ او واک بې واکه بیراګانو ته لکه: نبی عظیمی، مز د ک، کاو یا ني ا و نو رو ته وسپا ر ل شو، د لو مړ ي ګا م په نو م ګڼلی شو، چې څو ا فغا نستا ن د ختیځ ا و لودیځو ګډوپېژندل شویو ګوډاګیانو لاسته ورشي دا ځکه چی: د رباني اومسعود په ناروا واکمنۍ کې د حکومت د کابینې په کچه پرچمیانو او خلقیانو ته برخه نه وه ورکړ ل شوې کله چې طا لبا ن ر ا غلل هغوی هم تو ل و ا ک په خپلو لا سو نو کی و سا ته، چې د د و ی کا ر هم د هو کړ ه لیک د متن سر ه سمو ن نه د ر لو د. ' نو له د ی لا مله د بن د غو نډ ې په نچو ړ کی د ا فغا نستا ن سیا سي واک پر هغو بیراګانو وویشل شو چې هر یويې هر ې خو ا ه ته پټ یا بر ا لا تړ ا وو نه د ر لو د ل. په د ې تو ګه:

۱ ـ حامد کرز د جمهور رئس په توګه د صبغت ا لله مجددي په مشر ۍ د ملي نجا ت د ګو ند غړ ي او د پخواني پاچا د پلویانوڅخه.
۲ ـ قسیم فهیم د ملي دفا ع د وزیر په توګه د شورای نظار مشراو د جمعیت د ګو ند غړی
۳ ـ عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو د و ز یر په تو ګه د شورای نظار مشر او د جمعیت د ګو ند غړ ی
۴ ـ یونس قانوني د کورنیو چارو د وزیر په توګه او دجمعیت د ګوند غړ ی
۵ ـ پوهاند رسول امین د پوهنې د وزیر په توګه د پیرګیلاني د ګوند غړی او د پخو ا ني پاچا پلوی
٦ ـ اشرف غني احمدزی دمالیي د وزیر په توګه په ظاهره کې ناپییلي او د دتیکنوکراتانو د ډ لي څخه.
په دې توګه نور وزارتونه هم د دوستم د جنبش د تنظیم ا و د مز ار ي د و حد ت د تنظیم په مینځ کې وویشل شول.
د بیراګانو دغو ډلو هر وزار ت پر خپلو قامي او فامیلي کړیو، وویشه او هریویې ځانله ځا نله په و زارتونوکې لنډی لنډی پاچاهي جوړ ي کړ لې په وزارتو نوکې چې د وطن د ګوند او په بله معنی د خلک د یموکراټیک ګوند د نسکور ېدلو سر ه جوخت، اداري سیستم هم ړ نګ شو ی وو.
د غو نویو د بیراګانو ډلو په هر و زارت کې د ځا ن له پا ر ه نو ی مافیایې سیستم جو ړ ا و پر پښو ودراوو او څه چې د بودجې په نامه وزارتونوته ورکول کېدل، هغه به ټول د دوی د شخصي شتمنیو په څېر د دوی جیبو نو ته ورتوئیدل دغه مافیایی سیستم چې بنایې امریکایي ایراګان هم په کې برخه ولري، په لومړ ي موقتي حکومت کې چې تر شپږ و میاشتو پورې محد و د شوی وو، وکولای شول په څرګنده تو ګه په ټو لنه کی د پښو ځا ی پید ا کړ ي کله چې د لو مړ ی مو قتي حکو مت مو د ه د لو مړ ی ا نتقا لي لو یی جر ګې له خو ا ه پا ی ته و ر سید له ا و پر ځا ی یی بل ا نتقا لیحکو مت هغه هم د حا مد کر زي په مشرۍ تر د و ه وو کلو نو پو ر ې جو ړ ه شو ه. چې بیا هم

د څه تو پیر و نو سر ه کټ مټ هما غه ما فیا یی سیستم په و ا ک کی پا تی شو، کو م چې په لو مړ یو شپږ و میا شتو کی د ا مر یکا یا نو له خو ا ه ز ړ ی یی د ا فغا نستا ن په خاوره کې خښ شوی او زرغون شوی وو.
په دې توګه بیا هم د مافیایي سیستم د دودېدلو ریښې لاپسې وغز ېدلې او په سیمه کې یې د خپل فساد او بې کفایتۍ څهره لور ترلوره خپره کړ له، امریکایانو چې د جهاد د جګړې په مهال کې مجاهدین یې د نړ ۍ د ژغورونکیو په نامه لمانځل خوکله چې دشو ر و ي ا تحا د سر ه یې د ا فغا نستا ن د جګړې پرسرروغه جوړه راغله، نورنومجاهدین له خپلو ژغورونکیو دریځونو څخه لاندې وغورځېدل او بیا چې مجاهدین یې د نیم بنده واک خاوندان وګرځو ل او هغوی ته یې دواک پر سر د چور، تالان ا و فسا د نه ډ که و ا کمنۍ جو ړ ه کړ له، د شر ا و فسا د په نا مه یې و نومو ل او د شر او فسا د په تو ګه یی هم و غند ل. کوم چې د طالبانو له خواهم هغوی ته د شر او فساد په نو م بداو ر د و یل کېد ل.
کله چې طالبانو د شر او فساد څخه په کا بل کی د ټوپک په زور واک واخیست لد ې مهاله وروسته امریکایي ایراګان له خپلو طالبو بیړاګانو نه په شا ه شو ل. لا مل به یی په ظا هر ي تو ګه هم ښا یی د د ا کتر نجیب وژ ل د کینیا په نایروبي کې د امریکې د سفارت پیښه او د روسي او امریکایي بیړاګانو سره د سیاسي واک نه و یشل وي.
هر څه چې وو طالبان یی د امریکی د ایړاګانو د خواخوږۍ ځني بی برخي کړل. خو زما په اند طالبانو په کابل کې ټول سیاسي واک په خپلو لاسونو کی وسا ته او لکه څنګه چې د امریکی او د شوروي اتحاد له خوا دافغانستا ن په هکله ر وغه ا و جوړه شوې وه، په واک کې د روسپې بیړاګانو ته کومه برخه ورنه کړای شوه ا و له بلي خوا دسپتمبردیو لسمې نیټې د پیښې له لامله ډېرو غم لړلو پیښو د پیښیدلو زنګ وو هل شو تر هر څه د مخه ا مر یکا یي ایړاګانوپر خپلوطالب بیړاګانو د تر وریست ټاپه ووهله او راغلل خو په ټول زوراو شورسر ه راغلل، طالبان یې و ټکو ل او لاره یې د دیموکراسي په نامه

دی ته پر ا نستله چې د خپلو هغو هو کړ ه لیکو نو له مخې چې د شو ر و ي ا تحا د سر ه یې لا س لیک کړ ي وو، په افغانستان کی سیا سي و ا ک د ا مر یکایې او روسي بیړ اګانو تر مینځه و و یشي. چې همد ا سی یې هم و کړ ل. لکه چې د کر ز ي د تش په نا مه و ا کمنۍ کی د واک غو ښنه بر خه هم د شورای نظار په نامه روسانو ته په لا س کی ورکړله.

د کرزي واکمني وښودله چې دافغانستان د ځمکې پرمخ دامریکایانو د شته والي سره سر ه د روسیانوشته والی خوندیتوب ترلاسه کړ ی د ی؛ دلته ده چې سړ ی کولی شي دې ټکي ته پام واړ وي چې د افغانستان دکمونیستانو ټولی هغه چیغی او نارې سورې چې د انقلاب په نا مه و هلی، خوشې درواغ او دوکه ماري اود ولس غولونه وه او بس !

همدارنګه داخوانیانوهم هغه ټو لې چیغي ا و الله اکبر ویل د هغو ی دواک او ځواک پرځای د لودیځ امپریالیزم دولس دښمنه دوکه باز ی نه ورهاخوا دمنلووړځه نه شي لرلا ی دا په داچې لکه څرنګه چې د شور و ي اتحاد دملاترډپای ته رسېدلو سره سم د خلکو د دیموکراټیک ګوند د ژوند مود ه هم پا ی ته ر سید ل وو، چې په هما غه تو ګه د اسلامي ا نقلا ب په نا مه د جها د نارې سورې هم دامریکې د ملاتړ نه پرته تس نس او تیت و پرک وګرځېده.

وګورئ په افغانستان کې د شوروي اتحاد د اشغال پر ضد په جګړ ه کې کله چې په ژینو کې د سو لې خبر ې کېد لې دا فغا ن مجا هد ینو خپل ویاندنه درلوده، بلکی داپاکستان وو چې دامریکې په امر د مجاهدینو استازیتوب کاوه.

همدارنګه همدغو جهادي بیړاګانو هم په کابل کې دکمونیستانو د ماتې نه وروسته د امریکې د مرستې نه پرته، ونه شوای کولی، یو پراخ بنسټه لاځه چې لږ ترلږ ه یو نیمګړې سیستم یا نظام هم جوړ کړ ي بلکه د کابل ښاریی ړنګ کړ، په زرګونه افغانان یې ووژل او اوار ه کړ ل.

د امریکی د ایړاګانو دانسا ن د ښمنه پلا نو نو له خېټې نه لکه څنګه چې د القاعدې سازمان راوتی وو، په هما غه توګه دادی نن ( داعش) د ا دانسا ن د

ښمنه ډ له را وو تله، هر څه ړ نګوي اوهرژ وندی سر ی و ژني. ته به و ا یې چې بیا دزماني چنګیز او هلاکو ر ا ژ و ندی شوی دی او دا دی د انسا ن وژني تاریخ بیاراژ و ندی کېږ ي.

ا مر یکا یا نو لکه څنګه چې پر مجا هد ینو د شر ا و فسا د نو م کیښو د ه ا و پر طا لبا نو یی و ټکو ل، په هما غه تو ګه یی هم پر طالبانو د تر وریست نوم کیښو د او په خپله د هغو ی د ټکو لو له پا ره ر ا غلل. د طالبا نو نه وروسته چې کومه ادار ه جوړه شوی، او په هغې اداري کې د پخوانیو شراو فساد دډلی سره یوځا ی د لویدیځوالو بی کفا یته ډ له هم ګډ ه بر خه ا خیستې، چې پر د ې ا د ا ر ې هم د فا سد ا و بی کفا یته ا د ا ر ې نو م کیښو د چې مشر یی حا مد کر ز ی نو میږ ي فا سد، یعنی: مجاهدین او کمونستان. بی کفا یته، یعنی: لویدیځواله تکنوکراتا ن داچی دغه اداره د چاله خوا د فساداو بې کفایتې په لورې بوتلله شوه؟ هم څه پټه خبر ه نه د ه.

ا ړ تیا، لیوالتیا او دشتمنۍ ډېرول د فساد دلومړنیو لاملونو څخه شمېر ل کېږي.) په ا ړ تیاکی د خیټې او خوټې اړتیاوو سره جوخت د لوړ و پوړونوژوند لرل هم د یو ستر لامل په توګه په سیاسي نظامونو کې خپل شته والی سا تلی د ی.

د ا که د کمو نیستا نو و ا کمني و ه، که د مجا هد ینو ا و یا که دا مریکایي ډوله اوسنۍ د دیموکراسي واکمني.

د خیټې اړتیا چې د ژوندي پاتې کېدو په کچه مشروعیت لري، که چېر ې د خیټې د اړ تیا نه پرته د ځا ن پړسولو په لورې دګام پورته کولو هوډوي، نونه یواځې چې ناروا دی چې جنایت هم ګڼل کېږ ي، کوم چې دا کار په دې و اکمنیو کی خپلی لو ړ ې کچې ته ر سیدلی وو.

همدارنګه د خو ټې په ا ړ تیاکې نه یو اځې چې دکمونیستانو په واکمنۍ کې دناموس په نامه چاته څه پر ې نه ښودل شول چې د مجاهدینو په نامه واکمنۍ کې هم د ناموس د ژغورلو په هوډ ډېر و پیغلو نجونو له دریم او

څلورموپوړ ونونه ځانونه لاندې وغو رځول او مړې شولې خوځانونه يې د جهادي ډلولنډغر و ته ونه سپارل، او په ورپسې د ديموکراسۍ په دې درې گو ټيزي اداري کې چې په کې هم کمونيستان، هم جهادي ډلې اوهم له لوديځ نه ورغلی تيکنوکراتان ورننوتي دي لا پسې د فحشا وو، دود او د ستور ټولنيز شوی د ي د ا ځکه چې ديموکراسي د يو ډېران په تو گه د هر رنگه پليتيو نه بايد ډک ووسي که چير ې په ډېران کې ټولي پليتۍ وانه چولې شي دډېران بنه نه شي لرلای او د ډېران په نا مه هم نه پېژندل کېږ ي. لکه د ډېران په څېر په ديموکراسي کې هم که چېرې ټو ل سياسي، اقتصادي، ټول نيزه او نظا مي ځو ا کو نه که ښه وي او که بد پکې راټول نه وي، د ديموکراسۍ ښه نه شي لرلای. په همدې توگه که چېري له يوه ديموکراته واکمنۍ نه دغه ټول ځواکونه يالږ تر لږ ه يو ځواک دخپلی بدې کړنې له لامله وو ځې، ديموکر اسي مو خپله ښه بايلي.

دفساد په دريم اړخ ا وخورامهم اړخ کې د ژوند د لوړوپوړونو کچې ته ځا ن رسول دي. د افغانستان په ولسي ټولنه کې دژوند د لوړپوړيزو او ټيټ پوړيزو تر مينځه واټن له پخوانه راپه ديخوا شته والی لرلو چې په دې بهانه د کمونيستو بيړاگانومبارز ه هم پيل شوې وه خو کله چې کمونيستان دواک پرگدۍ کينول شول، هغوی هم د دې پر ځای چې د ژوند د کچې د ټيټوالي ا وجگوالي دسميدلو په لاره کې هلي ځلي وکوي په خو ا شينۍ سر ه چې يی د و لس د ځپلو ا و و ژ لو پلا نو نه پلي کړ ل. څو ک يی په سيمه کی لا څه چې په خپل کلي ا و کو ر کی هم د سا ه ا خيستلو له پا ر ه په ارامه پر ی نه ښوده ته به وايی چې په رمه کې ليوان راننوتي دي اوگډي د ځا ن له ويرې هرې خوا ته تښتي په دی توگه د لوړې کچې ژوند ته د ر سيدلو په موخه کمونيستان هم په ډلگه گيو، و و يشل شو ل. يو ه ډ له د لوړې کچې، بله ډله د مينځنۍ کچې ا و دادريمه ډله يی ټيټې کچې څښتنا ن شو ل. کو مه مبا ر ز ه چې د طبقا تو د له مينځه و ړ لو په پا ر پيل شو ې و ه، هغه خو د پيل نه مخکی په خپله کمو نيستا نو نيست ا و نا بو د کړ له. چا ته يی ژ و ند پر ې نه

ښو د لو. یو یی په یو ه نا مه ا و بل یی په بل نا مه له خپلو شتمنیو څخه بی بر
خی کړ، چې ځینو مشر ا نو یی په پا ی کی د ډکو جیبو نو سر ه د لو یدیځ ا
مپریالیزم لمنې کې را پریوتل.
د کمونیستانو نه وروسته د جهاد دویاړونو په نامه یوه ډ له په نا مه مجا هدینو د
واکمنۍ په مها ل کی، بیا هم د لو ړ ې کچې ژوند ته درسیدلو په موخه دغو
مجاهدینو چا ته نه ننګ پرې ښوده، نه ناموس. د غې ډ لې چې د کیفیت ا و
کمیت له اړخه په ټو لنه کی هیڅ د یا د ید لو و ړ تیا نه لر ي، خو د هر چا هر
څه یی لو ټ او چو ر کړ ل. نه یی د ا سلا م د د ین خیال وساته، نه له خدایه
ووېرېدل اونه له خپله ولسه وشرمېدل. بس پر خپل هیواد او پرخپل ولس
باندې یې د جګړې ا وربل کړ او غواړې د څوکیو ا و منصبونو د لاسته را وړ لو
په سیا لۍ کی تل بو خت و و سي، څو له د ې لیا ر ې خپل جیبو نه ډ ک
کړای شي.
وګورئ لکه د تاوئیزم د شر یعت، د بودیزم د شریعت او د اویستائیز م د
شریعت په څېر د اسلام د دین د شر یعت هم دتقوا په نا مه دری رکنیزه مومن
بهالري، چې په دې درې رکنیزه مومن بهاکې د ایمان پرغیب او لمانځه نه
وروسته د انفاق په نامه د دریمې وجیبې ا و فر یضې پر پلي کولو تاکید شوی
دی خو په خو اشینۍ سر ه د جهادي ډ لو په و ا کمنۍ کی د ( ا نفا ق ) پر ځا
ی چې د مستحقو بی و ز لا نو سر ه مر سته د ه، د خپلو خیټو د پړ سو لو ا و د
خپلو جیبونو دډکولو کړنه فرض او واجب وګڼل شول، د پورتنیو ادیانو د شر
یعت د اصو لو درې رکنه په لا ندې کر ښوکی لو ستلا ی شو:
۱ ـ د چین د تا ووئیز م په شر یعت کی چې مخکښ استازی یې (لاؤوتسه)
نومېږي دا درې ا صله مهم ګڼل شوي:

# شفقت، صرفه جويي او تواضع

**۲ ـ د بوديز م په شر يعت کی د (نيروانا) د نامه لاندې دغه درې اصله مهم ګڼل شوي دي چې وايې:**

**د ځان لمانځنې، بدغوښتنې او ناپوهۍ نه ځان وژغورئ.) څو نيروانا ته ورسيږ ئ.**

**۳ ـ د ا و يستا په شر يعت کی په ا و يستا يی ژ به د حضر ت ز رد شت غو ښتنی د غه در ې غو نډلې دي:**

**هومته، هوخته ا و هور تشته. يعنی: غو ر ه اندنه، غو ره وئينه ا و غوره کړ نه.**

**۴ ـ د عيسی په شر يعت کی د غه دوه اصله فرض دي:**

**وژغورئ ا و درملنه وکوئ.) چې عيسی عليه السلام هم په خپل ژوندانه کې همدغه د وه کارونه کړي دي.**

**يعنی: څوک چې تباه کېده، هغه به يې دتباهۍ څخه ژ غورلواو دکوم ناروغ چې درملنه نه کېدله، د هغه به يی درملنه کوله. دا وې د پورتنيو څلورو اديانو د شريعتونو فرائض. د زردشت د اويستايې شريعت غوره کړنه چې ښا يی کټ مټ د اسلام د شريعت ا نفا ق ا و د تا ؤو يز م د شر يعت شفقت سر ه و ر ته و ا لی و لر ي. ا و همد ا ر نګه د بودا د شريعت په نيروانا کې چې ځان لمانځنه، بدخواهي اوناپوهي منع شو ې، ښايی کټ مټ د اسلام د دين د شريعت دتقو ی په څېر وګڼل شي داځکه چې په قران کريم کې راغلي څوک چې غواړي د لوی خدای په وړاندې د کر امت او درناوې خاوندشي نو تقوی دې غوره کړ ي.**

**يعنی: په اسلام کې دتقو ی او په بوديزم کې دنيروانا له لاري انسان کولي شي د لوی خدای په وړاندې دکرامت ا و درناوې ښښتن شي په تقوی کې دايمان پرغيب، لمونځ او ورکړه يعنی انفاق پلي کول شرط ګڼل شوي او په نير وانا، کې له ناپوهي، بد غوښتنې او ځان لمانځنې نه په ځا ن ژغورنه کې دلوی**

خدای په وړاندې دکرامت او درناوې څښتن کېدل ښودل شوي دي. حضرت بودا یوګام نور هم وړاندې ځي او وا يی:

څوک چې ډېر شتمن دی، هغه جنت ته نه شي تللای.

د پورتنیو څلورو ادیانو په پورتنیو لارښونو کی که وګورو، و به پوهېږو چې په شتو را ټولولو او شتمن کېدلوکې څوک نه شي کولی د خدای په وړاندې د کرامت مرتبه وګټي ا و جنت ته لا ړ شي، بلکې د شتو په و يشلو ا و د ټو لنې نه دبې وځلتیا پر لرې کولو کې جنت او کرامت په برخه کېدلی شي، د دغو څرګندونو په رڼا کې ویلې شو چې ز مو ږ په ټو لنه لا ز مو ږ د ګا و نډ په ټو لنو کی هیڅکله هم د ا سلا م د شر یعت دری ګونی فرایض چې د ( تقو ی ) په نامه پیژندل کېږي، سل په سلو کې لا څه چې په سلو پنځو س هم نه د ي پلي شو ی. لکه څنګه چې په پورته کرښو کې موولوستل زموږ کمونیستي بیراګانو که ایمان پرغیب اولمونځ نه مانه، خو د انفا ق پر اصل باندی ګروهمنه وو مګر هغوی هم د انفاق حکم چې پر بې وزلو د شتمنیو ویشنه ده، پلي نه کړه، بیا چې د مجاهدینو په نا مه کومه د بیراګا نو ډ له و ا کمنه شو له، هغو ی خو هم په خو له با ند ې پر غیب ایمان لر ل اولمونځ اد اکولو با ندې کلک ولاړ و مګر د انفاق د فریضې د پلي کولو مخه یې ونیوله. د اځکه چې هر څه یې خپلو ځانونوته غو ښتل، او چې کله نه د امریکایانو د بیرغ لاندې دفاسدو، اوبې کفایتوبیراګانو و ار ر ا غی، دوی د جمهوری اسلامي افغانستان د نامه نه پرته نور د ټولو و جائیبو او فرائضو څخه واوښتل او په چور و تا لان بوخت شول. نه د عیسی د دین د شر یعت چې ژ غو ر نه ا و د ر ملنه د ه، په خیا ل کی و سا ته، نه يی د ا سلا م د شر یعت (تقو ی) ته و کتل چې د ا یما ن پر غیب، لمو نځ ا و د ا نفا ق فر ضیت د ی. همدارنګه نه یی دا ویستایي بود ایي او تا ووستي شر یعتونو ته وکتل ا و نه هغو ته یی د رناوی وکړ.

د غوځان غوښتونکیو بیراګانو څه چې وکړل، هغه یواځی یو نوم وو، چې په خو لو ا و ژ بو کی یی ګرځاوه راګرځاوه او هغه هم د دیموکراسي نوم وو،

دوی ددې پوښتنې ځواب هیڅکله ونه وایه چې ولې د دیموکراسۍ په پروسه کې چې ټاکني ولس ته منصفانه او عادلانه چوپړ رسوي، د جعل، تز و یر، تقلب، تخلف ا و د تخطي پیریان واکمن شو ل؟

همد ا ر نګه د ې ټکي ته هم چا پا م و ا نه ړ ا و ه چې څو ک چې جعل، تز و یر، تخلف، تخطي ا و تقلب کو ي، ښا یی د یو چا د پا ر ه یی کو ي، ا و هغه کس یا کسا ن څو ک دي؟

ځر ګند ه خبر ه د ه چې د مو خې خا و ندان دي. د موخې په خاوندانو کې په وروستي پړاو کې دوه تنه د سترګو په وړاندې ولا ړ وو یویی د ا کتر ا شر ف غني او بل یی داکتر عبدالله عبدالله. داټکی هم ځرګند نه شو کړای چې د داکتر عبدالله په ګټه څومره جعل، تقلب، تخطي او تخلف شو ی؟ او همدارنګه دداکتراشرف غني په ګټه به څو مر ه لا سو هنه شو ي و ي؟ د ا ځکه چې د ټا کنیز و کمپاینرانو له خوا په کمپاین کی د د غود و ه وو تنو د جیب څخه په میلیو نو نو د ا لر ې ر ا وو تلی ا و په کلیو ا و ښا ر و نو کی و و یشل شو ې.

په د ې تو ګه د د یمو کر ا سی د ډ یر ا ن نه پر ر ا ټو کید ل شو ییو د غو د و ه وو تنو څخه ټو لنې ته د ګلا نو پر ځا ی ا ز غي و ړ ا ند ې کړ ا ی شو ل.مګر په ټو لنیز و ر سنیو ا و و لسي ذ هنیتو نو کی هر ه ملا متي چې د ه پر ټا کنیز و ځا نګو ا چو ل شو ې. یعنی: و نی ته چا و نه و یل چې تا و لی تبر ته لا ستی و ر کړ څو ستا بیخ له بیخه پر یک کړ ي؟ ځکه که چیر ی د د ا کتر عبد ا لله ا و د ا کتر ا شر ف غني د جیبو نو څخه د ا لر ې نه و ا ی ر ا تو ی شو ا ی. چا به تقلب، تخلف، جعل ا و تخطي نه و ا ی کړ ی. هر څه به په سمه ا و سید ه تو ګه، منصفانه او عادلانه توګه پای ته رسېدلای وای. ځر ګند ه خبر ه د ه چې په د ا سی کړ نو به ډ یر ا ن له پلیتیو پا کید لی. که چیر ی د ا سی شو ي و ا ی، نو ر به په ډیر ا ن کی پلیتي نه و ا ی پا تی شو ی ا و ډ یر ا ن به هم په خپلی ا صلي بڼی چې له پلیتیو نه ډک د ی، نه و ا ی لید ل شو

ی. نو ځکه د ا سی بد لو ن د ا و سنیو د یمو کر ا سی غو ښتو نکیو په قا مو س کی ځا ی نه شي لر لا ی لکه څنګه چې ډېر ا ن د هر ر نګه پلیتیو مجمو عه د ه، په هما غه تو ګه د د یمو کر ا سي نظا م هم د هر ر نګه خصو صیتو نولر ونکیو انسانانو نه جوړ ه شوې واکمني د ه چې ر ا مینځته کېږ ي. خو چې د کورنیو اوبهرنیو دښمنو ځواکونو د لاسوهنو څخه ژغورل شوی وي. وګو ر ئ شوروي اتحاد په خپل اشغالګریز ه سیاست سر ه وغوښتل په افغانستان کې لږ تر لږه د خپلي خوښې نظا م په پښو و د ر و ئ، خو د مقابل لوري د لاسوهنو له لامله د کو رنۍ جګړ ې د اور دلګېدلو او بلېدلو لامل شو او چې کله لوېدېزوالو و غو ښتل په خپل ا شغا لګر یز ه سیا ست سر ه په افغانستان کې د دیموکرا سۍ نظام پر پښو و د ر و ي بیا هم افغانستا ن د جګړ و د ا و ر په لمبو کی سر تر پایه و سو ز ید ه ا و لو لپه شو.

دا و لی؟

د ا په د ا چی: هم شو ر و ي ا تحا د ا و هم د ا مر یکا د متحد ه ا یا لا ت د غر و ر پر نیلي سو ا ر ه وو غرور د شیطان کا ر دی او شیطان هیڅکله هم د ا نسا نیت په ګټه کوم کار نه دی کړ ی شیطان همیشه هغه کا ر کو ي چې ا نسا نیت د خپل منځي د ښمنۍ په اور کې وسوځي ا و تبا ه شي د غه شیطاني غر و ر یو ا ځی د شو ر و ي ا تحا د په کړ نو کی نه د ی ر ا بر یښید لی، بلکی د لو د یز و ا لو په ا شغا لګر یز ه سیا ست کی هم له و ر ا یه لید لا ی شوو. که چیر ې مو ږ شیبه غو ند ې شا ه ته و ګو ر و ا و ر ا یا د یی کړ و چې شو ر و ي اتحا دپه کو م شو ر ا و ز و ر سر ه پر ا فغا نستا ن و د ا نګل، ا و بیا په و ر پسی د ا مر یکی مغر و ر جمهو ر ر ئیس جو ر ج بو ش په کو م ز و ر ا و شو ر سر ه پر ا فغا نستا ن ر ا و د ا نګل؟ د غه د و ا ړ ې کړ نې د د و ی د غر و ر د منګو لو شو کا ر ې و ې چې د ا نسا نیت د تا ر یخ پر مخ و لګېدلی.

غر و ر یو ا ځې د غو د و ا ړ و ز بر ځوا کو نو نه د ی لر لی، چې لا د بی و ز لو ا و ما تو شو یو ډ لو ټپلو سر ه هم غر و ر خپل ملتیا سا تلی د ی. یعنی: څو مر ه چې د ز و ر خا و ند ان غر و ر لر ي، په هما غو مر ه د بی و سو ا نسا نا نو

سر ه هم غر و ر ملتیا لر لی دی.

که چیر ې د ز و ر ا و ځوا ک خا و ندا ن په ر و ا تو ګه غر و ر و لر ي، نو د بی ز و ر ه ا و بی ځوا که و ګړ ي هم د ځا نه سر ه غر و ر لر لی شي. د مثا ل په تو ګه: که د ز و ر خا و ند کمز و ر ی و هي ا و ټکو ي، خو کمز و ر ی د ز و ر خا و ند ته کنځلی کو ي، چې د غه کنځلی هم د کمز و ر ي د غر و ر نښه منلی شوو. که د ز ور خا و ند په خپل غر و ر سر ه کو م کمز و ر ی ا و بی و سه و ګړ ی ر ټي ا و له سیمې شړ ي، هغه و ګړ ی هم کو لی شي د ز و ر خا و ند ته ښیر ې و کو ي.په د ې ځا ی کی د ه چې د ځو اکمن غر و ر په و ړاندې یو کمز و ر ی غر و ر هم ځا ن ښو د لی شي، ا و د ا هم هما غه منفي ګڼه د ه چې د مثبت په و ړ ا ند ې هر کله ا و په هر ځا ی کی یی خپل شته والی ښو د لی د ی. نو له د ی کبله که و هل د غر و ر مثبت کا ر و ي چې دی، کنځلی هم د غر و ر منفي ا ړ خ ګڼلی شوو. د اپه د ا چې ؛ که د ز و ر خا و ند، په وهلو سره یو چا ته سپکاوي پیښو ي نو کمز و ر ی هم د ز و ر خا و ند ته په خپلو کنځلو سپکاوي پیښو لی شي. نو ځکه و ا یي: ته د و هل کو ه ز ه به کنځل کو م.)

په د ې پړ ا و کی غو ر ه ګڼم د غر و ر په هکله ا و د ا چې چا تر ې منفي ا و چا تر ې په مثبته تو ګه ګټه تر لا سه کړ ې؟ خپلی خبر ې ا و ږ د ې کړ م: ز مو ږ و لس یعنی: ا فغا نا نو د تا ر یخ په ا و ږ د و کی له غرور څخه ګټه نه چې تا و ا ن لید لی د ی، چې د ی ته منفي ګټه و یلی شوو. منفي په د ې معنی چی: د ښمن ر ا غلی د ا فغا نستا ن یو ه بر خه یا ټو ل ا فغا نستا ن یی ا شغا ل کړ ی، خو د ا شغا ل نه و ر و سته، و لسي پا څو نو نه ر ا پا ر ید لي، ا شغا لګر یی ا ړ کړ ی چې بیر ته و ا و ځي ا و لا ړ شي. کو م چې د غه کا ر لا په څو ځلي تکر ا ر شو ی هم د ی. نو د غسی غبر ګو نو نو ته منفي ګټه ا خیستنه و یلی شوو. یعنی: د ښمن ته لاري پر ینښو د ل شو ی چې له ز ر ګو نو کیلو متر و نو لر ې هیو ا د و نو څخه ر ا شي ا و په ا فغا نستا ن کی خپل ا شغا لګر یز ه هو ډ پلی کړ ي. مثبته ګټه به هغه مها ل ګڼل شو ی و ا ی، چې د ښمن د هیو ا د د سر حد و نو

نه ډیر لر ې په بهر کی تم ا وغاښ ما تو و نکي ځو ا ب لیدلی وای.

په هر حا ل د ا ز مو نږ د و لس د سیا سي و ا کمنیو منفي د ر یځ د ی، چې خپلی ما تی ته په غر و ر د بر ي د ځلي په څیرد ر نا و ې کو ي ا و په د ی تو ګه د خپل و لس تا ر یخ په هغه لو ر ې بیا یی چې د تا و ا ن نه ډ ک ا و د ګټی نه پر ته بل څه نه شوو، و ر ته و یلی. د ا ځکه چې د جګړ ې په نتیجه کی نه یو ا ځې چې ا نسا ني تا و ا ن ر ا ر سي چې ا قتصا د ي، سیا سي، ا و ا جتما عي تا و ا نو نو سر ه هم لا س ا و ګر یو ا ن شو ي یوو.

و ګو ر ی د شو ر و ي ا تحا د د یر غل نه و ر و سته، د ا مر یکا یا نو تر یر غله پو ر ې، ا و بیا د ا مر یکا یا نو د یر غل نه و ر و سته تر نن و ر ځې پو ر ې چې ا فغا نستا ن د نړ ی و ا لو ز بر ځو ا کو نو د جګړ ې ډګر ګر ځید لی، د جګړ ې په د ې ډګر کی چې څومره روسي، ا مر یکا یی، ا نګلیسي، چینا ی، ا لما ني، فر ا نسو ي، پا کستا ني، ا یر ا ني ا و د نو ر و هیو ا د و نو و سلي و ا ز ما یل شو ې؟ ا و څو مر ه ا فغا نا ن چې په کی مړ ه، ژ و بل ا و ا و ا ر ه شو ل؟ دا ټول ز مو ږ د و ا کمنو کړ یو د ما تې نه ډک غر و ر پا یلی د ي چې یو د بل پسې ا فغا نا ن یی ز غمي. ز مو ږ جګړ ه ما ر ه سیا سي کړ ی و ا یی چې شو ر و ي ا تحا د د و ی د جګړ ې له لا مله ما ت شو ا و و نړ ید ه. مګر خبره د ا سې نه د ه، خبر ه د ا د ه چې د شو ر و ي ا تحا د په لا س جو ړ شو ی د و ا ر سا نظا مي تړ و ن د هغی جګړ ې له لا مله و نړ ید ه چې د نو لس سو ه ا و ا تیا یمي لسیز ې په پا ی کی څه د پا سه یو ه ا و نی ا و ږ د ه د د و ه وو الماني هیو ا د و نو زرهي پو ځو نو تر مینځه د شما ل د سمند ر ګو ټي پر غاړه غاړه وشوې یعنی: د ختیځ د یمو کر ا ټیک ا لما ن د ناسیونال فولکس ارمي زرهي ټا نکو نو د شما ل د بحیر ې په غا ړ ه کی له ختیځ ا لما ن نه د لو ید یځ ا لما ن تر ها مبو ر ګه پو ر ې یو هر ا ړ خیز ه بر ید و کړ. د غه بر ید چې د و ا ر سا د نظا مي تړ و ن پر قو ما ند ې پیل شو ی وو، د یو ې ا و نۍ په مو د ه کی څه چې په هغی سیمی کی د لو ید یځ ا لما ن پو ځي چو نۍ

وې، هغه ټو ل یی له مخی لر ې کړ ل، خو د یو ې ا و نۍ جګړ ې نه ور و سته کله چې د لو د یځ ا لما ن هو ا یی پو ځ یو پیلو ټ د خپل بمبا ر د ا لو تکی سر ه د شما ل د بحیر ې پر سر د کیل د سیمی نه د ختیځ په لو ر د با لتیک تر هغی سیمی پو ر ې ا لو تنه و کو له چې په کی د و ا ر سا د نظا مي تړ و ن د جګړ ې قو ما ند ا نۍ خپله جګړ ه ا یز ه پلا نو نه ا و پر و ګر ا مو نه مخته بیو ل. د غه ا لو تنه د سمند ر پر سر په د ا سی لو ړ تیا کی و شو ه چې د و ا ر سا د تړ و ن هیڅ یو ه ر ا د ا ر هم و نه شو ه لید لا ی. کله چې نو مو ړ ی پیلو ټ خپلی مو خی ته و ر سید ه، نو په ډ یر و لنډ و شیبو کی یی هغه د و ا ر سا د جګړ ی قو ما ند ا ني په خپلو بمو نو و و یشتله، د ا سی یی و و یشتله چې په همغه شیبه کی چا نبه ا و نښا نه یی نه شو ه لید لا ی د د غی بر یا لي بر ید نه و ر و سته، نو مو ړ ی پیلو ټ په و ا پسی کی تر خپله ځا یه و نه ر سید ه ا و د شما ل په سمند ر ګو ټي کی له خپلی ا لوتکې سره وغورځېده او مړ شو.

کله چې د وارسا نظا مي تړ و ن د قو ما ند ا نی مر کز و یجا ړ شو، نو بیا د لو ید یځ ا لما ن زرهي ټا نکو نو د ختیځ الما ن د زرهي ټا نکو نو پر ضد خپل ځو ا کمن یر غل پیل کړ، په ډیر و لږ و شیبو کی د ختیځ ا لما ن زرهي ټا نکو نو یر غل د ډ یر وتلفا تو سر ه ما تې و خو ړ له ا و په شا ه شو ل په د ې تو ګه د لو ید یځ ا لما ن زرهي پو ځو نو د ها مبو ر ګ له سیمې نه مخ په ختیځ د بر لین تر شا ه ا و خو ا ه پو ر ې د هغو ی پو ځو نه و ځغلو ل ا و خبر ه د ې ته و ر سید له چې د لو ید یځ ا لما ن پو ځو نه د ختیځ الما ن سیمو ته و ر ننو تل د ختیځ ا لما ن د ځو ا کو نو د د غی ما تی له مخی د و ا ر سا نظا مي تړ و ن د ا چې د جګړ ی د قو ما ند ا نۍ مر کز یی ړ نګ شو ی وو، لا سو نه جګ کړل او، اور بند یې و غوښت. لویدېځوالو هم ا ور بند و ما نه، ا و په د ې تو ګه، هغه جګړ ه چې کمو نیستو ځو ا کو نو پیل کړ ی و ه، د هغو ی د ما تی سر ه پا ی ته و ر سید له. په د ې جګړ ې کی څنګه چې وو یل شو ل، د پیل

نه تر پا يه پو ر ې په ر سنيو کی هيڅ کو م خبر خپور نه شو.
يعنې: نه ختيځ ز بر ځو ا ک ا و نه لو يد يځ ز بر ځو ا ک څه وو يل. دا ولې؟ د ا په د ا چی: که چير ې په ر سنيو کی د د غی جګړ ې کو م کو چنی خبر هم خپو ر شو ی و ا ی، نو ټو له ا ر و پا به پر يو ستر نا و ر ين لتا ړ شو ی و و. دا ځکه: په هغه مها ل کی د جګړ ې د نا مه څخه د ا ر و پا يا نو و ير ه ا و تر هه ډ ير ه ستر ه و ه. که چير ې يو ه کو چنی خبر ه هم له خو لی څخه و تلی و ا ی په هغه مها ل کی به ټو لو ا و ر و پا يی هيو ا د و نو و لسو نو له او ر و پا څخه د تيښتی په هلو ځلو کی لو يه هنګا مه جو ړ ه کړ ې و ا ی. نو له د ې کبله نه ختيځ ز بر ځو ا ک ا و نه لو يد يځ ز بر ځو اک، هيڅ يو ه هم د جګړ ې د پيښی د پيښيد لو خبر خپر و ل ګټو ر و نه بلل، ا و خبر ه پټه په پټه کی پا تی شو ه، د د ی جګړ ې د تلفا تو په هکله د لو يد يځو ا لو په و ينا څنګه چې و ا يی تر لسو ز ر و پو ځيا ن مړ ه، ا و تر پنځلسو ز ر و پو ځيا ن ټپيا ن شو ي د ي، چې د د غو ټپيا نو څخه لا د يو ه ټپي د ر ملنه هم د لو يد يځ ا لما ن په ر و غتو نو نو کی نه د ه شو ې. څنګه چې د شلمی پيړۍ د ا تيا يمی لسيزې د د غی جګړ ی ر پو ټ د يو يشتمی پيړۍ په لو مړ ۍ لسيزه کی د ا لما ن د تيلو يز يو ن څخه خپو ر شو، د غه ټو ل ټپيا ن په سر پټو ر يلو نو کی د جګړ ې له ځا ی څخه ها لند، بلجيم، فر ا نسی ا و بريطانيا ته ليږدول شو ي ا و هلته يی د ر ملنه شو ې د ه. د ا هم و يل شو ي چې د د غی جګړ ې د مو دې په ا و ږ د و کی د لو يد يځ ا لما ن کنسلريا صد ر ا عظم ښا غلی هيلمو ت کو ل هم هيڅ نه وو ليد ل شو ی، ا و چا هم په ر سنيو کی د هغه د حضور يا عد م حضور په هکله څه خپا ر ه نه کړ ل. خو چې کله جګړ ه پا ی ته و ر سيد له، بيا نو ښا غلی هيلمو ت کو ل هر کله ا و هر چير ته ليد ل کيده څه چې د دې جګړ ې په پای کې ډير ستر و يا ړ و ګڼل شو، هغه هم هغه کا ر وو، چې ښا غلي ګو ر با چو ف په لو مړ ي ګا م کی په يو ا ړ خيز ه تو ګه د و ا ر سا د نظا مي تړ و ن د ړ نګيد لو ا علا ن و کړ. يعنې: په د ې ګا م

کی یی د و ا ر سا نظا می تړ و ن ړ نګ ا و په د و هم پړ ا و کی د شو ر و ي ا تحا د سیا سي سیستم یی د تا ر یخ کند ې ته وسپاره. هورا ګورباچوف! خو روسانو په ما تي کې هم خپل غر و ر و سا ته. مګر په مقا بل کې د لوديځوالو سیاسي او نظا مي کړ یو نه یواځې د ا چې د غه تړ لې پیښې یی نا لید لې و ګڼلی چې پر ې و یا ړ یی هم و نه ښو د لو، ا و لا پسی یی د ر و سا نو د ز ړ و نو د سا تلو په مو خه، هغو ی ته یی په میلیا ر د و نو ډ ا لر ې و ر کړ ې، څو خپل پو ځو نه له ختیځ ا لما ن څخه و با سي ا و ختیځ ا لما ن د و ی ته و سپا ر ي. لو ید یځ ا لما ن په میلیا ر د و نو، نو ر ې ډا لر ې هم ر و سا نو ته و ر کړ لی، څو هغو ی خپلو پو ځیا نو ته په ر و سیه کی د ننه د هستو ګنی کو ر و نه جو ړ کړ ي. د د ې سر ه سر ه ا مر یکا یا نو ا و هم هغو ا و ر و پا یی هیو ا د و نو چې د ا مر یکی سر ه د نا تو په نظا مي تړ و ن کی ملګري د ي هم تر نن و ر ځې پو ر ې د د غی جګړ ې په هکله څه و نه و یل، څو د ر و سا نو غر و ر ته تا و ا ن و نه ر سیږي. خو روسانو څه چې لو ید یځو ا لو غو ښتل هغه ټو ل یی په سو له ئیزه تو ګه ا و په آ ر ا مه سر ه لوید یځو ا لو ته و ر کړ ل.

یعنی: د شو ر و ي ا تحا د له خو ا ه په لو مړ ي ګا م کی په یو اړ خیز ه تو ګه د و ا ر سا پو ځي تړ و ن، ړ نګ ا و بیا په خپله شو ر و ي ا تحا هم و نړ ید ه.

د ختیځی ا و ر و پا ځینی هیو ا د و نه ا و همد ا ر نګه د مر کز ي ا سیا ځینی شما لي هیو ا د و نه چې د و ا ر سا د تړ و ن غړ ي یا د شو ر و ي ا تحا د په و لکه کی وو، د ر و سا نو له و لکی نه آ ز ا د شو ل. د سړ ې جګړ ې سو ځوو نکي ا و خو نړ ی لا نجه چې په ا فغا نستا ن کی د شو ر و ي ا تحا د ا شغا لوو نکیو پو ځو نو شته و ا لی ګڼل کید ه، هغه هم شو ر و ي ا تحا په خپل ژ و ند ا نه کی له ا فغا نستا ن نه و و یستل د د غو څو کا ر و نو په کو لو سر ه چې یا د و نه تر ینه و شو ه، ر و سا نو د سړ ې جګړ ې پو ځي سیا ست ته د پا ی ټکی کیښو د.

با ید هیر نه شي چی: د د ې پیښو نه څه مو د ه و ړ ا ند ې د نا تو د نظا مي تړ و ن له خوا د و ا ر سا د نظا مي تړ و ن د هو ا یی ځا ر نی د کچي د پو

هید لو په مو خه، د ا لما ن د یو ې سپو ر تي ا لو تکې په ا ستو لو چې پیلو ټ یی هم یو تنکی ا لما نی ځلمی وو، یو ه پیښه و شو ه یعنی: د غه ا لما نی ځلمي خپله سپو ر تي ا لو تکه د ا لما ن له خا و ر ې څخه د مسکو تر ښا ر ه پو ر ې په د ا سی لو ړ تیا کی بو تلله چې د و ا ر سا د تړ و ن هیڅ یو ه ر ا د ا ر و نه شو ه لید لی. خو چې کله د غه ا لو تکه د مسکو د ښا ر په سر ه میدان کې کوزه شوه، بیانوروسانو ا د هغوی د وارسا تړ و ن پر ې و پو هیدل. لکه چې هغه تنکی ځلمی گو ټی لا څه مو د ه د شو رو ي ا تحا د په بند کی هم بند ي وو، د گو ر با چو ف په و ینا د و ا ر سا نظا مي تړ و ن د ا قتصا د ي کړ کیچو نو له لا مله ړ نگ شو ی، خو په حقیقت کی د هغو ی ما تی په لو مړ ي گا م کی د د یمو کر ا ټیک ا لما ن د نیشنل فو لکس ا ر مي د بر ید ا و د ما تی له لا مله گڼل کیږ ي چې د با لتیک په سیمه کی یی خپله د جگړ ی د قو ما ند ا نۍ مر کز و با یللو.

ز ما په ا ند: شو ر و ي ا تحا د ته د ا فغا نستا ن جگړ ه د ا قتصا د د کمز و ر ي کید لو په لا ر ه کی خو ر ا ا غیز منه لا مل د ی، چې د هغه له لا مله پر لو د یځ ا لما ن با ند ې د ختیځ ا لما ن د زرهي ټا نکو نو بر ید و ر ته هم مر گا نی پر یوو ت.

د ا ځکه: که چیر ې شو ر و ي ا تحا د د ا فغا نستا ن په جگړ ه کی د ا قتصا د له ا ړ خه کمز و ر ی شو ی نه و ا ی، د و ا ر سا تړ و ن به پر لو ید یځ ا لما ن بر ید نه کا و ه ا و شو ر و ي ا تحا د به هم نه ړ نگید ه.

د ا چې خبر ه پر مثبت ا و منفي غر و ر با ند ې تر د ې ځا یه ر ا غلې و ه، نو غو ر ه به و ي بیر ته خپل بحث ته ر ا و گر ځو. ما و یلي وو، چې مو ږ ا فغا نا ن د منفي غر و ر پر نا ر و غي لتا ړ یوو. د ا ځکه:

په پو تني بحث کی مو و لو ستل چی: د لو ید یځ ا لما ن ا و و ر سر ه د ټو لو لو ید یځو ا لو سیا سي، نظا مي ا و ا قتصا د ي کړ یو خپله سړ ه جگړ ه د کمو نیستا نو په مقا بل کی گټلی و ه، خو بیا هم د بر ي د غر و ر نه چې یو مثبت

غر و ر ګڼل کید ه په کلکه تو ګه مخنیوي و کړ ا و ویی نه غو ښتل چې د و ا ر سا نظا مي تر و ن په ما تې ا و د شو ر و ي ا تحا د په ړ نګید لو سر ه د روسیې د و لس ملي غر و ر تر پښو لا ند ې ا و تاوان وو یني. همد ا ر نګه لو د یځو ا لو و نه غو ښتل چې ر و سیي ته د سړ ې جګړې په پا ی کی هر ا ړ خیز ه تا و ا ن و ر سو ي. لا چې د ر و سیي سر ه یی د هغو ی د ا قتصا د په ر غو لو کی ډ یر ه ز یا ته مر سته و کو له. کو م چې ر و سیي و کو لا ی شو ل په و ر و، و ر و خپل ا قتصا د ي، نظا مي ا و سیا سي بنسټو نه و ر غو ي، پر پښو و د ر و ي ا و غښتلی کړ ي.

مګر ز مو ږ ا فغا ن جګړ ه ما ر ه کړ ی چې لا یی هیڅ کا ر په خپل ا بتکا ر ا و په خپل ا ختیا ر نه وو کړ ی، د شو ر و ي ا تحا د د ړ نګید لو و یا ړ د ځا ن ګڼي ا و د منفي غر و ر پر څلي پا څ ختلي، څو نړ ی و ا ل یی د فا تحینو په څیر و و یني. کو م چې د بر ي هغه منفي څلی هم و ر ته پر د یو جوړ کړی، چې د پر د یو نښې نښا نې هم په کی له و ر ا یه ښکار ي. که د ا سی نه و ي، نو د ا فغا ن جګړ ه ما ر ه و کړ یو به د جګړ ې د ګټلو نه و ر و سته د خپل هیواد په سیا سي بنسټ کی د یو ه و لس منلی نظا م په جو ړ و لو سر ه د ننه په هیو ا د کی سو له، ر و غه ا و ډ ا ډ خو ند ي کړ ی و ا ی. د و ی ته چې لا ا و س هم ر و سا ن سیا سي ا و نظا مي لو ر ی ټا کي ا و د خپل منځي جګړ و لیا ر ې و ر ښیي. نو په کو م د لیل به د جګړ ې د فا تحینو په نا مه وو یا ړ ل شي؟

ا و په کو م مخ به له ر و سا نو نه د جګړ ې د غر ا ما تو د غو ښتلو و ړ تیا و لري؟ د و ی یو ا ځې نه د ي چې د پر د یو ز بر ځو ا کو نو په سند ر و ا و نغمو کی خپلی څو نې ا چو ي، چې په سیمه کی لا نو ر هیو ا د و نه هم شته، کو م چې لکه د د و یو په څیر د پر د یو ز بر ځو ا کو نو نیا بتي جګړ ې د نیا بتي هو ډ و نو سر ه یو ځا ی پر مخه بیا یی.

و ګو ر ئ همد ا ا و س هم ا یر ا ن هغه څه و ا یی چې د مسکو له حلقو مه ر ا و ځي، ا و سعو د ي و ا کمنی هغه څه و ا یی چې د لند ن ا و و ا شنګتن له

کو مې ر ا و ځي. ا و ز بکستا ن ا و تا جيکستا ن چې لا هم د ر و سا نو له مر يتو به نه د ي ا زا د شو ي. پا کستان ن ته که و ګو ر و، هغه خو د ا نګر يز د خيتې نه ر ا و تی ا و د ا نګر يز ړه خيته کی لا ژ و ي. که ا نګر يز يی خړ و ب نه کړ ي بی د فا تحی د ا خيستلو نه به د تا ر يخ په مړ ستو ن کی ښخ شي.

اوس ا و س د نړ ی ټو ل هيوا د و نه هغو ی که د ملګر و ملتو نو غړ ي د ي او که نه دي؛ څه په سيده أو څه په ناسيده تو ګه که و غو ا ړ ي ا و که و نه غواړي د ا مر يکی د متحد ه ا يا لا تو په و لکه کی ښکيل د ي. د ا ځکه چې د ملګر و ملتو نو ټو لی سيا سي، ا د ا ر ي ؛ا و کلتور ي څا نګی د ا مر يکی د متحد ه ا يا لا تو د حکو مت په مر ستو پر پښو و د ر يد لي ا و هغه ټو لی څا نګی هم هما غه څه کو ي چې د ا مر يکی د منحد ه ا يا لا تو د سيد ه ا و نا سيد ه لا ر ښوونو سر ه بر ا بر ې و چليږي. په د ې خبر ه کی د ا ر و پا يی هيوا د و نو نه تر ر و سيي ا و ا سيا يی هيوا د و نو لا تر چينه پو ر ې هم په کی يو ځا ی شمير ل کيد لی شي. هيڅ يو هيوا د د ا قتصا د له ا ړ خه پرخپل ځا ن متکي نه دی! د ا که په خپله متحد ه ا يا لا ت هم و ي؟

خو د نړ ۍ اوسني هيوادونه ديوکاروان په څېر ګڼلی شو چې پر سرکې يې د امريکې متحده ايالات ولاړ دی ا و د کاروان د مشرۍ دنده پر غاړه لري، په کاروان کې ښايې د کار و ان ځيني غړ ي د خپلو سو چو نو ا و خيا لو نو له مخې د کاروان د مشر تا به او لار ښوونو هيلي يا وسوسې ولر ي، خو په اوسنيو سياسي، اقتصادي او نظامي شرايطو کې د ا سی هيلو ا وا ر ز و ګانو ته د رسېدلو لار ې ا و ګودرې ټولې د مينونو څخه ډک دي او د چا سره داسي وسه نه ښکار ي څو د د غو مينو نو په لر ې کولو ا و دلارې په پاکولو خپلو مو خو ته ورسيدلی شي.

## پای